وروستی مورچل

Ketabton.com

٤

لیکوال: نسیم حجازی ژباړن: محمد یې "شفق"

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی فصل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ظهیر زوی یوسف

د عربو له بیابانانه د اسلام چینه وخوتیدله، او هغه شګلنې دښتې چې په پیړیو پیړیو د سیلاتیانو د پام وړ نه وی د زمانی د څار مرکز شوی.

د جهالت په تروپمیو کی سرګردانه انسانیت چی د لارښوونی د کوم لمر په انتظار ژ هغه لمر د فاران له غونډیونه راپورته شو.

په هغه ورځ چی د آمنی په ګلاب، د عبدالله په بچی، او د عبدالمطلب په لمسی د محمد صلی الله علیه وسلم نوم ایښودل کیده د فطرت انځور ګرد نړۍ پم نقشه کی نوی رنګ خپراوه، تقدیر د نړۍ د قومونو لارښونه عربو ته سپارله او د نړۍ تاریخ لیکونکو یو نوی باب لیکه، د رحمت پریښتو د غلامۍ او جهالت په زنځیرونو تړلی، تپی شوی انسانیت ته د آزادی، وروروڼی او برابری درس ورکاوه.

د عربو سارایانو لات او هبل مات کړل او پر نړۍ د رحمت د وریځو په څیر خپاره شول، د دوی د توری او سپنو هره او سپنه غوڅه کړه، د دوی تهذیب، مدنیت او اخلاق پر تولو تهذیبونو مدنیتونو او اخلاقو بری ومونډ، هغوی د نړۍ څخه د فساد د ونی جړی غوڅی کړی. او د انسانیت په بن کې یې پخپلو وینو د سولی او امن ونی خړوبې کړې، د کفر تیارې د ماسپښین د سیورو په څیر ورټولیدی، د قیصر او کسری د استبداد مانۍ ویجاړی شوی وی، د اسلام د غازیانو د بری جنډۍ یو لوری ته د البرز د غرونو په واورینو څوکو او بل لوری ته د افریقا په شګلنو دښتو کې رپیدې. د دوی اسونه په یوه وخت کی په ختیځ کی د هندوستان او په لویدیځ کی د هسپانیی په سیندونو اوبه څښلی، دیارلس سوه کاله وروسته اوس هم یو مورخ په چیرانی دا پوښتی چی د عربو د اسونو تګ غیر معمولی ګړندی ژ او که قدرت د دوی په مخه کی څمکی ته نغښتل وربښودلی وو؟

دا یو انقلاب ژ، یو روښانه انقلاب، تقدیر د عربو د شګو ذروته څلا ورکړه، او هغوی یی د نړۍ تیارو ګوټونو ته واستول.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو شپږ سوه کاله وروسته یو بل انقلاب راغی، یو تیاره انقلاب!، بنایی د اسلام دینی چې په پیړیو پیړیو کومې تیاری په مخه کړی وی له څلورو خواوو نه ورټولی شوی او د ګوبی په صحرا کی یی پناه اخستی وه، بنایی د هغه اور سګروټی چې عربو په اوبو مړی کړی وی د ګوبی د دښتو په سرو ریګونو کی پټی شوی او پټی ښلیدلی او شپږ سوه کاله انتظار وی چې د اسلام ساتونکی کله ویده کیږی، حقیقت دا دی چې له یوی مودی راسی د اسلام د درمند ساتونکی خوب وړی وو او د کفر اور شپږ سوه کاله ځکه مړ ؤ چې د لومړنیو پیړیو د غازیانو داستانونه دوی ته د اوبو د څاڅکو په څیر وو.

د اسلام دښمنانو ته د عباسیانو د دولت تش او وراسته محلونه هم د نه ماتیدونکو برجونو او کلاګانو په څیر ښکاریدل، چې د هغوی پلرونو په لومړی هجری پیړی کی د لوبو لوبو واکمنو تاجونو تر خپلو قدمونو لاندی کړی وو. نژدی شپږ سوه کاله وروسته د جبر او ظلم هغه هوس چې د روم او ایران د مانیو په ګندوالو کی ویده ؤ د ګوبی دښتی د یوه شپانه په وجود کی راویښ شو، د هغه شپانه نوم ټموچن ؤ چې د چنګیز خان په نوم مشهور شو.

د نړۍ هغه فاتح چې د بخت بیړۍ یی د وینو په سمندر کی لامبو وهله چې دده برخه د تیارو د توپانو نو لاربښونه وه، ددغه چنګیز خان په مشری د منګولیا وحشی قبیلی د یوی سیلی په څیر پورته شوی، او د تهذیب هره دیوه یی مړه کړه د نړۍ په څلورو خواو خپاره شول.

شپږ سوه کاله دمخه چې کوم نسیم د عربو له دښتی نه راچلیدلی ؤ، هغه د انسانیت پر بټ د رحمت غمی اورولی وو، خو شپږ سوه کاله وروسته چې د ګوبی له دښتی نه کومه تالنده رابښکاره شوه په هغو کی د نسیمونو پرځای د چاودلیو اورغورځوونکو غرونو تودوخه او اورونه وو. او ددی دو دونو د وریځی تر برسټن لاندی د هغه اورنی مادی سیلاب ؤ چې ښارونه او کلی یی وسوځول او پری تیر شوه، د بابل او نینوا د کندوالو په لیدو چې د انسان روح د تقدیر په ویرانو، اعتراف کوی هغه د تاتاریانو د اورنی توپان په وراندی هیڅ هم نه دی.

*****

(۲)

د مهذبی نړۍ لپاره د چنګیز خان د پوځونو د جګړی تاکتیک بلکل نوی ؤ، نړۍ هغوی ته یو پراخه ښکارځای ؤ، د شپنو قبیلو سره د اسونو هیڅ کمی نه ؤ، پر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسونو او وزو برسیره دوی د اسونو په غوښو او شیدو ګوزاره کوله، پردی علاوه دوی د ځنګل د هر ځناور غوښه خوړله، د ګوبی په دښته کی د ښارونو او کلیو نوم او نخښه نه وه، که به چیرته باران وشو نو دغه شپانه به همالته ولاړل، او ترڅو به یی څارویو د هغی سیمی تول شنه ونه خوړل دوی به هلته پاتی کیدل، او چی بیا به کوم چا دا خبر راوړ چی په فلانی ځای کی څو څاڅکی باران شوی دی نو دوی به همغه لوری ته مخه کړه، کله کله به د نویو څړځایونو پر سر د یوی قبیلی له بلی سره لانجه راغله، چی زور وری قبیلی به د کمزوری قبیلی د څارویو د اخستلو نه علاوه د هغوی نارینه او ښځی هم مریان کړل.

ځکه خو به کمزورو قبیلو یو له بله اتحاد وکړ او یو ځواکمن سړی به یی خپل مشر وتاکه، د ژمی په موسم کی به د شمال د سړی هوا په سبب دغه ټوله سیمه دوزخ ته ورته یخنی لاندی کړه، د ریګونو پر سر به د واورو څادر وغوړید د وښو د نه موندلو په وجه به یی د شیدو څاروی وچ شول، او دوی به د تودوخی په موسم کی د ذخیره کړی وچی غوښی په خوړلو مجبور شول، کله کله به توندی سیلی راوالوتی او د دوی کیږدی به یی ورسره والوزولی او څاروی به یی تری په یوه او بله کړل.

له طبیعت سره دایمی مقابلی له دی خلکو نه زیات کلك او د زغم خاوندان جوړ کړی وو، څو څو ورځی به د اسونو پرشا پاتی کیدای شوای، او په ورځو ورځو وړی جنګیدلی شوای.

چنګیز خان د لویو لویو سردارانو د ځپلو نه وروسته هغوی د ځان تابع کړل، بیایی د شپنو تاتاریانو په مخکی د هغو هیوادونو نقشی کښیښودی چی هلته شنه فصلونه، ښایسته باغونه او شنی ورشوګانی وی، د لوټمار هوس ټول بربریان د چنګیز خان تر جنډې لاندی راټولیدوته وهڅول.

تاتاریان په ګاونډیو هیوادونو د وړیو عقابانو په څیر ورپریوتل، او هغو اولسونو چی آرام ژوندانه تنبل او سست آموخته کړی وو د دوی د یرغلونو تاب رانه وړ، په څو کلونو کی د چنګیز خان پوځونو په شمال او ختیځ کی زیات هیوادونه ونیول.

ګاونډی هیوادونه د هغوی ګړندیو بریاوته حیران وو، دوی به په یوه یوه ورځ د څو ورځو پراوونه وهل، او په یوه وخت کی به یی څو ځایه پر نورو هیوادونو یرغل کاوه، د هغو هیوادونو پوځونه به په کوم یوه سرحد د دفاع لپاره راټول وو، د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چنگیز خان د پوځ یوی ډلی به دهغوی مقابله کوله او نور پوځ به له مخالف لوری پر هیواد ورننه وتل، کلی او ښارونه به یی ونیول او د پاچاهی ټول نظام به یی شنډ کړ، کله کله به داسی هم وشول چی د کوم هیواد پوځی سالار به د تاتاریانو له یرغل نه خبر شو د دفاع لپاره به یی پوځ په سرحد کی پراو واچاوه ، د هغه جاسوسانو به هره ورځ دا خبر ورکاوه چی د مغلو د لښکر مخه په همدی لوری ده، خو بله ورځ به کوم استازی دا خبر راوړ چی د چنگیز نور لښکر په بله لاره هیواد ته رانغوت او تخت او تاج یی ونیول.

د تاتاریانو د حیرانوونکی بریالیتوب راز د دوی په گړندی حرکت کی ؤ، دوی به په شاتوری اس سپریدل، له هر سپاره سره به څو اسونه وو، کله به چی یو اس ستړی شو سپور به په بل پښه واړوله، د یرغل په وخت کی به چی کله کوم سپاهی لږوړه احساس کړه نو د آس خیټه به یی په خنجر زخم کړه او د هغه څو غوړ په وینی به یی وځښلی، د اوږده سفر لپاره هم تاتاریانو ډیر لږ سامان ورسره اخست، په ځنگل کی به یی اضافه اسونه خوړل، او د لاری له کلیو او ښارونو نه به یی څاروی ورسره وړل ، که به کوم ښار بیله جگړی دوی ته تسلیم شو نو مغلو به یوازی هغه خلك وژل چی جگړه یی کولای شوای، خو هر سپاهی د مات شوی قوم د تور سریو بی عزتی خپل حق گانه.

که به کوم ښار له مقابلی وروسته فتحه شو نو کورونو ته به یی اور اچاوه ، او اوسیدونکی به یی وژل، د هر پوځ جنرال خپلو عسکرو ته د فتحی دیادگار جوړولو امر کاوه، او مغلو به پر ځوانانو برسیره د ښځو، بوډاگانو او ماشومانو له وژلو وروسته د هغوی سرونه غوڅول او یادگاری څلی به یی تری جوړاوه. بیا به چی د هر جنرال څلی لوی ؤ چنگیز خان به هغه ته شاباشی ورکاوه.

کله کله به د دوو سپاهیانو پر دی جگړه شوه چی ستا څلی دننه تش دی او نن زما سر تیرو ډیر خلك وژلی دی.

دا هغه قوم ؤ چی تقدیر د اسلامی نړۍ عبرتناکه تباهی د دوی په لاسو کښلی وه، د هغه اسلامی نړۍ بربادی او تباهی چی د غفلت په خوب ویده وه، چی د الهی احکامو د عمل پرځای یی د خپلو غوښتنو او هیلو په خاطر تاویلونه پکی کول، له هغوی سره د نیمی دنیا فتحه کوونکو پلرونو توری اوس هم وی، خو د هغو پلرونو ایمان ورسره نه ؤ.

* * * * *

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

د مدینی نه نژدی دوه نیم میله لری د یوه وروکی کلی په جومات کی د سهار له لمانځه نه وروسته شیخ احمد بن حسن د قرآن او حدیثو درس ورکاوه، طاهر بن یوسف جومات ته ورننوت او شیخ ته یی وکتل.

د طاهر عمر د ۲۲ کالو په شاوخوا کی ؤ، د هغه په دنګه ونه، مناسب اندام او ښکلی څیره کی زیات وقار او شان ؤ، په سترګو کی یی د شاهین په څیر بی باکی دده د هوښیاری ښکارندویه وه.

احمد بن حسن تری وپوښتل : چمتو راغلی یی؟

: هوکی ! ما له مور جانی نه رخصت را اخستی او راغلی یم.

احمد بن حسن خپل زده کوونکی رخصت کړل، او جګ شو له ځوان سره له جومات نه ووت.

د جومات د دروازی سره د شیخ یوه نوکر اس تر جلب نیولی وه پر اس د سفر ضرروی سامان ټړلی ؤ، احمد بن حسن اس په غاړه وټپاوه، اس غاړه اوچته کړه، غوږونه یی څك کړل، او مخکینی پښه یی په ځمکه ووهله.

احمد بن حسن وموسکل طاهر ته یی وکتل او ویی ویل : ستا اس وایی چی لږ تودیږی، مور ته زر رخصت راکړه،

طاهره! زما په ذهن کی داسی کومه خبره نشته چی په وار وار می تاته نه وی کړی، بغداد به تاته یوه نوی دنیا وی، هلته ستا غوندی زلمی د جوړیدو او بی لاری کیدو لپاره په زرګونو وسیلی شته، که غواړی د هغه بڼ له ازغیو سره ونښله، او همالته پاتی شه، او که غواړی لمن دی له خوږیویه ګلاڼو نه ډکه راوړه، بغداد د ښیګڼو او بدیو مرکز دی، خو اوس بدی پکی زیاتی شوی دی، او نیکی لږ، ته به له ډیرو ترخو شیبو سره مخ شی او ډیر حوصله ماتوونکی حالات به درته مخی ته شی، قاضی فخر الدین چی زما لیك ولولی خامخا به ستا دپاره ډیر څه وکړی، او امکان لری چی د هغه په مرسته ته د خلافت دربار ته ورسیدای شی.

د خلافت په دربار کی د ایرانی او ترکی امیرانو زور دی، هغوی به ستا د لاری ټرلو هڅه ضرور کوی، خو زما ستا په استعدادونو اعتماد دی، تا د علم په ژورو سمندرونو کی غوتی وهلی دی، د مدینی غوره مغزونه ستا ذکاوت ته ګوته په غاښ دی، د مسلمان د ژوند دوهم جوهر سپاهی توب دی، او ته له توری سره هم په لوبو کی تکړه یی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس اسلامی نړۍ ستا تر علم نه توری ته زیاته اړتیا لری، په بغداد کی به قاضی فخر الدین تا ته غوره لاربښود شی. که د هغه په واسطه ته کوم لوړ منصب ته ورسیدی نو په یاد ولره چی د امارت نشه ډیره بده ده، د خدای ج رضا د خلیفه تر رضا مخکی وگنه او تل دا خیال کوه چی ته د عبدالملك په شان نه د عبدالله پهځیر جوړیدو ته پیدا شوی یی، د شتمنی په حساب به ته په بغداد کی د امیرو او شتمنو خلکو په کتار کی شماریږی، ما له هغو غمیونه یودانه زرگر ته ورښکاره کړ هغه راته وویل چی ددی بیه له لس زره دیناره نه کمه نه ده، ماله هغی نه پنځه لوی غمی ایښی دی، او دا به ستا امانت وی، پردی سربیره می ستا برخه په سوداگری کی هم پریښی ده، که ستا اعتراض نه وی نو زه به یو بن درته واخلم.

حُوان ورته وویل : زه خو تا مجبور کړم که نه دومره دولت می له ځانه سره نه وړ.

شیخ ورته وویل : په دی اړه ډیر بحث وشو، کله چی ته بغداد ته ورسیدی نو وبه پوهیږی چی زما خبره سهی ده، هو تردی دولت زیات قیمتی څیز له تا سره د صلاح الدین ایوبی «رح» توره ده، او ته د هغی د حق په اداکولو پوهیږی. اوس ورځه درباندی ناوخته کیږی، امین چیرته دی؟

: «هغه له ما سره دتلو تینگار کاوه، ما هغه له نوکر سره بنار ته واستاوه، طاهر د اس جلب ونیو او شیخ ته یی د خدای پامانی لپاره لاس ور اوږد کړ خو شیخ د لاس ورکولو پرځای غیږ خلاصه کړه او ور وراندی شو حُوان یی په غیږ کی ونیو، بیا یی په ژړه غونی غږ ووویل : زما بچیه ! ستا بیلتون موږ ته ډیر سخت دی، خدای دی ستا په نیکو ارادو کی برکت واچوی.

له احمد سره د غاړه غړی کیدونه وروسته طاهر بیا هغه ته د خدای پامانی لپاره لاس ور اوږد کړ خو احمد وویل : ته په اس سپور شه.

حُوان پر اس سپور شو، او بودا شیخ د هغه د آس جلب ونیو.

حُوان له اس نه بیرته د پلی کیدو هڅه وکړه ویی ویل : نه نه، زه د اسی گستاخی نشم کولی، خو احمد هغه په لاس ایسار کړ ویی ویل : زویه ! ما د یوه مجاهد د اس د جلب نیولو له نیکمرغی نه مه محرومه، که صدیق اکبر «رض» د اسامه بن زید د اس د جلب په نیولو له ویاړه غاړه اوچته وړه، نو زه هم نن په خپله نیکمرغی ویاړم. په بودا توب کی که څه هم زما کمزوری لاسونه توره نه شی اوچتولی خو ستا د اس د جلب نیولو توان لا پکی شته دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه قوم نیکمرغه دی چی خلك ینی په ځوانی کی له تورو سره لویی کوی، او په بوډاتوب کی د خپلو بچیانو د اسونو جلبونه نیسی او دوی ته د غزا لاره وربښیی.

احمد بن حسن د طاهر د اس جلب نیولی د خرمالـه بن ته راووتل، هغه لږ لری نور هم ورسره د تلو هیله من ؤ، خو طاهر ورته وویل : نور زحمت مه کوه ماته اجازه راکړه.

احمد بن حسن د اس جلب د طاهر په لاس کی ورکړ ویی ویل : طاهره ! اوریدلی می دی چی د بغداد د ونو سیوری ډیر یخ دی، زویه ! چی هلته ولاړ شی ویده نه شی او پر زیدهم پام کوه هغه ډیر ساده سړی دی، د بغداد د امیرانو د هوښیارو او چالاکو نوکرانو سره یی مه پرتله کوه، د هغه سادګی کله کله د حماقت ترحده زیاته شی، خو د هغه زړورتیا او ایثار د هغه په هره خامی پرده غوړوی او جبرانوی یی.

طاهر وویل : ته ډاډه اوسه، زه هغه خپل ډیر غوره دوست ګنم، احمد بن حسن خدای پامان وویل او د اس جلب یی پریښود.

*****

(٤)

طاهر بن یوسف په هغه وخت کی زیږیدلی ؤ چی د صلاح الدین ایوبی توری د اسلامی نړۍ په لوری د اروپا د عیسویانو د ځواکونو مخه نیولی وه، په تیره پیړی کی یو لوری سلجوقی ترکانو د بغداد د عباسی خلیفه ګانو له کمزوری نه ګټه اخسته د طغرل بیګ، الپ ارسلان او ملك شاه په څیر فاتحانو په قومانده یی د ارمنستان، کوچنی اسیا او شام پراخی سیمی په خپله لویه پاچاهی کی شاملی کړی. بل لوری یی د روم د بحیری په څنډو له بازنطینی امپراتوری نه ډیری سیمی لاندی کړی، په ٤٦٣ هـ کی سلجوقی ترکانو بازنطینی پوځونو ته په «ملازجرد» کی پریکنده ماته ورکړه، د سلجوقی ترکانو د پرله پسی پرمختګ له ویری عیسوی پادری «دوهم اربن» په اروپایی هیوادونو غږ وکړ چی د اسلام د لښکرو د سیلاب د مخنیوی لپاره یوه شریکه جبهه جوړه کړی.

د پاپ غوښتنی تر یوی مودی پوری څه خاصه نتیجه ورنه کړه، د اروپا پاچاهانو د سلجوقیانو تورونه د خپلو تټرونو ډال کولو لپاره یوازی د ثواب او د آخرت وعدی کافی نه بللی، هغوی ته د دنیا د ګټی په خاطر له سلجوقیانو سره جګړه د شاهین په څاله د لاس ننویستلو نه کم خطرناك نه ؤ، خو په دی وخت کی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو فرانسوی راهب اوچت شو، او هغه ناڅاپه د اروپا خلك د اسلامی نړۍ پرخلاف راوپارول، ددغه راهب نوم «پطرس» ؤ، هغه صلیب اوچت کړ په خره سپور شو او په ټوله اروپا راوګرځید د هغه له شلیدلیو زړوجامو او لوڅو پښو نه مظلومیت خوتیده، په سترګو کی یی د کسات لمبی وی، او په ژبه کی یی زهرجن نشتر! هغه چی چیرته تلو خلك به پری ورټول شول، هغه به په القدس کی د سلجوقیانو د ظلم خیالی داستانونه اوروله، ده به پخپله ژړل او نورین هم ورسره ژړول. اولس به دده د هری وینا له اوریدو وروسته پر صلیب د قربانی سوګندونه پورته کړل، چی د اولس جوش او جذبه یی ولیده د اروپا هره لویه او وړوکی پاچاهی د اسلامی نړۍ پرخلاف د پریکنده جګړی لپاره چمتو شوه.

د هلال پرخلاف د صلیب ټول غوسه ناك ځواکونه راټول او سره یو شول، خو د ملك شاه تر وفات پوری دا سیلاب ولاړ ؤ، د ملك شاه د وفات نه وروسته سلجوقی پاچاهی توته توته شوه، د دوی د زوال ګړندیتوب په هندوستان کی د اورنګزیب عالمګیر د وفات نه وروسته د مغولی حکومت له زوال نه هم ګړندی ؤ.

د اوو کالو پهٔ موده کی د لویدیځ په لوری د اسلامی نړۍ هغه دفاعی مورچل چی د اروپا عیسوی پاچاهانو نه ماتیدونکی باله پخپله دړی وړی شو، او په ٤٩١ هـ کی د عیسویانو سیلاب پر اسلامی نړۍ راواوښت.

په بغداد کی عباسی پاچاهانو د سلجوقی ترکانو پر زوال آرامه ساه واخسته، خو دوی د عیسویت د ویروونکی سیلاب په مقابل کی څه ونشو کولی، د یوه کال په دننه کی عیسویانو د سلجوقیانو پاتی ځواك هم تر پښو لاندی غوبل کړ او د بیت المقدس په شمول یی د شام ډیر مهم ښارونه او بندرونه ونیول، د فلسطین او شام سیمی یی سره شریکی کړی او یو عیسوی حکومت یی پکی جوړ کړ، دغه هیواد د اسلامی نړۍ په زړه د خنجر حیثیت درلود.

نږدی پنځوس کاله وروسته د اسلامی نړۍ د دفاع جذبه د عماد الدین زنګی «رح» د شخصیت په بڼه راڅرګنده شوه، او د هغه د سربښندونکو حملو په سبب د صلیب د علمبردارانو په زړونو کی د اسلام د غازیانو پخوانی ویره راویښه شوه، د بغداد عباسی خلیفه لومړی د هغه حوصله لوړه کړه، او د هغه د میړانی داستانونه یی چی واوریدل د اسلامی نړۍ په زرګونو سربښندویان یی تر بیرغ لاندی راټول شول، خو د پاچاهی د داخلی ګډوډیو په وجه هغه خپل کار ترسره نکړای شو، او په بیت المقدس کی د عیسویانو بلی کړی ډیوی د ګل کیدو په حال کی له ګل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدونه وژغورل شوی، خو په ۵۸٤ هـ کی په مصر کی د صلاح الدین ایوبی اقتدار د هغوی ډیوی ته د شمال وروستی څپه شوه القدس یو ځل بیا د اسلام د غازیانو د اسونو پسښی ښکلولی، د اروپا عیسویانو ته د صلاح الدین ایوبی توره د سلجوقیانو له توری نه ډیره خطرناکه ښکاره شوه.

او پر فرانسی، جرمنی او انګلستان برسیره د اروپا زیاتره عیسوی پاچاهیو خپل زیات جنګیالی په ختیځ کی د عیسویانو د اقتدار، لویدونکو ستنو ته د تکیی ورکولو لپاره چمتو کړل.

عباسی خلافت دا ځل هم نیغ په دی جنګ کی ګډون ونه کړ، خو د صلاح الدین ایوبی د میرانی کارنامو ډیر زر اسلامی نړۍ ددە پلوی کړه، کله چی د اروپا د بی شمیره پوځونو له یرغل نه خبر شول د ترکستان، عراق او عربو زیات سربښندویان راغلل او د ایوبی تر بیرغ لاندی راټول شول.

*****

(٥)

د مدینی د څو نورو ځوانانو په څیر د صلیب په مقابل کی د هلال د جنډی اوچتی ساتلو جذبی احمد بن حسن هم له مدینی نه فلسطین ته ورساوه، د هلال او صلیب په معمولی جګړو کی احمد بن حسن د یوه بی نومه سپاهی په څیر ګډون کاوه، د هغه د ټولی منصبداران ددە په زړورتیا قانع وو، خو هغه پر ځان باور چی د احمد بن حسن د ښی پالنی او تربیی نتیجه وه تر یوی مودی پوری ددە د لاری خنډ ؤ، د هر څومره لوی سړی د خوښی لپاره هم تر خپل نظر او رایی نه تیریده، او هغوی ددە دا پرځان اعتماد ددە پر غرور او ځان غوښتنی، تعبیر اوه، د دوی د پوځی ټولی سالار یو ترکی ؤ.

د یوی ویاړمنی فتحی نه وروسته د شپی مهال د صلاح الدین پوځونو په یوه پراخ میدان کی پراو واچاوه، یوی خواته د احمد بن حسن د ټولی قوماندان له څو نورو افسرانو سره د تیری جګړی د یادونو کیسی کولی.

هغه ناڅاپه له یوه سپاهی نه وپوښتل احمد بن حسن چیرته دی؟ سپاهی ځواب ورکړ : هغه د ونی لاندی د شمی رڼا ته کوم کتاب لولی.

ترکی افسر بیا وویل : که د هغه له کتابونو لوستلو سره دومره مینه نه وای نو ښه سپاهی تری جوړیدای شوای، ورمه ورځ کټ مټ د یوه سپاهی په څیر جنګیده، هغه پنځه تنه نصرانیان ووژل، او زما باور نه کیده چی دا د احمد وی، خو دا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونه به یی له کاره وباسی.

یو څوان چی تر اوسه پوری چوپ ناست ؤ وویل : کیدای شی هغه د یوه سرتیری پرځای ددی لپاره پیدا شوی وی چی د پوځ لارښود شی، یو عام سرتیری ښایی له توری نه زیات څه شی ته ارتیا احساس نه کړی خو یو سالار او قوماندان کتاب ته له ارتیا څخه انکار نه شی کولی.

ترکی قوماندان په کړسنده خندا کی د څوان د خبرو د تریخوالی پتولو هڅه وکړه ویی ویل : نو د بغداد اوسیدونکی ټول منصبداران او سالاران دی ! هغوی یوازی کتابونه لولی.

څوان څواب ورکړ: د اسلامی نړۍ بدمرغی ده چی د بغداد اوسیدونکی له کتاب سره د توری ضرورت نه احساسوی، که نه نو د اسلامی نړۍ هر سپاهی به د دوی تر قوماندی لاندې جګړه د ځان ویاړ بلله.

د مشال له رڼا نه د لری والی په سبب ترکی سالار خپل مخاطب ونه پیژاند، هغه لږ په ترخه لهجه وویل ، دا د احمد بن حسن دوهم ملګری له کومه شو، ته لږ راوړاندی شه!

څوان له گوښی را اوچت شو او د سالار په مخکی ودریده، سالار ورته وویل : هی هی یوسفه نن دی ژبه ولی وچلیده؟ کښینه! زه د هر توریالی په لیدو خوشحالیږم. تا په خپله لومړنۍ جګړه کی زموږ شاباسی ګټلی دی، خو دی ته دی پام لره چی دلته دبغداد د خلکو په باب له خلکو سره نیك نظر نشته.

یوسف جدی څواب ورکړ : د خبرو په وخت زما ذهن کی د خلکو رایه نه وه بلکی ته وی، زه د بغداد خلك نه د ستاینی وړ بولم او نه می یی ستاینه کړی ده. د هغوی یادونه هسی راغله، اصلی خبره دا وه چی سپاهی باید علم زده کړی که نه؟ زه دا وایم چی توره داسی سرشوخه اس دی چی د علم قیضه ورته په کار ده، د بغداد له خلکو سره یوازی قیضه ده اس ورسره نشته.

سالار تری وپوښتل: زموږ په باب ستا نظر څه دی؟

یوسف تری وپوښتل : زموږ نه ستا مطلب ځان دی او که د صلاح الدین ایوبی پوځ؟

ترکی سالار د هغه له سوال نه پریشانه شو د خبری دارولو لپاره یی وویل : دغه څوان په خبرو کی د احمد بن حسن استاذ ښکاری هغه هم راوغواړی!.

یو سپاهی جګ شو احمد بن حسن یی راوغوښت، ترکي سالار ورته وویل :

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده ! ته وړمه ورځ کټ مټ د یوه سپاهی په څیر جنګیدلی، زما له تانه هیڅکله هم دا تمه نه وه.

کښینه!

احمد بن حسن څواب ورکړ : ته باید له خپلو سپاهیانو نه بدی هیلی ونه لری.

ترکی افسر لږ خجالت غوندی شو ویی ویل : ته له یوسف سره پیژنی که نه دی زموږ نوی ملګری دی.

احمد څواب ورکړ : زه ورسره معرفی شوی یم.

: نن دی څه لوستل؟

: ما د خالد «رض» بن ولید د فتحو پیښی لوستی.

ترکی افسر وپوښتل : د خالد «رض» بن ولید بر یاوی زیاتی دی که زموږ د پاچا؟

زما په ګومان د هغه زمانی جګړی زموږ د وخت له جګړونه ډیری معمولی او ساده وی.

احمد بن حسن څواب ورکړ : ستا نظر سهی نه دی، زه بی علمی د بخښنی وړ بولم، خو ریا کاری د بخښنی وړ نه بولم، ته ښایی د پاچا په مخکی که دغسی خبری وکړی نو هغه به خوښ کړی ، خو هغه اوس دلته نشته، زه دا منم چی له کتابونو نه دی کرکه ده، خو دانه شم منلی چی یوی مسلمانی موربه د لوی خالد «رض» د فتحو کیسی نه وی درته اورولی، او تاته به یی د هغو سترو غازیانو نوم په درناوی او ویاړ یا دولو درس نه وی ښودلی، چی په ګیډو به یی ډبری وترلی، شړی به یی واغوستلی او د قیصر او کسری تختونه یی تر پښو لاندی کړل. د خالد «رض» د وخت زیاتره جګړی داسی وی چی د مسلمانانو د یوی توری په مقابل کی به د دښمن لس توری دریدلي وی.

زما په خبرو به ته خامخا خفه کیږی. تاسو زما مشر یاست، د جګړی په ډګر ستا هره اشاره مانه د حکم په معنی ده، خو هغه هم ددی لپاره نه چی زه ستا او یا پاچا صلاح الدین ایوبی خوښی وغواړم، او که دپاچا درناوی زما په زړه کی شته یوازی ځدی لپاره چی هغه هم زما په څیر د اسلام یو سرښندوی دی، د داسي غلطو خبرو په سبب ښایی کوم د تاریخ زده کوونکی بی لاری نه شی، خو د پاچا په وړاندی داسی چاپلوسی ممکن د ځان خوښونی هغه جذبه په هغه کی راویښه کړی چې د هغی له سببه د بنی عباس خلیفه ګان د اسلام لپاره د بی کاره بدن په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

څیر شول.

نن ورځ اسلامی نړۍ له سلطان صلاح الدین ایوبی نه ډیری هیلی لری، څکه خو تاسو هغه اوس له خالد «رض» او عبیده «رض» سره په برابری کی له راتلونکی نه مه بی پروا کوی. هغه ته دعا وکړی چی د ډیرو سترو بریونه وروسته هم داسی احساس کړی چی اوس یی نوی سفر پیل کړی دی.

احمد بن حسن نور هم څه ویل غوښتل چی د ونی له څنګه یو مول وهلی، (نقاب پوښ) رابتکاوه شو، هغه را وراندی شو ویی ویل : خدای ج دی صلاح الدین د اسلامی نړۍ د هیلو پوره کولو ور کړی. او له چاپلوسانو یی دی وساتی. د هغه په غږ کی غوسه، جلال او هیبت ؤ، اوریدونکی وارخطا شول هغه ته یی وکتل هغه چی د مشال رڼا ته نژدی شو نقاب یی لری کړ، ترکی سالار وارخطا شو ویی ویل : سلطان!

تولو پاڅیدل، صلاح الدین ترکی افسر مخاطب کړ ورته ویی ویل : ما ستا خبری واوریدی ډیر خفه شوم،. ته نا پوه یی ، ستا سزا دا ده چی تر شپږو میاشتو پوری به دی له ملګرونه څانګړی کښینی او تاریخ به لولی شپږ میاشتی وروسته زه پخپله ستا ازموینه اخلم، که تا زه ډاډه کړم نو رتبه دی لوړوم که نه نو په یوازیتوب کی به دی دناستی سزا نوره هم اوږدوم. احمد او یوسف ته سلطان اشاره وکړه ویی ویل : تاسو دواړه را نژدی شی، ډوی ور نژدی شول او له سلطان سره نژدی ودریدل.

سلطان تری وپوښتل : له کومه ځایه راغلی یاست؟

احمد بن حسن ځواب ورکړ : زه له مدینی نه راغلی یم، سلطان یوسف ته وکتل ، هغه ځواب ورکړ : زه له بغداد نه.

: تاسو څه وخت زما په پوځ کی شامل شوی یاست؟

احمد ځواب ورکړ : زما نژدی شپږ میاشتی وشوی او د یوسف پنځمه ورځ ده.

سلطان صلاح الدین ورته وویل : ته زما په باب د غلطو اتکلونو ګناهکار یی. زه څه سزا درکړم؟

احمد وویل : که تا زما تولی خبری اوریدلی وی نو زه د ځان سپینولو په اړه هیڅ نه وایم.

سلطان د احمد پر اوږه په مینه لاس کیښود ویی ویل : سمدستی زه ستا له ژبی اغیزمن شوم، ماته ستا د پوهی کمالونو معلومات نشته، څکه خو تا د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوولسو تولیو مشر تاکم، او یوسفه ! ستا په غږ کی د یوه پوځی پر ځان اعتماد دی، امکان لری ته ځان وروسته د لویی ذمه واری اهل ثابت کړی، خو سمدستی تا د پنځو تولیو مشر تاکم، تاسو دواړو ته داډ درکوم چی زما په وړاندی یوازی میړانه او زړورتوب ارځښت لری چاپلوسی نه، او د حضرت خالد «رض» په اړه ښایی زه خپل احساسات بیان نکړای شم، کاشکی زه د مصر د سلطان پرځای د ستر مجاهد «رض» د پوځ یو عادی سرتیری وای. ماته نه یوازی هغه غازیان بلکی هغه خلك هم د قدر او ویاړ وړ دی چی د عراق او شام په ډګرونو کی یی د ستر خالد «رض» د پوځ ګردونه لیدلی دی چی دوی به یکی له سترګو پناه شول، زه تر ځانه د اسلام غازیانو ته د اوبو رسولو په ترځ کی شهیده شوی بودی غوره بولم.

*****

(٦)

څو ورځی وروسته د سلطان صلاح الدین په پوځ کی داسی څوك نه وو چی احمد بن حسن او یوسف بن ظهیر یی نه پیژندل، یو کال وروسته یوسف بن ظهیر د سلطان د سرتیرو قوماندان او احمد د شورئ غړی تاکل شوی وو. دواړو یو بل ته ډیر زیات درناوی او عقیدت درلود، که د جګړی پر ډګر احمد پر چا زیات ویاړ کاوه نو هغه یوسف ؤ، او د علماو په ډله کی یوسف د خپل دوست په علم اعتراف کاوه.

یوسف او احمد بن حسن عهد کړی ؤ چی تر څو پر بیت المقدس بیرته د صلیب پرځای د هلال بیرغ ونه رپیږی دوی به رخصت وانه خلی، په هغو ورځو کی چی سلطان پر یروشیلم د وروستی پریکنده برید لپاره تیاری نیوه له بغداد نه د سلطان د پوځ څو تنه [illegible] رضا کار سرتیری چې رخصت تللی وو بیرته راستانه شول د هغوی نه یو تن د یوسف خیمی ته ورغی او د هغه د میرمن لیك یې ورکړ . یوسف هغه ته د کښیناستلو اشاره وکړه او لیك یی خلاص کړ [illegible] یی ولوست، بیا یی سرځوړند کړ او په سوچونو کی ډوب شو، لږ ځنډ وروسته یی سرپورته کړ او سرتیری ته یی وکتل،

سپاهی ورته وویل : ما خپله میرمن ستا کوزته استولی وه، هغی ستا د میرمنی حالت خراب ښوده، ستا زوی می ولید هغه روغ و، ما می خپلی میرمنی ته ویلی دی هغه به ستا د میرمن خدمت کوی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوسف په شوندو غمجنه موسکا خپره شوه ویی ویل : خدای دی تاته خیر درکړی، او بیا یی له سره یو ځل بیا لیك ولوست.

لږ ځند وروسته یوسف په خپله خیمه کی یوازی په ناکراری قدم واهه، له پنځه شپږ ځله لوستلو وروسته یی د لنډ لیك متن یاد شوی ؤ.

: زما آغا! زما خاونده! له ډیر انتظار وروسته دی لیك راغی، کاشکی ماله تا سره یوځای پر بیت المقدس د اسلام بیرغ رپیدل لیدلی وای، زه لږ ناروغه یم، خو ته چورت مه وهه، د یروشیلم د فتحی خبر چی واورم روغه به شم، هوا! دا ضرور زما هیله ده چی د بیت المقدس د فتحی زیری تر هر چاوړاندی ته راته واوروی. خپله وعده تر سره کړه، زه شپه او ورځ خدای ج ته دعا کوم، چی پر یروشیلم د اسلام د بیرغ رپولو ویار ستا په نصیب کړی، طاهر ډیر خوښ دی او د محسن میرمن زما ډیر خیال ساتی، ماته هیڅ ډول تکلیف نشته.

یوسف په خیمه کی قدم واهه او دغه الفاظ یی کله په لوړ غږ او کله کرار تکرارول، د هغه د زړه درزا کله ګړندی او کله کراریده، د هغه زړه او دماغ په دوو سره بیلو خیالونو او ارزوګانو کی را ګیر شوی او په کشمکش کی ؤ، د هغه په وړاندی دوی ذمه واری وی، یوه لوری ته ځوانه او ښکلی میرمن چی له واده نه وړاندی دی بلکل یوازی ؤ، او له واده نه وروسته د هغی یوه حیاناکه موسکا ده ته د نړۍ تر ټولو خزانو غوره او قیمتی وه، هغه ناروغه وه، او په لیك کی د تسلی پر الفاظو برسیره د هغی حالت د اندیښنی وړ ؤ، ځکه چی په معمولی ناروغی کی هغی ته د محسن د میرمنی د خدمت ضرورت نه ؤ، هغه باید ځان کورته رسولی وای، دی به د خیال په برېښنا ته ورته ګړندی اس پښه واړوله، بغداد ته به ورسید او خپل کورته به ننوت:

زاهدی! زاهدی! ته څنګه یی؟ زه راغلم راته وګوره! هغی به ټکان وخوړ ده ته به یی وکتل او په ناکراری به یی ورته وویل : ته! ایا په یروشیلم د اسلام بیرغ ورپیده؟ دا پوښتنه به د خیال اس ته د متروکی په شان شوه، او دی به د بغداد له آرامو کوڅو نه د القدس د جګړی ډګر ته راورسید.

او لاس به یی ومروړل په لوړ غږ به یی ویل : زه به خپله وعده ترسره کوم، زه د یروشیلم، «القدس» د فتحی خبر هغی ته وروړم، بیا به د غشو په باران کی له خندق «کندی» نه تیر شو، د کلا دیوالونه به یی سوری کړل، د صلیب نښانونه به یی څیری کړله او د هلال له جنډی سره به د کلا لوړ برج ته وخوت، بیا به یی د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتحی ناره اوچته کړه پر خپل برښنا ډوله ګړندی اس به سپور شو او بغداد ته به ورسید.

د کور په مخکی به له اس نه پلی شو، او په منده به کورته ننوت ویل به یی : زما ګرانی، زما اروا، زه راغلم، یروشیلم فتحه شو، ما پخپلو لاسو د کلا په ترټولو لوړ برج د اسلام بیرغ ټینګ کړ، او د زاهدی بنکلی او معصومه څیره به له خوښی نه وغوړیده...

بیا دده وروستی پریکړه دا شوه چی : زه به ولاړ نه شم.

احمد بن حسن یی کوتی ته ورننوت او ورته ویی ویل : یوسفه! له بغداده څو تنه سپاهیان راغلی دی. ستا له کوره یی څه پیغام راوړی دی؟

: د میرمنی لیك می راغلی دی، یوسف د موسکی کیدو هڅه وکړه ویی ویل .

: ته اندیښمن یی خیرت خو به وی؟

: هغه لږ ناروغه ده!

احمد بن حسن په ځیر دده څیری ته وکتل او له یوی شیبی چورت وروسته یی وویل : ته یی ورغوښتی یی؟

: نه ته لیك ولوله، دایی وویل او بیا یی د خپلی میرمنی لیك د احمد په لاس کی ورکړ.

احمد د لیك له لوستلونه وروسته وویل : له لیك نه خو د اندیښنی خبره نه بنکاری، بیا هم ته پریشانه یی، زه درته یو زیری اوروم.

یوسف په ناکراری وپوښتل : د څه زیری! ایا په القدس زر حمله کیدونکی ده؟

: هوکی! بل سبا ته به د القدس دیوالونه ور ړنګوو، او انشاء الله ته به د بغداد خلکو ته د القدس د فتحی د زیری اورولو لپاره په یوه هفته کی چمتو شی، زه به هم څو مزله درسره ملګری وم.

یوسف بیا وپوښتل : ستا باور دی چی بله ورځ به حمله کوو؟

احمد ځواب ورکړ : زه همدا اوس د سلطان له دربارنه راغلی یم.

د یوسف زړه درزیدو، بیا یی دوست ته وکتل او د موسکا هڅه یی وکړه ویی ویل : کاشکی دغه حمله نن وای!

احمد له لږ سوچ وروسته بیا وپوښتل : زه د لیك د راوړونکی نوم پوښتلی شم؟

: دغه لیك محسن راوړی دی زما ګاونډی دی.

: په کوم ټولی «رساله» کی دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: هغه د حملې د پوځ د اتلسم ټولې د سالار مرستیال دی.

مانښام مهال احمد بن حسن یوسف ته وویل : یوسفا! ماله محسن سره ولیدل، د هغه له خبرونه معلومیده چې ستا د میرمنې حالت ښه نه دی. که غواړې چې ولاړ شې زه به له سلطان سره ستا د رخصت خبره وکړم.

یوسف ځواب ورکړ: نه د ناروغۍ د خدمت او علاج فرصت ښیا هم په لاس راشي، خو د یروشیلم د فتحې فرصت ښایي بیا په لاس رانه شي.

*****

(۷)

اته ورځې وروسته د مسلمانانو پوځ له ځلورو خواو پر القدس حمله وکړه، سلطان صلاح الدین په یوه سپین اس سپور ؤ او د پوځ لارښونه یې کوله، سلطان چې لومړنۍ سپاهي ولید چې پر دیوال یې کمند ور وغورځاوه یوسف ؤ، له پاسه د دتیږو او غشو باران ؤ او یوسف ډال پر سر نیولی ؤ او د ځان ساتنه یې کوله، د دیوال سرته د ختلو امکان یې ډیر لږ ؤ، سلطان له ځانه سره وویل که دی د دیوال سرته وخوت زه به مې خپله توره وربخښم، یوسف د دیوال سرته ورسید او څو نورو ځوانانو هم دده په تقلید کمندونه وغورځول، د یوسف توری څو تنه په مرګ وسپارل، سلطان خپل جنرال ته وویل : « اوس دی زما د آس حقدار هم دی».

څو تنه نور غازیان هم د حصار سرته وختل او له شانه یې پر یوسف د پهره دارانو د یرغل مخه ونیوله، یوسف په خپلو پرله پسې حملو شپږ، اوه سپاهیان وارخطا کړل، صلاح الدین د خوښۍ او احساساتو له جوشه ویل : ځوانه! زه تا دیرغل کوونکی ډلې اعلی سالار ټاکم، د لږ ځنډ لپاره د سلطان پام بل لوری ته واوښت او چې کله یې دویم ځلې هماغه حصار ته وکتل نو دده پوځیانو پرې قبضه کړې وه، خو یوسف هلته نه ؤ، هغه له خپلو نژدې کسانو څخه وپوښتل : یوسف چیرته ولاړ؟

هغوی د دروازې پرسر تر ټولو لوړ برج ته اشاره وکړه ویې ویل : هلته ګوره یوسف ډیر خطرناک ځای جګړه کوي.

سلطان پورته وکتل، د یوسف توره په یوه وخت کې له دری تورو سره جنګیدله، د سلطان دوه سپاهیان یې مرستې ته ور رسیدلی وو، د یوسف د توری په یوه ګوزار د صلیب نښان لاندې راولوید، د سلطان په سترګو کې د خوښۍ اوښکې راغلې ویې ویل : ته زما زوی یې: زه تا ددې ښار والی ټاکم. خو د یوسف له

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسه توره لولیدلی وه، او یوه ځوان هغه ته تکیه ورکړی وه، سلطان هغه وپیژاند هغه احمد بن حسن ؤ.

د سلطان پوځ دننه ننوت او دروازی یی خلاصی کړی دښمن وسله غورځولی وه، سلطان اس وزغلاوه او کلا ته ننه روت له اس نه پلی شو او د څو تنو نورو افسرانو سره په بیړه برج ته وخوت، د یوسف پر بدن ډیر زخمونه وو، احمد له خپل پتك نه اوبه ورځښلی، سلطان په ځمکه گونډه ووهله او ده ته نژدی کښیناست د هغه زغره یی وویستله زخمونه یی وکتل، او د هغه په نبض یی لاس کیښود، په غمجنه لهجه یی وویل : بچیه ته ما ددی ښار والی تاکلی یی، ښایی ستا حکومت ډیر لنډ وی، که د ښار د خلکو لپاره څه حکم کوی نو بیړه کوه!

یوسف لومړی سلطان او بیا احمد ته وکتل او بیا یی سترگی د صلیب پر نیم ځورند بیرغ میخ پاتی شوی.

احمد بن حسن وویل : ددی ښار د حاکم هیله ده چی پردی ښار د فتحی بیرغ دده په لاس تینګ شی، سلطان له دی خبری سره د یوسف په سترگو کی غیر معمولی ځلا ولیده، هغه یی بیا نبض وکوت او یوه سپاهی ته یی د بیرغ د راوړو امر وکړ، یوه سپاهی د صلیب مات نښان وغورځاوه، سلطان صلاح الدین ایوبی او احمد بن حسن یوسف ته تکیه ورکړه او جګ یی کړ، د یوسف په مړ ژوانډو لاسونو کی ناڅاپه ځواك پیدا شو، بیرغ یی تینګ کړ، پر شونډو یی موسکا وغوړیده، هغه موسکا چی یوازی د خدای «ج» په لار کی د شهید کیدونکو پر شونډو غوړیږی، ناڅاپه یی له خولی نه ووتل : زاهدی ! القدس فتحه شو!.

د سلطان په حکم یی یوسف یوی کوټې ته ورساوه، د ځنکدن په وخت کې یې چی احمد بن حسن ته څه وویل هغه دا وو:

احمده ! زما د میرمنی ددعا یوازی یوه برخه قبوله شوه، ما د یروشلیم د فتحی خبر ورونه رسولای شو، خو د تقدیر په یوه راز اوس زه پوهیږم، زاهده په بغداد کی نشته په کوم بل ځای کی زما انتظار کوی، که هغه ژوندی وای زه به خامخا بغداد ته رسیدلی وای، د بیرغ د تینګولو په وخت کی می داسی احساسوله چی هغه ما وینی، ته بغداد ته ولاړ شه، که هغه تر اوسه ژوندی وی نو د القدس د فتحی زیری تر هر چا ډیر رومبی ددی حق دی چی وایی وری. که هغه ژوندی نه وه نو زه می خپل زوی تا ته سپارم! هغه دا وویل او سترگی یی پتی کړی او په کمزوری غږ یی تکرار کړه : زاهدی ! زه راغلم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یروشیلم «بیت المقدس» فتحه شو، د بری بیرغ ما پخپلو لاسونو تینګ کړ، هغه بیا سترګی وغړولی.

سلطان او احمد ته یی وکتل ، او بیا د یوی اوږدی ساه نه وروسته دده د سترګو مخی ته د مرګ پردی وغوړیدی.

سلطان وویل : ته زر تر زره بغدا ته د تلو لپاره چمتو شه، زه د یوسف د میرمن لپاره څه پیسی درکوم، که هغه خدای «ج» مه کړه مړه شوی وه، نو زه د هغوی د بچی پالنه تا ته سپارم.

احمد بن حسن وویل : زه چمتو یم، که ستا اجازه وی نو د بغداد یو سپاهی چی د یوسف دوی ګاونډی دی له ځانه سره ملګری کوم.

*****

(۸)

لږ ځند وروسته د سلطان د هستوګنځی په مخه کی د دوی اسونه تیار وو، په دی کی یو هغه اس هم ؤ چی لږ وړاندی سلطان صلاح الدین ایوبی پخپله پری سپور ؤ، د رخصت په وخت کی سلطان احمد بن حسن خپلی خیمی ته ور وغوښت او د څرمنی یوه کڅوړه یی ورکړه ورته ویی ویل : په دی کی پنځه زره طلایی سکی دی، په دی کی زر سکی ستا دی، پاتی نوری د یوسف د کونډی دی.

که خدای «ج»، مه کړه هغه ژوندی نه وه نو دغه پیسی د یوسف د زوی په روزنه کی ولګوه، او د هغه د راتلونکی لپاره زه نور مال درکوم، دا واخله!

سلطان په یوه وریښمینه توته کی غوټه احمد ته ونیوه ویی ویل : خلاصه یی کړه ویی ګوره!

احمد بن حسن غوټه پرانستله، په هغی کی قیمتی غمی ځلیدل، سلطان وویل : دا جواهر هغه وخت ورکړه چی زلمی شو.

احمد بن حسن وویل : د یوسف د زوی لپاره ستا هر بخښش روا دی خو زه دلته د دولت په موندلو پسی نه یم راغلی خدای «ج» ماته هر څه ډیر راکړی دی.

سلطان وویل : که ستا دی ته اړتیا نشته نو د مدینی د بی وزله ماشومانو لپاره یی یوسه.

د سلطان لهجه او خبری داسی وی چی احمد انکار ونکړای شو.

سلطان بیا ویل : دوه نور شیان چی زه تاته سپارل غواړم هغه یو زما اس دی،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو سپاهی به تر بغداده دغه اس درسره بوزی. په بغداد کی یی خرڅ کړه او پیسی یی د یوسف کوندې ته ورکړه، زما هیله ده چی د بغداد خلك به زما اس په بنه بیه واخلی دوهم شی زما توره ده، هغه به د یوسف د زوی تر ځوانیدو پوری له تا سره وی.

احمد وویل : محسن له ما سره درومی.

سلطان وویل : ما هغه نه دی هیر کړی، د هغه تر راستنیدو پوری به د غنیمت په مال کی د هغه برخه خوندی وی، بیا هم دده د لاری د خرڅ لپاره یو څه ورکوم.

سلطان محسن دننه ور وغوښت او پنځه سوه طلایی سکی یی ورکړی. بیا یی له دواړو سره خدای «ج» پامانی وکړه ویی ویل : اوس تاسو درځئ! زما هیله ده چی په بغدادکی د القدس د فتحی د زیری لومړی اوریدونکی د یوسف میرمن وی، خدای «ج» مو مل شه!

له څو اونیو مزله وروسته احمد بن حسن چی بغدا ته ورسید ورته معلومه شوه چی د یوسف میرمن د القدس له فتحی نه ځلور ورځئ دمخه وفات شوی وه او د محسن بنځئ د هغی ماشوم کورته بیولی ؤ، احمد بن حسن چی کور ته ورسید د ماشوم د لیدو هیله یی وکړه، او چی محسن یو دوه نیم کلن بنکلی ماشوم راوړ او د هغه په غیږ کی یی واچاوه دده زړه را ډك شو، احمد بن حسن د ماشوم پر سر د مینی لاس راښکود، هلك لاس ور اوږد کړ دده پزه یی ونیوله او ویی ویل : غازی ... پلار ... غازی!

احمد هغه سینی ته ور جوخت کړ، په سترګو کی یی اوښکی راډنډ شوی ویی ویل : بچیه ! پلار دی شهید شو!

پلار !... ماشوم په ځیر احمد ته وکتل!

: پلار شهید ! احمد یی تندی بنکل کړ ورته ویی ویل ، ماشوم دده په غیږ کی په توپونو شو ویی ویل :

پلار شهید!

تر مابنامه په بغداد کی د صلاح الدین ایوبی د اس غوری کیدی، د بغداد امیرانو هریوه غوښتل چی دغه اس د خپلی طبیلی زینت کړی، په دوی کی ډیر داسی کسان وو چی پر اس د سپریدو پرځای یی د اس سنګارول سنه زده وو.

د خلیفه په باب دا مشهوره وه چی څومره به د یو شی د پیرلو لپاره ناکرار ؤ هومره به یی لاس هم په خپل جیب کلك نیولی ؤ،او بیا به چی کوم سوداګر ته د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلیفه وراندیز د منلو ور نه ؤ نو امیرانو به د هغه د پیرلو جرئت نه کاوه، خو خلیفه هغه وخت پری خبر شو چی د چین سفیر دغه اس د لس زره درهمه په ارځښت جواهراتو پیرلی ؤ.

سبا ته احمد بن حسن د یوسف بن ظهیر زوی ورسره واخست او مدینی ته روان شو.

*****

(۹)

د یوسف د کم عمره زوی نوم طاهر احمد ؤ، احمد بن حسن چی کور ته ورسید هغه یی خپلی بنځی ته وسپاره او ورته ویی ویل : سعیدی! دا د یوه مجاهد زوی دی، او زما درباندی اعتماد دی چی ته به ددغه وړوکی میلمه په خدمت کی د مدینی د انصارو په روایتونو عمل وکړی.

ماسپښین مهال چی کله د احمد بن حسن اوه کلن زوی طلحه له مدرسی نه راغی د مور په غیږ کی یی یو بنکلی ماشوم ولید ویی ویل : موری ! دا څوك دی؟

سعیدی ځواب ورکړ : زویه دا ستا کشر ورور دی.

ماښام مهال د کلی ټولو ماشومانو ته طلحه خپل وړوکی ورور وربښودلی، پنځه کاله وروسته یوه ورځ احمد له سعیدی نه وپوښتل : ربښتیا ووایه پر تا طلحه ډیر گران دی که طاهر؟

سعیدی په ځیر دواړو ته وکتل او له لږ سوچ وروسته یی وویل : نه پوهیږم!

د احمد بن حسن په کور کی تر ۱۲ کلنی پوری د طاهر ژوند یو خوږ خوب ؤ، احمد بن حسن د هغه د استعدادونو په روزنه کی هیڅ کمی نه کاوه، د مدینی د علماو او د جنگی فنونو د ماهرینو اتفاقی رایه دا وه چی دی د کوم لوی کار لپاره پیدا شویدی، احمد بن حسن او سعیدی ته دی له خپل زوی طلحه نه کم گران نه ؤ، او طلحه هم د خپل ژوند ډیری شیبی ورسره گډی کړی وی، د اومی هجری پیړی په لومړنیو کلونو کی د هلال او صلیب ترمنځ جگړی له سره پیل شوی. د اروپا عیسوی ځواکونو په فلسطین او شام کی د صلاح الدین ایوبی «رح» له لاسه د پرله پسی ماتو څخه وروسته قسطنطنیه خپل مرکز وتاکه د بازنطینی امپراتوری د غځولو لپاره یی یو ځل بیا هڅی پیل کړی، د مصر پوځونو یو ځل بیا د اسلامی نړی په لوری د عیسوی پوځونو د سیلاب په مخ کی د وروستی کمره رول

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوباوه، خو په بغداد کی عباسی سلطنت یو ځل بیا د غفلت په خوب ویده شوی ؤ،
د شام د سوداګرو یوه قافله مدینی ته ورسیده او د هغوی له خولی چی احمد بن حسن د نصرانیانو د نویو حملو خبر واورید نو جهاد ته یی دروانیدو اراده وکړه.
له رخصتیدو نه یوه ورځ وړاندی طلحه وویل :
پلار جانه ! زه هم درسره ځم، احمد بن حسن هغه په غیږ کی ونیو او تندی یی ور ښکل کړ ورته ویی ویل : زه ستا له خولی ددی خبری اوریدو ته ناکراره وم.
تا دی مورته یادونه کړی ده؟
: هو هغی اجازه راکړی ده.
طاهر ته د طلحه بیلتون ګران ؤ، خو هغه ولاړ، لس میاشتی وروسته احمد بن حسن بیرته راستون شو او میرمنی ته یی وویل : سعیدی! ما ډیر دردوونکی خبر راوړی دی.
هغی په سترګو سترګو کی تری پوښتل او تر خوله یی ووتل : طلحه ...!!
: هوکی موږ دواړه د یوه هدف په خاطر روان شوو، د هغه شهادت نصیب شو او زه تش لاس بیرته راستون شوم.
سعیده : انا لله و انا لیه راجعون ط او بیا چوپه شوه.
راتلونکی کال ته احمد او سعیدی ته خدای «ج»، بل زوی ورکړ چی امین یی نوم ورباندی کیښود.
څو کاله وروسته چی کله د اسلامی نړۍ د نورو ښارونو په څیر د مدینی خلك هم پر اسلامی نړۍ له لویدیځه د عیسویت د یرغل پرځای له ختیځه د یوه تور توپان د را الوتو نخښی احساسولی احمد بن حسن طاهر ته وویل : بچیه ! اوس تر مدینی زیات بغداد تاته ارتیا لری، ستا بیلتون زه او امین نشو زغملی، خو زه دا احساسوم چی ته زما د بوډاتوب د لکنې پرځای د اسلامی نړۍ یوه ستنه کیدای شی، ته بغداد ته د تلو لپاره چمتو شه،
په مدینی کی له احمد بن حسن نه پرته چاته د طاهر د شتمنی هیڅ معلومات نه وو خو هیڅوك داسی نه وو چی له ده سره یی مینه نه وه، کله چی خلك خبر شول چی طاهر بغداد ته روانیږی نو تولو تر دی پوری ویل چی د عباسی واکمنی ګر ده غوره صدر اعظم نشی موندل کیدای.
بغداد ته د طاهر له استولونه وړاندی احمد بن حسن هغه ته د یوه اعتمادی ملګری د پیدا کولو ضرورت احساس کړ، ددوی د کلی نه نژدی دری میله لری د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید په نامه یو سړی اوسیده، هغه څو کاله د احمد بن حسن د باغونو ساتونکی ؤ، زید یو ساده او دینداره سړی ؤ، احمد بن حسن طاهر ته وویل : بچیه زه تاته د یوه دینداره او مخلص خدمتګار اړتیا احساسوم، سمدستی ماته تر زید غوره او مناسب څوك تر نظر نه راځی، که یی مناسبه بولی نو هغه درسره ملګری کړه.

طاهر ځواب ورکړ : کله چی زه د اتو کلونو وم نو هغه له ما نه وعده اخستی وه چی زه لوی شم دی به بهر ته راسره بیایم، له همغی وروسته چی کله هغه ما وینی خپله وعده رایادوی.

احمد بن حسن وویل : نو هغه راوغواړه ! زه هغه په څو خبرو پوهول غواړم.

طاهر موسکی شو ځواب یی ورکړ : هغه نن سهار راهیسی په جومات کی ناست دی، هغه ویرپړی چی زه به یی پریږدم او ولاړ به شم.

: راویی غواړه!

طاهر لږ څند وروسته یو د منځنی قد ځواکمن سړی راوست ، د هغه عمر د څلویښت کلونو په شاوخوا کی ؤ او په څیزه یی بی دریغه معصومیت او سادګی وه.

احمد بن حسن وویل : زیده! ته چی له طاهر سره تللی نو ماته دی ولی نه ویل؟

زید په سادګی ځواب ورکړ : رښتیا خبره خو دا ده چی د لوی عمر ټول خلك ماکم عقل ګڼی، زه ویریدم چی ته به هم ما دغسی وګڼی او زما پرتلو به خوښ نه وی.

«نو ته چمتو یی؟»

: زه له شلو کالو راهیسی بغداد ته د تګ لپاره چمتو ناست یم، خو کله چی څوك له مدینی نه هلته څی ماته وایی چی ته د میړو د څرولو لپاره پیدا شوی یی په بغداد کی به څه وکړی؟

احمد بن حسن ځواب ورکړ : خو زه تاته په پوره داډ وایم چی په بغداد کی تاته اړتیا شته.

: ګوره له ما سره توکی مه کوه، زه غریب ضرور یم خو په سینه کی زړه لرم. که می له طاهر سره نه لیږی نو صفا راته ووایه، زه پوهیږم چی زه یو بی کاره سړی یم، احمد بن حسن وخندل طاهر ته یی وویل : بچیه ! ده ته څه تکلیف ونه رسوی! او بیا یی زید ته مخ واړاوه ویی ویل : زیده! طاهر به بله ورځ له دی ځایه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانیږی. ته تیار شه او ځان رارسوه، زه درسره وعده کوم چی دی به تا ورسره بیایی.

طاهر وویل : دده کلی زما د لاری پر سر دی، زه به دی له همغه ځایه راسره ملګری کړم. د هغه دلته راتګ ته ارتیا نشته.

زید وویل : زما هم دا هیله وه، زموږ د کلی خلك غواړی دی وویني، ما ورته ویلی دی چی دده پلار ته سلطان صلاح الدین ایوبی خپل اس او توره وربخښلی وو، یوه بله خبره هم ده، هیڅوك هم دا نه منی چی زه بغدا ته روان یم. دوی وایی چی زه به څو ورځی په یوه او بله وګرځم او بیرته به راستون شم. که دی هلته راشی نو زه به خپل کلیوال لږ خړ کړم.

احمد بن حسن وویل : سبه ده ولاړ شه، طاهر به بله ورځ سهار تا ته درورسیږی، اوس تا ته دلته د پهری ارتیا نشته، زما پر وعده باور وکړه.

: ستا وعده ؟ زه ربښتیا وایم که ته له ما سره وعده وکړی چی ما به اسمان ته رسوی نو زه به پری باور وکړم، احمد بن حسن زید ته اس او د سفر نور ضروری سامان ورکړل او رخصت یی کړ.

*****

(۱۰)

طاهر چی د احمد بن حسن نه رخصت واخست د زید د کلی مخه یی ونیوه، زید د کلی په مخه کی د ونو سیوری ته دده د ورتګ انتظار کاوه ، د هغه پر شاوخوا ماشومان ورټول وو، یو اس په ونه پوری تړلی وه، او زید د جګړی په ټولو ضروری او بی ضرورته شیانو سنبال ؤ، د هغه چاغ بدن په زغره کی ډیر تنګ ؤ، او د وینی د ډب کیدو په وجه یی مخ سور او بښتی ؤ، د هغه لاسونه په نیزه او ډال بند وو. په شایی دوی د غشو کڅوړی تړلی وی، په ملا یی یوه توره او دوه خنجرونه ځړیدل، لینده، کمند «پړی» او خوراکی شیان یی د اس پر زین تړلی وو.

زید چی طاهر ولید جګ شو ویی ویل : انتظار راباندی اوږد شو، خلك دی په انتظار سترې شول او کورونو ته ولاړل.

طاهر وویل : اوس دی پر اس سپور شه چی ناوخته کیږی، زید پر اس سپور شو یوه هلك ته یی وویل : ابراهیمه ! ستا پلار په ما ترټولو زیاتی ملنډی وهلی، ورشه ورته ووایه چی زه بغداد ته څم که یی باور نه کیږی را دی شی ودی ګوری. او سلیمانه! ته دی هم باباته ووایه هغه هم نن ویل چی ته احمق یی تا به بغداد ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوك بیایی! دایی وویل او بیا یی طاهر ته وکتل:

اصلاً دغه خلك هم ملامت نه دی زه څو ځله بغداد ته د تلو په نیت وم خو بیا به پاتی شوم.

طاهر موسکی شو ویی ویل : اوس راځه لږ تودیږی.

کله چی بغداد ته ورسیدی کلیوالو ته ډی لیك راواستوه باور به یی راشی.

طاهر او زید آسونه پوندہ کړل، له کلی نه چی لږ وراندی تیر شول طاهر زید ته شاته راوکتل ، د هغه مخ تر پخوا زیات سور خوتیدلی ؤ، هغه د اس جلب راکش کړ ویی ویل : زیده! ستا زغره تنګه ده.

زید څواب ورکړ : زغره تنګه نه ده، زه ډیر چاغ یم.

دا زغره دوه کاله دمخه ما د بغداد د تلو په نیت د ډیرش وزو په بدل کی پیرلی وه.

طاهر وویل : دا خو تاته زیات تکلیف نه درکوی؟

زید د ځان د هوسایی هڅه وکړه ویی ویل : نه زما بدن دومره نازك نه دی.

خو دوه دری میله له مزله وروسته یی ورو وویل :

طاهره ! زما په بدن کی میږیان ګرځی.

طاهر څواب ورکړ : دومره زر ستړی شوی، راځه لږ وراندی به دمه جوړه کړو.

زید لږ څند وروسته بیا وویل : طاهره! زما وجود اور اخلی!

طاهر د ونو یوه پراخ بن ته اشاره وکړه ویی ویل : راځه هغه د خرما په بن کی به ودریږو ، هلته اوبه هم شته غرمه به هملته تیره کړو.

د زید زغم پای ته رسیدلی ؤ، هغه د دریم ځل لپاره بیا اس ودراوه، اوبه چیغه یی وویل: طاهره! ودریږه، زه مرګ ته نژدی یم، او بیایی د طاهر انتظار ونه کړله اس نه پلی شو او په تودو ریګونو پریوت.

طاهر وخندل ویی ویل : تا خو ویل چی بدن دی دومره نازك نه دی، زید غاښونه چیچل او د زغری د ویستلو ناکامه هڅه یی کوله.

ویی ویل : دا خو نه وزی د خدای «ج» په خاطر مرسته وکړه، داسی محسوسوم لکه په زرګونو لړمان می چی چیچی، طاهر له اس نه پلی شو ډیر په زحمت یی له هغه نه زغره وویستله، زید وویل : خدای «ج» دی اجر درکړی. زما تمه نه وه چی وبه وزی نن دری تنو ډیر په زور را اغوستی وه.

طاهر وویل : ښه زغره ده خو پر تا لږ تنګه ده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زید وویل : لږ تنګه ! ولی داسی نه وایی چی یوه بی عقله فیل د موږك په غار د ننوتلو سزا ګاللی.

طاهر وویل : ښه ده اوس یی راواخله، زه چی بغداد ته ورسیدم تاته به ډیره ښه زغره واخلم، دا به کوم بل چاته ورکړو.

زید په دواړو لاسونو په ریګونو کی غار جوړ کړ ویی ویل : زه دا همدلته ښخوم، زه به داسی وګنم چی دیرش وزی می په ناروغی مړی شوی او نوی زغره زه نه غواړم. زه په دی اوسپنیز کپس کی د ساه ورکولو پرځای پر لوخ تټر غشی ښخیدل ښه ګنم. زید د زغری لپاره قبر وکینده خو د طاهر په وینا یی بیرته په توبره کی واچوله او ورسره روان شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغـــداد

په تیرو پنځو پیړیو کی د عباسی خلیفه گانو د امن ژوند له بغداد نه د شاعر خوب جوړ کړی ؤ، د دجلی سیند هغه په دوو برخو ویشه، او په دواړو لوړیو کی د ویالو او سرکونو جال خپور شوی ؤ، د بغداد مانیو او باغونو د تیرو پنځوسوو کلونو د معماری د فن د لوړتیا او کمال داستانونه ویل، د نړۍ ډیرو غوره مالیارانو په دی خاوره د جنت تصور را ژوندی کړی ؤ، د شلو لکو انسانانو دغه کلی په ښکلا، زړه وړونکو منظرو او ښایست کی د نړۍ له غوره ښارونو نه یو ؤ.

خو د بغداد د ښار نه جوړیدو سره یی زوال پیل شو، د اسلام هغه تمدن چی د عربو د دښتی په توندوخو صفا شمالونو کی یی وده کړی وه، اوس په دی عجمی زانگو کی خوب کاوه.

د خلافت په دربار کی د عربو رسوخ چی د مامون الرشید له وخته په کمیدو شو اوس بلکل په نشت حساب ؤ، خو د حکومت له تالارونو نه بهر د بغداد په علمی مرکزونو کی د عربو ارځښت په هیڅ صورت لږ نه ؤ، هغوی په هندسه، ریاضی، تاریخ، جغرافیه، کیمیا، طب، جراحی او طبیعی علومو کی زیات نوم وگاټه، په گرامر، ژبو او ادب یی کتابونه ولیکل، خو د بغداد قانعو او تنبلو اوسیدونکو له دی علومونه د خپلی بیا رغاونی پرځای د ذهنی عیاشی پلمه جوړه کړی وه، د ایران، شام، ترکستان له لری لری ځایونو نه د لطیفه فنونو استادان بغداد ته راتلل او د بغداد امیرانو د هغوی پالنه کوله.

په بغدادکی په سلگونو کتابتونونه له کتابونو ډک پراته وو، د هغو کتابونو د ځیرنی لپاره غوره نقادان وو، خو داسی څوک چی ویی لولی او عمل پری وکړی ډیر لږ وو، پخپله د خلیفه په دربار کی به ځینی وختونه له یوه سهی عالم او پوه نه د یوه توکمار او خندوونکی قدر او عزت ډیر کیده، او د خدای ج او رسول د حکم بیانولو پرځای به یی هغه څوک دشاهانه انعامونو حقدار بلل چی خلیفه او واکمن

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به یی د ذمه ورایو نه ترسره کولو تأویلونه کول.

د بنبار په منځ کی د «خلد» د مانۍ په نامه یو شاندار محل ؤ چی عباسی خلیفه گان پکی اوسیدل.

شاوخوا ته د امیرانو او وزیرانو مانۍ وی، د لوړی طبقی علماؤ ته هم د هغو محلونو دروازی خلاصی وی، او دا به تر هغه وخته خلاصی وی تر څو به د دوی نظریات د خلیفه له سیاسی مسلك سره په تکر کی نه وو. د «خلد» له محل نه لری د بنبار په یوه څنډه د سیند پر غاړه یوه پراخه بندیخانه وه، او ددی بندی خانی تر تولو تنگسی او توری کوټی د هغو سترو او عزتمندو علماؤ او د پاچاهی د مشرانو لپاره ځانگړی وی چی د فتوی ورکولو په وخت کی یی د عباسی خلیفه گانو خیال نه ساته، او یا به یی دوی د اسلام په محك تلل.

د حکومت په نظر هغه مفتیان د قدر وړ وو چی د گناه کار پرخلاف یی د پریکړی نه وړاندی د هغو د نسب او تبر او د خلافت له مقام سره د اړیکو پوښتنه ضروری بلله، د یوه عام سړی لپاره د قتل سزا قتل وه، خو خلیفه له دی سزا نه جلا ؤ. کله کله به خلیفه د پاچاهی د درناوی وړ امیران په یوه دسترخوان راتول کړل، او د خلیفه نوکرانو به کله کله د لوښو او دسترخوان له ټولولونه وړاندی د ځینو عزتمندو د مړو ځای پرځای کولو دنده ترسره کوله، عباسی خلیفه گان د زوال په وخت کی د خپلو مخالفینو په زهرو وژلو کی کمال ته رسیدلی وو.

دوی داسی زهر هم پیدا کړی وو چی خوړونکی به څو ورځی وروسته پری پوهیده، هر میلمه به په بلنه کی له گډون نه وړاندی خامخا دا سوچ کاوه چی کوم وخت خو به یی خلیفه ناراضه کړی نه وی؟ تر سزا لاندی خلك به د بلنی له احوال سره سم وپوهیدل چی وروستی وخت یی را رسیدلی دی، خو کله کله به څو هوښیار امیران چی سره یو شول نو خلیفه ته به د ځان ژغورل گران شول، د اقتدار په جگړه کی به چی کوم خلیفه ماته وخوړه نو د ترکی او ایرانی امیرانو د لاس آله کیدل.

په وروستیو وختونو کی چی څومره عباسی خلیفه گانو له شعر او شاعری سره مینه درلوده هومره له مذهبی زده کړونه پردی اولری وو. د مذهبی چارو د ترسره کولو لپاره به یی یو بی غرضه او عاجز غوندی عالم ته ذمه واری وسپارله او هغه به یی د «شیخ الاسلام» په لقب وغانځه، سیاسی امور به خلیفه پخپل لاس کی واخستل، د سیاست او مذهب دغه ویش د اسلام لپاره یوه لویه فتنه وه، د شیخ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The English Library

الاسلام قلم د خلیفه د توزی تابع شوی ؤ.

د عزت او ښی تنخواه تمی دیر عالمان د شیخ الاسلام د لقب ګټلو په فکر کی کړی وو او ددی هدف ترلاسه کولو لپاره یی له نورو سره تکر کاوه او د هغوی نظریات به یی باطل بلل او هر دول تورونه به یی یو پر بل پوری کول.

په تیرو پیړیو کی د دینی علماؤ په اجتهاد کی د دین د خدمت جذبه د دوی نګیزه وه، هغوی د بغداد په نوم ورکو ګوتونو کی ناست وو او اسلام ته یی د قدر ور خدمتونه ترسره کړل، خو وروسته د کرسیو او لقبونو مینه وال علما را پیدا شول چی یایی د ریښتینو علماو له فتوا ګانو نه د ځان په ګټه کار اخست او یایی د هغو علماؤ مخالفت کاوه د بل مسلك د علماو تائید به یی کاوه او یو بل ته به یی د .مناظری لپاره بلنه ورکوله، دغه مناظری به د بغداد په عامو ځلور لارو او له ګنی ګونی ډکو ځایونو کی وی،د بغداد وزګارو او لټو اوسیدونکو د شاعرانو او توکمارو تر مجلسونو د دغو علماؤ د مناظرو مجلسونه ډیر بدرګه کول او ډیر یی خوښول. د مناظرو پیل به د یو بل د پوهیدو په نیکو هیلو ؤ، یوه به وینا کوله او بل به په پوره داد اوریده، او بیا به هغه کښیناست د مخالفی دلی نه به یو پورته شو او ځواب به یی ورکاوه، بیا به د دواړو لوریو ژبی ورو ورو توندی شوی تر دی چی خبره به کنځلو ته ورسیده، یوه لوری به د مخالف لوری اوه پښته حساب کړل او وبه یی ښکنځل، مقابل لوری به ددوی تر شلم پښته وشمیرل او وبه یی ستایل، یوه لوری به په دری ژبو کنځلی تکرار کړی، بل به بیا پهاوو ژبو ... او بیا به وروستی پراو دا ؤ چی دواړو لوریو به د تکبیر له نعرو سره په مقابل لوری حمله کوله او د سترګو په رپ کی به د دوی د مړو او ټپیانو انبارونه جوړ شول، بیا به د پولیسو او پوځ متروکو دغه لوبه ودروله، حکومت دغه مناظری بندی نه کړی خو دا شرط یی پکی کیښود چی باید هلته څوك وسله وال ولاړ نه شی.

ددی مناظرو په ترځ کی به مشهور علما دربار ته وربلل کیدل او کله کله به یی په دربار کی مناظره کوله خلیفه به معمولاً د هغه عالم په لوری ؤ چی د خلیفه لپاره به یی ترټولو ښه او غوره الفاظ او القاب راټول کړی وو.

که پردی ټولو بدمرغیو د بغداد خلیفه ګانو د عربو هغه سپاهیانه شعار چی ترنیمی نړۍزیاته برخه یی د دوی تر قدمونو لاندی کړه نه وای شاته کړی نو ښایی بغداد داسی له تباهی او ویرانی سره نه وای مخ شوی، د ولید بن عبدالملك په زمانه کی چی د عربو پوځ په سند، ترکستان او هسپانیه کی څومره هیوادونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتحه کړل، له عباسیانو سره د زوال په وخت کی هم له هغوی نه دری چنده زیات پوځ ؤ او هغوی پر اسلامی نړۍ د هری لویی حملی مخنیوی کولای شوای، خو د اموی او عباسی خلیفه گانو ترمنځ توپیر همدا ؤ چی لومړنیو خپل پوځونو د هیواد وروستی بریدته لیږل، خو عباسی خلیفه گان سره له دی چی دوی پخپله د بغداد د محلونو په څلورو دیوالونو کی اوسیدل بیایی هم د ځانونو د ساتنی لپاره دری لکه توری وهونکی ورسره لازمی بلل.

عباسی خلیفه گان یو دبل سره په جگړو او یو د بل د وینو تږی وو، د حسن بن صباح فتنه د دوی د زوال وروستی پړاو شو.

*****

(۲)

طاهر چی بغداد ته ورسید څلور ورځی یی له قاضی فخر الدین سره تیری کړی، په دی موده کی یی د بغداد په کوڅو کی د څو مدرسو او کتابتونونو ځایونه هم معلوم کړل.

د قاضی فخر الدین په کتابتون کی هم ترپنځه زره ټوکو زیات کتابونه موجود وو. پر فقه، تاریخ او منطق ده پخپله هم څو کتابونه لیکلی وو، دغه کتابونه د قاضی فخر الدین لپاره د بنی نفقی برابریدو وسیله وه، طاهر د خپل پلار د پخوانی ملگری محسن پوښتنه وکړه، ده ته بیا څرگنده شوه چی د هغوی کورنی مصر ته تللی او هلته میشته شوی دی.

د فخر الدین په کور کی د طاهر او زید د اسونو لپاره ځای نه ؤ، هغه دا اسونه د خپل یوه گاونډی سره ولیږل، طاهر چی څنگه راغی ځانته یی د یوه ځانگړی کور د ضرورت په اړه ورته وویل خو هغه تر څلورو ورځو ځنډاوه.

په پنځمه ورځ یی خپلو شاگرد انو ته د طاهر لپاره د یوه کرایی کور د موندلو وویل، یوه یهودی دلال هغه ته دوه کورونه ورو ښودل او ورته ویی ویل چی که یی اخلی نو ارزانه بی یی ورته واخلم.

د بغداد ځینو امیرانو د هندوستان، خوارزم، مصر او اندلس د امیرانو نوکری نیولی وی او د هغوی ښکلی محلونه په ارزانه بیه خرڅیدل، طاهر او زید چی څومره مانی ولیدی په هغو کی یوه هم داسی نه ؤه چی زید یی دی په پیرلو کی ناکراره شوی نه وی، خو طاهر د قاضی فخر الدین مشوره ضروری بلله، او کله یی چی مابنام مشوره ورسره کوله هغه وویل : د تشو کورونو بیه ډیره رالویدلی ده،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا خپله راتلونکی له بغداد سره ترلی، دلته د لوړی طبقی خلك په کرایه اوسیدونکو ته زیات ارځښت نه ورکوی، خلك ستا د علم او کمال له لیدونه وړاندی ستا کور وینی، که ستا سره د کور د اخستلو لپاره پیسی وی نو خامخا کور واخله، خو د کور د بیی نه پرته باید له تاسره د دری، څلورو کلونو د لګښت پیسی هم وی، د صلاح الدین ایوبی «رح» توره به تا د بغداد لویو امیرانو ته ور وپیژنی، خو دغه خلك له مفلس سړی سره تر ډیره دوستی نه کوی، په بغداد کی چی کوم منصب شخصی استعداد او وړتیا نشی اخستلای هغه سوغاتونه اخستلای شی طاهر له خپل جیبه کڅوړه راوایستله او جواهر یی په مخکی ورته توپی کړل ویی ویل : ماته ددی سهی بیه نه ده معلومه، ته دا د یوه کور او څو کلونو لګښت لپاره بس بولی که نه ؟

قاضی یوه شیبه جواهرو ته حیران وکتل بیا یی وویل : که دا غمی بدل نه وی نو ته د «خلد» له مانی،نه پرته د بغداد هره مانی،پیرلی شی، خو علم او پوهه او مال او دولت هیڅکله هم نه سره را غوندیږی. تا دا له کومه کړل؟

طاهر ځواب ورکړ : دا هم سلطان صلاح الدین ایوبی راکړی دی، قاضی فخر الدین څو غمی په ورغوی کی واخستل او په ځیر ځیر یی له لیدو وروسته وویل : ته د بغداذ له ډیرو شتمنو کسانو څخه یو یی، تاته به د پرمختګ یوه دروازه هم بنده نه وی، خو ګوره واوره له تانه پرته خو به ددی غمیو په باب څوك خبر نه وی؟

: یوازی احمد کاکا خبر دی.

: او زید؟

: هغه ته هم ما څه نه دی ویلی خو که ورته ووایم هم هغه اعتمادی سړی دی چاته به ونه وایی.

فخر الدین په بیړه جګ شو د کوټی دروازه یی بنده کړه او بیرته راغی پر خپل ځای کښیناست ویی ویل : بچیه! ته باید دا غمی پټ وساتی.

طاهر حیران شو ویی پوښتل : ایا په بغداد کی غله هم شته؟

قاضی ځواب ورکړ : په بغدا کی د غلو لاسونه غوڅیږی خو تاته له داسی عصری ډاکوګانو نه خطر دی چی د هغوی لاسونه بنکل کیږی.

: ستا مطلب؟

: زه د کوم خاص سړی نوم اخستل نه غواړم، د دربار د امیرانو په ډله کی څو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنه داسی دی چی ددی غمیو د ترلاسه کولو په هوس کی د هیڅ اخلاقی بندیزونو پروا نه کوی، او تر څو ته دلته ېلدیږی له داسی خلکو نه باید هوښیار وی.

: ایا هغوی به یی په زور له مانه اخلی؟

قاضی څواب ورکړ : هغوی دومره احمقان نه دی، ایا دوی پردی نه پوهیږی چی د زور خبره ډیره زر رسوا کیږی.

: ایا خلیفه له داسی خلکو نه څه پوښتنه نه کوی؟

: که خلیفه له داسی خلکو نه پوښتنه وکړه نو داسی قیمتی غمی به بیا دربار ته څوك وروړی؟ لو بیا دا هم ضروری نه ده چی د هر سړی فریاد دی د خلیفه تر غوږو ورورسیږی، اولس خو هغه یوازی د اختر په ورځ لیدای شی، هغه هم له لری، په بغداد کی ستا هیڅ ملاتړ او رسوخ نشته، امیران ستا پرخلاف ډیری دسیسی جوړولی شی، مثلاً وایی د خورازم شاه جاسوس یی، او بی له محاکمی به دی خلیفه د وژلو فرمان صادر کړی.

: ایا په داسی حالاتو کی به د سلطان صلاح الدین ایوبی رح تره زما بی گناهی ثابته نکړای شی؟

: د هغی په اړه هم ویلای شی چی د مصر حکومت ته د بغداد دپاچاهی د تختی اړولو لپاره را استولی یی، طاهر له لږ سوچ وروسته وویل : زما له مال او دولت سره مینه نشته زه بغداد ته د یوه لوی هدف په خاطر راغلی یم، زه د خلافت دربار ته څان رسول غواړم او د خلیفه د یو نیك نیتی مشاور په حیث د دوی بهرنی پالیسی بدلول غواړم، اسلامی نړی له هر لوری د خطرناکو توپانونو سره مخ ده، په تیرو صلیبی جګړو کی د بغداد بی طرفی او بی پروایی د اروپا صلیبیانو ته ډیر جرئت ورکړ، سلطان صلاح الدین ایوبی دوی ته عبرتناکی ماتی ورکړی له فلسطین او شام نه یی وایستل ، خو د هلال او صلیب په هغو پریکنده جګړو کی د بغداد بی پروایی ډیره مایوسوونکی وه، پر ماتی برسیره د اروپا خلکو ته دا ثابته شوه چی خلیفه له بغداد پرته د اسلامی نړی د نورو برخو په اړه بی پروا دی او هغه دیر مهم محاذ ته هم له خو رضاکارانو پرته هیڅوك هم نشی استولی، ځکه خو هغوی له سره سنبال شوی دی او د مصر د لاندی کولو نیت لری، دغه هیواد د نصرانیانو د سیلاب په وړاندی وروستی دیوال دی امکان لری چی دغه هیواد ددی سیلاب مخه واړوی، خو په شمال ختیځ کی د چنګیز خان په نامه یو نوی توپان را الوتی دی که دغه توپان د خوارزم د پاچاهی له حدود ونه اخوا ونه درول شو نو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The English Library

یوه ورځ به بغداد هم د خځلو او خاشاکو په شان ورسره واخلی، د بغداد په چونی کی ډیر لوی پوځ پروت دی، خو بغداد د پوځ د سردارانو د سازشونو مرکز شوی او دا ځکه چی د دوی ټولو په مخکی کوم شریك دښمن او رقیب او کوم لوړ او سپیځلی هدف نشته، د دوی ژوند د هغو مانهو ګانو ژوند نه دی چی له کوره د نویو هیوادونو او نویو لارو د موندلو په اراده وزی او له خپلو ملګرو سره د کینی او کرکی پرځای هغوی خپل مټ او بازو ګنی او ساتنه یی کوی، خطرناك توپانونه او ویروونکی ګردابونه د دوی د یو والی او اتفاق اړیکی نوری هم مزبوتوی، خو د بغداد خلك د هغو وړوکو کب نیوونکو په څیر دی چی د وړوکی ډنډ د کبانو پر سر یو له بل سره جګړی کوی، او داسی څوك نشته چی ورته ووایی دا دنیا د ډیر پراخه سمندر په شان ده، چی څنډې یی نه ښکاری، او که دوی د یوی څپی په څیر سره راپورته نشی نو د سمندر د توپانونو څپی به پری برلاسی شی، زه دوی ته دا ویل خپل فرض بولم، ددی فرض احساس زه بغداد ته راوستی یم، له کوره د راوتلو نه لږ وړاندی ماته معلومه نه وه چی زه د دومره لوی دولت خاوند یم چی ستونزی پری اسانه کړم، د سلطان ایوبی د وینو او خولو هرځاځکی د اسلام د سر لوړی لپاره وقف ؤ، زه غواړم چی د هغه د رابخښلی شتمنی په واسطه د اسلام خدمت ترسره کړم، ځکه خو له ځانه سره ددی مال د سنبالولو دومره شوقی نه یم څومره یی چی د اسلام په لاره کی د لګولو هیله من یم.

که زه دا حس کړم چی د کوم امیر نظر پری لګیدلی نو زه به دغه ټول د بغداد په بی وزلو خلکو وویشم خو د کوم زرپالونکی امیر خزانو ته به یی پری نږدم، کوم هدفونه می چی درته وویل دی ته د رسیدو لپاره د خلافت دربار ته زما رسیدل ضروری دی، په تیرو څلورو ورځو کی چی ما په بغداد کی تیری کړی زه دی نتیجی ته رسیدلی یم چی خلك اوس هم په یوه سهی هدف راټولیدای شی، یوازی د امیرانو رغول ضروری دی، ددی کور دیوالونه او غولی سهی دی یوازی په چت کی سوری شوی دی او بام ته د رسیدو لپاره ستا مرسته ضروری بولم.

قاضی فخر الدین وویل : خدای دی ستا نیکی ارادی ترسره کړی، زه پوهیږم چی په دی حال کی تاته لومړنی ضرورت د یوی ښکلی بنګلی دی، ستا په طبیله کی باید غوره اسونه وی، که تا د بغداد پر میدانونو په نیزه بازی او اس څغلولو کی نوم وګاټه ، نو ډیر زر به د امیرانو تر نظره راشی، له هغه وروسته د یو دوو غمیو سوغات به تا د خلافت دربار ته ورسوی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته به ته د خپل علم جوهر وښیی، او که خدای ج ته د بغداد د ښې راتلونکی پریکړه منظوره وه نو د خلیفه اعتمادي به شي، خو سمدستی خپلې ارادې چاته مه ښیه، خوارزم شاه خلیفه ترتولو بد دښمن ګڼي، او ددې دښمنۍ پره پر هغوی هم لویږي.

طاهر وویل : زه پوهیږم هغه چې پر بغداد حمله وکړه دایې ستر حماقت ؤ خو که خلیفه د خوارزم د پاچاهی د ماتولو په خاطر د چنګیز خان ملاتړ وکړ نو دا به نه جبرانیدونکی غلطی وی.

قاضی فخر الدین یو غمی اوچت کړ ویی ویل :زه په غمیو نه پوهیږم، خو زما باور دی چې یوازی همدغه یو غمی به په بغداد کی تا د یوی ډیری ښې مانۍ خاوند کړی، یو ارمنی سوداګر زه ډیر ښه پیژنم، راځه چې هغه ته ورشو، نور غمی پورته کړه له ځان سره یې وساته، هغه سوداګر اعتمادی سړی دی خو هغه ته دا مه وایه چې له تاسره داسی نور غمی هم شته.

د مازدیګر له لمانځه نه وروسته طاهر او قاضی فخر الدین ارمنی سوداګر ته ورغلل، هغه غمی واخست له یوی شیبی لیدو وروسته یې وویل : دا غمی دی له کومه کړی دی؟ د طاهر پرځای قاضی ځواب ورکړ: دا د یوه ډیر لوی سړی سوغات دی.

سودا ګر وویل : زه ښایی ددی ټوله بیه اوس درنکړای شم خو که ستاسو خوښه وی نیمایی بیه به یې اوس او نیمایی به یې سبا ته درکړم.

قاضی وویل : څومره کیږی بیه یی؟

سوداګر غمی دوه دری ځلی په غور وکوت بیایی وویل : زه ددی پنځوس زره دیناره بیه درکولای شم.

قاضی په حیرانی وویل : پنځوس زره! سوداګر د هغه د حیرانی نه سرچپه تعبیر وکړ او غمی یې بیا وکوت ویی ویل : ګوره ته زما دوست یی، تر شپیته زره پوری درکوم، له دی زیات قیمت یی په بغداد کی څوك نه درکوی.

قاضی د بغداد د مشهور یهودی زرګر نه د زیاتی بیی ورکولو ټمه هم درلوده خو ده دغه غمی داسی ځای پلورل نه غوښتل چې هلته د خلافت د دربار جاسوسان وی، ددی یوه غمی بیه یی چې واوریده پردی وپوهیده چې طاهر دده له اتکل نه څو چنده زیات شتمن دی. له یوی شیبی سوچ وروسته هغه وویل : ته یی لږ په غور وګوره ددی غمی بیه تر اویا زره دیناره باید لږ نه وی سوداګر له لږ چنو وهلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته په ٦٤ زره او پنځه سوه دیناره بیه راضی شو او پردی فیصله وشوه.

*****

(۳)

د شپی مهال چی کله قاضی فخر الدین له طاهر او څو نورو دوستانو سره په دودی کښیناستل نو زید یی ونه لید، فخر الدین له خپل خادم نه د هغه په باب پوښتنه وکړه، هغه ورته وویل چی د مامونیه په چوك کی یوه لویه مناظره ده او زید د ماښام له لمانځه نه سمدستی وروسته دودی وخوړه او هلته ولاړ، د ماسخټن، له لمانځه وروسته طاهر په خپله کوټه کی کیناست او د شمی رڼا ته یی کتاب لوست، څومره چی شپه تیریدله د زید په باب د هغه اندیښنه زیاتیدله، کله کله به جگ شو له دروازی نه به یی بهر ته وکتل او بیا به بیرته په کتاب لوستلو بوخت شو، د یوی شمی د خلاصیدو نه وروسته یی بله بل کړه او له کرسی نه جگ شو په بستره پریوت، څو څلی یی په زړه کی وروگرځیدل چی د مامونیه چوك ته ورشی او زید وگوری، خو د زرگونو تنو په منځ کی به یی د زید موندل ناممکن ویلل او بیرته به له خپل تصمیم نه واوښت.

نژدی نیمه شپه چا دروازه وټکوله، بیا طاهر په بل کونج کی د قاضی غږ واورید چی یوه نوکرته یی ویل جگ شه دروازه خلاصه کړه ښایی زید راغلی وی. او خادم څواب ورکړ چی ته یی پخپله ولی نه خلاصوی؟

یوه شیبه وروسته طاهر د دروازی خلاصول او د قاضی د خدمتگار کړس کړس خندا واوریده، هغه وویل : حمیده جگ شه! لږ د زید مخ ته وگوره! شکر باسه چی سترگی دی روغی پاتی دی، طاهر زر په لټ واوښت او مخ یی په څادر کې پټ کړ یوی سترگی ته یی یو سوری پریښود او د دروازی لوری ته یی وکتل، زید له څانه سره په کنځلو کوټی ته ورننوت د هغه کمیس شلیدلی ژ، ښی سترگه او ښاړخویی پرسیدلی وو، او له کینې سترگی نه لاندی یی د یوه مزبوط سوك گوزار توره نخښه وه، زید لږ څند پر خپله بستره له کیناستلو وروسته جگ شو او په دیوال راځړیدلی هنداری ته ودرید، د خپل مخ له لیدو وروسته یی وویل : آشنا! اوس دی زه هم دیر په گرانه پیژندلی شم، ښه د سیل دپاره تللی وی! دایی وویل او خپل پرسیدلی ښاړ خویی وموښلو بیرته راغی پر بستره کیناست.

طاهر خپله خندا راقابو کړه وپی ویل : زیده راغلی؟

زید تکان وخوړ او هغه ته یی وروکتل، او داسی گومان یی کاوه چی تر اوسه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی څادر پرمخ دی او دی یی نه دی لیدلی، په ښیره جگ شو شمه یی مړه کړه، او پر خپله بستره وغځیده ویی ویل : هو راغلم.

: هلته دی ډیر څند وکړ، څه دی پکی زده کړل؟

زید په غمجنه لهجه ځواب ورکړ : کنځلی!

: ستا غږ ډیر غمجن دی خیر خو دی؟

: زید په یوه مایوسه خندا وویل : زه بلکل روغ یم.

طاهر وویل : ستا له غږ نه داسی ښکاری چی په پزه کی دی څه ستونزه ده.

زید له بستری نه جگ شو ویی ویل : له پزی نه می سترگه زیاته په تکلیف ده.

طاهر په کړس کړس وخندل.

زید له لږ سوچ وروسته وویل : پر یوه مسلمان بی سببه لاس پورته کول خو گناه ده که نه!

طاهر ځواب ورکړ : په هر سړی بی سببه لاس اوچتول گناه ده.

خو که څوك بی سببه په غاړه کی درولویږی نو بیا ؟

: نو بیا به دسترگی په بدل کی سترگه او د غابن په بدل کی د غابن پنه قانون عمل کیږی، خو بخښنه او عفوه ډیره غوره ده،

ما زیاته حوصله وکړه، خو پر پزه چی انسان گوزار وخوری بیایی په طبیعت کی آرامی نه پاتی کیږی، ما هغه ته نور سوکونه وروبخښل خو د پزی او سترگی په اړه می بی پروایی ونکړای شوه ما ټول عمر غشی ویشتل او توره وهل زده کړی وو، خو دلته چی راغلم پوه شوم چی په بغداد کی د اوسیدو لپاره سوك وهل او غیږی نیول زده کول هم ضروری دی.

طاهر وویل : داسی ښکاری چی تا د مناظری په وروستی لوبه کی بشپړه برخه واخستله او راغلی!

: ماته معلومه نه وه چی ددی پای به دغسی وی، خو باور وکړه د لاس اچولو په وخت زه له گنی گونی نه بلکل گوښه او لری ولاړ وم، که څه هم زما د هغه چاغ او غوښن او د بد غږ خاوند پرځای خواخوږی له هغه نری او ډنگر ملا سره وه، بیا هم د فساد پروخت زه لری او څانگړی ودریدم، خو کله چی دوه د لویو لویو ژیرو خاوندانو یو د بل ژبری نیولی وی او کنځلی یی یو بل ته کولی ماته را نژدی شول زما صبر ونه شو د دواړو منځ ته ورغلم، په ډیر زحمت می دواړه یو له بل نه بیل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The English Library

کړل، خو دوی بیا هم همغسی یو بل ته کنځلی کولی ما د دواړو د پخلا کولو هڅه وکړه، په دی کی دری نور زلمیان راغلل او هغوی له دی دوو بوډاګانو نه پریږه ورکیوتل، زما په منځګړیتوب خو هغه وتښتید او په نهر کی یی ځان واچاوه، خو هغه دری زلمیان پرما راوګرځیدل، ما ورته چیغی کړی چی زه یو مسافر یم، خو چا زما خبره وانه وریده او ما داسی احساس کړه چی بی دریغه وډبول شوم. هغه بل بوډا چی دده په ګومان ما د هغه رقیب ته د تیښتی موکه برابره کړه زما ګریوان وشلاوه، ماتر څو پر سترګه اوږه ګوزار نه ؤ خوړلی پر دوی می وار نه کاوه، بیا زما څوسوکونه تش ولاړل، بیا هم زما په څپیړه یو تن په ځمکه کښیناست، بل می په سوک وواهه ولویده، دریم چی زما سوکونه خطرناک وګنهل راسره غیږ په غیږ شو، هغه زه دری ځلی په ځمکه وویشتم، څلورم ځل دواړو یو بل تیل وهل د خوږ غاړی ته راغلو، هغه زما، خوږ ته دغورځولو په هڅو کی پخپله هم راسره ولید له نیکه مرغه اوبه لږی وی که نه زه به پکی ډوب شوی وم، په خوږکی می هغه دوه دری سوکه وواهه او بالاخره یی ماته ومنله، اوس دی خدای وکړی چی زما سوکونه دده پر پوه او سترګه لګیدلی وی.

: طاهره ! زما په ګومان دلته لامبو زده کول هم ضروری دی، ایا ستا لامبو زده ده؟

طاهر څواب ورکړ : ډیره لږ، خو زما ارداه ده چی زه هر سهار په سیند کی ولامبم، د یوه سپاهی لپاره ضروری ده چی ښه لامبوزن وی.

: زه به یی هم زده کړم.

: له لږ چوپتیا وروسته زید وویل : طاهره! ته خوبه له مانه خفه نه یی!

: پر څه خبره؟

: زه له پوښتنی پرته مناظری ته تللی وم.

: که دا تجربه درته ګټوره شی نو زما د خفګان سبب نشته.

: ګټوره ! ... ... زه وعده کوم چی بیا به په ټول عمر کی د مناظری لپاره ولاړ نه شم، خو له تانه یوه پوښتنه کوم.

: څه پوښتنه؟

: هغه دا چی نن ددی مناظری څلویښتمه شپه وه، څلویښت ورځی هری ډلی د مخالف لوری د دلایلو په ردولو او د خبرو په کمزوری کولو کی خپل زور وازمویه، خو بیا یی هم یو بل قانع نکړای شو ددی سبب څه دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهر خواب ورکړ : داسی خلك به زر کاله هم یو بل قانع نکړای شی.

: مګر ولی؟

طاهر خواب ورکړ : ددی لپاره چی دوی یو د بل د پوهولو او یو د بل د خبری اوریدو له نیکو هیلو سره نه خی، د دوی هدف د خپلی وینا او ژبی د زور ښودل دی.

د اسلام هغه امامان چی د دوی په نامه دغه جګړی کیږی هغوی یو پر بل داسی د کفر فتوی ګانی نه ورکولی، د هغوی هدف دا و چی په اسلام کی د اجتهاد دروازی خلاصی کړی او د هر وخت او ځای لپاره یی د ژوندی غورځنګ په بنه جوړ کړی، او دغه خلك د هغوی نومونه اخلی خو په اسلام کی د نفاق او تیت پرك کیدو زړی شیندی.

: نو د دوی چاره څه ورکیدای شی؟

: د دوی علاج او چاره دا ده چی د امن خوښوونکو خلکو لپاره دکړو ورو عملی ډګر پیدا شی که زمونږ په مخکی د څه کولو میدان ؤ نو دغه علما چی اوس د ګډودی او اختلاف پارولو په هڅو کی دی، بیا به د مسلمانانو د لیکو د سنبالولو او څواکمن کولو په لارو کی ستومانه وی، تاریخ ګواه دی چی کله د فتحو په شوق مسلمانان له کورونو وتلی دی نو دوی د اعتقاداتو په باب هیڅکله اختلاف نه دی کړی، پر کفر د اسلام د بری هیلی تل دوی سره یو او متحد ساتلی دی. یوه زمانه داسی وه چی د مسلمانانو پوځ په یوه وخت کی په سند، اندلس او ترکستان کی جنګیده، خو مورږ نه دی اوریدلی چی هغو مسلمانانو به کله مناظری ته اړتیا احساس کړی وی، او نن چی مورږ د اسلامی نړۍ پر افق د توپانونو علامی وینو زمورږ علماؤ له شاو خوانه سترګی پټی کړی دی او په خپل کور کی یی درزونه اچولی، د کوم اولس چی توره په تیکی ننوزی نو قلم یی هم کړه لاره غوره کوی.

زید وویل : په بازار کی توده آوازه وه چی د اروپا نصرانی پاچا پر مصر د یوی کلکی حملی تیاری کوی، او امکان لری چنګیز خان هم پر خوارزم یرغل راوړی. که خلیفه د هغوی پرخلاف د جهاد اعلان وکړ نو زه به تر ټولو ړومبی هغو دوو علماؤ ته ورشم ورته وبه وایم چی زه دادی کفن اغوندم او د جګړی ډګر ته څم، تاسو چی په مامونیه چوك کی له اسلام سره کومه مینه او خلوص ښکارولو راځی اوس یی یوه ورځ د جګړی په ډګر هم وښیی، تاسی هم له ماسره د یوی زغری

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The English Library

وعده کړی وه.

: زما خپله وعده په یاد ده، خو تا د زغرې له اغوښتلو نه کرکه کوله.

: هغه مهال می بدن خوښیده، نن ما د زغرور پوځ څو تنه ولیدل نوی زغره پر سړی ډیره ښه ښکاری.

: زه به سبا ته نوی زغره درکړم.

: خول هم!

: خول به هم درکړم.

: ته به لامبو هم ماته را زده کوی؟

: هغه به هم دروښیم،

: زید لږ څنډ وروسته بیا وویل : طاهره! ماتاته یوه خبره ونه کړه.

: کومه خبره ؟ طاهر په اړخ واوښت ویی ویل.

: کله چې زه له خورنه راووتم په لاره کی می هغه بودا چې زما ګریوان یې شلولی ؤ ولید، ما بی له دی چې سوچ وکړم پر مخ پر څپړ وواهه.

: ډیر بد دی کړی دی، که دی کله ولید بخښنه تری وغواړه.

: د بخښنې د منونکو نه خو دی هم نه دي، خو زه پری پښیمانه یم.

: ښه ده اوس ویلاړ شه.

*****

(٤)

دری میاشتی وروسته طاهر د بغداد د امیرانو په منځ کی د ښه شهرت او عزت خاوند شوی ؤ، ددجلی د سیند په غاړه یی یوه ښکلی مانی اخستی وه، له زید پرته یی څلور نور خدمتګاران او دری خدمتګاری درلودی، په طبیله کی یی د وزلوبی او نیزه وهلو لپاره اسونه وو، کله چې د قاضی فخر الدین له میلمستون نه خپلی مانی ته ولاړ تر تولو زړمبی یی د علماؤ پام ور واړاوه، په لومړی ورځ ده ته یو پر بل پسی د علماو پنځه ډلی ورغلی او د هری ډلی د علماو دا هیله وه چې د دوی په ډله کې ورشامل شی، طاهر تولو ته همدغه یو ځواب ورکړ چې: که تاسو ما اسلام ته وربولی نو زه یاد درکوم چې مسلمان یم، او اسلام په سهی معنی پیژنم، زما په مخکی هغه مسألی مه بیانوی چې له تیرو پنځو پیړیو راسی تاسو پری پوه نشوی، ځینی علماو غوښتل دی بحث ته ورکښیکاږی، خو د طاهر څو خبرو دوی پر دی باوری کړل چې له دی ځوان سره یوازی سره او سپین نه بلکی د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم خزانه هم شته.

له دی وروسته ورو ورو د علماؤ پام ور واوښت، په اس ځغلولو کی کمال هم د یوه عرب څوان میراث ګنبل کیږی، په مدینه کی احمد بن حسن د طاهر د روزنی او پوځی پالنی لپاره غوره استادان ګومارلی وو، ځکه خو په ۱۶ کلنی کی د مدینی ټولو څوانانو په نیزه وهلو او توره چلولو کی د ده پر کمال اعتراف کاوه، خو چی کله طاهر بغداد ته راغی نو ورته معلومه شوه چی دلته وزلویی ته زیات ارځښت ورکول کیږی.

د شاهی مانیږ په مخه کی یو لوی میدان ؤ، چی پوځی رسم ګذشت، د اسونو ځغلول، نیزه بازی او وزلوټه به پکی ترسره کیده، ددغه میدان یوه لوری ته د صدر اعظم او دولت د نورو لویو لویو امیرانو محلونه کتار وو، د بنار مخور او امیران به د لویو امیرانو په دی مانیږ کی په برنډوکی ناست وو او د «پولو» او اس ځغلولو لوبو ننداری به یی کولی، بنځو ته به په لوړو پوړونو کی ترکړکیو لاندی ځانګړی ځایونه جوړ شوی وو.

په دی ډګر د لوبو انتظام د یوه ځانګړی سړی ذمه واری وه، طاهر له دي سړی سره تر پیژندلو وراندی له دغو لوبو سره د بلدیدو هڅه ضروری وبلله، د وزلویی لپاره په بنار کی څو نور میدانونه هم وو، طاهر په یوه کی د دی لوبی زده کول پیل کړل او په څو اونیو کی په بنار کی ددی لوبی د مینه والو په منځ کی د یوه داسی څوان آوازه شوه چی پلار یی په میرانه کی له صلاح الدین ایوبی رح نه توره په بخښش کی اخستی وه، د اولس غړ د امیرانو غوږونو ته ورسید، امیرانو لوی وزیر خبر کړ، او لوی وزیر کوتوال راوغوښت تری ویی پوښتل : موږ تر اوسه له دی څوان سره ولی نه پیژنو؟

تر دی چی یو سهار طاهر په سیند کی لامبو وهله زید په منډه ورغی او په څنډه ورته ودریدل چیغی یی کړی : په بیړه راووزه د بنار کوتوال درسره لیدل غواړی!

طاهر راووت جامی یی واغوستی ویی پوښتل : ستا یقین دی چی هغه کوتوال دی؟

: هغه پخپله ویل چی کوتوال یم، له هغه سره شپږ تنه وسله وال سپاهیان دی، هغه ما په میلمستون کی کښینولی او راغلی یم، خدای دی وکړی چی هغه په نیک نیت راغلی وی، طاهر وویل : د چا په نیت بیځایه شک کول ښه نه دی.

* * * *

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵)

کله چې کورته ستون شو طاهر ته معلومه شوه چې کوتوال د لوی وزیر د ملاقات د بلنې احوال راوړی دی.

طاهر ورته وویل : زه به اوس چمتو شم او څو به، بیا بلی کوتی ته ننوت، لږ څنډ وروسته یې یوه ګران بیه چپنه اغوستی وه او له کوتوال سره ملګری شو.

د بغداد له صدر اعظم افتخار الدین سره د طاهر لومړنی لیدل ډیر لنډ وو، افتخار الدین له هغه نه څو پوښتنې وکړې چې: ته بغداد ته کله راغلی یې، د څه لپاره او له کومه ځایه راغلی یې؟

طاهر د هغه د پوښتنو په ځواب کې وویل : زماد راتلو څو ورځې دپاسه دری میاشتې کیږی، له مدینې نه راغلی یم او د اسلام د خدمت په خاطر راغلی یم.

لوي وزیر په بې پروایۍ وویل : د ډیر نیك هدف لپاره راغلی یې، خو دغه هدف ته د عباسی خلافت په خدمت کې ترلاسه کول غواړی که د کوم پټ ټولګی د غړی په توګه؟! ما اوریدلی دی چې د سلطان صلاح الدین ایوبی رح د توری په سبب خلك ستا ډیر درناوی کوی.

: دا د هغه غازی میړه د توری درناوی کیدای شی، زه تر اوسه ځان د څه درناوی ور نه بولم، پاتې شوه د عباسی دولت د خدمت خبره نو عرض کوم چې که زما په زړه کې دا جذبه نه وای نو خپل راتلونکی به می پر بغداد نه تاړه، زه د عباسی دولت سهی خدمت د اسلام خدمت

: له سهی خدمت نه ستا مطلب څه دی؟

طاهر ناڅاپه احساس کړه چې له دی نړی لیدونکی او تجربه کار سړی سره باید په خبرو کې زیات پام وکړی، له لږ سوچ وروسته یې ځواب ورکړ : د بهرنیو ګوابنونو له احساس سره د بغداد دفاعی ځواك مزبوتول د عباسی دولت سهی خدمت ګڼم.

افتخار الدین وویل : آیا ستا په نظر د محمد خوارزم شاه له بیرته ستنیدو سره بهرنی ګوابنونه لری شوی نه دی؟

: خو د چنګیز خان خطر ورځ په ورځ زیاتیږی.

افتخار الدین په داډ منه لهجه ځواب ورکړ : زمونږ لپاره نه بلکی خوارزم ته.

: آیا تاسو به د مغلو توپان ته خوارزم یوازی پریږدی؟

: دا په حالاتو پوری اړه لری، تر اوسه پوری خوارزم شاه له مونږ نه بخښنه نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده غوښتی، نه یی مرسته غوښتی ده او نه زمونږ پر دی باور دی چی چنګیز خان به د څو سوداګرو د پدل لپاره پر خوارزم حمله وکړی، ځکه هغه سوداګر هم زیاتره د بخارا مسلمانان وو.

: مګر ما اوریدلی دی چی د عباسی دولت له خوارزم سره بیرته اړیکی عادی شوی او د هغوی سفیر هم دلته را رسیدلی دی؟

افتخار الدین زر تری وپوښتل : تا د خوارزم له سفیر سره لیدلی دی؟

طاهر یو ځل بیا احساس کړه چی نه تدبیر نه یی کار نه دی اخستی ځواب یی ورکړ : نه، زما له هغه سره څه کار دی؟

افتخار الدین وویل : ستا د شتمنی چی ما کوم داستانونه اوریدلی دی، که هغه سهی وی نو ته باید په بغداد کی ډیر پام وکړی، زمونږ حکومت د کړنلاری په اړه له بهر نه هری مشوری ته د شك په نظر ګوری او امیر زاده ګان په دی اړه غیر مسوولانه ګام اوچتوی.

طاهر ځواب ورکړ : تاسو ډاډه اوسی له ما سره چی څه دی هغه به د عباسی حکومت په خدمت کی لګوم، که اجازه وی زه یو سوغات ستا په حضور کی وړاندی کوم.

افتخار الدین په بیړه وپوښتل : د صلاح الدین ایوبی تره؟

: نه : تره ښایی ستا په وسله تون کی یو اضافی شی وی.

طاهر وویل او بیا یی له جیبه د طلا یو دبلی راوویست سریی بیرته کړ او لوی وزیر ته یی ورکړ.

افتخار الدین له دبلی نه یو ځلیدونکی غمی راوویست په ځیر ځیر یی ورته وکتل ویی ویل : ماته د سوغاتونو د ترلاسه کولو په هوس دلته نه یی راغوښتی، دادی له ځان سره وساته.

طاهر وویل : که تا سو زه د لیدو لپاره نه وای راغوښتی هم دا غمی ما ستاسو لپاره ساتلی ؤ او یوه ورځ به می درته وړاندی کاوه، تاسو دغه وړوکی سوغات ومنی، لوی وزیر د غمی دبلی پر میز کښیښود او لاسونه یی وپرکول یو څوك کوتی ته ورننوت، څو ګامه وړاندی راغی په ملا خم شو او بیا د حکم په انتظار شو.

صدر اعظم ورته وویل : دی زمونږ طبیبی ته درسره بوزه او چی کوم اس یی خوښ شو هغه ورته زین کړه او ورته ویی سپاره، بیا یی طاهر ته لاس ورکړ ورته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبی ویل :سبا ماښام ته زما میلمه یی، او زه به پریکړه کوم چی عباسی دولت له تانه کوم خدمت واخلی؟

طاهر له لوی وزیر سره خدای پامانی وکړه تری روانیده چی یو زلمی ورننوت، لوی وزیر وویل : طاهره! دا زما زوی قاسم دی.

طاهر له هغه سره تاوده سترې مشی وکړل، قاسم د شل دوه ویشت کلونو پنډ تازه زلمی ؤ، د هغه په ځیره کی د نورو امیرانو د زامنو په څیر د آرامی، تنبلی او بی حسی علامی وی، له سترګونه یی دا احساسیدله چی په خپل لور نسب د حماقت ترحده پوری ویاړی، په شوندو یی موسکا وه، خوله دغه موسکا نه د نرمی او سادګی پرځای وحشت او چالاکی اوریده، د قاسم په لاس کی یوه نری توره وه چی د توری وهلو په زده کړه کی کارول کیږی، هغه خول پر سر کړی او زغره یی اغوستی وه.

قاسم وویل : زه د توری وهلو زده کړی ته روان وم چی دلته ستا له راتګه خبر شوم، زه ستا تر لیدو د سلطان صلاح الدین ایوبی د توری لیدو زیات لیوال وم.

صدر اعظم زر تر زره د موضوع د بدلولو ارتیا احساس کړه وبی ویل : قاسمه ! دی به زمونږ له طبیلی نه یو اس غوره کوی، دا مشهوره ده چی یو عرب د اس په پیژندلو کی اشتباه نه کوی ته ورسره ولاړ شه وګوره دی کوم اس خوښوی.

خو قاسم د اس د غوره کولو مسئله مهمه ونه بلله بیایی طاهر ته وکتل وبی ویل : که یی ته پلوری زه د صلاح الدین ایوبی ږح ږتوره پیرم! پلار جان به ددی توری درونډ قیمت ورکړی، ته له جامونه یو عالم ښکاریږی ته به یی څه کړی؟

صدر اعظم خجالت شو او طاهر په خپلو پریشانیو د قابو کیدو هڅه وکړه وبی ویل : د داسی شی خرڅول ددی توهین او سپکاوی دی زه به یی له څه بیی او قیمت پرته در وبخښم، خو په یوه شرط.

: په کوم شرط؟

: هغه دا چی ته ځان تر ما ددی امانت ښه حقدار ثابت کړی، قاسم هیله من شو وبی ویل که ته یو عالم یی او زه یو سپاهی په توره تر تاز زما حق زیات دی. که نه نو راځه وبی ازمویه!

: دیر ښه که تا په توره وهلو کی زه مات کړم نو دا توره ستا شوه.

په توره وهلو «شمشیربازی» کی قاسم د حماقت تر حده پر ځان باوړ ؤ، د هغه دا غرور بی ځایه نه ؤ، هغه د لری لری استاذانو نه دغه فن زده کړی ؤ، دده ژوند

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه دوه شیان وو، «پولو، او «توره وهل».

په پولو کی څو نور څوانان هم دده سیالان وو، خو په توره وهلو کی ټول دده پر کمال قانع وو، ځکه خو چی کله طاهر ده ته د سیالی بلنه ورکړه نو قاسم په کړس کړس وخندل او صدر اعظم طاهر ته په حیرانی وکتل ویی ویل : دا لوبه به ډیره په زړه پوری وی، خو زه غواړم چی نور خلك هم له دی نندارې نه خوند واخلی، ښایی د مسلمانانو خلیفه ته هم دغه مقابله په زړه پوری وی، مگر نن نه سبا ته به غوره وی، تاسو سبا سهار ته راشی، د غرمی او مابنام دواړو وختونو ډوډی به له موږسره وی، قاسمه! ته اوس ده ته اسونه وروښیه.

*****

(٦)

له لوی وزیر سره د دوهم ځلی خدای پامانی نه وروسته طاهر له قاسم سره له محل نه راووت، په پراخ انگړ کی د مرمر ډبرو سرك دواړو خواوو ته درنو اوبو ډندونه او شرشری وی، د ډندونو یوی او بلی خواته شنه چمنونه وو، څو گزه وړاندی ددغه چمن او ډندونو نه اخوا یو ښکلی بن ژ او د ډندونو اوبه په دوو ویالو کی بهیدلی، له دی ویالونه هر لوری ته په بن کی لښتی غځیدلی وو او باغ پری اوبیده.

هغه میدان چی د پولو او آس ځغلولو لوبه پکی ترسره کیده د محل د همدی برخی نه لاندی ژ چی طاهر ورننوتلی ژ.

په دوهمه دروازه بن پای ته رسیده او له هغه نه وړاندی د لوی وزیر د خدمتگارانو کورونه په یوه لوبه ځلور دیوالی کی جوړ شوی وو د همدغو کورونو سره یوه لوبه طبیله هم وه چی دوه نیم سوه اسونه پکی وو، او دا ټول د لوی وزیر وو، طاهر په طبیله کی دری ځله چکر وواهه، ځنی اسونه یی سرسری او ځنی یی په ځیر ځیر وکتل، بالاخره یی د یوه آس شا وتپوله ویی ویل : زما دا خوښ دی.

قاسم وویل : ډیر ښه، زه ستا ذوق ستایم، خو دا کله کله په دوو پښو دریږی ددی دوه میاشتی کیږی چی طبیلی ته راغلی دی، دومره یاغی دی چی زه هم ونه توانیدم چی ویی روزم.

یوه حبشی خدمتگار پر اس زین کیښود او له طبیلی نه یی انگړ ته راویوست، قاسم د اس جلب ونیو او طاهر ته یی ورکړ ورته ویی ویل : سبانی وعده دی هیره نه شی! طاهر د خدای پامانی لپاره لاس ور اوږد کړ ویی ویل : ته ډاډه اوسه زه به

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

توره له ځانه سره راوړم.

قاسم یو خادم ته اشاره وکړه راویی غوښت ورته ویی ویل : دا آس دده کړه بوزه.

خادم د اس د جلب نیولو لپاره راوړاندی شو خو د طبیلی د دروازی نه بهر یی د اسونو د پښو غږ واورید او د سترګو په رپ کی دوه اسونه راننوتل، طاهر د اسونو سپروته وکتل، هك پك پاتی شو.

دا دواړه ځوانی نجونی وی، دواړو د سپینو وریښمو تنګی جامی او پر غمیو انځوری شوی سپینی خولی پر سر کړی وی، د سترګو او تندی نه پرته یی نور مخ په تور نری نقاب کی پټ ؤ، اسونه ډیر بدسیلیدل، دوی له اسونو پلی شوی، خادم د طاهر د اس جلب پریښود د هغوی اسونه یی ونیول د سترګو په رپ کی بل خدمتګار راغی او د طاهر د اس جلب یی واخست، نجونو طاهر ته په سوالیه نظر وکتل او وړاندی تیری شوی او قاسم هم له طاهر سره خدای پامانی وکړه او په هغوی پسی ورغی.

کله چی طاهر له خادم سره د طبیلی له انګړ نه راووت د محل د برنډی له مخی سره تیریده دواړه نجونی په زینه کی ولاړی وی او طاهر ته یی کتل او قاسم طاهر ته اشاره کوله او څه یی هغوی ته ویل.

د وروستی دروازی نه له راوتلو وروسته د طاهر په مخکی یو پراخ سرك ؤ، د هغه یو لاس ته دجلی سیند او بل ته د بغداد /د امیرانو د کورونو کتار ؤ، نژدی پنځه سوه ګامه وړاندی پر سیند پل ښکاریده.

د هغو نجونو نومونه سکینه او صفیه ؤ، سکینه د قاسم خور وه، او صفیه د هغه د مرحوم تره لور.

له طبیلی نه دوتلو نه وروسته سکینی صفیی ته وویل : صفیی! تا خو دا ځوان ولید پر ځیره یی څومره سادګی وه، ته یی چی ولیدی وارخطا غوندی شو.

: ما خو هغه ته ورونه کتل، ستا په لیدو به وارخطا شوی وی.

: صفیی ! هغه د بغداد امیرانو سره ډیر توپیر درلود، مونږ یی چې ولیدو زر یی سترګی ښکته کړی.

صفیی ځواب ورکړ : زه د قاسم د تولو دوستانو په باب یو ډول نظر لرم.

: مګر ما هغه د قاسم سره کله نه دی لیدلی.

صفیی وویل : هو هغه له ځیری نه د علم خاوند ښکاریده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاسم له داسی خلکو سره ناسته ولاړه نه لری.

کله چی دوی پر زینو ختلی قاسم پری غږ کړ او دواړه یی ودرولی، هغه چی ورنژدی شو ویی ویل : صفیی! یو ځناور گوری!

صفیی ځواب ورکړ : تا چی د ورځی یو ځل وینم نو د کوم ځناور د لیدو هیله به می په زړه کی کله پیدا شی؟

قاسم په موسکا کی د خپلی غوسی د پټولو هڅه وکړه ویی ویل : زه یوازی ستا تر نظره ځناوریم، خو زه اوس څوک درښیم چی تر سبا پوری یی د بغداد ټول خلك ځناور وبولی.

سکینی تا هم ولید ! هغه ځوان چی په طبیله کی زما ترځنگ ولاړ ؤ، د هغه پلار د میرانی په انعام کی د سلطان صلاح الدین ایوبی توره ترلاسه کړی وه، نن هغه ماته بلنه راکړه چی که می په توره وهلو کی تری لوبه وگټله هغه توره به زما وی.

په دی مهال طاهر د برنډی له مخی سره تیریده، قاسم هغه ته په لاس اشاره وکړه ویی ویل : ددی سارایانو خوی هم ډیر عجیب دی، که یی په ژوند کی توره په لاس کی نه وی اړولی هم ځان به د توری وهلو د فن استاذ بولی، سبا ته به ډیره عجیبه ننداره وی، د پلار جان هیله ده چی دغه نندارې باید د مسلمانانو د خلیفه په مخکی وی.

صفیی وویل : که له هغه سره د سلطان صلاح الدین ایوبی توره وی او دی ربنتیا هم سارایی وی نو زه ویریږم چی دده پر ځای ته د خلکو د خندانه شی، راځه سکینی! سبا ته به دالوبه هم وگورو! زما ویره ده چی دی د صلاح الدین ایوبی توره ترلاسه کړی پښه به یی په څمکه نه لگیږی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طاهر نوی دوستان او دښمنان

په همدی شپه له لمانځه نه لږ وروسته طاهر په خپله د مجلس کوټه کی ناست ؤ یو کتاب یی لوست چی د کور په مخکی یی د څلورو اسونو یوه ګاډی ودریده، وروسته یی یوه خدمتګار خبر راوړ چی یوه پوځی منصبدار د لښکر د مشر پیغام راوړی دی، طاهر کتاب وتاړه ویی ویل هغه دننه راوله.

خادم ووت او لږ څنډ وروسته یو د لوړ قد مزبوتو متو خاوند چی له رعبه ډک څیره یی وه راغی، د هغه عمر د دیرشو کلونو په شاوخوا کی ښکاریده، له څیری نه یی خلوص، ذهانت او زړورتیا له لری ښکاریده، طاهر ورجګ شو لاس یی ورکړ ستړی مشی یی ورته وویل او بیا یی هغه له ځان سره نژدی پر کرسی کښیناوه.

نوی راغلی ځوان وویل : زما نوم عبدالعزیز دی، زه دی په غیاب کی پیژنم، اوس می د لښکر د مشر پیغام راوړی دی، هغه غواړی له تا سره وویني خو ما غوښتل شخصاً هم له تا سره ووینم، ددی لپاره فرصت ته ضرورت دی، سمدستی زه په همدی کفایت کوم چی درته ووایم ته ما خپل دوست وبوله، او زه تاته د دوستی لپاره لاس په دی خاطر نه در اوږدوم چی ته ډیر شتمن یی، او یا له تاسره هغه توره ده چی پلار ته دی صلاح الدین ایوبی «رح» وربخښلی ده، بلکی ددی په خاطر چی ستا په زړه کی د خپل زړور پلار د نښی د حقدار ثابتولو جذبه او هیله ده، تا قاسم ته د مقابلی بلنه ورکړی ده.

طاهر ځواب ورکړ : هوکی! ماته معلومه نه وه چی په بغداد کی به دغه توره دومره ارځښت پیدا کړی، زما په خیال ددی سهی حق دا نه دی چی د یوه امیر د زوی د وسله تون ګانډه شی، ځکه ما هغه ته د مقابلی بلنه ورکړه.

عبدالعزیز وویل : تر کومه چی د توری چلولو خبره ده تا قاسم د یوه امیر زوی ګنبلی نو دا دی اشتباه کړی ده، زه پخپله تر اوسه د هغه په استعداد اعتراف ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارنه یم، خو د خلد د مانۍ په شاوخوا کی د امیرانو زامن د هغه په کمال اعتراف کوی، څکه خو ته لږ پام کوه دا به درته غوره وی، که ته لوبه بایلی ښایی تا ته د توری بایللل دومره مهم نه وی، خو د بغداد په پوځ کی به یو دیر غلط منصب زیات شی، څو ورځی وړاندی چی کله د علاوالدین خوارزم شاه پوځونه بغداد لوری ته رانږدی کیدل زمونږ پوځونه یی د مخی نیولو لپاره وړاندی ورغللل، د صدر اعظم په هڅه یی د هغه زوی د شلو ډلګیو د ښی لاس پوځ قوماندان وتاکه، خو په ټوله لاره دا حالت ؤ چی که به د هغه په خیمه د شپی لخوا شل تنو پهره کوله د ورځی به ده څلویښت تنه پهره دار غوښتل.

د هر سالار سره به یی ګستاخی کوله ویل به یی چی زه د عباسی دولت د صدر اعظم زوی یم، مورږ ټولو احساس کړه چی په بغداد کی دغه زلمی په پخو تورو څومره د لوبی شوق پوره کاوه هومره د جګړی په میدان کی د اصلی تورو له مقابلی نه ویریږی.

څکه یی په څلورم منزل پرسر درد راغی، او په پنځم پراو یی رخصت واخست او کور ته راستون شو، دده نیکمرغی وه چی د خوارزم پوځونه له نیمی لاری بیرته وګرځیدل او ده د خلیفه په وړاندی د غذر موکه ومونده، اوس د پوځ د مشر سره دا اندیښنه ده چی د سلطان صلاح الدین ایوبی توره دی د خلیفه په نظر د کوم مهم منصب حقدار او وړ ثابت نه کړی، زه هم دا اندیښنه لرم، خو د لښکر د مشر په څیر پریشانه نه یم، زه پوهیږم چی د بغداد دپرمختګ ورځ ګرځیدلی ده، او د لسګونو نا اهله مهمو منصبدرانو په منځ کی د یو نیم ټل زیاتیدل دومره مهم نه دی، زه بغداد ته له ډیرو هیلو او امیدونو سره راغلی وم خو ...!

تر دی ځایه یی وویل او بیا عبدالعزیز چوپ شو او په څیره یی مایوسی خپره شوه.

: خو څه ... ؟ طاهر وپوښتل.

عبدالعزیز وویل : زه نا امیده شوی یم، ما نور دلته اوسیدل نه غوښتل ، او که ته هم د اسلام د خدمت په هیله دلته راغلی وی نو ته به هم ډیر پاتی نه شی.

اوس مهال په مصر کی د هلال او صلیب جګړه پیا توده شوی ده، زه غواړم هلته ولاړ شم، هلته ماته اړتیا ده، هلته د اسلام هر مجاهد ته اړتیا ده، زما څو تنه نور دوستان هم مصر ته تلو ته چمتو دی، زه تاته هم بلنه درکوم، او که ته هلته نه ځی نو لږ تر لږه مورږ ته یو پیژند لیک راکړه، په مصر کی به خلک پیژنی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پیژند لیك ددی لپاره نه غواړم چی خلك ارځښت راکړی بلکی ددی لپاره یی غواړم چی د بغداد هر سړی ته هلته د شك په سترګه ګوری، تردی چی که زه د لښکر د مشر لیك یوسم هم پر موږ به اعتماد ونه کړی او جاسوس به مو ګڼی.

طاهر وویل : پر نصرانیانو د ملك عادل د پرله پسی بریو خبر به دی اوریدلی وی، زما په ګومان د مغلو فتنه د اسلام لپاره تر هغو څو چنده زیاته او خطرناکه ده.

عبدالعزیز مایوسه شو ویی ویل : ما هم دا لږ خطرناکه نه بلله، خو افسوس! په خوارزم کی چی کوم سړی زموږ له وروستی مورچل نه دفاع کوی هغه کاشکی دومره احمق نه وای، هغه یوازی پر خپل ځواك د غلط اټکل له لامله له تولی نړۍ سره مقابلی ته چمتو دی، هغه یوازی د بغداد خلك نه بلکی ټول بهرنی د خلیفه جاسوسان بولی، د چنګیز خان ځواك ته یی د زور ازمویلو بلنه ورکړی، خو د داسی ویرووونکی توپان سره یی د مقابلی په خاطر د اسلامی نړۍ د مرستی ارټیا احساس نه کړه، د خلیفه ناصر هم دا باور دی چی د چنګیز خان ځخه د ژغورنی نه وروسته به هغه بیا پر بغداد حمله کوی، ځکه خو ... خو اوس ددی خبرو وخت لا نه دی راغلی، بیا به ګورو، اوس راځه، د لښکرو سالار به دی انتظار کوی.

طاهر وویل : ته ولی چوپ شوی پر ما اعتبار وکړه.

عبدالعزیز په ځیر ځیر طاهر ته وکتل ویی ویل : زه یوازی یو سپاهی یم او سپاهی په سیاسی معاملو کی د مداخلی حق نه لری.

: ودریږه! طاهر دا وویل او زر جګ شو له بلی کوټی نه یی د صلاح الدین ایوبی توره راوړه او د عبدالعزیز په مخکی یی په موټی بڼی لاس کیښود ویی ویل : زما پلار د وینی وروستی څاڅکی تویی کړل او دغه توره یی په انعام کی وګټله زه پر دی لاس ږدم او په هر نیك هدف کی له تاسره د وفاداری وعده کوم، ددی په بدل کی زه له تانه کومه وعده نه اخلم، ستا پر ځیره چی زما لومړی ځل سترګی ولګیدی وپوهیدم چی په بغداد کی ته خدای «ج» ماته د ملګرتیا لپاره را استولی یی.

عبدالعزیز د هغه په لاس لاس ورکیښود او د طاهر په ځیره یی سترګی وګنډلی ویی ویل : بښایی زه هم د چا په لټه کی وم، په بغداد کی دیر خلك د چا په لټه کی دی، آیا تقدیر د بغداد په آرام ژوند کی د څپو او غورځنګونو پیدا کولو لپاره ته غوره کړی یی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی ډلولاړی اویه د هوا توندی څپی ته انتظار کوی، دی ویده مجلس ته د اسرافیل شپیلی پوکلو اړتیا ده، که هغه ته وی نو زه له تاسره د ژوند تر وروستی سلگی د وفا وعده کوم، ما تیره شپه یو خوب ولید او اوس یی لکه چی تعبیر وینم، زه له ډیرو خلکو سره په یوه کښتی کی سپور وم، په کښتی کی یو سوری ژ چی ورو ورو اویه تری ننوتلی او موږ پری باوری وو چی ډوبیږی به، موږ له ژوند څخه مایوس شوی وو، ناڅاپه له اوبو نه یو کمر راښکاره شو، کمر جگ شو او لوی شو یاغی څپی به ورسره جنگیدلی او بیرته به ماتی شوی کله کله به یی د لږ شیبی لپاره کمر په غیږ کی پټ کړ، په موږ کی یوه ځوان د کښتی جلب ونیو ویی ویل : دا کمر زموږ ورستی تکیه ده، خو موږ داسی احساسوله چی دغه کمر تر ډیره ددی څپو تاب نشی راوړای، ځینو ماڼوگانو دده مخالفت وکړ او د هغه نه یی د بیړی جلب واخست، هغه مایوسه شو په اوبو کی یی ورټوپ کړل، او په لامبو کمره ته ورغی وروخوت، ما او څو ملگرو می هم هغسی وکړل، خو نور مسافر په کښتی نښتی وو، موږ په کمره پاتی شوو او کښتی د اوبو څپو د یوه خس په څیر په ډیکو ډیکو لری یووړه، عجیبه دا وه چی ځینی خلك له دی کمره نه ښکته شول او کښتی ته ورغلل، زما سترگی وغړیدلی او د کښتی پای می ونه لید چی څه شوه؟

طاهر له لږ سوچ وروسته وویل : ایا ته د خوارزم هیواد د مغلو د سیلاب په مخکی وروستی کمر نه گنی؟

عبدالعزیز ځواب ورکړ : هغه زموږ د دفاع وروستی مورچل کیدای شوای خو په اوسنیو حالاتو کی دا نشم ویلای چی د علاوالدین محمد شاه په مشری به د خوارزم پوځونه د مغلو، د سیلاب په وړاندی وروستی کمر ثابت شی.

هغه یو ځان غوښتونکی، مغرور او خیال پالونکی سړی دی، کله چی هغه پر بغداد حمله وکړه، د بغداد پر اوسیدونکو د مایوسی وریځی راخوری وی، او دا اندیښنه وه چی دده د بری د امکان په تصور به د خلیفه هغه پوځونه او منصبداران چی ترکان دی له هغوی سره یوځای شی، خو په لاره کی واوره واوریده، ده دا الهی عذاب وگانه او بیرته ستون شو، زما اندیښنه ده چی له چنگیز خان نه د لومړنی ماتی نه وروسته دا ونه وایی چی نور زموږ د بخت ستوری لویدلی دی، او دغه کمر به که یو ځل ډوب شو بیابه راښکاره نه شی.

طاهر وویل : نو ایا په دی صورت کی د بغداد په خلکو کی دا احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library

راویښول ضروری نه دی چې ددی وروستی مورچل د ماتیدو په صورت کی به د مغلو سیلاب پر بغداد ور اوړی او موږ ته به رانژدی کیږی؟ آیا د شریکی دفاع په خاطر د خلیفه او خوارزم شاه ترمنځ د اختلافونو د لری کولو هڅی د یوه باتدبیره او هوښیار سړی ذمه واری نه ده؟

زما یقین دی چې که د خوارزم د هیواد او عباسی خلافت ترمنځ اتحاد وشی د نړی تر وروستی کونجه پر چنګیز خان پسی تلای شو، زه د همدی هدف په خاطر بغداد ته راغلی یم او د همدغه هدف په خاطر ما د امیرانو او خلیفه دربار ته د رسیدو لپاره ډیرو شرموونکو لارو غوره کولو ته مجبور وی، زه دوی له خوبه راویښول غواړم، او که خدای مه کړه زه بریالی نه شوم نو دوهم پړاو به می مصر او یا خوارزم وی.

عبدالعزیز وویل : نو په خوب کی د کښتی نه د کمره په لوری د لاری ښوونکی بل څوك نه ؤ ته وی، زه له تاسره ملګری یم زما څو تنه دوستان به هم له تاسره ملګری وی، که ته په بل څه مصروف نه وی نو دوی به سبا شپی ته راولم.

طاهر وویل : سبا شپی ته زه د صدر اعظم میلمه یم بله شپه یی دلته راوله.

عبدالعزیز وویل : که سبا شپی ته ته د لوی وزیر سره میلمه یی نو بل ماښام به دی د لښکر مشر میلمه کوی بیا به د نورو امیرانو نوبت وی او بیا ښایی خلیفه هم تا د مهربانی د نظر وړ وبولی، خو ریښتیا ووایه تا په لوی وزیر څه جادو کړی دی؟ هغه د کوم عادی سوغات پروا نه لری.

د طاهر په دوه زړیتوب عبدالعزیز وویل : ما دا پوښتنه له تانه څکه وکړه چې خبر دی کړم، د لښکر مشر به نیغ درنه ونه پوښتی خو په پوښتنو کی به دا راز درڅخه معلوموی، خو ته دده د ځنډولو هڅه کوه او ترټولو غوره سوغات دی خلیفه ته وساته!

طاهر وویل : ما لوی وزیر ته یو غمی ورکړ، که مناسبه بولی نو د لښکر مشر ته به هم یو غمی ورکړم.

عبدالعزیز وویل : ښه وو چې له مانه دی مشوره وغوښتنه د لښکر مشر د سوغاتونو په سبب د منصبونو ترلاسه کولو څخه بده منی، هغه د سوغاتونو پرورکوونکو تل بد ګومانه وی، اوس راځه هغه به ډیراندیښمن وی.

طاهر او عبدالعزیز یو بل ته لاسونه سره ورکړل او له محل نه راووتل په ګاډی کی سپاره شول، په لاره کی عبدالعزیز وویل : ستا د میلمستیاو لپاره ښایی څو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځی اوږده شی، ځکه خو که مناسبه بولی نو زه به می له ملګرو سره بله ورځ سهار راشم، بله ورځ جمعه ده او موږ رخصت یو، له لمانځه نه وروسته به موږ پر اسونو یا په کښتی کی په چکر ووزو.

لږ وړاندی چی ولاړل طاهر وپوښتل : تا دا راته ونه ویل چی د لښکر مشر ماته د ملاقات شرف ولی راوباخښه؟

عبدالعزیز وموسکل ویی ویل : کوم نوی راغلی سړی چی له لوی وزیر سره گوری د لښکر مشر لیدل ورسره ضرور بولی، او له تاسره دلیدلو لپاره د هغه د ناکراری یو سبب دادی چی تا قاسم ته د مقابلی بلنه ورکړی ده، هغه دا احساسوی چی د قاسم نوی شهرت به په پوځ کی د هغه د یوه لوړ منصب سبب شی، ځکه غالباً هغه تاته وایی چی بچیه! که په توره وهلو نه پوهیږی نو د اسونو بندوبست زه درته کوم ته همدا نن شپه له بغداده ووزه، په کومه سیاسی موضوع له هغه سره مه ګډیږه، هغه هر سیاست پوه د بغداد لپاره خطرناک ګڼی، د هغه په وراندی ځان یو ساده سپاهی وښیه ته به د هغه د پاملرنی او خواخوږی وړ وګرځی، که د علاوالدین محمد شاه یادونه راغله نو دامه وایه چی هغه د واوری اوریدل بد شګون وباله او بیرته ستون شو، هغه یوازی پر دی اوریدو خوښیږی چی په خوارزم شاه د ده ویره او هیبت خپور ؤ. که له دی وروسته دی جګ شو د هنداری مخی ته ودریږ خپل بریتونه یی تاو کړل نو ته خامخا دا ورته ووایه چی د خوارزم ګیدړ د بغداد د زمری مخی ته د راتلو جرئت کله کولی شی؟

د لښکر د مشر د کور په مخه کی ګاډی ودریده، طاهر او عبدالعزیز دواړه پلی شول، یوه پهره دار دواړه پاسنی پوړ ته بوتلل، د ملاقات د کوټی په مخه کی یو وسله وال ساتونکی دریدلی ؤ، هغه له دواړو سره سترې مشی وکړل عبدالعزیز ته یی وویل : ته ډیر ناوخته شوی، ته همدلته ودریږه زه به دی دننه ورسوم.

*****

(۲)

ساتونکی د طاهر دننه له پریښودونه وروسته راغی له عبدالعزیز سره په خبرو اترو بوخت شو، لږ ځنډ وروسته یو حبشی غلام بهر ته راووت عبدالعزیز ته یی وویل : سالار دی دننه غواړی، عبدالعزیز کوټی ته ورننوت د لښکر سالار ورته وویل:

عبدالعزیزه ! دی یی کورته ورسوه او سبا ته دی دلته له راوستلو نه دمخه نښه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وازمویه، قاسم ما نن ولید چی له خپل یونانی استاذ سره یی تمرین کاوه، تاته معلوم دی دغه یونانی څوك دی؟

عبدالعزیز ځواب ورکړ : د هغه په باب زه زیات معلومات نلرم مګر اوریدلی می دی چی هغه تیره اونی د خپل پاچا له طرفه خلیفه او صدر اعظم ته سوغاتونه راوړی وو، او ددی دعوه کوی چی په صلیبی جګړو کی یی د مسلمانانو پرخلاف د زړورتیا ښودلو په سبب د فرانسی له پاچانه انعامونه اخستی دی، قاسم د ښی تنخواه په بدل کی هغه استاد نیولی دی.

د لښکرو بوډا مشر پۀ غوسه شوندی وچیچلی ویی ویل : اوس به هغه له بیرته ستنیدو وروسته وایی چی د بغداد د امیرانو زامن د توری چلولو د فن زده کولو لپاره د لویدیځ عیسوی استادانو ته اړ دی، ایا په تاسو کی داسی څوك نشته چی هغه ته وروښیی چی مسلمان په توره چلولو کی د چا سنوونی ته اړتیا نه لری؛ دغه د کمتری احساس به موږ ډوب کړی.

عبدالعزیز وویل : په دی اړه زموږ احساس له تا سره توپیر نه لری، خو کاشکی هغه سړی یوازی یونانی وای، هغه د صدر اعظم د زوی استاد هم دی، یو عام پوځی هغه ته د مقابلی بلنه کله ور کولی شی؟ که له هغه سره د مقابلی لپاره د یوه امیر زوی ته ضرورت نه وای نو تر اوسه به د هغه بدګومانی لری شوی وه، که طاهر دوی د یوه امیر زوی نه ګنلی هم دده سره د صلاح الدین ایوبی توره کافی ده چی د قاسم په زړه کی د رقابت جذبه پیدا کړی.

د لښکر مشر وویل : مګر دا لوبه به د خلیفه مخکی کیږی، د قاسم له استاد سره د فرانسی د پاچا ستاینلیك دی، که یی شاګرد لوبه وګټله او د صلاح الدین ایوبی توره یی ترلاسه کړه نو څوك ویلای شی چی څو کاله وروسته به د بغداد د پوځونو قیادت د څه ور خلکو په لاس کی وی؟

عبدالعزیز وویل : زه د طاهر په باب داډه یم، که د شاګردنه وروسته په څه ډول استاد هم میدان ته راووت نو امکان لری دغه لوبه نوره هم په زړه پوری شی.

:«له شاګرد نه وروسته استاد!» ځوانه ته په سوچ او لری فکر کولو کی زموږ د بهرنیو چارو له وزیر نه په هیڅ صورت کم نه یی، له نن نه وروسته دی نوم د خپلو ذهینو سالارانو په لست کی لیکم.

له استاد نه وروسته شاګرد!

عبدالعزیز د خپلی موسکا د پټولو هڅه وکړه ویی ویل : صیب «له شاګرد نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته استاد!».

هوکی د شاگرد نه وروسته استاد! سالار په کړس کړس وخندل، که دغه څوان زموږ هیلی ترسره کړی نو د هغوی دواړو څیری به د ننداری وړ وی.

گرانه تا خو ډیر لری فکر کړی دی، اوس به تر ډیره ماته خوب رانه شنی. نن صدر اعظم دا اندیښنه بنکارولە چی که نن کوم قصیده ویونکی شاعر راغی نو خلیفه به ددی په زړه پوری لوبی وعده هیره کړی او را به نه شی، زه به هڅه کوم چی نن دی خواته کوم شاعر را نه شی، خو ... ! هغه بیا یو څل جدی شو، زیاته یی کړه : سبا ته دغه څوان ښه وازمویه ویی گوره اوس یی کورته ورسوه تری راځه.

د لښکر د مشر له کوره چی راووتل په گادی کی دواړه سپاره شول عبدالعزیز طاهر ته وکتل ویی ویل : له استاذ نه وروسته شاگرد!

طاهر په موسکا وویل : ستا اتکل بلکل سهی ژ سالار له ماسره د ستړی مشی پر وخت زما متهی وکتلی ویی ویل : څوانه متهی خو دی ښی مزبوتی بنکاری خو که په توره چلولو کی دی پرځان غلط حساب کړی وی نو زما غوره اسونه شته چی تا تر کوره ورسوی. بیا یی وپوښتل: د قاسم د یونانی استاد نوم څه دی؟

عبدالعزیز وویل : لوگس، خو اندیښنه مه کوه زما باور دی چی استاد تر شاگرد غوره نه دی.

طاهر په حقارت آمیزه لهجه وویل : زه دی ته نه یم پریشانه، زه افسوس په دی کوم چی کاشکی زما او دده مقابله په داسی دوستانه چاپیریال په پخو تورونه وای.

عبدالعزیز : سپوږمی په رڼا کی د طاهر څیری ته کتل، په هغه زړه ورونکی څیره گلچی څه شیبه وړاندی د یوه عالم سړی وقار او سنجیدگی ترسترگو کیده، اوس د یوه پوځی د هیبت او وقار هندارە وه.

د طاهر د کور مخی ته چی ورسیدل عبدالعزیز هغه ته وویل : کوز شه ستا کور ته راورسیدو، خو هغه په کوم ژور چورت کی دوب ژ عبدالعزیز یی ورو په اوږه لاس ور کیښود ویی ویل : په څه چورتونو کی دوب یی؟ آیا هغه یونانی ته دی د توری وهلو سبق ورکاوه؟

طاهر تکان وخوړ ویی ویل : نه نه! زما لپاره دا مسئله دومره مهمه نه ده، ما څه نور سوچونه کول، ما سوچ کاوه چی چنگیز خان به اوس څه کوی؟ په ترکستان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی سلطان علاوالدین څه کوی، په مصر کی څه کیږی او مور په بغداد کی څه کوو، مور له ژونده څومره لری یو.

طاهر له ګادی نه پلی شو، له دروازی نه بهر زید د هغه انتظار کاوه، طاهر وویل : زیده! ته تر اوسه نه یی ویده شوی؟

زید د غوسی شکایت او مینی په لهجه ورته وویل : دا کله کیدای شی چی ته تش لاس د زمریانو غار ته ولاړ شی او ماته خوب راشی.

*****

(۳)

د شاهی محل په مخکی په یوه نیمه دایره کی د سیوری تر چترونو لاندی په دوو کتارونو کی امیران په کرسیو ناست وو، په دریم کتار کی د لاندی درجی منصبدران ولاړ وو، په مخ کی لږ اوچت په یوه تخت د ولی عهد ظاهر او د هغه څوان زوی مستنصر کرسي وی، د ظاهر او مستنصر په مخکی په یوه طلایی پتنوس کی د سلطان صلاح الدین ایوبی توره وه، د چتر او شاهی محل د برنډی ترمنځ یوه تکه سره قالینه غوړیدلی وه، د محل په پاس برنده کی د وریښمینو پردو ترشا د شاهی کورنی او امیرانو ښځی ناستی وی، د مانی په دوهم پور کی د یوه پراخ دالان له یوه ښکلی محراب نه لاندی یوه زرینه کرسی ښکاریدله او تر چترونو لاندی د ناستو تولو خلکو سترګی د همغه کرسی په لوری وی، د ولی-عهد ښی لاس ته د صدر اعظم او د شهزاده مستنصر ترڅنګ د پوځ د مشر کرسی وی، او نور امیران بهرنی سفیران او د هیواد چارواکی د خپلو رتبو او منصبونو په تناسب ناست وو، د چنګیز خان د سفیر کرسی د صدر اعظم ترڅنګ وه، او د علاوالدین محمد شاه سفیر د عماد الملك «د پوځ د مشر» ترڅنګ ناست ؤ.

په لومړی کتار کی په یوه سرکی د قاسم کرسی وه او په هغه پسی په دوهم کتار کی طاهر ناست ؤ، د طاهر نه دری کرسی لری د قاسم یونانی استاد، او د طاهر شاته په دریم کتار کی عبدالعزیز ناست ؤ، طاهر عبدالعزیز ته مخ وروړاوه او ویی ویل : آیا زمور مقابله به پردی قالینه وی؟

عبدالعزیز په موسکا ځواب ورکړ : دا قالینه یوازی ددی لپاره ده چی ستا مقابله د صدر اعظم له زوی سره ده، که ستا مقابله د شاهی کورنی له کوم غړی سره وای نو بیا به په دی قالینه ګلان هم غوړیدلی وو.

طاهر په موسکا ځواب ورکړ : آیا د چوګان «اس ځغلولو» په لوبه کی به هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قالینی غوږوی؟

عبدالعزیز ورو د هغه په غوږ کی وویل : نه، خو که زموږ د زوال همدغه حالت وی نو دا هم رواج وښوله، «لوګس» دی ولید ستا کین لوری ته په څلورمه کرسۍ ناست دی، طاهر کین لوری ته وکتل او ویی ویل :

دی خو له پوره تیاری سره راغلی دی.

عبدالعزیز وویل : ته به دی هر وخت په همدغه جامه کی وګورې، ښایی دی به په همدی جامه کی ویده کیږی هم، ته همت وکړه، د شاګردنه وروسته خامخا د استاد نوبت راځی، لکه چی د پوځ سالار له مستنصر سره په همدی خبره ګړیږی.

طاهر د پوځ د مشر خواته وکتل هغه په ټیټ غږ د مستنصر په غوږ کی څه ویل ، قاسم، طاهر ته مخ وروړاوه او په لوړ غږ یی وویل : ته اندیښنه مه کوه زه به دا لوبه زر پای ته ورسوم.

ددی په ځواب کی د طاهر پر چوپتیا لوګس په ماته ګوډه عربی وویل : دومره بیړه مه کوه، که تا دا ننداره زر پای ته ورسوله نو لیدونکی به مایوس شی.

د شاوخوا ناستو کسانو سترګی د طاهر لوری ته ور اوښتی هغه مخ عبدالعزیز ته ور وړاوه د طاهر د تندی هغه رګ چی عبدالعزیز سهار څو ځلی لیدلی ؤ بیا راپورته شوی ؤ، یوه شیبه طاهر عبدالعزیز ته وکتل او بیا یی لوګس ته مخ وروړاوه ویی ویل : ته داډه اوسه لیدونکی به نه مایوسه کیږی ښایی ته هم مایوس نه شی، ترڅو ته په خپله ونه غواړی دا لوبه دوام لری.

د طاهر په خبرو کی بی اندازی اعتماد ؤ، او د خپل استاد په ځیر قاسم هم پر خپل بدن یوه سپکه لړزه احساس کړه، بل لوری ته د وریښمینو پردو شاته د ښځو په ډله کی صفیی، سکینی ته ویل : مانه درته ویل چی د قاسم ژبه تر توری تیره ده،

سکینی وویل : هغه به څه دوستانه خبره کوی.

صفیی وویل : که کومه دوستانه خبره وای نو له خبرو لږ به د ځواب تر حده نه غځیده. د قاسم له خولی به کومه ټوکنده خبره وتلی وی، د هغه یونانی استاد به ورسره تائید کړی وی او اوس یی چی ځواب واورید دواړه د لمدو پیشوګانو په ځیر غلی شول.

سکینی وویل : زما ورور خو د یوه زمری په ځیر ناست دی، ته هره خبره په اټکلونو کوی، له تا سره څه دلیل دی چی قاسم به هغه ته کومه ټوکنده خبره کړی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی، له دومره لری نه ته خبره اوریدای شی او نه زه، اوس به لږ څند وروسته داسی پریکړه وشی چی د قاسم ژبه ډیره تیره وه که تورهٔ قاسم به هغه ته داسی درس ورکوی چی بیا د توری نوم وانه خلی.

صفیی وویل : که یی قاسم ته داسی درس ورکړ بیا؟

سکینی وویل : صفیی له خدایه ښه دعا وغواړه، ستا له دی پردی سره دومره خواخوږی پر څه ده؟

صفیی تکان وخوړ وبی ویل : زما له پردی سره نه د هغه غازی له زوی سره خواخوږی ده چی په بیت المقدس یی د فتحی بیرغ ورپاوه او په انعام کی یی توره وگټله زه نه غواړم چی د هغه زوی په دی دك مجلس کی د پلار ددی سپیځلی امانت نا اهله ثابت شی، او قاسم چی دا توره ترلاسه کړی هم څه به پری وکړی؟

: ایا هغه یو سپاهی نه دی؟

: سپاهی ! د لښکر د مشر له لور نه وپوښته چی هغه څه ور سربښندوی سپاهی دی، که یی زیات پیژندل غواړی د عبدالملك د میرمنی نه پوښتنه وکړه، هغه یوازی پر قالینه د غیږنیولو پهلوان دی، پر دېرینو لارو له څلور پراوه مزله وروسته بیرته د لښکرو د مشر کورته راستون شو.

له نیکه مرغه د خوارزم پوځونه بیرته ستانه شول او ده د خبرو جوړولو لپاره پلمه ومونډله، که نه ما اوریدلی دی چی ده به د شپی لخوا چیغی وهلی چی : ترکان راغلل تښتئ ځانونه خلاصوی!

زه ږښتیا وایم که هغه ستا د ورور پرځای د یوهٔ عام سړی زوی وای نو له ده سره به یی داسی سلوك کاوه چی له جگړی نه راتښتیدونکو سره یی کوی.

سکینی وویل : دا ټول دلښکر د مشر شرارت دی، هغه د خلیفه تر نظره د قاسم د سپك ښکارولو په خاطر داسی کیسی مشهوری کړی خو نن به هغه ته هم معلومه شی چی د بغداد د پوځ د مشرتابه اصل حقدار څوك دی؟

صفیی څه ویل غوښتل چی نقیب له پاسنی پوړ نه کوم یو درجن القاب وکارول او وبی ویل چی د مسلمانانو خلیفه را روان دی، د چترونو لاندی ناستو امیرانو پاسنی کړکی ته وکتل او جگ شول په درناوی یی سرونه ښکته کړل، خو طاهر د سر تیټولو پرځای نیغ سر حیران سپین ږیری خلیفه ته کتل چې څیره یی د ډیرو گونځونه سمه نه ښکاریدله، دوو حبشی غلامانو خلیفه په طلایی کرسی کښیناوه ناڅاپه د کړکیو پر دی ولوبدی او جارچیانو خلکو ته پر خپلو ځایونو د کیناستلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم وکړ.

*****

(٤)

یو پوځی افسر د درېګړی او ریفری په حیث میدان ته راغی یوه حبشی غلام څو توری چې په لوبه کې کاریدلی، په یوه زرین پتنوس کې راوړی او وراندی راغی. ولوبغاړی «ریفری» په اشاره طاهر او قاسم یو بل ته مخامخ ودریدل له خپلو کرسیو څخه پاڅیدل او له پتنوس څخه یې یوه یوه توره واخستله، قاسم د خپل خول نقاب پر مخ راتیت کړ طاهر هم د هغه په تقلید همداسی وکړل، په نندارچیانو کې چوپتیا خوره شوه.

د تورو شرنګهار ورو ورو اوچت شو او له دې شرنګهار سره سره د نندارچیانو خولې هم چوله شوې.

امیرانو چې په خپلو کرسیو ددې وهلې وې آرام ناست وو، ورو ورو مخې ته راخم شول، د قاسم حملې ګړندی کیدلی او طاهر یوازې د هغه د ګوزارونو په دفاع بوخت ؤ. نندارچیانو که یو لوری ته د قاسم په ګړندی توب او چالاکی اعتراف کاوه نو بل لوری ته یې په دفاعي جګړه کې د طاهر کمال ستایه، صدر اعظم په خپله کرسۍ کې په پوه او بله ډډه کیده او د کیناستلو هڅه یې کوله او د پوځ سالار په کرسۍ کې د پښو پرسرونو ناست ؤ، د قاسم استاذ لوکس هغه د پرلپسې حملو ناکامې ونه زغملې شوه په فرانسوۍ څه وویل ودرید، خو له شانه یوه د څواکمنو متو خاوند په اوږو لاس ورکېښودل او په زور یې بېرته پر خپل ځای کیناوه، هغه لږ څنډ وروسته بیا د جګیدو هڅه وکړه خو لوکس پر خپلو اوږو تر پخوا زیات فشار احساس کړ.

بل لوری ته د پښو په ډله که صفیې سکینې ته وویل : سکینې! ایا ستا په ګومان د بغداد د یوه مهذب ځوان د مدینې غرنی ځوان ته د مقابلې بلنه غلطی نه ښولی؟ قاسم خو ویل چې تر پنځوسو شمیرلو پورې به لوبه پای ته ورسوی او ما خو اوس تر دری سوه پورې حساب کړی وی.

سکینې د صفیې د ځواب پرځای ځان ته د تسلی په دود وویل : لیونې ما هغه ته وویل چې لوبه اوږده کړه، هغه دی د یوه ماشوم په ځیر لوبوی.

: زه ویریږم چې کله هلک لوبه ورسره پیل کړی نو ډده حالت به د رحم وړ وی.

سکینې وویل : ته د لس ورځې تمرین نه وروسته پردی پوهیږې چې ته ددی فن

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاده یی، ته د نارینه ؤ په لوبه څه پوهیږی!

صفیی وویل : زه پر ځان ستا د ورور پر غوره والی او برلاسی اعتراف کوم، خو دلته دده مقابلهٔ یوه نارینه سره ده هغه هم له سارایی سره چی له مقابلی پرته ماته نه منی، وگوره! قاسم اوس بی اختیاره وارونه کوی، او هغه بل تر اوسه پوری دفاع کوی، سکینی چی طاهر په دفاع کی ولید چی شاته درومی په خوښی راپورته شوه ویی ویل : څوك چی په وار کولونه پوهیږی هغه به له دفاع پرته نور څه وکولی شی؟

صفیی وویل : که وایی تر پنځوسو له سره حساب پیل کړم؟

سکینی څواب ورکړ : نه اوس لږ ځنډ سترگی پتی کړه، زما ورور له نظره نه کړی، کله چی ستا دغه سارایی توره وغورځوله او کښیناست بیا سترگی وغړوه.

صفیی سترگی پتی کړی، په دومره خبرو کی تر اوسه دوی هغوی دواړو نیوه ته هم دعا ونه کړه خو چی دی سترگی پتی کړی دعا ته یی اراده وکړه نو معلومه وه چی دا به د چا د بری دعا کوی.

قاسم ددې د کاکازوی ؤ، ددې د کورنی د ټولو غړو امیدونه پر هغه پوری تړلی وو، پردی برسیره قاسم له صفیی سره مینه هم درلوده، او ددی هم له قاسم سره یو څه علاقه وه او تر هغه پوری چی هغه له پوځ سره نه و تللی او د بی زړه توب او بی غیرتی کیسی یی نه وی مشهوری شوی ددی کرکه نه تری کیده، او کله چی هغه د خوارزم شاه د مقابلی لپاره له پوځ سره پر اس سپور له کوره ووت صفیی د زړه له کومی وویل : قاسمه خدای (ج) دی روغ رمټ بیرته راستون کړه، او کله چی د بغداد خلك په میدان کی ستا د میرانی د کارنامو په ویار په غاړه کی د گلونو امیلونه اچوی زه به د خپل بن ډیر ښکلی گلونه ستا لپاره غوره کوم او که بیا سکینه راته وایی چی صفیی قاسم دی خوښ دی؟ نو پر ما به بده نه لگیږی.

خو کله چی قاسم بیرته راستون شو او د هغه د بی غیرتی له کیسو سره دده د شرابو څښلو کیسی هم عامی شوی نو دې دا احساس کړه چی له پیله یی تری کرکه کوله، او د قاسم لخوا د مینی اظهار ددی په زړه کی د نفرت او کرکی دغه ریښی نوری هم مزبوتی او ژوری کړی، خو اوس ددی د تره زوی قاسم له یوه پردی سره مقابله کوله.

هغه ناپیژندوی چی دې همدومره پیژاند چی د یوه زړور پلار زوی دی او د هغه سره د صلاح الدین ایوبی (رح) توره ده، د هغه پلار هم د صلیب او هلال، په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقابله کی د صلاح الدین ایوبی د یوه نومورکی سپاهی په حیث برخه واخستله، څکه یې د هغه نومیالی مجاهد سره مینه وه او هماغی مینی خواخوږی پیدا کړی وه، خو آیا ددی د خواخوږی یوازینی سبب همدا ؤ چی له دغه پردی سړی سره د ایوبی توره وه؟

صفیی په وار وار له خپل زړه نه پوښتل، او هر ځل ددې زړه دا ځواب ورکاوه چی نه! که له کوم بل زلمی سره دغه توره وای ښایی پردې یی هیڅ اغیزه نه وای کړی، صفیی ته هم د ځوانو نجونو نه یوه یی، هغوی هم د لوبی له پیلیدو نه وړاندی د طاهر د ښکلی ځوانی په لیدو په زړونو کی دده د بری دعاګانی کوی.

ناڅاپه د ننداړچیانو خپ خپ ګونګوسې په زور ورو نارو بدل شو خو صفیی دسترګو غړولو پرځای په تصور کی د دوی ځیری لیدلی، د یوی شیبی لپاره دې قاسم ولید چی مغرور ولاړ دی او ماته خوړلی طاهر بی کسه ورته ولاړ دی، خو په دوهمه شیبه کی یی خپل د تره زوی لیده چی سر کښته ګوری طاهر یی په مخکی بریمن ولاړ دی، د وینو رشتی جوش وخوړ او زر یی دعا وکړه : یا الله ! قاسم فاتح! ... خو بیایی ژبه ودریده، هغه ناپیژندوی چی د لومړی ځل لپاره یی ددی په زړه کی نری نری څړیکی راپورته کړی وې په ډیره بی وسی، /تری پوښتل آیا دا زما ګناه ده چی زه ستا د تره زوی نه یم؟!

د ننداړ چیانو زیات شور صفیه مجبوره کړه چی سترګی وغړوی د طاهر دفاعی حالت اوس په حمله بدل شوی ؤ او قاسم وارخطا شاته تلو او په میدان کی یی چکر واهه، قاسم دری ځلی په شاتګ کی وغورځیده، خو طاهر د هغه په تټر د توری ور ایښودلواو په هغه د ماتی د منلو پرځای ددی انتظار کاوه چی بیرته راپورته شی، څلورم ځل چې هغه ولوید د بیرته جګیدو پرځای یی توره وغورځوله او چی طاهر ور وړاندی شو هغه ته یی لاس ورکړ چی راپورته یی کړی قاسم د طاهر لاس لری کړ او جګ شو ولاړ په خپله کرسی کښیناست هغه خول هم له سره لرې کړ او په غیږ کی یی ونیو، د سترې اس په څیر سیلیده، پر مخ یی خولی راماتی وی، لوکس ورجګ شو د مخ د خولو پاکولو لپاره یی دسمال ور وړاندی کړ، خو قاسم د هغه لاس هم څنډ واهه او هغه ته یی ډیکه ورکړه کله چی لوکس پریشانه پخپله کرسی کښېناستلو عبدالعزیز ور تیټ شو په غوږ کی یی ورته وویل : دا دسمال د ځان لپاره وساته، تر اوسه د خلکو تسلی نه ده شوی هغوی ستا د لوبی او کمال د لیدو هیله هم لری.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوکس ته د خپلو شوندو ژوولو نه پرته بله چاره نه وه.

*****

(۵)

د بغداد امیرانو کرار کرار پر طاهر آفرین وایه خو د خوارزم سفیر ورجگ شو وراندی ورغې او طاهر ته یې لاس ورکړ ویې ویل : ځوانه زه درته مبارکی وایم! د صلاح الدین ایوبی «رح» د زړور سپاهی له زوی نه زمونږ همدغسی هیله وه.

طاهر خول له سره لرې کړ د هغه مننه یې وکړه، عماد الملك د هغه خول تری واخست او د خولو وچولو لپاره یې یو دسمال ورکړ، طاهر د هغه له لاسه دسمال واخست او خولې یې پرې پاکې کړې، چې له پاسه جارچی بیا غږ وکړ : د مسلمانانو خلیفه بیرته ځی! حاضر خلك ټول په احترام پاځیدل، لږ شیبه وروسته جارچی د خلیفه د تلو اعلان وکړ او خلك ټول بیرته په خپلو خپلو ځایونو کښیناستل، طاهر د عماد الملك له لاسه خول واخست او خپلې خولې یې پاکولې، پر خپل ځای کښیناست، د پاچاهی د امیرانو سترګې پر صدر اعظم ښخې وې هغه خپل ذهنی درد د یوې سیاسی موسکا تر پردو لاندې د پټولو هڅه وکړه ویې ویل

: زه د مسلمانانو د خلیفه، د خلافت د ولی عهد شهزاده مستنصر او د بغداد د امیرانو له لورې طاهر بن یوسف ته د مبارکی هدیه وراندی کوم، او هیله کوم چې دغه توره چې دغه زلمې یې ځان دیر ښه حقدار ثابت کړی دی د عباسی سلطنت غوره خدمت وکړای شی.

دې وینا د حاضرینو دوه زړه توب لرې کړ او یو پر بل پسې راجگ شول طاهر ته یې لاسونه ورکړل.

د لښکر مشر یو ځل بیا له مستنصر سره په غږ کې څه وویل او جگ شو په لوړ آواز یې وویل :

د شهزاده مستنصر بالله هیله ده چې په خپل لاس د طاهر په ملا د ایوبی «رح» دتورې د ترلو نه وراندی یو ځل بیا هغه وازمویی زمونږ په عزتمندو میلمنو کې یو داسی څوك شته چې دا دعوه کوی چې په دنیا کې د هغه نه ښه تورزن نشته، که طاهر زیات ستړی نه وی نو زه هیله کوم چې هغه زمونږ د عزتمن، میلمه بلنه ومنی ځکه چې که له طاهر سره د صلاح الدین ایوبی «رح» توره ده نو زمونږ له میلمه لوکس سره د فرانسی د پاچا ستاینلیك دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوکس چی دا واوریدل نه یی څه وویل او نه یی ولیدل سمدستی یی په سرخول کښیښود او په دګر ودریدل. طاهر د اوبو پیاله پر سر واړوله په موسکا ودریدل، عبدالعزیز په بیړه ورغی ویی ویل : ته ډیر ستومانه یی، د لوبی د زر پای ته رسولو هڅه وکړه.

طاهر په داډ خول پر سر کښیښود ویی ویل : له ده سره به زما لوبه ډیره لنده وی، ته چورت مه وهه.

حبشی غلام راوړاندی شو توره یی ورته وراندی کړه، لوکس د یوی پرځای دوی توری واخستلی او یوه توره یی طاهر ته ور وغورځوله، طاهر تری ونیوله او د هغه د حملی انتظار یی وکړ، لوکس د طاهر د حملی طریقه لیدلی وه، هغه دده له ستومانی نه د ګټې اوچتولو هڅه وکړه، او حمله یی پرې وکړه، خو ددی پرځای چی طاهر په توره د هغه د ګوزار دفاع کړی وای یو قدم شاته شو او د هغه ګوزار تش ولاړ، بیا چی کله د لوکس د توری څوکه په څمکه ولګیده طاهر په ډیر زور په توره د هغه په توره واروکړ، د لوکس له لاسه توره ولوېده او دی تش لاس په میدان ودرید او د خلکو کړس کړس خندایی اوریده.

شهزاده مستنصر د ولی عهد ظاهر په اشاره له میز نه توره پورته کړه او ور وړاندی شو د طاهر تر ملا یی وترله، طاهر ته یی لاس ورکړ ویی ویل : زموږ په وسله تونونو کی تر دی زیاتی ښکلی او زیاتی تیری توری شته، خو کاشکی ستا غوندی څو سپاهیان هم وای، تاسو له دی ځایه مه څی موږ درته ضرورت لرو، طاهر څواب ورکړ : تر څو ستاسو ماته ضرورت وی زه به همدلته یم.

: راځه له پلار جان سره وګوره!

طاهر د ولی عهد کرسی ته نژدی شو، ولی عهد لاس ورکړ او ورته ویی ویل : څوانه! زما د طبیلی غوره اس چی تر اوسه پوری یی ما د سپارلی ارمان پوره نکړای شو او زما د وسله تون غوره توره زه تاته په انعام کی درکوم نن به دغه شیان تاته در ورسیږی. دایی وویل او بیایی خپل زوی ته وکتل، ویی ویل : مستنصره ! د میلمنو رخصتول نورستا کار دی زه لکم طبیعت می خراب دی.

د ولی عهد له تلونه وروسته مجلس لږ نور هم بی تکلفه شو، هر یو راوړاندی کیده او له طاهر سره یی سټری مشی کول، د نورو په لیدو د چنګیز خان نماینده هم طاهر ته لاړ ورکړ ، خو له هغه سره په سټری مشی کی طاهر په خپل بدن کی کمزوری لړزه احساس کړه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجلس ورو رنګ شو، صدر اعظم چې رخصت شو طاهر ته یې وویل :زویه ! زما د شپې میلمستیا هیره نه کړې.

قاسم تر اوسه په کرسي ناست ؤ، صدر اعظم هغه ته لاس ونیو له کرسي نه یې پاځاوه او له ځانه سره یې د محل په لوري بوتلو.

د تولو په پای کې د لښکر مشر او نور افسران د طاهر شاوخوا پاتې شول، د لښکر مشر عبدالعزیز ته وکتل ویې موسکل او ویې ویل : له استاد نه وروسته شاګرد!

عبدالعزیز وویل : له شاګرد نه وروسته استاد!

سالار په کړس کړس وخندل ویې ویل : عزیزه! ته د سنګار ډیر شوقي یې؟

زه سر له سبا تاته دري ورځې رخصت درکوم طاهر هم درسره بوزه! خو له اتو تنو زیات به نه ځې، د پردې تر شاصفیې سکینې ته ویل : سکینې ودې لید هغه سارایې.

سکینه چوپه وه، او کله چې صفیه له دې سره یوځای د خپلې مانې په لوري روانه وه دې په زړه کې په توله لاره د سارایې کلمه تکراروله، دې ته ددغې کلمې معنې بدله شوې وه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفیه

د شپی مهال د صدر اعظم پر دسترخوان د هغه څو د نظر وړ خلك حاضروو، د قاسم د غیاب په باب صدر اعظم له طاهر نه بخښنه غوښتله، ویی ویل : قاسم د کوم دوست کره تللی دی، هغه پر خپل چلن ډیر پښیمانه ؤ، زما هیله ده چی سبا یا بله ورځ هغه پخپله تاته درشی، او زما هیله ده چی تاسو دواړه به یو د بل ډیر ښه دوستان شی.

طاهر وویل : دی به ما د خپلی دوستی وړ وموميی.

د دوډی پر وخت له نورو میلمنو سره د یوی او بلی خوا خبرو اترونه وروسته صدر اعظم له طاهر نه وپوښتل: ایا تاته د لښکر مشر د کوم منصب وړاندیز نه دی کړی؟ ما اوریدلی دی چی ولی عهد او شهزاده مستنصر ستا سپارښت کړی دی؟

طاهر خُواب ورکړ : د لښکر سالار په دی اړه له ما سره هیڅ خبره نه ده کړی. او نه زه د ولی عهد او مستنصر د سپارښت نه خبر یم.

صدر اعظم په خُیر خُیر طاهر ته وکتل ویی ویل : که ته پوځ ته حُی نو زه دی پخپله د لښکر سالار ته خبره کوم، خو د پوځ په لوړو منصبونو ترکان مقرر دی، له هغوی نه وروسته ایرانیان دی، حُکه خو د یوه عرب منصبدار لپاره د پرمختګ ډیر چانس نشته.

طاهر وویل : زه د کوم منصب په تمه نه یم، زه یوازی د مسلمانانو د خدمت لپاره فرصت غواړم.

وزیر اعظم وویل : یوه معمولی منصبدار ته په عام دول د خپلو لوړو افسرانو د خوشحالولو مسأله دومره مهمه وی چی دوی خدمت نشی کولی، زه غواړم چی ستا له استعداد نه پوره پوره ګټه واخستل شی ته په دی نازك وخت کی د عباسی خلافت لپاره شاندار خدمتونه ترسره کولی شی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهر دا احساس کړه چې صدر اعظم پردې سربیره چې د قاسم پلار دی یو ښه او د قدر وړ انسان دی، او دده په اړه چې د بغداد خلکو کوم نظر دی هغه د تعصب او کینې پر بنیاد ولاړ دی، هغه وویل : ما به د بغداد د خلافت لپاره هرې لویې قربانۍ ته چمتو وګورې.

صدر اعظم وویل : سمدستي د بغداد بهرنۍ معاملات ډیر ګډوډ دي او موږ ته د بهرنیو چارو لپاره هوښیارو، ذهینو او د اعتماد وړ خلکو ته اړتیا ده، طاهر ناڅاپه د خپل منزل زینه ولیده، ویې ویل : زه د خپل عقل او هوښیارۍ په باب هڅه دعوه نشم کولی، خو پر ما اعتماد کولی شې.

لوی وزیر وویل : زه به سبا ته د بهرنیو چارو له وزیر سره وګورم، ګیدای شي په څو ورځو کې تاته یو ډیر مهم مسئولیت وسپارل شي، ښایي قاسم هم ستا د کار ملګرې وي، ته د خوارزم د سفیر سره د اړیکو هڅه وکړه، او که ممکنه وي ته هغه ته دا باور وزکړه چې ته له هغو خلکو څخه یې چې پر خوارزم د مغلو یرغل نشي زغملی.

طاهر وویل : ایا هغه ته ددې باور ورکولو هم ضرورت دی؟

د اسلامي نړۍ کوم ذلیل ترین سړی به هم پر خوارزم د مغلو یرغل ونه زغملی شي، خو ایا ستا ګومان دی چې چنګیز خان به پر خوارزم حمله وکړي؟

صدر اعظم لږ سوچ وکړ او ځواب یې ورکړ:

تر څو چنګیز خان د بغداد په یې طرفي داده نه شي حمله به ونه کړي، او که د دوی پوځونو پرمختګ پیل کړ امکان لري موږ ورته ووایو چې پر اختلاف برسیره پر کوم اسلامي هیواد ستاسو یرغل نشو زغملی، تازه خپرونه داسې دی چې د چنګیز خان لښکرې د خوارزم په شمال کې راټولیږي، امکان لري موږ دا پیغام ور واستوو چې که ستاسو پوځونه پرمخ راغلل موږ به د خوارزم ترڅنګ درېږو. خو د خوارزم شاه د عمالو دا حالت دی چې له بغداد نه د مغلو هیواد ته تلونکي سوداګر هم جاسوسان بولي تر دې چې زموږ سفیران تلاشي کوي، دا څو ورځې کیږي چې له بغداد نه هیچاته هم د تاتار یانو هیواد ته د تلو اجازه نه ورکوي، زه ویرږم که د هغوی دغه حال وي نو د خوارزم سره به زموږ اړیکي د پخوا په څیر تیاره وي. او امکان لري چې موږ د ضرورت په وخت کې چنګیز خان ونه ویرولی شو.

ځکه خو که په دغه نازکو حالاتو کې د خوارزم له سفیر سره ستا غوندې ځوان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اړیکو نه څه ګته واخستلای شو نو په دی کی به د خوارزم او بغداد دواړو خیر وی.

د هغه له تاسره د صلاح الدین ایوبی (رح) په واسطه زیاته مینه پیدا شوی څکه خو ته له دی فرصت نه ګته واخله، نن هغه ستا تر اغیزی لاندی راغی.

ترټولو د مخه هغه مبارکی درکړه، زما باور دی چی ته د خوارزم د هیواد په اړه ښی هیلی څرګندی کړی هغه به د ځان دوست کړای شی.

طاهر ځواب ورکړ : د خوارزم په باب د نیکو ارادو ښکارول به زما د زړه غږ وی، او زما یقین دی چی زه به دی په خپل اخلاص تر اغیزی لاندی راولم.

او که تازه د چنګیز خان د تنبیه لپاره تاکلی یم نو زه دا خپله نیکمرغی ګڼلم.

لوی وزیر وویل : تر اوسه دا پریکړه نه ده شوی چی دا مسئولیت چاته وسپارل شی، خو که ته د خوارزم د سفیر اعتماد ترلاسه کړی نو دا به ستا دپاره لویه کامیابی وی. څکه چی د خوارزم دلارو ښندیدو په صورت کی به زموږ استازی د ختیځ د لورو غرونو له سختو لارونه تیریږی او یوه اوړه لاره به یی په مخ کی وی. او دغه لاره د وحشی او لوټمارو قبیلو په سیمه نوره هم خطرناکه ده.

له دردی خوږلو او لږو اړ دیرو نورو خبرو وروسته چی صدر اعظم طاهر رخصتولو ورته وویل وویل: زما هیله ده چی زما او ستا ترمنځ چی څه خبری وشوی هغه به نورو ته نه رسیږی.

طاهر وویل : که تاسو له مانه دا وعده وانه خلی هم زه دا خبری چاته نه کوم. په هر صورت اوس ستا د تسلی لپاره وعده کوم او زما وعده د یوه سیاستمدار وعده نه ده د یوه سرتیری وعده یی وبولی.

د صدر اعظم په اشاره د هغه یو ملازم له مانی نه د طاهر بهر ته رسولو لپاره ورسره ملګری شو، له لویی دروازی نه چی ووتل، او په ښ کی یی پښه کیښوده طاهر خدمتګار ته وویل : ته ورځه ماته لاره معلومه ده.

هغه لاس ورکړ ورته وویل : ستا د کور ته رسولو لپاره به د دروازی نه بهر ګادی ولاړه وی.

*****

(۲)

طاهر د ګلانو په منځ کی ورو ورو روان ؤ، د ګلانو له ویږو ډکی تازه او صافی هوا دده زړه او دماغ ته تازګی او خوښی وربښلله، دغه ورځ دده د ژوند دیره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بختوره ورځ وه، ده له سهاره تر اوسه د خپلو ډیرو خوبونو تعبیر لیدلی ؤ.

د توری وهلو مقابلی ده ته ډیری د هدف دروازی خلاصی کړی وی، د ولی عهد غوره توره او اس ده ته رارسیدلی وو، شهزاده مستنصر یی پر ځان مین کړی ؤ، د بغداد امیرانو یی پر کمال اعتراف کاوه، بیا هم هغه دا اندیښنه درلوده چی صدر اعظم یی خفه کړی دی. د هغه په باب یی اوریدلی وو چی ډیر د کسات اخستونکی مزاج خاوند سړی دی او د هغه یو تدبیر دده په ټولو ارادو اوبه اړولی شی، خو پر دسترخوان د صدر اعظم ورین تندی او ښه چلن دغه تصور رد کړ، د هغه له خبرو دا ثابته شوه چی هغه یی تر ټولو ښه دوست او خواخوږی دی، د بغداد دغه جهان دیده سیاست پوه چی ده یی تر اوسه په لسګونو عیبونه اوریدلی وو اوس ده ته د انسانیت د غوره صفتونو یوه مجسمه او تصویر ښکاریده، طاهر ته قاسم ورپه یاد شو او په زړه کی یی وویل : کاشکی په میدان کی می هغه دومره نه وای ذلیل کړی، صدر اعظم له دی پراخ نظری سره سره دده پلار دی او هغه به خامخا پری خفه وی، پر دسترخوان د قاسم نه موجودیت ددی خبری دلیل دی چی هغه تر اوسه په غوسه او ناراضه دی، طاهر ته د صدر اعظم دا خبری ورپه یاد شوی چی قاسم به تر سبا یا بلی ورځی پخپله تاته درشی.

طاهر د لومړی ځل لپاره د قاسم په باب پخپل زړه کی د وروری احساسات حس کړل. ده فکر وکړ چی ښایی پلار یی پردی مجبور کړی چی ماته راشی، خو سبا به یی هم په زړه کی یو ځوروونکی احساس وی، غوره داده چی زه پخپله وړومبی شم، پخپله ده ته ورشم او ورته ووایم: قاسمه! زه ستا دوست یم، د بغداد او د عباسی خلافت په خاطر دواړه باید یو د بل دوستان شو، کاشکی ما اوس کورته د تګ نه وړاندی قاسم لیدلی وای، خو دومره په بیړه نه، د قاسم غوسه باید سړه شی، سبا ته به زه له عبدالعزیز سره ښکار ته له تلو نه دمخه له ده سره گورم، او لوکس دده استاد دی په دی ښار کی پردی مسافر دی، زه به د هغه تسلی هم کوم.

ناڅاپه طاهر پر خپل لاس د چا د لاس تودوخه احساس کړه او له شانه یی واوریدل : ودریږه!

طاهر ټکان وخوړ لاس یی د توری په موټی کلك کړ او شاته یی مخ وګرځاوه، مخی ته یی کوتوال ولاړ ؤ، کوتوال پر خوله لاس کیښود ده ته یی د چوپتیا اشاره وکړه او ورو یی ورته وویل :

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ماپسی راځه!

طاهر د یوی شیبی لپاره سوچ وکړ او بیا ورپسی روان شو د کومی ناڅاپی حملی سره د مخ کیدو په خاطر یی ښی لاس د توری په موټی کلك نیولی ؤ. د گلونو له پټیو نه وړاندی له کوټوال سره په گنو ونو ورننوت، کوټوال ورته وویل : همدلته ودریږه. او هغه بیا دیوی ونی شاته ورك شو د کوټوال له تلو نه وروسته ناڅاپه ده احساس کړه چی د خپلی لاری نه په راگرځیدو یی اشتباه وکړه، هغه د احتیاط لپاره توره وکښله او د ونو په منځ کی یی لږ خلاص ځای پریښود او د یوی ونی شاته غلی ودرید.

*****

(۳)

لږ ځنډ وروسته د ونو پانی وخوځیدی او یوه ځوانه نجلی د ونو د تیاره سیوری له منځه راښکاره شوه پرهغه ځای ودریده چی څه شیبه وړاندی طاهر دریدلی ؤ.

د سپوږمی رنا د پانو له منځه تیریده او پردی لویدلی وه، هغه ښکلی وه، طاهر د سپوږمی په وړانگو کی د گلانو په سپینو پانو کی دومره تازگی او ښایست نه ؤلیدلی خو دا څوك وه؟ طاهر د یوی شیبی لپاره په حیرت کی ډوب شو او د ښکلا دغه ساده او معصوم تصویر ته یی کتل.

ځوانه نجلی پریشانه شوه یوه او بله خوایی وکتل، بالاخره یی زړه نازړه وویل : ته چیرته یی؟

طاهر توره په تیکی ننه ویستله او دونی له شا نه رابهر شو نجلی زر پر مخ پرده وغوړوله او له یوی شیبی وروسته یی وویل ته زما په اړه څه بدگومانی ونه کړی، زه ستا د ښیگنی لپاره یو څه درته وایم.

طاهر د نجلی د الفاظو د بخښنی نه زیات د هغی د غږ تر اغیزی لاندی راغی، نجلی له لږ ځنډ وروسته بیا وویل : تاسو په بغداد کی یو مسافر یاست کیدای شی دلته ستا دوستان هم وی خو دوستانو ته ورته دښمنان به دی ډیر وی، او امکان لری له کوم سړی نه چی ته په لاس کی د گل ټمه لری هغه درته یو زهرجن نښتر ساتلی وی، له قاسم سره پام کوه ستا په باب د هغه ارادی خطرناکی دی.

طاهر ځواب ورکړ : پرون ما له هغه سره لږ زیاتی وکړ، هغه به خامخا له مانه خفه و، خو زما باور دی چی زه به هغه بیرته راضی کړم، تاسو داده اوسی ماته د قاسم لخوا هیڅ خطر نشته.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجلی وویل : په بغداد کی ستا غوندی خوشباوره سړی ته ځای نشته، تاسو ځان ته داسی ځای وګوری، چی هلته د زړه وړونکی موسکا تر شا کینه، چل او دوکه نه وی غلی شوی، هلته چی د زړه او ژبی ترمنځ د ریا پردی نه وی، قاسم زه له تانه بښه پیژنم تاته به د هغه دوستی تر نیغی دښمنی زیاته خطرناکه وی.

طاهر له لږ سوچ وروسته ځواب ورکړ : نیک زړی نجلی! په دی مانی کی اوسیدونکی تر ما باید له قاسم سره زیاته مینه او خواخوږی ولری، زه پوښتلی شم چی ته څوک یی؟

نجلی ځواب ورکړ : ته باید پردی د پوهیدو هڅه ونه کړی زه یقیناً قاسم ته نژدی یم، خو زه دا نه خوښوم چی هغه له تا سره کیوزی.

: زه ددی سبب پوښتلی شم؟

: ددی سبب! نجلی پریشانه شوه ځواب یی ورکړ :

ددی سبب ماته معلوم نه دی، خو ته پرما اعتبار وکړه ستا ژوند په خطر کی دی، ته ځان ته د بغداد هیڅ ګوټ هم خوندی مه ګڼه.

: ته زما په باب دومره مه پریشانه کیږه، زما متی زما ساتنه کولی شی، او له دی نه پرته زه هیڅکله له مرګه نه یم ویریدلی. نجلی په غمجنه لهجه وویل : ښایی دلته زما د راتګ سبب همدغه وی چی ته له مرګه نه ویریږی. او زه تا له مرګه ویرول هم نه غواړم، خو ته دی په خپلو متو دومره اعتماد هم مه کوه، د توریالی توره له شانه د خنجر د ګوزار دفاع نه شی کولی.

طاهر وویل : ما قاسم دومره نامرد نه ګانه!

نجلی وو یل : قاسم نا مرد نه دی خو د کسات په جوش کی هغه هر څه کولی شی.

: زه به دده د کسات جوش سوړ کړم.

: زه به ستا د پری دعا کوم.

: ستا پر نصیحت عمل به کوم، خو دومره پوهیدل غواړم چی ته څوک یی؟

: ددی پوښتنی ځواب ما درکړی دی، ته ما یوه مسلمانه نجلی وبوله، چی په زړه کی یی د خپل اولس د توریالیو بچیانو لپاره عزت او درناوی دی. ستا په باب زه دومره پوهیږم چی ته د یوه زړور پلار زوی یی، له دی زیات زه نه پوهیږم او نه غواړم چی وپوهیږم. ته هم زما په باب د زیات څه پوهیدو هڅه مه کوه.

په ژوند کی زموږ لاری سره بیلی دی، ما دا احساس کړی چی ستا د ژوند

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښتی گرداب ته نژدی شویده، ضروری می وبلله چی سترگی دی خلاصی کړم، ما خپله ذمه واری ترسره کړه، زه څم، ته لږ ودریږه زه کوتوال درته، رااستوم هغه به دی لاری ته ورسوی.

نجلی طاهر حیران دریان په ونو کی پریښود او دا د ونو تر شا ورکه شوه، لږ شیبه وروسته کوتوال راښکاره شو. طاهر ته یی وویل چی په ده پسی ورځی، چی د ګلانو پټیو ته ورسیدل کوتوال وویل : نور خو په لاره بلد یی ماته رخصت راکړه!

د طاهر په زړه کی له کوتوال نه د هغی نجلی په اړه د پوښتنی هیله راپیدا شوه خو ژبی یی دزړه تائید ونه کړ.

*****

(٤)

طاهر د دول دول خیالونو په یرغل کی له مانی نه راووت د دروازی په مخکی ګادی ولاړه وه، کوچوان خم شو سلام یی ورته وکړ، او دی بیله دی چی څه ووایی په چوپه خوله په ګادی کی سپور شو.

طاهر له خپل زړه نه په وار وار دا پوښتنه وکړه چی : هغه څوک ده؟

پرون یی د طبیلی په مخکی دوی نجونی لیدلی وی، هغه غالباً له هغو دوو نه یوه وه، خو هغی دده په باب دومره اندیښنه ولی ښکارولە؟ هغه پر قاسم ولی دومره بدګومانه وه؟ ناڅاپه د طاهر په مغزونو کی یو خیال راوګرځید او پریشانی یې لری شوه، هغی نجلی ده ته داورښودل غوښتل چی په بغداد کی اوسیدل ورته خطرناك دی، اوددی ادعا دثبوت لپاره یی دبغداد دخلکو دیر بدتصویر ورته وراندی کړ، آیا دا دقاسم شرارت نه دی ؟آیادادهٔی لپاره نه دی چی دی بغداد پریږدی اووویریږی تری ولاړشی؟

آخر دصدراعظم په مانی کی اوسیدونکی یوه نجلی چی خامخا به دقاسم څه خپلوی ورسره وی اویابه خدمتګاره وی له ده سره دومره خواخوږی اوهمدردی پرځه ولری؟

خوهغه خادمه نه وه، هغه یوه شهزاد گی ښکاریده دطاهر په سترګوکی دهغی ښکلی ځیره راوګرځیدله هغه به خامخا دصدراعظم له کورنی سره اړیکی لری، دهغی په الفاظو کی خلوص ژ، په ځیره کی یی ساد گی وه، داله فریب اوریانه دیره ناخبره ښکاریدله کیدای شی له قاسم نه په څه خبره خفه شوی وی، خو په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرصورت هغه پردی ؤ اودلوړو کورنیو خلك دکور معاملی پردیوته نه وایی، نو بیادی ته څه معلومه شوه چی دی دیوه توریالی پلار زوی دی، دې به داټول معلومات له کوم نارینه نه ترلاسه کړی وی اودغه سړی له قاسم نه پرته څوك کیدای شی ؟ قاسم به دکومی پردی شاته ناست وی اوله صدراعظم سره به یی دده خبری اوریدلی وی، او چی صدراعظم یی ده ته ډیر مایل لیدلی نو دده دلاری نه لری کولو لپاره به یی دادسیسه جوړه کړی وی ، دغی نجلی ته به یی خبری ورښودلی وی اودده دتیرویستلو لپاره به یی را استولی وي اوس به نجلی قاسم ته ورغلی وی او ورته وایی به چی ماهغه ډیر وویراوه هغه به تاته راشی اوبخښنه به درنه وغواړی، ستا په وړاندی به په زنګنو کښینی اوددوستی لاسونه به درته را وغځوی.

ددی خیالونو نه طاهر دوی نتیجی واخستلی ، یو داچی قاسم دخپل پلار دترتنی اوګوابښ په سبب پرخپل پخوانی چلند پښیمانه دی اوجبران ته یی چمتودی.

خواوس غواړی چی ددوستئ لپاره زه ورورومبی شم، ددی مقصد په خاطر هغه زما په زړه کی دځان په نسبت هیبت او ویره پیدا کوی.

دوهم داچی که له دی پیښی وروسته طاهر رومبی ددوستی لاس ور اوږدوی نودی به ګومان کوی چی ددی نجلی دګوابښونو په وجه وویریده، ځکه خوده داغوره و بلله چی دقاسم د دروازی ور ټکولو پرځای دهغه په انتظارشی.

دی نجلی چی ځومره دقاسم دخطر ناك ښودلو هڅه وکړه په همغه اندازه هغه ساده اوبی آزاره ښکاریده اوطاهر چی کورته ورسید دقاسم په اړه یی داسی احساس ؤ لکه مشر ورورپی چی دسرکشه او کشر ورورپه اړه لری، د ځوانی نجلی په اړه دده احساس داؤ چی د امیرانو د لونړو نه یوه وه چی ټول عمر یی په ریا اومکر کی تیرپړی او دروغ رښتیا ثابتول ورته کمال ښکاری، خو د شپی له ویده کیدو نه دمخه کله چی دی په خپله بستره وغځید په دی ټولو پیښو یی له سره غور کاوه، په زړه کی یی له ځانه وپوښتل:

آیا هغه ساده او معصومه نجلی دومره دروغ ویلی شی؟

ددی سوال د ځواب په اړه سوچونو به دی له داسی ذهنی کیفیت سره مخ کړ چی د زړه او دماغ سره مختلف غږونه انسان کومی پریکړی کولو ته نه پریږدی.

*****

(۵)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا ورځې ته له سهاره تر ماسپښین پورې قاسم له کوره ورك ؤ، صفیې به لږ ځنډ وروسته د مانۍ له خدمتګارانو نه دده په هکله پوښتنه کوله، ماسپسین مهال دې ته معلومه شوه چې قاسم راغلی دی او له خپلو پنځلس شل تنو ملګرو سره د محل په ختیځ لوري یوه کوټه کې ناست دی.

د محل دغه کونج د سیند لوري ته ؤ، او د برنډۍ نه د مرمرو زینې د سیند تر غاړې پورې غځیدلی وی. د اوبو له مخ نه لږ پاس د اوسپنو پنجرې د زینې پرورسته پله ټینګې وی، پردې اوسپنیزو میخونو وړوکی وړوکی سنګلی کښتې تړلې وی، د زینې له دې پورې نه د سیند غاړه د خلافت مانۍ او د پوځې اعلی سالار له مانۍ سره د نورو امیرانو مانۍ سنګاریدلی چې د سیند په غاړه په یوه لیکه جوړې شوی وی، او د هرې مانۍ په مخ کې د سیند په غاړه زیات شمیر کشتۍ سنګاریدې.

صفیه د قاسم له اردو نه خبره وه، اوس یې چې دا واوریدل چې له خپلو پنځلس شل تنو دوستانو سره ناست دی ددې اندیښنه نوره هم زیاته شوه، له لږ سوچ وروسته د مزبوتې ارادې سره د محل ختیځ لوري ته ور روانه شوه، په دې کونج کې به په پاسنۍ پورې کې مانبام مهال کله کله سنځې راتولیدلی او د دجلې د سیند په زړه پورې منظرو ننداره به یې کوله، په دریم پورې کې یو لوی دالان ؤ، له دوهم او دریم پورنه لاندې د سیند تر غاړې تاو راتاو زینې سنګته شوی وی، او ددې زینو، دروازه د سیند خواته برنډۍ له کونج سره وه.

صفیه د دریم پورې له دالان نه تیره شوه برنډۍ ته ورسیده، په تنګو زینو سنګته کوزه شوه، د لاندې کوټې له چت نه لږ لاندې د هغو زینو دروازه وه چې لاندې یوه دهلیز ته تللی وی، ددې دهلیز مخه د بن په لوري وه، او قاسم به کله کله همدلته له کوم اندیوال سره د سطرنج لوبه کوله.

له پاس او لاندې لوري دغه دهلیز تهٔ له دې زینو پرته بله لاره نه وه، په کومه کوټه کې چې قاسم ؤ د هغې یوه کړکۍ همدې دهلیز ته خلاصیدله ، صفیه د یوې کړکۍ ترڅنګ کښیناسته پرده یې لږ یوې خواته کړه او لاندې یې کوټې ته وکتل.

قاسم له پنځلس شل داسې کسانو سره په مجلس بوخت ؤ چې د بغداد شریفو خلکو له دوی نه ښه خوله نه وهله، صفیې هغوی تل له قاسم سره لیدلی وو، په هغوی کې لوکس هم ؤ خو نن د پخوا پرخلاف زیات اندیښمن او په چورتونو کې ډوب ؤ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاسم وویل : د بدنامی داغ په وینو مینځل کیدای شی، هغه ماته دوکه راکړه، په پیل کی یی داسی وښودله چی هغه په ګوزار کولو نه پوهیږی او ما یوازی په دی ګومان چی دا لوبه زر پای ته ونه رسیږی بی پروایی وکړه.

که زه پوهیدای چی زما د متو له شل کیدو وروسته به هغه په دومره ګړندی حمله پیل کوی نو ما به لومړی دا لوبه زر پای ته رسولی وای، او له لوکس سره هم هغه دوکه وکړه، پر لوکس یی د اتکل پرخلاف فشار زیات راوړ، خیر اوس به سره ګورو!!

لوکس ویل : لږ تر لږه زه د ځان په اړه نه وایم چی له ما سره یی دوکه وکړه، د هغه بری د برلاسی نیتجه وه، زه چی پر څه خفه یم هغه دا چی موږ د میزنیو په څیر خپله ماته ولی ونه منله او د دوستی لاس مو ور اوږد نه کړ.

د لوکس له خولی ددی خبری اوریدل تولو ته حیرانوونکی وو او تولو په حیرانی ورته کتل.

کوتی ته یو بل تن ورننوت او اوس تولو د لوکس پرځای هغه ته کتل.

قاسم پوښتنه وکړه : څه خبر دی راوړی دی؟

نوی راغلی سړی وویل : هغوی د سیند په همدی غاړه له دی ځایه پنځه میله لری خیمی ودرولی، اوس دوی ښکار ته وتلی دی، او دشپی مهال ...!

قاسم د هغه خبره ورپوره کړه ویی ویل : د شپی مهال په څوارلس خوب ویده وی، پردی غاړه پاس لوری ته که لاندی؟

: لاندی څنګل ته نژدی.

:دوی څو تنه وو؟

: تول اته تنه!

: نور څوک څوک دی؟

: عبدالعزیز، عبدالملک، مبارک، او افضل، نور پوځی افسران دی، د هغوی نومونه می نه دی زده، هو یو یی د طاهر خدمتګار ؤ.

قاسم وپوښتل : ستا په ګومان موږ په اسونو ولاړ شو که به په کښتیو کی تګ راته غوره وی؟

هغه ځواب ورکړ : که په اسونو ولاړ شو نو دا به زاړ پاتی نه شی، موږ په کښتیو کی په شپه شپه کی بیرته راستنیدای شو.

قاسم لوکس ته وکتل، که ته له موږ سره ملګری نه کوی، هصلته پاتی شه په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه تن زما په گومان څه فرق نه راځی.

لوکس ځواب ورکړ : زه د هغو خلکو څخه نه یم چی په غلطو او خطرناکو لارو خپل دوستان یوازی پریږدی. زه له تاسو سره یم خو دا ضرور وایم چی تاسو چی کوم کار کوی، دا د میړنیو لاره نه ده. لږ تر لږه به پر ویده دښمن په حمله کی زما توره له تیکی راونه وزی.

قاسم په خندا وویل : ستا گومان دی چی موږ اتلس تنه د هغو اتوتنو په ویدو د وژلو په اراده روان یوا نه ا موږ به هغوی راویښ کړو مخ او لاسونه به مینځی او بیا به وسلی را اخلی او مقابله به ورسره کوو، که له دی وروسته دوی بیا وتښتیدل نو زه نه غواړم چی په وینو یی توره سره کړم. زه د هغوی وژل نه غواړم غواړم یی تښتوم او وزغلی، زه چی له ځانه سره ډیر سړی بیایم غواړم هغه وویروم چی وتښتی.

لوکس وویل : که هغه مقابلی ته چمتو شی نو بیا؟

قاسم ځواب ورکړ : بیا. به له دوی سره هماغه سلوك کیږي چی ځوك یی د خپل مقام نه پیژندونکو سره کوی.

تا اوس ماته شکایت کاوه چی عبدالعزیز به په زور پر کرسی کښینولی، که تاته د ځان عزت نه وی نو له ماسره یی ضرور شته، د طاهر د یوه دوست لخوا دا یوه مقدمه ده، که موږ د دوی د سترگو خلاصولو لپاره څه ونه کړل نو د بغداد هرلوړی مست به زموږ په اوږو راسپریږی.

: مگر ستا پلار جان!

: که پلار جان ته زموږ ارادی معلومی شی نو بنایی د سیاسی مصلحتونو په وجه مو ایسار کړی، خو زما باور دی چی زه د خپل بریالی پروگرام نه وروسته ورته کیسه وکړم نو دی به تاسو تول میلمانه کړی.

لوکس لږ په غمجنه لهجه وویل : نو زه له تا سره یم.

قاسم خپل تول دوستان مخاطب کړل ویی ویل : په یاد ولری په هر صورت طاهر باید له بغداده کوچ وکړی دا زموږ په گټه ده، هغه د پوځ د اعلی قوماندان او خلافت دربار ته لاره پیدا کړی ده، او که هغه کوم لوی منصب ته ورسید نو په هر ډگر به خپل دوستان رامخی ته کړی، موږ تولو ته به بیا د پرمختگ لاری بندی شی.

*****

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٦)

صفیي چی پر څه د پوهیدو هڅه کوله هغه ورته څرګند شول جګه شوه او په خپ خپ تګ له دهلیز نه زینو ته ورسیده او پاس وختله، د هغی په ذهن کی په وار وار دا الفاظ راګرځیدل، : د سیند پردی غاړه، له دی ځایه نژدی پنځه میله لری، لاندی لوری ته، د هغی د زړه تپکانونه کله تیزیدل او کله ورو کیدل، د خیالونو تر احساساتو لاندی کله دریدله او کله به یی ګړندی ګامونه واخستل، هغی یو ځل بیا د طاهر خبرول غوښتل.

غوښتل یی ژوند یی وژغوری، مګر د څه لپاره؟

آیا ددی لپاره چی هغه یو زړور ځوان ژ؟

یا ددی په خاطر چی په بغداد کی مساپر ژ، یو سارایی مساپر، بیایی سارایی سارایی څو واری په زړه کی تکرار کړل. او یو خوږ والی ، یوه خوښی او یو لذت یی پکی احساس کړ، دی په زړه کی وویل : کاشکی زه هم یوه سارایی وای، او د دښتی په تونډ شمال کی می د هغه لمن نیولی شوای، دې ته د مرمر ډبرو دغه شاندارە مانۍ د سارایی له کیږدیو نه نیمګړی ښکاره شوه، دې په هغو زړه وړونکی فضا کی ساه اخستل غوښتل چی د آزادی په بنډونو کی د مینی چینی پکی خوتیږی، هلته چی مکر او ریا لا د انسانیت څیره نه ده مسخه کړی، هغی بیا په زړه کی وویل : صفیی خپل زړه ته دوکه مه ورکوه، د هغه او ستا د نړی ترمنځ، یو داسی سمندر دی چی څوك تری پوری وتلی نه شی.

هغه یو عام سړی دی او ته د صدر اعظم وریره یی، ته د هغه ژوند وژغوره نو دا یو د خیر کار دی. له دی نه زیات داسی خوبونه مه وینه چی تعبیر نه لری.

صفیه د سکینی په لټون پسی یوی کوټی ته ورننوته سکینی تکیی ته ډډه وهلی وه او یو کتاب یی لوست، هغی صفیی ته وکتل ویی ویل : صفیی چیرته تللی وی؟ ما ډیره ولټولی راشه ماته ددغو شعرونو مطلب ووایه!

: سکینی ! راځه نن پر اسونو چکر ووهو!!

سکینه حیرانه شوه ویی ویل : اوس ؟

صفیی وویل : نه لږ وروسته!

سکینی کتاب ته وکتل او په بی پروایی یی وویل : ماښام به ولاړی شو.

صفیه سکینی ته نژدی کښیناسته ویی ویل : نن به موږ د میدان پرځای د سیند پر غاړه ځو، سکینی ځواب ورکړ : ستا مقصد دا دی چی د بغداد خلك مو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښی وپیژنی او پلار جان مو د اس له سپارلی هم ایساری کړی، په یاد دی نه دی چی یو ځل موږ د دجلی څنډو ته تللی وو پلار جان څومره غوسه شوی ؤ.

صفیی وویل : په پرده کی موږ څوك پیژنی؟

: زموږ آسونه خوپیژندل کیږی.

دایی چی واوریدل صفیه په چورتونو کی ډوبه شوه، او هغی په دی اړه زیات بحث لازم ونه باله.

ترمابنامه سکینی څو ځلی تری وپوښتل : صفیی ته ډیره غمجنه یی، ته ووایه په څه خبره دومره پریشانه یی؟

خو هغی هر ځل دا ځواب ورکاوه : سکینی نن می بدن خوږیږی. پر اس د یوی اوږدی منډی نه وروسته به می طبیعت ښه شی.

د صفیی په ټینګار سکینه تر مابنام لږ د مخه تګ ته چمتو شوه، کله چی دوی پر اسونو سپری شوی او له مانی نه بهر ته راووتلی نو صفیی د خپل اس جلب راکش کړ او څو ځلی یی لغتی ورکړی چی ښه یی یاغی کړ ویی ویل : راځه سکینی د سیند په غاړه یوه منډه ووهو. زر به بیرته راوګرځو، په دی غاړه هسی هم د ښار د خلکو تګ راتګ لږ دی. که بیا هم څوك زموږ اسونه وپیژنی د شکایت جرئت به ونکړای شی، په دی کی بیا څه بدی ده؟

آخر هغوی هم زموږ میندی وی چی له نارینه ؤ سره اوږه په اوږه په غزاګانو کی شریکی وی.

سکینی وویل : د سیند په غاړه خو څه جګړه نشته، صفیه بی ځوابه شوه ویی ویل : زه وپوهیدم ته ویریږی. خو زه داډ درکوم زما خنجر به ستا ساتنه کوی.

سکینی وویل : زه ولی له چانه وویریږم. آیا له ماسره خنجر نشته ؟ راځه!

د سکینی د ارادی د بدلیدو له ویری صفیی سمدستی اس د سیند غاړی په لوری راوګرځاوه او د سترګو په رپ کی دوی دواړی د اباډیو نه ووتلی، لږ وړاندی چی ولاړل سکینی چیغی کړی صفیی ودریږه!

وړاندی تګ خطرناك دی صفیی ! صفیی!

ایا تا د حسن بن صباح جنت ته د رسیدو اراده کړی ده؟

د صفیی تدبیر کامیاب شوی ؤ، هغی همداسی غوښتل چی سکینه تر لږ څنډه ورسره ملګری شی هغی ښیله دی چی اس ودروی مخ راوګرځاوه او دی ته یی داسی وښودله چی د اس درولو او راګرځولو هڅه کوی په لوړ غږ یی وویل : سکینی !

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه اس نن لږ سرکشه شوی غوندی دی. زه یی لږ مزاج ور برابروم، ته که له وړاندی تلو نه ویره لری ودریږه زه به اوس بیرته راوګرځم.

سکینی وویل : ته څومره احمقه یی! مانه وو درته ویلی چی پردی اس یوازی قاسم سپریدلی شی.

ته مه ورنژدی کیږه!

صفیی مخ راوګرځاوه ځواب یی ورکړ : اوس به ددی جوش سوړ شی. زیات نه زیات نو دوه میله نور به وزغلی.

سکینی تر لږ نوری لاری ورسره ملګری وکړه بالاخره یی اس ودراوه او د ډیرې پریشانی په حالت کی یی د صفیی ګرځندی اس ته کتل چی ترشا پاتی ګردونو کی پټ او د سترګو په رپ کی پناه شو، او سکینی ورپسی کتل او تر ډیره پوری په همغه ځای ولاړه وه.

تر لږ لویدو پوری ډیر وخت ؤ، سکینی چی د سیند په غاړه شاوخوا د بزګرانو څو کلی ولیدل نو خطر یی احساس نه کړ.

څو ځلی ښه غوسه ورغله او ویی غوښتل چی بیرته ستنه شی، خو بیا به یی په زړه کی وروګرځیدله چی کورته ولاړه شی څه به وایی؟ بیا به یی اراده بدله شوه، ناڅاپه یی ذهن ته ورغلل چی په یوه ځای دریدل یی ښه نه دی، نو په عادی تګ یی اس پریښود نژدی نیم میل وړاندی یی اس بیا راوګرځاوه او تر نیم میل پوری یی بیرته ښار ته لاړه ووهله او بیا یی اس ودراوه.

د لویدیځ پر افق د شفق سرخی خپریدله، دونو سیوری په تیزی سره اوږدیدل، مرغان له فصلونونه د خپلو ځالو په لوری راالوتل، د سکینی اندیښنه ورو ورو زیاتیدله، ښیایی هم خپل زړه ته تسلی ورکوله چی : هغه دومره نا دانه نه ده خامخا به ډیره لری نه وی تللی، دا به زما د پریشانه کولو په خاطر چیرته د کومی ونی ترشا پټه شوی وی، که زه بیرته ستنه شم نو دا به اس وزغلوی او له ماسره به ملګری شی او بیا به په کړس کړس وخاندی او بیا د هغی په ذهن کی وروګرځیدل چې که خدای (ج) مه کړه هغی ته څه پیښه شوی وی نو بیا!

بیا هم زه باید ولاړه شم، زه به پلار جان ته ووایم چی د هغی اس یاغی شو او دسیند په غاړه وړاندی ولاړه.

له ډیر فکر وروسته سکینی د بیرته تلو پریکړه وکړه خو بیا یی هم په دی ټه چی صفیه به راشی اس ودراوه او شاته به یی وکتل، او په انتظار به شوه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قاسم کسات

طاهر د عبدالعزیز له دوستانو عبدالملك او مبارك سره ډیر زر بلد شو مبارك یو خواکمن او ساده زړی سپاهی ؤ، په تعلیم کی هم هغه له تولونه وروسته ؤ، د دوستانو په مجلس کی به هم هغه د خبرو په وخت زیات شرمیده، خو په سیند کی په لامبو، په ګنو ونو کی د هوسی په ښکار او په هوا د مارغانو په غشو ویشتلو یی د طاهر پام ځان ته ور واړاوه، طاهر په زید او مبارك کی ډیر صفتونه شریك ولیدل، زید چی څومره له نورو خلکو سره په خبرو کی د خجالت احساس کاوه هومره زر له مبارك سره په مجلس بلد شو.

افضل یو نیك خویه ځوان ؤ، په خبرو کی هغه زیات هوښیار ؤ، خو د نورو په نسبت ډنبلی او آرام طلبی ؤ. طاهر د هغه په باب څه ښه رایه نه درلوده، په ښکار کی افضل تر لږ لاری له ملګرو سره یوځای ؤ، بیایی اس په یوه ونه وتاړه او په درانه خوب ویده شو، ماسپښین مهال یی چی په سیند کی لمبل زید پردی خبره خوښ ؤ چی له ژورو اوبونه لری یی یو بل ملګری هم پیدا کړ.

طاهر چی د کوم زلمی نه اغیزمن شو هغه عبدالملك ؤ، په قد له عبدالعزیز نه لږ تیت خو په بدنی لحاظ مزبوت ؤ، مخ یی لږ اوږد او بیضوی ؤ.

پراخه تندی، تورو غټو سترګو د هغه ښی ته ځانګړی وقار او ښکلاورښځلی وه. هغه د بغداد په غوره مدرسو کی روزل شوی ؤ او د بغداد په رواجی او معمولو علومو کی یی پوره لاس درلود. او څومره چی طاهر د هغه د پخو نظریاتو نه تر اغیزی لاندی ؤ تر هغه څو چنده زیات هغه د طاهر په ښه ذهانت او علمیت اعتراف کاوه.

طاهر او عبدالملك چی لږ شیبه له یو بل سره مجلس وکړ داسی یی احساسوله چی له ډیری اوږدی مودی راسی یو بل سره پیژنی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسی او نصیر سوچه سپاهیان وو، د هغوی له علم او ادب سره هیڅ اړیکی نه وی، یوازی د عبدالعزیز شخصیت او خلوص هغوی ټول سره راغوند کړی وو او د دوی په ډله یی ور شریك کړی وو او کله به چی نور ملګری د ونو تر سیوری لاندی ناست وو په مهمو مسایلو به یی خبری اتری کولی، دوی دواړه به لږ لری یر له ټل سره په جګړه بوخت وو.

موسی ویل : ما چی کومه هوسی ښکار کړی ده هغه ستا له هوسی نه په وزن کی زیاته ده، او ښکر یی ستا له هوسی نه ښکلی دی.

نصیر به د هغه د دروغجن ثابتولو هڅه کوله ویل به یی : تا به په خوب کی هم ما غوندی هوسی نه وی ښکار کړی.

زید ته به د دوی جګړه د هغو علمی بحثونو نه زیاته په زړه پوری وه جګ به شو دوی ته نژدی به کښیناست، هغوی دواړه چی پر یو ټل د خپلی خبری منلو نه مایوس شول نو زید یی حکم غوره کړ. زید د هوسی تر ښکلا او دعوی زیات د نصیر له جوش نه اغیز من شوی ؤ او د هغه په پلوی یی پریکړه وکړه.

موسی هغه دی ته چمتو کاوه چی پر خپله پریکړه له سره غور وکړی، خو نصیر وویل : بس نور د دریم ګړی ته پریکړی نه وروسته ته د خبرو حق نه لری. موسی پر زید خپل قهر داسی سور کړ کله چی دوی په سیند کی لمبل موسی په ټوکه د زید سر دوه دری ځلی په اوبو کی ډوب کړ او غوتی یی ورکړی، زید له اوبو نه را بهر شو او ده ته یی د غیږو بلنه ورکړه. او کله چی موسی دغه بلنه ومنله او له اوبو نه راووت مبارك، افضل، او عبدالعزیز طاهر او عبدالملك پریښودل او تر دوی راچار پیر شول. زید موسی راوغورځاوه او پرشایی کښیناست ویی ویل : اوس ددی ټولو د وړاندی ووایه چی زما پریکړه سهی وه، موسی تر لږ ځنډه د لاس او پښو له وهلو وروسته په خندا وویل : زه اعلان کوم چی ستا پریکړه بلکل سهی وه.

زید وویل : وعده وکړه چی بیا به په اوبو کی ماته غوتی نه راکوی!

موسی وعده وکړه او زید بیا هغه پریښود.

*****

(۲)

د مازدیګر له لمانځه نه وروسته دی خلکو د غشو ویشتلو تمرین پیل کړ، خو طاهر، عبدالعزیز او عبدالملك د سیند د غاړی په چکر ووتل، لږ ډوبیدو ته نژدی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژ، او دوی بیرته خیمو ته د راستنیدو اراده وکړه چې له لرې یې یو سپور ولید چې ډیر ګړندی را روان ژ، سپور چې رانژدې شو عبدالعزیز وویل : دا خو کومه ښځه معلومیږي، او د طاهر په زړه کې څه اندیښنه راوګرځیده، او چې اس نژدې ورغې دغه اندیښنه نوره هم زیاته او په پریشانۍ بدله شوه.

دا صفیه وه، د تندۍ او سترګونه پرته یې نور مخ په پرده کې پټ ژ، هغې لږ وړاندې اس ودراوه، او په مذبذب حالت یې دوی دري واړو ته یو پر بل پسې وکتل، له یوې شیبې چوپتیا نه وروسته یې اس څو ګامه نور هم ور وړاندې کړ او په طاهر یې سترګې ښخې کړې، ددې سترګو د څه څوروونکې احساس ترجمانې کوله، د نجلۍ له دوه زړه توب نه عبدالملك اغیزمن شو طاهر ته یې وویل : هغه تاته څه ویل غواړي ورشه!

طاهر ور وړاندې شو تري ویې پوښتل : ته ماته څه ویل غواړې؟

نجلۍ پر خپلې ژر ژر ساه اخستلو د قابو کیدو هڅه کوله ویې ویل : هو زه ددې لپاره راغلم چې تاته ووایم چې قاسم ... نن شپه ...؟

طاهر په طنزیه لهجه د هغې خبره ور بشپړه کړه ویې ویل : موږ به ووژنې، څکه خو باید د بغداده سل میله لرې ولاړ شو، زما په ګومان ما پخوا هم له تا سره د ملاقات شرف ترلاسه کړی، د صفیې په زړه درونده ګوزار وشو، هغې په لړزیدلې او زخمي غږ وویل : ماته د بغداد له توکمارو او حاضر څوابو څوانانو نه بیل بللې، په هر صورت زه خپل فرض پوره کوم، قاسم د شپې مهال له خپلو پنځلس شل تنو ملګرو سره په کښتیو کې راځي او پر تاسو حمله کوي، تاسو له دې ځایه ولاړ شئ او یا د تفریح لپاره بل ځای وتاکئ په دې کې ستاسو خیر دی، که نه نو ښایې په بغداد کې څوك دا ونه پوښتي چې څوك ووژل شول او چا ووژل؟

د طاهر شك په یقین بدل شوی ژ، هغه وویل : ستا د زحمت څخه مننه! تاسو قاسم ته ووایئ چې یو هوښیار سړی دوه ځله یوه حربه نه ازمویي، ما تاته پخوا هم ویلي وو چې زه د دښمنې پرځای د هغه دوستۍ کول غوره ګڼم، خو چې هغه زما دوبرولو لپاره کومې لارې غوره کوې دا د هر سلیم فطرت خاوند انسان ته بدې ښکاري. زه هغه ته تر غاړې وتو ته چمتو یم. خو د هغه په پښو کې لویدوته هیڅکله نه یم تیار.

صفیې ته د طاهر هر تکې په زهرو ککړ یو نشتر ژ، دې ته د خپل خلوص او ایثار مسخره کیدل له زغم نه وتلې وو، له غوسې نه په ریږدیدلې غږ یې په زوره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل : ته یو وحشی، جاهل او مغرور سارایی یی، ته دا ګنهی چی زه قاسم را استولی یم، او زه د هغه په وینا دلته راغلی یم، پرون هم تا زما په باب دا اتکل کاوه او ولاړی چی زه د هغه د لاس اله یم او ستا د د ویرولو لپاره دروغ درته وایم. ما ستا په پیژندلو کی اشتباه کړی وه، ته له قاسم سره توپیر نه لری. ... زه بی عقله وم ... اوس زه درته وایم چی په خیمه کی دی ډیوه بله کړه، او آرام ویده شه چی قاسم ته دی په موندلو کی زحمت نه وی.

صفیی دومره وویل او په سلګیو شوه، او طاهر ددی د الفاظو تر تریخوالی ددی د سلګیو او د سترګو د اوښکو د څاڅکو نه زیات تر اغیزی لاندی راغی. هغه د کوم ګل پر پانو د شبنم په څاڅکو کی دومره ښکلا او جذابیت نه ؤ لیدلی لکه ددی له بنو نه په څڅیدونکو غمیو کی یی چی لیده، سوچ یی وکړ چی که ددی نجلی په اړه یی اتکل غلط وی نو بیا ؟

صفیی د یوی شیبی لپاره سترګی په خپل لستونی کی پټی کړی او بیا یی په داسی نظر طاهر ته وکتل چی غوسه هم پکی وه، او رحم هم د اس جلب یی راوګرځاوه خو عبدالملك چی د دوی خبرې اوریدلی وی او یوی نتیجی ته رسیدلی ؤ ګرندی ورغی او د اس جلب یی ونیو ویی ویل : عزتمندی! زه لتا سره د خبرو حق نه لرم، خو په داسی موکه له څه ویلو پرته نشم پاتی کیدای، ماته دانه ده معلومه چی ته او طاهر له څه وخت راسی سره پیژنی، په هر صورت ستا اوښکی ستا د اخلاص شاهدی وایی. طاهر ستا په پیژندلو کی اشتباه کړی ده، خو ته دا اشتباه د بخښنی وړ وبوله، دی په بغداد کی مساپر دی، ددی ځای له حالاتونه خبر نه دی ستا په باب د غلط اتکل سبب یی غالباً دا دی چی طاهر قاسم یو میړنی ځوان ګڼی او د هغه په اړه بد اتکل نشی کولی. هغه ته دانه ده معلومه چی د بغداد د امیرانو ذهنیت او سوچ څومره مردار دی، زه قاسم پیژنم او د طاهر لخوا له تانه معافی غواړم، ته به د طاهر په خبرو خامخا آزرده شوی وی خو که نن شپه د قاسم په اړه دده خوشباوری لری شوه نو بیا به دی چی څومره په پښیمانی ستا سره مخ کیږی د هغی اتکل ته نه شی کولی. زه پوهیږم چی ته به په څومره ستونزو دلته رارسیدلی وی. تا پر موږ زیات احسان وکړ، زه تاته داد درکوم، چی موږ به له دی خطر نه د ځانونو ژغورلو هڅه وکړو. او زه دا داد هم درکوم چی طاهر به هم احسان هیروونکی ونه ګوری، که ګستاخی نه وی نو زما په ګومان ته صفیه یی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفیی خواب ورکړ : هوکی! خو که ستا سوسره زما په اړه دلته په راتلو څه بدګومانی پیدا شوی وی له خپلی ښځی نه دی پوښتنه کولی شی، که ته عبدالملك یی نو ستا میرمن ما ډیره ښه پیژنی.

عبدالملك وویل : ته ډاډه اوسه، زه ستا په باب هیڅ بدګومانی نشم کولی.

د صفیی د غوسی اور سوړ شوی ؤ، طاهر یی د پښیمانی او خفګان په سبب ځورند سرولید ویی ویل : که دی په خپل چلن پښیمانه وی نو زه هم د خپلو تولو خبرو معافی غواړم. زه یو ځل بیا وایم چی قاسم د شپی مهال راځی. تاسو خبر اوسی، او زه دا هم غواړم چی قاسم ته څه زیان ونه رسیږی تاسو وعده وکړی!

عبدالملك وویل : زه وعده کوم چی د قاسم د سړیو ویښته به هم ضایع نه شی.

طاهر سرپورته کړ ویی ویل : که زه ووایم چی پښیمانه یم ته می د بخښنی وړ ښولی؟

صفیی وویل : نه، اوس نه! او بیایی اس ته پونده ورکړه.

طاهر خجالت شو تر سترګو پناه کیدونکی اس ته یی کتل، عبدالملك د هغه په اوږه لاس ورکښیښود ویی ویل : ته دا ځلی پیژنی؟

طاهر ځواب ورکړ : نه !

: زه پوښتنه کولی شم چی دا دی لومړی چیرته او کله لیدلی؟

: پرون شپه د صدر اعظم د مانی په بڼ کی، خو دا څوك ده؟

: د قاسم د تره لور صفیه!

: پردی سربیره ته ګومان کوی چی زما رایه غلطه وه؟

: ستا اټکل څکه غلط دی چی دا د قاسم د تره لور وه، او ددی پلار د بغداد له ټولو امیرانو سره توپیر درلود، اوس راځه د لمانځه وخت دی.

طاهر ورسره روان شو، عبدالعزیز چی تردی شیبی پوری چوپ ؤ، طاهر ته یی وویل : ته باید دومره پریشانه نشی، هغی ستا بخښنه رد نه کړه بیایی عبدالملك ته وویل : ستا په نظر موږ باید څه وکړو؟

د جګړی په صورت کی که څه هم موږ اته کسه یو خو دوی ته مو ښه سبق ورکولی شوای خو تا وعده وکړه چی د قاسم د سړ یو ویښته به هم نه ضایع کیږی، خو چی کله توری تکر شی بیا د مقابل لوری د ویښته زیانیدو لحاظ ساتل ګرانیږی.

عبدالملك وویل : ما له هغه سره د قاسم د ځان ساتنی وعده کړی، خو دا وعده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

می نه ده کړی چی د هغه په غاړه کی به د ګلونو امیل وراچوو!

عبدالعزیز وویل : نو نن به هغه ته داسی درس ورکړو چی تول عمر یی په یاد وی. خو ستا باور دی چی قاسم به د شپی مهال پر مورچل حمله وکړی؟

عبدالملك ځواب ورکړ : ددی ټجلی په باب چی ماته څه معلومات دی زه د هغی په رڼا کی که ددی پر خبره باور ونه کړم ګناه یی ګنهم، قاضی عبدالرحمن دی ته د قرآن او حدیثو درس ورکړی، زما میرمن هم د هغه شاګرده وه. ځکه دواړه یو بل ښی سره پیژنی زما میرمن د دوی په باب ډیر غوره نظر لری.

عبدالعزیز پوښتنه وکړه : تا هغه څه ور وپیژندله؟

: ستا پام نه شو دا د قاسم پر اس سپره وه.

* * * * *

(۳)

صفیی ستړی شوی اس کله تیز او کله ورو زغلاوه خپل کورته نژدی نیم میل لری یی سکینه را لاندی کړه، سکینی په دریدو دریدو کی په لاره کی څو څو ځله هغی ته کنځلی وکړی او بیا به له مینی مجبوره شوه ددی د سلامتی دعا به یی وکړه.

کله به یی ویل : صفیی ! که ته په خیر او خیریت را ستنه شی نو دومره دیناره به خیرات ورکړم.

او کله به یی شوندی وژوولی وبه یی ویل : صفیی ته یو ځل راشه زه به درسره داسی سلوك کوم چی تول عمر دی په یاد وی. ستا سره چکر ته راوتل خو پریږده زه به درسره خبری هم نه کوم.

صفیی ! لیونی، بی عقلی، ناپوهی! ماښام شو، ته چیرته ولاړی، زه چی کورته ولاړه شم څه ځواب به وایم، تر سبا پوری به په تول ښار کی دا مشهوره شی چی صفیه ورکه شویده.

او چی کله صفیه دی ته نژدی شوه ویل یی : خورجانی سکینی! دا کیدای شی ته له مانه خفه شی؟ لږ ماته راوګوره زه صفیه یم ، ستا کشری صفیه! نو سکینی ته دا پریکړه ګرانه شوه چی هغی ته څه ووایی؟

صفیی بیا وویل : خوری! زما خوری! ستا د دومره خفه لیدو پرځای خو دا ښه ده چی له اس نه غورځیدلی او مړه شوی وای.

سکینی وویل : ته ډیره بی عقله یی!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یی په سترګو کی اوښکی راوټو شوی، لږ وړاندی چی ولاړل سکینی وویل : که د حسن بن صباح کوم سړی په مخه درغلی وای بیا به دی څه کول؟

صفیی په خندا ځواب ورکړ : ما به ورته ویل چی ستاسو په جنت کی د حوری جوړیدو حقداره زه نه یم سکینه ده.

سکینی وویل : که د کور خلکو زموږ لټون پیل کړی وی څه پلمه به ورته کوو؟

صفیی په داډ ځواب ورکړ : تر اوسه ماښام دی د سپوږمی په شپو کی څو ځله موږ ماسخټن کور ته راستنیدلو.

د سیند پله ته چی نژدی شول صفیی دوی کښتی ولیدلی د فاصلی د زیاتوالی په سبب دی په کښتی کی سپریدونکی ونه لیدل خو د کښتیو ګړندی تګ یی چی ولید وپوهیده چی قاسم او ملګری یی دی.

*****

(٤)

قاسم له خپلو ملګرو سره تر مشوری وروسته د طاهر دوی له خیمو نه دوه سوه ګزه لری د سیند پر غاړه کښتی ودرولی.

د سیند پر غاړه چی پلی شول ټولو پر خپلو مخونو پردی راکش کړی او د سپوږمی د رڼا نه د ځان ساتنی لپاره د وړاندی ونو منځ ته ولاړل او غلی غلی د خیمو په لوری وزغلل، خیمو ته نژدی د یوی ګنی ونی په سیوری کی ودریدل، او له لږ غوږ نیولو وروسته یو تن وړاندی ورغی هغه په خپ خپ تګ تر خیمی چاړیر راوګرځیده او بیایی خیمی ته وکتل او بیرته خپلو ملګرو ته راغی ویی ویل : دننه په یوه کونج کی اور بل دی او هغه ځادر وربانده غوږولی او په درانه خوب ویده دی، زموږ لپاره همدغه غوره موکه ده.

قاسم وویل : مګر د دوی اسونه نه ښکاری!

یوه تن ځواب ورکړ : که اسونه دوی په ځنګل کی د څریدو لپاره خلاص نه وی پریښی نو بیا به چا په غلا بیولی وی اوس موږ باید وخت ضایع نه کړو.

د قاسم په اشاره ټولو توری وایستلی لوکس ور وړاندی شو قاسم یی تر مټ ونیو ویی ویل : تا وعده کړی وه چی ویښوی به یی او د تیښتی او یا مقابلی موکه به ورکوی.

قاسم ځواب ورکړ : که ستاسو نه ځوک راسره ملګری نه کوی نو جلا کیدای شی، که درته ارتیا شوه نو راوبه دی غواړو خو په یاد ولره! ته زموږ په دی کار

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی راسره شریك یی، که دی دا راز ونه ساتلای شونو کوم جرم چی پر مورچ پد گرانه ثابتیدای شی پر تا به اسانه ثابت شی، که ته په بغداد کی پاتی وای نو له دی جرم نه به دی ځان ژغورلی وای، خو ما د همدی لپاره راسره راوستی، که اوس بیرته ستون شی هم دانشی ثابتولای چی ته له مورچ سره یوازی د یوه نندارچی پد حیث ملګری وی، که توره نه شی کښلی نو دا وعده به ضرور کوی چی خوله بد دی چوپه وی.

لوکس څه سوچ وکړ او ویی ویل : ما د یوه دوست په حیث خپل فرض ادا کړ، نور که ستا دا پریکړه ده زه درسره یم.

قاسم وویل : زما له تانه همدا تمه وه، اوس زه غواړم چی دغه لوبه لږ په زړه پوری کړو، ستا به هم دا اعتراض نه وی چی مورچ هغه راوښیی نه کړ. امکان لری هغه له مقابلی پرته تیښتی ته چمتو شی او مورچ ته هسی دده په وینو د تورو سروکولو ضرورت نه شی، که هغه دا وعده وکړه چی بیا به بغداد ته نه ځی نو امکان لری هسی لږ تپی هم نه شی، زه دا غواړم چی د هغه خیمه وغورځوو مورچ باید بیړه وکړو.

د قاسم پردی وړاندیز دده خُینو ملګرو هغه وستایه او آفرین یی پری ووایه، دوی د ونی له سیوری راووتل په، رغړیدو د خیمی شاوخواته ورسیدل، د قاسم په اشاره یی په یوه وخت د خیمی تنابونه غوڅ کړل، یوه لوری ته یی کش کړه او لرګی یی وغورځول. د یوی شیبی لپاره د هغوی ټولو زړونه په زوره زوره درزیدل، د یوی شیبی لپاره د دوی غوږونه په ځمکه د غورځیدلی خیمی نه لاندی د دول دول غږونو د اوریدو په انتظار وو، او لږ شیبه وروسته د دوی سترګی د ویدو په لټ اوښتلو په ځار ښخی وی،

خو د قاسم او ملګرو اندیښنی ورو ورو په تشویش او پریشانی بدلی شوی، ټولو یو بل ته په معنی دار نظر وکتل، څو ځایه د خیمی د رخت راوتلی برخی ددی لپاره کافی وی چی خیمه تشه نه ده.

لوکس غلی قاسم ته وویل : کیدای شی دوی مورچ لیدلی یو او زمورچ له شمیر نه ویریدلی وی، ته ورته غږ وکړه او د سر د امن وعده ورکړه زما باور دی چی د بغداد پریښودلو ته به چمتو شی.

په خیمی کی یوه لوری ته اوربلیده، د قاسم یو ملګری ورجګ شو اور ته یی اشاره وکړه ویی ویل : که دوی د سوی په خوب ویده وای هم د اور تودوخه به یی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساسوله.

قاسم په لوړ غږ وویل : نور په دوکه کار نه کیږی، که ځان ژغورل غواړی نو ده بغداد پرځای کوم بل لوری ته روان شه، ستا پرسر اتلس توری ولاړی دی، خیمی اور اخستی دی، د بغداد د پریښودو وعده کوی که نه؟

کله یی چی څه ځواب وانه ورید قاسم ور وړاندی شو د توری په څوکه یی یو راوتلی ځای وکوت، پردی هم چی ویده شوی پرواونه کړه نو یی توره لړه په زوره چوخ کړه، خو دا یی احساس کړه چی لاندی د انسان پرځای کوم کلك شی دی، دده په لیدو دده نور ملګری هم پر خیمه وروختل یو تن یو بل راوتلی ځای په لغتو وواهه او ویی ویل : لاندی دبری دی انسان نه شته. هغوی پر دبرو څادرونه غورولی او موږ یی تیر ایستلی یو، څی له دی ځایه ځانونه باسی.

قاسم دوه دری راوتلی ځایونه په تورو ووهل او ویی ویل : دوی زموږ له راتګه خبر شوی او تښتیدلی دی.

خو څوګامه وړاندی یی یو دروند غږ واورید: موږ دلته یو تاسو د تیښتی کوشش مه کوی!

د قاسم ملګری د کومی ناڅاپی حملی د مقابلی لپاره تیار شول خو شاوخوا هیڅوك نه ښکاریدل.

چا ښیا وویل : تاسو ټول اوس زموږ د غشو تر دم لاندی یاستی او باور وکړی زموږ د یوه هم نخښه ښی ځایه نه لګی.

قاسم احساس کړه چی خبری کوونکی د مخامخ ونی ترشا دی، هغه خپلو ملګرو ته د سیند په لوری ورو ورو د شا تګ مشوره ورکړه.

د ونی له شانه ښیا غږ اوچت شو : د تیښتی هڅه ښی ګټی ده، ستاسو شاته سیند دی، مخامخ، ښی او کیږ لوری ته زما غشی ویشتونکی ناست دی. که ستاسو باور نه راځی نو هر لوری ته چی غواړی څلور ګامه واخلی ښیا وګوری، نه تاسو موږ لیدای شی او نه مو وسلی رارسیږی.

قاسم د دیری وارخطایی له امله چیغی کړی:

ته څه غواړی موږ هسی د ساعت تیری لپاره راغلی وو توکی مو کولی.

: موږ هم هسی د ساعت تیری لپاره په ونو ختلی یو.

: زما په خبره باور وکړه ما هسی ته ویرولی!.

: ته زما پر خبره باور وکړه هسی تاسو ویروو!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاسم وویل : ایا دا به مناسبه نه وی چی له ونی نه راکوز شی او دلته دراړه خبری سره وکړو!

د ونی له شانه غږ راغی : د لاندی راکوزیدو له بلنی نه دی مننه! زه هم دلته ډیر تنګ ناست یم. خو پخواله دی چی زه درکوز شم ته به یو زحمت باسی!

: هغه څه؟

: ته دی ملګرو ته د تورو غورځولو امر وکړه!

قاسم وویل : ایا، دا به ښه نه وای چی تا د خبرو په وخت کی د ځان او ما د رتبی خیال ساتلی؟

د ونی له شانه آواز راغی : ګستاخی معاف!

ستا په مخ پرده ده او زه دی له غږ نه نه پیژنم!

قاسم وویل : نو ددی مطلب دا دی چی تاسو زموږ د راتګ له خبریدو نه پرته دومره احتیاط کوی؟

له لرې څنډ نه وروسته آواز راغی: موږ د سیند په غاړه ناست وو د سپوږمی د شپی ننداره مو کوله، ښایی دا به ستاسو بدمرغی وه چی موږ ستاسی کښتی ولیدی د خطر په احساس کی مو اشتباه ونه کړه.

په خیمی کی د اور شغلی ژبغړاندی شوی وی، قاسم خپلو ملګرو ته وویل : تاسو دلته څه کوی نه ګوری خیمی اور اخیستی، کش یی کړی اوبو ته یی وغورځوی!

له ونی نه درووند آواز اوچت شو: ودریږی!

که تاسو کوم یو لږ د یوی اوبلی خوا کیدو هڅه وکړه نو درته ښه به نه وی، موږ د خیمی پروانه لرو، که تاسو موږ ددی بار د ږیرته وړلو نه خلاص کړو نو موږ به هم تاسو د کښتیو له ږیرته بیولو نه وژغورو، توپیر یوازی دا دی چی زموږ د خیمو ایری به د چا درد دوانه کړی خو ستاسو له کښتیو نه به کب نیوونکی کار واخلی.

اوس تاسو د کومی بلی کیسی له پیلولونه دمخه توری وغورځوی، قاسم خپلو ملګرو ته وکتل او توره یی وغورځوله، خو له ونی نه غږ راغی : تاسو له موږ نه لری نه یاست زه غواړم چی له تاسونه هر سړی په نوبت راشی ددی ونی په بیخ کی توره وغورځوی او ږیرته پر خپل ځای ودریږی.

قاسم وویل : موږ د داسی ماتی له منلو نه مقابله غوره ګڼو که په تاکی جرئت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی نو راکوز شه او مقابله وکړه.

د ونی نه غږ راغی : د خدای ج احسان دی چی تا موږ د مقابلی وړ وبللو، خو زه په باور درته وایم چی زموږ توری پخی نه دی. تا زموږ د تورو د تیره والی او د خپلو سرونو د قیمت غلط اټکل کړی دی، که بیا هم تاسو د مقابلی بلنه راکوی تیار یو، په تاسو کی کوم سړی چی ځان زورور گڼی راوړاندی دی شی!

له موږ نه به هم یو تن در کوز شی، همدغسی به یو پر بل پسی له تاسو سره د زور ازمویلو موکه وموسی، خو که په دی کی خپله گټه نه گوری نو زه د خپلو ملگرو لخوا دا وعده درسره کوم چی د وسلی له غورځولو وروسته به تاسو ته د تلو اجازه وی!

قاسم خپلو ملگرو ته وکتل او له څه سوچ وروسته یی یوه تن ته اشاره وکړه، بیا وړاندی ورغی او د ونی لاندی یی توره وغورځوله بیرته ولاړ پر خپل ځای ودرید، پر هغه پسی دوهم او بیا دریم او همدغسی ټول ولاړل دونی لاندی یی توری و غورځولی او بیرته په خپلو ځایونو ودریدل.

وروسته بیا یو تن له ونی نه کوز شو، دا عبدالعزیز ؤ توره یی وکښله وړاندی ورغی او د قاسم او ملگرو په مخ کی ودرید، له لږ سوچ وروسته یی وویل : زه د غږ په پیژندلو کی اشتباه نه کوم زما په گومان زه د صدر اعظم د زوی سره په ملاقات مشرف یم؟

قاسم له خپل مخ نه نقاب لری کړ او ویی غورځاوه، عبدالعزیز غږ وکړ : طاهره! عبدالملکه!

راځی کوز شی دا قاسم دی، موږ گومان کاوه چی کوم دښمن راباندی یرغل راوړی دی.

د عبدالعزیز ملگری یو پر بل پسی توره ایستلی دوی ته ورنژدی شول.

قاسم وویل : ته ډیر هوښیار یی موږ هسی د ساعت تیری لپاره راغلی یو.

عبدالعزیز وویل : ستا ډیره مهربانی ده، موږ ستا خبری واوریدی.

قاسم وویل : تاسو له موږ سره وعده کړی وه چی موږ توری وغورځوو نو تاسو به مو لاره نه نیسی؟

عبدالعزیز ځواب ورکړ : زه پر خپله وعده ولاړ یم، خو ما ستا ملگری نه وو لیدلی، تاسو دوی ته ووایی چی نقابونه لری کړی.

د قاسم په اشاره هغوی لږ ځند دوه زړی وو او بیایی نقابونه لری کړل. عبدالملک

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ ور وړاندی شو په هغوی کی یی څلور تنه پوځی منصبداران وپیژندل وبی ویل :
عزیزه ! د قاسم نفوذ تر پوځ پوری رسیدلی دی دوی پیژنی ! زما په گومان ددی څلورو تنو له مورچ سره د میلمنو په حیث پاتی کیدل ضروری دی.
عبدالعزیز خُواب ورکړ : ما د دوی ټولو د امن وعده کړی ده، قاسمه ته تلای شی خو یوه خبره ښه واوره! که ته له خپلو ارادونه وانه وړی نو ډیر به درته تاوان رکړی.
که د ظاهر یو ویښته زیانیږی نو زه به د صدر اعظم د مانیې مخی ته پنځُوس زره سپاهیان راولم، او زمونږ سره به ستاسو توری دا شاهدی وایی چی زمونږ دښمن څوك ؤ؟
که د صدر اعظم لپاره زمونږ په زړونو کی درناوی او عزت نه وای، نو نن به ستاسو سره زمونږ چلن بل ډول ؤ، که د دجلی اوبه زمونږ مړی خوندی اوغلی کولی شی نو ستا مړی هم خوندی کولی شی.
په هر حال اوس ولاړ شه او که دی ډیا په زړه کی د انتقام اور لمبی کولی نو دا په یاد ولره چی تر سبا پوری به په بغداد کی پنځُلس شل تنه نور هم داسی خُوانان پیدا شی چی له ډیر لوی قوت نه به زمونږ کسات واخستلای شی.
دایی وویل بیا عبدالعزیز خپلو ملګرو ته پام واړاوه وبی ویل : زید او نصیره! تاسو هغه توری پورته کړی. زید او نصیر د ونی لاندی توری اوچتی کړی، عبدالعزیز خپلو نورو ملګرو ته اشاره وکړه او یوی خواته روان شول. قاسم او د هغه ملګرو د بی شانه مایوسی په حالت کی د ونو په منځ کی دوی ته کتل چی ورو ورو یی له سترګو پناه کیدل.
په څُنګل کی تر نیم میل مزله وروسته عبدالعزیز او ملګری یی هغه ځای ته ورسیدل چی اسونه یی ترلی وو له لږ خبرو او مجلس وروسته یی پردی اتفاق راغی چی دوی باید په بیړه بغداد ته ستانه شی او بیا په اسونو سپاره شول.

*****

(۵)

لږ راختلی ؤ چی قاسم یوی نوکری وخوځاوه او له خوبه یی راویښ کړ، هغه په لټ واوښت، وغځید سترګی یی وغړولی نوکره یی ورټله او بیرته یی سترګی پټی کړی.
نوکری ورته وویل : جګ شه ماسپښین کیدونکی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

آغا دی غواړی ! هغه حکم کړی دی چی زر تر زره ورته حاضر شی.

قاسم وغورمبیده جگ شو او د صدر اعظم کوتی ته ورغی، صدر اعظم دیوی کړکی مخی ته ولاړ ژ بهر ته یی کتل، مخ یی راواړاوه او قاسم ته د کتلو نه پرته یی وویل : قاسمه! ته د شپی چیرته وی؟ د یوی شیبی لپاره قاسم ددی خبری څواب ور نکړای شو، هغه پر خپله پریشانی راقابو شو ویی ویل : د شپی له یوه دوست سره میلمه وم، هلته په خبرو اترو کی راباندی ناوخته شوه.

وزیر اعظم مخ وروړاوه او ورته ویی کتل، قاسم دده د کتو تاب رانه ژړ سترگی یی ښکته واچولی، وزیر اعظم دده په لاس کی یو لیك ورکړ ویی ویل : زویه ! ته تر اوسه د دروغو په فن کی دومره نه یی هوښیار شوی چی ماته دوکه راکړای شی دا ولوله!

قاسم د لیك له لوستلو نه وروسته پلار ته وکتل د هغه په کتو کی دا پوښتنه وه چی اوس ستا څه حکم دی؟

صدر اعظم په یوه وړوکی میز پرتی توری ته اشاره وکړه ویی ویل : طاهر له دی لیك سره ستا توره هم را استولی ده، دا د هغه شرافت دی که نه نو ولی عهد او شهزاده ته هم ور رسیدای شی.

قاسمه ! تا ډیر بد کړی دی، تا باید په داسی هوښیاز سړی داسی کوږ گوزار نه وای کړی.

قاسم څواب ورکړ : پلار جانه ! دا هسی توکی وی، طاهر دومره هوښیار نه دی. دا یوازی د عبدالعزیز له لاسه وشول.

صدر اعظم وویل : هغه څوك دی؟

: هغه د پوځ یو معمولی افسر دی.

: خو د پاتی اوولس تورو په وړاندی کولو به د هغه اهمیت ډیر زیات شی. په پوځ کی پخوا هم ستا په باب چا ښه نظر نه درلود، اوس دی پخپله په لاره کی نوی ازغی وکړل، قاسمه! تا ډیر بد وکړل ما غوښتل طاهر ستا د پرمختگ د لاری یوه زینه شی، هغه به ما د ځان نائب معرفی کاوه او ته به د چنگیز خان دربار ته د سفیر په حیث تللی وی. خو اوس ... !

قاسم لږ اندیښمن شو ویی ویل : نو اوس ؟!

: اوس له دی پرته بله چاره نشته چی دی بهر ته چیرته واستوو او تاته په بغداد کی لاره خلاصه شی. تاته معلومه نه ده چی ولی عهد یی سپارښت کړی دی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی په پوځ کی هغه ته مهمه ذمه واری وسپارل شی، قاضی فخر الدین خلیفه ته ددی ځوان په ستاینه کی ځمکه او آسمان سره یو کړی دی. د دی تولو خبرو نتیجه به دا وی چی په بغداد کی به د ده د ملګرو پرمخ په هر ډګر د پرمختګ لاری خلاصی وی، او ستا لاره به ترلی وی.

قاسم وویل : نو ته دی په کوم مهم کار پسی ولی نه استوی؟

: زه دا کولی شم، خو له دی نه دمخه ستا ددی حرکت په سبب چی دده په زړه کی کوم شك پیدا شوی دی هغه باید لری شی، که نه نو هغه به ماته هم تل په شك ګوری، تر اوسه پوری هغه زما په باب نیك ګومان لری، همدغه سبب دی چی هغه ستا شکایت د بل چا پرځای ماته راوړ.

قاسم وویل : ته دا غواړی چی زه بخښنه تری وغواړم!

: نه داسی نه! هغه به پرتا نور هم بدګومانه شی، غوره دا ده چی هغه زه ځانته راوغواړم، د هغه د وړاندی له تانه پوښتنی وکړم. خو زه له دی نه دمخه ستا لخوا اطمینان غواړم چی کوم حماقت به نه کوی، له پوځ نه چی کوم ځوانان ستا سره تللی وو د لښکرو سالار ته د هغوی په باب لیکم چی زر تر زړه یی برطرف کړی.

: خو پلار جانه! هغوی زما دوستان دی زما مرسته یی کوله په دی کی د هغوی څه ګناه ده؟

سمدستی له ما سره دا مسئله مطرح نه ده چی دوی ګناهکار وو که نه، طاهر د ولی عهد، شهزاده او د پوځ سرلښکر تر درباره رسیدلی دی، د طاهر دوستانو ته زه باید دا وښیم چی زه له دوی سره څه دښمنی نه لرم، خلیفه که طاهر د مصر د پاچاهی جاسوس ونه ګڼی نو امکان لری چی له ما سره د مشوری پرته یی په کوم مهم منصب وګومارې، په دی صورت کی به بیا دده د مخالفینو پرخلاف دده ترتولو ستره وسیله د ده شتمنی وی. او زه دا نه غواړم چی داسی سړی دی دښمن شی چی خدای ج یی په متهو کي د غرونو د تل څیرلو او له آسمانه د ستورو راشکولو ځواك ایښی دی.

هغه یو د قدر ور او مخلص زلمی دی، د داسی سړی دوستی ګټوره او دښمنی یی خطرناکه وی، هغه ته زما ضرورت دی او د هغه پرخلاف ستا کوم سپارښت نشم زغملی. امکان لری له ما نه وروسته همدغه زلمی د بغداد صدر اعظم شی. او ته به په خپلو حماقتونو پښیمانه یی، او دا هم امکان لری چی هغه د کوم بل امیر پلوی شی او زما د عظمی صدارت منصب رانه واخلی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طاهر بن یوسف تیاری

چنگیز قراقرم خپل مرکز تاکلی ؤ، د هغه هیواد ډیر پراخه او پوځونه یی بی شمیره وو، خو پر اسلامی نړۍ یی د حملی په مخ کی یو نه تسخیریدونکی دیوال لیده، دغه مورچل چی د مغلو د لښکرو د سیلاب د څپو حوصله ورماتوله د علاو الدین محمد خوارزم شاه ستره واکمنی وه چی بریدونه یی یوی خواته تر هندوستان او بغداد او بل لوری ته د اورال تر بحیری او فارس خلیج پوری رسیدل.

کله چی د بغداد واکمنی د امن په زانګو کی ویده وه، د لویدیځ او ختیځ یرغلګرو ته د خوارزم او مصر توریالی په مخ کی ولاړ وو، چنګیز خان د خوارزم د هیواد د سهی څواك نه خبر نه ؤ، ځکه خو هغه له یرغل نه وړاندی له خوارزم شاه سره ښی اړیکی غوښتی چی د تولو هسکو تیتو او ځواك نه یی معلومات ترلاسه کړی. ځکه خو د دوارو هیوادونو ترمنځ د امن ټرون وشو چی بیا د همدی ټرون په سبب د دوارو لوریو ترمنځ د سوداګری لاری پرانستل شوی.

له خوارزم شاه سره د مغلو د سوداګری اړیکو په سبب د مغلو لپاره د جاسوسانو استولو کار ډیر اسانه شو، خو ډیره موده نه وه تیره شوی چی د خوارزم د سرحد یوه والی د بخارا د څو تنو سوداګرونه مالونه واخستل او دوی یی په دی تور ووژل چی دوی د چنګیز خان جاسوسان دی او د خوارزم د حالاتو د معلومولو لپاره را استول شویدی.

چنګیز خان خوارزم شاه ته خپل استازی واستاوه او د والی پر دی چلند یی احتجاج وکړ، خو د بخارا سوداګر د خوارزم شاه رعیت ؤ له هغوی سره د چنګیز خان خواخوږی د خوارزم شاه دا بدګومانی نوره هم زیاته کړه چی مغل کوم کار له خپلو خلکو نه نشی اخستی هغه د بخارا د سوداګرو په واسطه ترسره کوی. ځکه خو هغه په غوسه شو او د چنګیز خان د ایلچی د وژلو امر یی وکړ، ځینو امیرانو د هغه د پوهولو هڅه وکړه چی که هر څه وی د استازی وژل روا نه دی، خو سلطان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

علاو الدین محمد خوارزم شاه یو خپلسری واکمن ؤ هغه د چا خبره ونه منله . استازی یی وواژه او د هغه ذ نورو ملګرو ډیری یی وروسوځولی او بیرته یی چنګیز ته واستول.

چنګیز خان دا سپکاوی ونه زغملای شو، دا پیښه یی چې واوریده جګ شو په یوه غونډې وخوت او تر ډیره وخته لمر ته په سجده پروت ؤ. «مغلو لمر ځمانځه او دوی به لمر او سپوږمی ته د راختلو او پریوتلو پروخت سجدی کولی».

بیا یی په لوړ غږ وویل : په بې زواله اسمان کې دوه لمرونه نشته، نو پردی ځمکه هم دوه خاقان باید نه وی!

د چنګیز خان او خوارزم شاه ترمنځ جګړه حتمی وه خو چنګیز د خوارزم تر پوځونو زیات له دی نه په ویره کې ؤ چې که د لمر پالو پرخلاف خدای پال ټول سره یو شول نو دوی به د ګوبی په دښته کې هم د پناه ځای ونه مومی.

*****

(۲)

له دی پیښو نه وړاندې د خلیفه ناصر او سلطان خوارزم شاه ترمنځ زړه بداوی پیدا شوی ؤ، خوارزم شاه له خلیفه نه غوښتی وو چې د بغداد په جوماتونو کې دده نوم هم په خطبه کې د خلیفه له نامه سره یوځای یاد شی. خو کله چې دا غوښتنه ونه منل شوه نو په خپله واکمنی کې یی د خلیفه نوم له خطبې نه وغورځاوه او پر بغداد یی یرغل وکړ، په لاره کې پرې د اتابکل پرخلاف واوره واوریده او ده هغه یو بد شګون وباله او بیرته راستون شو، له دې وروسته که څه هم د دوارو هیوادونو ترمنځ اختلافات لرې شوی وو خو خلیفه د بغداد په بریدونو د یو ځواکمن ګاونډی موجودیت ځان ته یو لوی ګواښ باله.

چنګیز خان له دی اختلافونونه خبر ؤ، خو د هغه دا باور نه ؤ چې د دوی د حملې په صورت کې به د بغداد اولس د بې طرفی حالت وساتلای شی، هغه له دی نه ویریده چې که خلیفه خپل اختلافات هیر کړل او د خوارزم په ملاتړ یی د جهاد اعلان وکړ نو له افریقا نه تر هندوستانه د ټولو اسلامی هیوادونو لښکر به د دوی د غوبل کولو لپاره راټول شی، ددی اندیښنو په پام کې نیولو سره چنګیز خان په قراقرم کې په پراخه پوځی تیاری بوخت شو.

له خوارزم شاه سره د اړیکو تر خرابیدو وړاندې چنګیز په دی فکر کې ؤ چې د خوارزم د هیواد له نیولو پرته دده د نړۍ نیولو خیال سم تعبیر نه لری.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خوارزم شاه هغه ته پلمه په لاس نه وای ورکړی هم له څو کلونو زیات ده د یرغل انتظار نه شو کولی او د مغلو په لاس د خوارزم تباهی به څو کاله ځنډیدلی وه، د ځواکمن ګاونډی نه بی پروایی او یا په کمزوری ګاونډی رحم د چنګیز خان د مسلك خلاف ؤ.

له صدر اعظم سره د طاهر د لومړنی ځل لیدونه څو هفتی پخوا خلیفه ناصر ته د خوارزم شاه په لاس د چنګیز خان د استازی د وژلو خبر رسیدلی ؤ او په څو ورځو کی دغه خبر په بغداد کی ډیر مشهور شو.

طاهر چی له ښکار څخه راستون شو د خوارزم میلمستون ته ورغی.

د خوارزم سفیر عماد الملك څومره چی د طاهر د توری چلولو تراغیزی لاندی راغلی ؤ تر هغو څو چنده یی د خبرو تر اغیزی لاندی راغی، د طاهر د لورو ارادو نه د خبریدونه وروسته یی وویل :

کاشکی په بغداد کی ستا په څیر نور څو ځوانان هم وای!

طاهر ځواب ورکړ : په بغداد کی زما په څیر ډیر ځوانان شته خو افسوس کوم چی ستاسو حکومت چی څرنګه پر خلیفه بدګومانه دی همغسی د بغداد پر اولس هم بد ګومانه دی.

او د خلیفه په باب هم زه دا ویلای شم چی که خدای ج مه کړه په خوارزم څه مصیبت راغی نو هغه ته به بی طرفه پاتی کیدل ممکن نه شی، لږ تر لږه د صدر اعظم په باب زما دا باور دی چی هغه سره له دی چی د قاسم پلار دی، په سینه کی یی د یوه مسلمان زړه دی او خلیفه ته به غلطه مشوره ورنکړی.

عماد الملك وویل : ستا غوندی خوش باوره انسان باید پنځه شپږ سوه کاله پخوا پیدا شوی وای، اوس دنیا ډیره بدله شوی ده.

طاهر وویل : کیدای شی د خلیفه په باب زما رایه سهی نه وی خو د صدر اعظم په باب زه په پوره باور ویلی شم چی د خوارزم په اړه یی نیت خراب نه دی.

د عماد الملك پر شوندو یوه حقارت آمیزه موسکا وغوړیده ویی ویل : که زه د صدر اعظم په باب ستا غلط فهمی لری کړم نو بیا؟

: تاسو به ما د ځان د اصلاح لپاره هر وخت چمتو وګوری او بیا به زما ځای د بغداد پرځای خوارزم وی.

: تاسو وعده کوی چی دغه راز به له تا سره وی؟

: زه وعده کوم!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عماد الملك جگ شو یو وروکی صندوق یی خلاص کړ او د یوی نری څرمن توته یی پورته کړه د طاهر په لاس کی یی ورکړه پر هغی دا مطلب لیکلی ؤ

د مسلمانانو خلیفه د خوارزم شاه په لاس د مغلو د خاقان «تولواك» د استازی وژل یو نه بخښونکی جرم بولی او دا یقین درکوی چی که تاتاری خاقان دغه ظالم پاچا ته د څه سزا ورکولو اراده لری نو د اسلامی نړی لخوا به د هغه په ملاتړ غږ اوچت نه شی او د اسلامی نړی د روحانی پیشوا دعاگانی به د خاقان په حق کی وی.

ستاسو مخلص وحید الدین د بهرنیو چارو وزیر.

له دی مطلب نه لاندی په چینی ژبه څو حروف لیکل شوی وو طاهر په هغو گوتی کښیسنودی له عماد الملك نه یی وپوښتل :

دا څه لیکل شویدی؟

عماد الملك ځواب ورکړ : دا د چنگیز خان د سفیر تصدیق دی، هغه لیکلی دی چی ستا خاص خدمتگار خلیفه خپل همنظره کړی دی.

طاهر له لږ چورت نه وروسته وویل : ستا په گومان دغه خاص خدمتگار څوك دی؟

عماد الملك ځواب ورکړ : وحید الدین دی نور څوك دی!

طاهر وویل : نه دا بل څوك دی، د خلیفه داسی اعتمادی چی په بغداد کی چنگیز خان ته جاسوسی کوی.

عماد الملك وویل : که وحید الدین نه وی نو بیا صدر اعظم دی.

: نه زما په گومان له صدر اعظم او وزیر خارجه نه پرته کوم بل څوك دی ته دا لیك پیژنی؟

: نه زه نوم لوستی شم!

: خو پوښتنه دا ده چی د بهرنیو چارو وزیر د مغلو له سفیر نه ددی لیك د تصدیق پرځای ولی ددغسی پیغام استولو غوښتنه نه ده کړی؟

عماد الملك ځواب ورکړ: ددی دوه سببه کیدای شی، یو دا چی له کومه وخته را په دی خوا چی د جاسوسی په تور سوداگر پانسی شوی دی زموږ حکومت له چنگیز خان سره د بغداد د تاتاری سفیر د لیکونو او پیغامونو لاره ترلی ده، هغه څو ځلی قراقرم ته د تلو لپاره د لاری اجازه وغوښته خو زموږ حکومت انکار کړی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د چنګیز خان د ایلچی وژل کیدل د هغه د پیغام او یا دده پخپله تلو امکانات بلکل ختم کړی دی، زمونږ له هیواد نه د تیریدو نه پرته هغه دوی نوری لاری لری، لومړی دا چی د اروپا او روس له لاری چین ته واوړی او له هغو دنګو غرونو نه تیر شی چی اوسیدونکو یی د مغلو وحشت او بی رحمی لیدلی ده، هغوی به کوم تاتاری او یا د هغوی پیغام وړونکی بی پوښتنی ووژنی، بله لاره دا ده چی دوی د سمندر له لاری هندوستان ته ولاړ شی او له هغه ځایه قراقرم ته مخه وکړی، په دی لاره به دوی له هغه دنګ غره سره مخ شی چی مرغه پر پکی نشی وهلی.

طاهر وپوښتل : دغه لیکنه ستالاس ته څه وړ درغلی؟

عماد الملك ځواب ورکړ : د خلیفه ناصر هوښیاری مونږ دی ته مجبور کړو چی ځیر شو، هغه ددغه خدمت لپاره یو ترکی نسبه خوارزمی غوره کړی ؤ. دغه ځرمن یی د هغه د حیلی دننه ایسنی وه، خو زمونږ د سرحدونو ځارونکی د جاسوسانو په پیژندلو کی دیر مهارت لری، د سرحد والی استازی وژلی دی او ددی لیك نقل یی پاڅاته او اصل یی ماته راواستاوه.

: خلیفه پردی پیښو خبر دی؟

: ما له صدر اعظم سره ولیدل، هغه ته ما دا نه دی ویلی چی اصلی لیك ماته رارسیدلی دی، خو ما یو نقل هغه ته هم ورکړ.

: وزیر اعظم تا ته څه ځواب درکړ؟

: هغه بی شمیره سوګندونه خوړل، د بهرنیو چارو وزیر ته یی کنځلی کولی زه یی په خپله مانی کی ایسار کړم پخپله خلیفه ته ورغی، بیرته چی راغی راته ویی ویل چی خلیفه د بهرنیو چارو وزیر غوښتی دی، د خلیفه اراده ده چی هغه محل ته ور وغواړی او ویی نیسی، له دی نه وروسته په همدی مانښام زه وزیر اعظم دویم ځلی وروغوښتم او راته ویی ویل چی د بهرنیو چارو وزیر چیرته غلی شویدی او لټون یی دوام لری.

: هغه تر اوسه پیدا شوی دی که نه؟

: نه !

: پر دی سربیره ته لا وایی چی خلیفه او صدر.اعظم په دی دسیسه کی نه دی شریك؟ ماته خو داسی ښکاری چی د بهرنیو چارو وزیر یو لوری له اسلامی نړی او بلی خواته له خلیفه او صدر اعظم سره غداری کوی، دده دورکیدو سبب هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه کیدای شی.

عماد الملك وویل : کیدای شی ستا نظر سهی وی او ماسپښین مهال د خلیفه د استازی دی غوښتنی چی زر تر زره له ما سره ولاړ شی اشتباهی کړی وی، خو دا هم امکان لری چی هغه خلیفه ته ورغلی وی او خلیفه او صدر اعظم د خپلی بدنامی له ویری هغه چیرته غلی کړی وی، امکان لری ده له هغه شربتونه کوم غورپ څښلی وی چې د څکلو نه وروسته یی څوك د خلیفه د محل د کړو وړو لارونه ژوندی نه شی راوتلی.

: که ستا دا نظر سهی وی چی ده هر څه د خلیفه او صدر اعظم په خوښه کړی وی نو دا بیا څه وړ کیدای شی چی هغه ته دی زهر ورکړی او ویی وژنی؟

: د داسی مهم پلان له ناکامی وروسته خلیفه هغه د کوم نیك چلن مستحق نه گنی.

که یی د وژلو پرځای چیرته غلی کړی وی نو معنی یی دا ده چی خلیفه او صدر اعظم ددی پیښی د برالا پلټنی نه ویریږی، زما د تسلی لپاره به یی سزا ورکوله، خو هغه چی توره په لاس جلاد لیدلی وای نو د خلیفه او یا صدر اعظم راز به یی نه ساته هر څه به یی پخپله افشا کول.

طاهر وویل : ته یوازی د تصویر یو مخ گوری، داسی ولی نه وایی چی دا دسیسه یوازی د بهرنیو چارو د وزیر وه، او هغه د سزا له ویری چیرته غلی شوی دی؟

: زه ددی خبری له امکان نه انکار نه کوم خو حالاتو د هری خبری د تیارو گوټونو د اړخونو په لیدو عادت کړی یو.

طاهر : ته پر ما اعتماد لری؟

عماد الملك ځواب ورکړ : پر تا د اعتماد لپاره همدا بس دی چی ته یو میرنی زلمی یی، د یوه مجاهد زوی یی، زه د داسی سړی د ایمان شهادت چی صلاح الدین ایوبی «رح» توره ورکوی په خلوص کی د شك جرئت نشم کولی.

: ستا باور دی چې چنگیز خان به پر خوارزم حمله وکړی؟

: که د وزیر خارجه دغه پیغام ور رسیدلی وای نو تر اوسه به یی حمله کړی وای.

: او که د صدر اعظم له لوری دا پیغام ور ورسیږی چی که پر خوارزم حمله وکړی د بغداد هر مسلمان به د خوارزم تر بیرغ لاندی راټولیږی نو بیا؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: بیا خو زما باور دی چی چنگیز خان به د اسلامی نړی په لوری د سترګو اړولو جرئت هم ونکړای شی:

: که زه د صدر اعظم نه داسی پیغام ترلاسه کړم نو ته له ما سره د خوارزم له خاوری نه د تیریدو مرسته کوی؟

:زه به د صدر اعظم هر اقدام ته د شك په سترګه ګورم خو که تاسو دغسی پیغام ترلاسه کړی نو زما باور دی چی قراقرم ته ورسیږی هم ددی پیغام مفهوم به بدل نه شی.

خو ته ددی خبری څه هیله لری چی صدر اعظم به داسی پیغام هم واستوی او تا به د استازی په توګه استوی؟

دی پوښتنی طاهر د یوی شیبی لپاره وارخطا کړ، د هغه په زړه کی شك پیدا شو چی که ورته ووایی چی صدر اعظم د چنګیز خان دربار ته د ده د استولو اراده څرګنده کړی ده نو د عماد الملك بدګومانی به زیاته شی، هغه ځواب ورکړ:

زه به له صدر اعظم نه وغواړم او که هغه ځواب راکړ نو بیا به د بغداد په جامع جومات کی اعلان وکړم چی خلیفه او صدر اعظم اسلامی نړی پر چنګیز خان پلورلی، تاسو به وګوری چی زما دغه غږ به د هر ځوان او ښودا غږ شی، زه به له تانه هغه وخت لیك وغواړم چی له ماسره به د صدر اعظم لیك وی او تاته به یی درښیم.

عماد الملك ځواب ورکړ : زه د صدر اعظم د لیك د لیدو پرته تاته د اجازه لیك درکولو ته تیار یم.

طاهر جګ شو هغه ته یی لاس ورکړ ویی ویل : نه اوس نه !

زه له صدر اعظم سره د خبرو اترو نه وروسته بیا درته راځم، طاهر د عماد الملك د کور نه راووت پر سړك یی زید ولید چی را روان دی، زید په غوسه وویل : زه ستا په لټون ستړی شوم، د وزیر اعظم استازی راغلی و ته یی ورغوښتی یی، هغه ویل چی تا هر ځای ولید سمدستی یی راواستوه، عجیب بی عقل سړی ؤ، ماته یی ویل چی ته خو بلکل سارایی ښکاری او چی کله ما د غیږی نیولو چلینج ورکړ په کړس کړس یی وخندل او ولاړ.

طاهر وویل : هر چاته د غیږی نیولو بلنه مه ورکوه.

* * * * *

(۳)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ورځې وروسته یو مانبام له لمانځه وروسته عبدالعزیز او عبدالملک د طاهر کورته ورغلل، طاهر په یوه کوټه کې ناست ؤ او یو کتاب یې لوست، عبدالعزیز چې کوټې ته ورننوت ویې ویل : زما ګومان ؤ چې ته به د سفر په تیاری بوخت یې!

طاهر ورجګ شو، ستړی مشی یې ورسره وکړل او ویې ویل : د سفر لپاره خو له پرون راسې تیاری نیسم، خو نن صدر اعظم ته خلیفه دا فرمان واوراوه چې بله ورځ د روژې میاشت پیلیږي او په روژه کې ماته سفر ګران دی. ځکه خو به د اختر په سبا ماته د روانیدو اجازه راکوی.

عبدالعزیز وویل : عجیبه ده خلیفه ستا د تکلیف دومره خیال ساتی، ایا تا د چنګیز خان په نوم د هغه لیک ترلاسه کړی دی؟

طاهر ځواب ورکړ : هغه لیک د صدر اعظم سره دی ما یې متن لوستی او د خلیفه مهر مې هم پرې لیدلی دی، وزیر اعظم هغه لیک عماد الملک ته هم ورښودلی دی هغه ماته ویلی چې د رخصتیدو په ورځ به یې درته وسپارم.

عبدالملک وویل : مګر ستا د سفر د ځنډیدلو لپاره د روژې د میاشتې پلمه ماته چندان دادمنه نه ښکاری، آیا تاونه ویل چې ماته په سفر کې روژه نیول ګران نه دی؟

طاهر وویل : ما خو دیر ټینګار وکړ، ما وویل چې څوک د عربو په تبجنو ریګونو کې روژه نیولی شی د شمال ختیځ د غرونو په سارې شمال کې به یې په سفر کې روژه ډیره اسانه وی. له دی نه پرته ددی سفر ارځښت دومره زیات دی چې معمولی زحمتونه باید پکې په پام کې ونه نیول شی خو صدر اعظم وویل چې د اختر په ورځ خلیفه د نیزې وهلو او اس ځغلولو لوبه ګوری، د هغه هیله ده چې زه هم په دی لوبه کې شریک وم.

عبدالملک وویل : دا پلمه له هغې ښکلی نه هم زیاته نامعقوله ده، عزیزه! ته راته ووایه په داسې حال کې چې د چنګیز خان لښکری د خوارزم په شمال ختیځ کې راغونډیږي او خلیفه د هغه ګوابښ ضروری بولی نو بیا د یوی میاشتې لپاره د طاهر ایسارول په څه مقصد کیدای شی؟

عبدالعزیز په خپله پراخه تنده لاس راتیر کړ ویې ویل :

د خلیفه او صدر اعظم په مصلحت پوهیدل ګران دی، کیدای شی د رمضان ترپایه دی خپله اراده بدله کړی، د بوداتوب په سبب خلیفه د پریکړې حوصله له

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسه ورکړی، د داسی لوی توپ د وهلو لپاره هغه ته د یوه کال او یا یوی میاشتی فکر کولو فرصت دومره لویه خبره نه ده. هو زه له یوی خبری اندیښمن یم، طاهره! له تا سره نور څوك روانیږی؟

طاهر خواب ورکړ :

ما د تاسو دوارو په اړه ورته وویل خو وزیر اعظم ونه منله هغه راته وویل چی ته له ځانه سره دری څلور تنه نوکران بیولی شی.

عبدالعزیز خواب ورکړ : دا اندیښنه د خوارزم سفیر هم ښکاروله چی زما کوم بل ملګری هلته د خلیفه کوم بل پیغام یو نه سی. خو زه نه پوهیږم چی د خلیفه د لیك په لیدو به څنګه چنګیز خان د یوه معمولی نوکر پر خبره اعتبار کوی، له دی پرته به د احتیاط په خاطر عماد الملك د لاری تولو پهروته خبر ورکوی چی له ما نه پرته به نور تول تلاشی کوی زه هم د دوی ځارنه کوم.

عبدالملك وویل : که له دوی نه کوم یوه د مغلو د سفیر کومه نخښه هلته وراندی کړه نو بیا ؟

طاهر وویل : تاسو ددی فکر مه کوی، ما تر دی پوری بندوبست کړی دی چی د مغلو حکومت ته ترننوتلو دمخه به د دوی جامی او پایزار تول بدلیږی.

عبدالعزیز وویل :

بیا هم ته هوښیار اوسه، داسی نه شی چی د خوارزم له حدودو نه له تیریدو وروسته ته په کوم سرای کی ویده وی او چی کله سهار راپاڅی نو ملګری به دی د خلیفه له لیك سره تری تم وی، ته به دوی لټوی او دوی قراقرم ته رسیدلی وی.

طاهر تر لږ ځنډه په چورتونو کی ډوب شو بالاخره یی وویل : ته فکر مه کوه له دوی سره به لږ تر لږه دا احساس ضرور وی چی له ما پرته بیرته نشی راتلای.

: مګر دا هم کیدای شی چی دوی ته د قراقرم اوبه او هوا له بغداد نه ښه ورولګیږی، ځکه خو زید خامخا له ځانه سره بوزه.

طاهر خواب ورکړ : زید خو زه د کور د ساتنی لپاره دلته ضروری ښولم، تاسو ډاډه اوسی له دی ځایه چی له ماسره هر ډول خلك ولاړ شی هغوی به له یوه پراو مزله وروسته د لوی وزیر یا خلیفه پرځای زما تر اغیزی لاندی وی، که د انعام هوس کوم څوك غدار کولی شی نو له هغه نه زیات انعام یی بیرته سمی لاری ته هم اړولی شی.

عبدالملك وویل : زه اوسنی د بهرنیو چارو وزیر مهلب بن داؤد یو خطرناك سړی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بولم، دوه کاله پخوا هغه په بغداد کی بلکل نا آشنا ؤ، خو په څو میاشتو کی یی دا حالت دی چی د ورځی یو ځل خامخا له خلیفه سره ګوری، د وحید الدین له غلی کیدونه دمخه یی دی مرستیال ؤ، خو عجیبه دا ده چی له وحید الدین نه دده لیده کاته له خلیفه سره زیات وو.

په ځینو ملاقاتونو کی به یی د چنګیز خان استازی هم ورسره بیولی ؤ، ځکه خو دا غوره ده چی د هغه یو سړی هم ورسره بو نه زی.

طاهر وویل : زه به دا خبره په پام کی نیسم، تاسو ته معلومه ده چی مهلب بن داود له کوم ځایه راغلی دی؟

عبدالملك ځواب ورکړ : دا څاته معلومه نه ده خو داسی ویل کیږی چی بی حسابه دولت ورسره دی او خلیفه او شهزاده مستنصر ته یی ډیری ګران بیه تحفی ورکړی دی.

*****

(٤)

صفیه سهار وختی له درانه خوبه راویښه شوه، په کوټه کی یی په خپه روښنایی کی یوی او بلی خواته وکتل غمجنه غوندی شوه او بیرته یی سترګی پټی کړی، نن یی بیا یو خوږ خوب لیدلی ؤ، نن بیا په ډیره په زړه پوری فضا کی الوتلی وه، هلته چی آزاد مرغان د مینی بدلی وایی دی په چوپ کتلو کی څاته زاری کړی وی او هغه ددی د زاریو په ځواب کی ویلی وو: صفیی! ساده کیږه مه زموږ د ژوند لاری سره بیلی دی.

د صفیی پر شوندو غمجنه موسکا وځلیده ویی ویل : زما سارایی ! ته ډیر ضدی یی!

هغی دویم ځلی سترګی وغړولی جګه شوه بلی کوټی ته ولاړه اودس یی وکړ او په لمانځه ودریده، د لمانځه نه وروسته یی لاس په دعا اوچت کړل او د پخوا په شان یی د دعا وروستی الفاظ دا وو: زما الله! هغه له هر آفت نه په امان کړه!

د دعا له پای نه وروسته صفیه جګه شوه خپلی کوټی ته ولاړه او کړکی یی پرانستله بن ته یی وکتل. بیا یی له ځانه سره یوه خوږه سندره زمزمه کوله او بل لوری ته د یوی هنداری مخی ته ودریدله، ددی غږ چی د پسرلی د موسم د مرغانو له غاروند زیات خوږ ؤ، ورو ورو جګیده.

خو لږ وروسته یی په هنداره کی کوم بل ځوك ولیدل ناڅاپه چوپه شوه، په بیره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې شاته راوکتل قاسم ته یې وکتل ویې ویل : قاسمه!

قاسم په موسکا وویل : صفیې ته ولې چوپه شوې ستا غږ ...!!

صفیې په ترخې لهجې د هغه خبره ورغوځه کړه ویې ویل:

زما غږ دیر سپه دی خو ته د غلو په ځیر زما کوټې ته د راتلو هیڅ حق نه لرې... ورځه که نه سکینې ته ناري کوم.

قاسم وویل : صفیې! ما څه ګناه کړې ده، ستا له مانه ولې دومره کرکه ده! که ستا دا سندرې زما لپاره نه دې نو د چا لپاره دې؟

صفیې! ما دومره مه رټه! ته پوهیږې چې زه له تاسره څومره مینه لرم!

صفیه له غوسې نه تکه سره شوه ویې ویل : قاسمه! ولاړ شه تر اوسه دې پر ماغزو د شپې د شرابو اغیزه شته.

قاسم خپله غوسه راقابو کړه ویې ویل : صفیې! تاته معلومه ده چې ما شراب پرېښې دي، که بیا هم زما کوم بد عادت وې هم د ژوند په اوږده سفر کې دواړه د یوې کېښتۍ سپارونه یو، ځکه خو ماته دومره د بې قدرۍ په نظر کتل پرېږده، دا به د دواړو په خیر وي.

صفیه په تنګ شوه ځواب یې ورکړ : قاسمه! ورځه!

زه ستا په کېښتۍ کې د سپرېدو پر ځای د سیند په ګرداب کې ډوبیدل غوره ګڼم.

قاسم خجالت شو ویې ویل : دومره سړه وضعه ښه نه ده، په ما کې به په زرګونو کمزورۍ وي خو زه ستا یم، زه ستا د یوې موسکا لپاره له مرګ سره لوبیدلی شم، په اور کې ورغورځیدای شم، له غرونو سره جنګیدای شم، زه ستا لپاره...!

صفیې وویل : هوا هوا ولې ودریدې؟ ووایه زه ستا لپاره د آسمان ستورۍ راشکولی شم، د سمندر په تل کې غوټې خوړلی او غمې راویستلی شم، د لوېو لوېو ظالمو پاچاهانو له سرونو تاج اخستلای شم، له تندرونو سره ډغرې وهلی شم، له توپانونو سره لوبیدلی شم، خو یو انسان کیدای نه شم، قاسمه دا بدګومانۍ کله درته پیدا شوې چې ته شاعر هم یې؟

قاسم پر خپله بې عزتۍ د قابو کیدو هڅه وکړه ویې ویل :

صفیې ! زما احساسات مه توهینوه، زه شاعر نه یم.

: ستا احساسات! هغه خو ددې وړهم نه دې چې توهین کړای شې، ته که دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تم کیدو تینګار کوی نو ۔زه درنه خُم، خو که په ما پسی راغلی نو نیغه کاکا ته ورخُم!

صفیی دا وویل قاسم ته یی په کرکه او نفرت وکتل له کوتی نه ووتله د محل له باغ نه یی څو ګلان وشکول او بیا د ګنمو ونو منځُ ته ولاړه، له ښاخونو نه د شبنم څاڅکی راتوئیدل خو دی یی احساس نه کاوه. دا هغه ځای ؤ چی له طاهر سره یی لومړی ځُل یوازی دیدن شوی ؤ، او له کومی ورځی راسی چی طاهر د خلیفه له پیغام سره د قراقرم په لوری رخصت شوی ؤ، د بن دی ګوښی ته ددی پام ور اوښتی ؤ، ددغو ونو پانی او ګلان دی ته د نورو ونو نه بدل او په زړه پوری ښکاریدل.

نن د قاسم سره د خبرو اترونه وروسته پر زړه له درانه بوج سره راغلی وه، د لمر لومړنی ورانګی د ونو د پانو نه په جل بل ځُلیدلی او ځُمکی ته رسیدلی، صفیی آسمان ته وکتل او په دیره غمجنه لهجه یی وویل:

طاهره! تاته ښایی دا معلومه هم نه وی چی زه څوك یم او ته زما لپاره څوك جوړ شوی یی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم فصل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلیفه استازی

د خوارزم له بریدونو نه چی تیر شول طاهر او ملګری یی د مغلو د هیواد په برید کی په سرحدی پهره کی لږ ایسار کړل، د پهری مشر د دوی د آرام او راحت هر ممکن کوشش کاوه، بیا هم طاهر او دده ملګرو داسی ګڼله چی دوی یی په یوه خیمه کی تر څارنی لاندی نیولی دی، دوی ته په شاوخوا ګرځیدو کی د ګرځیدو اجازه نه وه، طاهر به چی په ماته ګوډه تاتاری ژبه له کوم سپاهی نه څه پوښتنه کوله نو ځواب یی نه ورکاوه. د پهری له افسر نه پرته له دوی سره چا د خبرو حق نه درلود، د مغلو جاسوس به د سیوری په شان له دوی سره یو ځای ګرځیده، طاهر افسر ته څو ځلی وویل چی هغه د چنګیز خان په نامه د بغداد د خلیفه مهم پیغام راوړی دی خو هر ځل یی دا ځواب اوریده چی : لوی خان ته پیغام استول شوی دی چی هدایت وکړی تاسو به ور واستوو.

نژدی دری اونی وروسته یو مغل افسر له څو سپاهیانو سره دی پهری ته ورغلل هغوی له طاهر نه د تکلیفونو بخښته وغوښتله او ورته وی ویل :

لوی خان تاسو ته په حضور د مشرف کیدو ویاړ درکوی.

له دغه افسر سره څو هفتی په سختو غرنیو لارو له مزله وروسته یوه ورځ طاهر او دده ملګری د قراقرم هغی دری ته ننوتل چی د سترګو تر څاره د مغلو د لښکر خیمی پکی دریدلی وی، د دری ځلورو خواو ته دنګ غرونه ولاړ وو.

وزیر اعظم له بغداد نه له طاهر سره دری تنه استولی وو، یو تن کمال نومیده د دوهم نوم ابو اسحق و او دریم چی عراقی ؤ جمیل نومیده، دری واړو د صدر اعظم له هدایت سره سم په لاره او سفر کی د طاهر ښه درناوی او اطاعت کاوه، په لاره کی څو ځلی د هغوی تلاشی وشوه ځکه خو طاهر په دی داده شو چی که په دوی کی کوم یو د خلیفه او یا وزیر اعظم ځانګړی پیغام راوړی وی هم د خپل رینتینتوب لپاره به څه نخښه او دلیل وړاندی نکړای شی او چنګیز خان به داده نکړای شی، خو کله چی د مغلو هیواد ته داخل شول طاهر په دی خبره پریشانه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چی ابو اسحق په تاتاری ژبه ښه پوهیږی، او هغه د چنګیز خان تر هستوګنځی پوری تر رسیدولتاتاری سردار سره ښه بلد شوی ؤ، په مزله کی طاهر څو ځله ابو اسحق له تاتاری سردار سره له نور کاروان نه وړاندی یا وروسته په راز دارانه خبرو اترو او روغبړ ولید.

د خیمو ښار ته له رسیدو سره سم چی چنګیز خان د نړی د نیولو لپاره په تیاری بوخت ؤ، مغل سردار د یوی لویی خیمی مخی ته ودریدل له اس نه پلی شو او طاهر ته یی وویل : تاسو په دی خیمه کی استراحت وکړی زه به لوی خان خبر کړم.

له دی نه وروسته یی څو سپاهیانو ته چی له خیمی نه بهر ولاړ وو او د دوی لاره یی څارله اشاره وکړه، هغوی راوړاندی شول د طاهر او د هغه د ملګرو د اسونو جلبونه یی ونیول، دوی هم له اسونو نه پلی شول او د یوه تن په لارښونه خیمی ته ننوتل.

خیمه په بخملی پردو او ایرانی قالینو ښکلی شوی وه طاهر او ملګرو یی د مازدیګر لمنځونه ادا کړل، له دعا نه وروسته طاهر له ابو اسحق نه وپوښتل : تا په لاره کی له هغه مغل سردار سره څه خبری کولی؟

ابو اسحق په یوه معنی داره موسکا خپلو ملګرو ته وکتل او ویی ویل : هغه ماته د چنګیز خان او ما هغه ته د خپل خلیفه په باب خبری کولی.

: تا په ټوله لاره له مانه دا خبره ولی پټوله چی ته په تاتاری ژبه پوهیږی؟

: که تا له مانه پوښتلی وای ما به ځواب درکړی ؤ.

: صدر اعظم ته معلومه ده چی ته په تاتاری ژبه پوهیږی؟

اسحق لږ وارخطا شو ویی ویل : صدر اعظم د ما غوندی معمولی خلکو د پیژندنی زحمت کله ګالی؟

که ستا دلته زما په خبرو څه اعتراض وی نو زه به هیڅکله هم له چا سره ونه ګرږېږم.

: زه ستا پر خبرو اعتراض نه لرم خو که څوك له تانه د بغداد په اړه څه پوښتنه وکړی نو ښه فکر کوه او بیا ځواب ورکوه.

ابو اسحق ځواب ورکړ : زه خپله ذمه واری احساسوم. لږ ځنډ وروسته تاتاری سردار د دوی خیمی ته ورننوت او طاهر ته یی وویل :

لوی خان به سبا سهار ته له تاسو سره ګوری، ما ستاسو د خوراك، څښاك

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندوبست یوه ایرانی نوکر ته سپارلی هغه ستاسو مسلمان ورور دی تاسو ته به هیڅ تکلیف نه وی.

کله چی طاهر له مغل سردار سره خبری کولی ابو اسحق له خیمی نه بهر ووت او کله چی تاتاری سردار هم له خیمی نه بهر ته ووت طاهر جگ شو او د خیمی نه یی بهر ته وکتل، ابو اسحق څو گامه لری له تاتاری سردار سره خبری کولی.

ماښام مهال د طاهر دری واړه ملگری د چکر په پلمه بهر ته ووتل او هغه وخت بیرته راستانه شول چی طاهر د ماسختن لمونځ ادا کړی ؤ او د ویده کیدو په تکل ؤ.

طاهر چی دوی ښه ورتل نو ابو اسحق وویل : زه درنه بخښنه غواړم، بیا به داسی غلطی نه کوو، دغه مغل ډیر وحشیان دی، موږ د چکر لپاره ووتو د یوی خیمی ترڅنگ تیریدو چی څو تنو مغلو سپاهیانو را ایسار کړو او په زور یی سرونه راباندی وخړیل کوپړی یی راباندی توری کړی، د خدای ج شکر دی چی ته راسره نه وی، ابو اسحق دا وویل او بیا یی پگړی له سره لری کړه او زیاته یی کړه:

وگوره موږ یی په څه حال اخته کړی یو!

د ابو اسحق او د هغه د ملگرو سرونه یی ریښتیا خریلی وو، او د ویښتانو پرځای تور غوړی پری ځلیدل.

طاهر وویل : دغه خلك ډیر احمق دی، زه به چنگیز خان ته د دوی پر دی سلوك احتجاج کوم.

ابو اسحق وویل : دلته سر خریل کومه خبره نه ده یوه سپاهی ویل چی د سر خریل هم د میلمه پالنی په دود کی شامل دی، د خدای ج شکر دی چی دوی د خپلو خنجرونو د تیغ د تیره توب ازمویلو لپاره زموږ ویښتان غوره کړل، که نه نو د یوه تاتاری لاس دومره شاه رگ ته نژدی له خطره خالی نه وی.

*****

(۲)

سبا سهار طاهر د چنگیز خان له استازی سره شاهی محل ته روان شو، د شاهی محل په دره کی په یوه مناسب لوړ ځای څو ښکلی او شانداری خیمی وی، د غونډی پر لوری تللی لاری یوی او بلی خوا ته د انسانی کوپړیو څلی دریدلی وو او د لاری په اوږدو کی دواړو خواو ته کتار کوپړی ایښی وی. د طاهر له ښی نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مغلی سردار وپوهیده ورته ویی ویل :

دا یوازی د لویو لویو سردارانو ککری دی، دوی یی د خپل حیثیت په مناسبت دلته ایښی دی، د تیتی طبقی ککری مو دلته نه دی راوړی، پاس به تاسو د لوی خان د خیمی په مخکی د هغو واکمنو او پوځی سردارانو د ککرو انبار وویني چی زموږ د عظمت په وړاندی یې له سرتیتولو نه ډډه کوله، د لوړو کورنیو د ښځو او نجونو کوپړی چی د لوی خان او شهزاده ګانو له خدمت نه یی سرغړاوه د هغوی د ککر یو وړوکی منار د ملکی د خیمی مخی ته دی.

په غوندی چی وختل مغل سردار یوی بلی غوندی ته اشاره وکړه ویی ویل : هلته وګوری دلوی خان شانداره مانی هلته جوړیږی.

په وړاندی غرونو کی ډیره عالی ډبره لږه ده، ما اوریدلی دی چی د بخارا، سمرقند، او بغداد په مانیو کی ډیری غوره سپینی او سری ډبری کاریدلی دی.

طاهر خواب ورکړ : هغه ډبری پر دی سربیره چی ښکلی دی ډیری کلکی هم دی، ستاسو لوی خان ولی د کوپړیو مانی نه جوړوی؟

: که د انسانی کوپړیونه د خښتو کار اخستل کیدای شوای نو موږ ته دا مشکله نه وه، په شمال ختیځ او شمال لویدیځ کی په ډیرو ښارونو کی د کوپړیو ډیر انبارونه بی کاره پراته دی.

د غوندی په څوکه په یوه پراخه میدان قیمتی غالی غوړیدلی وه، او د میدان دری لوریو ته د خیمو کتارونه وو ځای پر ځای ایستلی توری پهره داران ولاړ وو، استازی د یوی خیمی په مخکی ودریدل او طاهر یی بهر پریښود پخپله خیمی ته ننوت، له لږ ځنډ وروسته هغه بیرته راووت او طاهر یی دننه ورسره بوت. له دوو پراخو کوټونه چی تیر شول طاهر او هماغه استازی یوی وړوکی بلی کوټی ته ننوتل، په کوټه کی یوی خواته نژدی ځلور لویشتی لوړه چوتره وه چی قیمتی غالی پری غوړیدلی وه، د چوتری نه لاندی کتار څو تاجونه ایښی وو.

په کوټه کی یو سړی چی له چپنی او پګړی نه مسلمان ښکاریده ولاړ ؤ، هغه راوړاندی شو طاهر ته یی د ستړی مشی لپاره لاس وراوږد کړ او ویی ویل : زه د مغلو د لوی خان په دربار کی خپل یوه مسلمان ورور ته ښه راغلاست وایم، طاهر چی هغه ته لاس ورکړ په بدن یی لرزه احساس کړه، او له لږ دوه زړه توب وروسته یی وویل : ته دلته څه کوی؟

: زه دلوی خان په دربارکی دعربی او فارسی ترجمان یم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: ته تر دی ځایه څه ډول راورسیدی؟

: لوی خاقان جوهر پیژندونکی هم دی او سخی هم، زه هم د سوداگرو له یوی قافلی سره دلته راغلم، د لوی خاقان یوه ترجمان ته اړتیا وه، هغه زه څو میاشتی له ځان سره ایسار کړم، خو له هغه وروسته د دوی قدردانی زه د همدی ځای کړم او د تل لپاره یې واخستلم، لوی خاقان د تشریف راوړو په حال کې دی زه څو خبرې غواړم درته وښیم. هغه زیاته چاپلوسی نه خوښوی خو بې تکلفی او بې پروایی هیڅکله نه بخښي، که ته ورسره په تاتاری ژبه پخپله خبرې وکړې ډیر پرې خوښیږی که ته په تاتاری نه پوهیږی نو د هغه چینایی ژبه هم زده ده، له دی دوو ژبو وروسته لوی خان فارسی غوره بولی، هغه د فارسی څو جملې زده کړې هم دی خو له عربی ژبې نه یې وحشت دی.

طاهر ځواب ورکړ : ستا د مشورې نه مننه، خو زه په تاتاری ژبه نه پوهیږم، په فارسی پوهیږم خو زه ویریږم چې هغه ستا پر ترجمانی برسیره پخپله هوښیاری زما د خبرو په مطلب غلط ونه پوهیږی، که تا ته د عربی ژباړه ستونزی لرې بیله خبره ده که نه نو زه د خپل مطلب د پوهولو لپاره عربی غوره او مناسبه ګڼم، که دی په ترکی پوهیږی نو زه په ترکی ژبه هم ښه پوهیږم.

: ګوره دا غضب ونه کړې! له کومې ورځې راسې چې خوارزم شاه د لوی خان استازی وژلی دی د هغه له ترکی ژبې نه سخته کرکه پیدا شویده.

هوا د خبرو پر وخت دا خیال ساته چې ستا غږ د لوی خان له آواز نه اوچت نه شی، ته ډیر بختور یې چې لوی خان په داسی ځانګړی ځای کې د ملاقات شرف درویښلو، په داسی تخلیه کې د هغه مبارک لاس له دربار نه زیات له فیضه ډک وی.

طاهر وویل : زه ستا له نیکو مشورو نه یو ځل بیا مننه کوم خو ته زما په باب بدګومانی مه کوه، زه دلته د خپلې په خاطر نه یم راغلی.

*****

(۳)

ترجمان د خپل خجالت د لرې کولو په خاطر څه ویل غوښتل خو د چوتری له شانه وړه پرده اوچته شوه هغه ورو طاهر ته وویل : لوی خان تشریف راوړی!

یوه شیبه وروسته پر چوتره طاهر هغه جابر او ظالم انسان لیده چې د وحشت او بربریت افسانی یې په ختیځ او لویدیځ کې مشهوری شوی وی. ترجمان دواړه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونه پرسینه نیولی وو او د رکوع په حالت ولاړ ؤ، چنګیز خان په غوسه طاهر ته وکتل او په چوتره کښېناست ترجمان هم نیغ ودرید، د هغه په کتو کې پرې خفګان له ورایه ښکاریده چې طاهر ولې دده تقلید ونه کړ، طاهر هماغسې چنګیز خان ته کتل او دا داسې ګستاخي وه چې په ډک دربار کې ښایي چنګیز خان نه وای زغملی خو په دې ګوښه کې یې ترجمان له زغملونه ناتوانه ؤ بالاخره یې وروویل : سترګې ښکته واچوه! خو پر طاهر دې ګوابښ هیڅ اثر ونه کړ، څو شیبې له چوپتیا نه وروسته د بغداد د خلیفه د استازي او د چنګیز خان خبرې داسې پیل شوې:

ترجمان چنګیز خان ته په خطاب کې : د بغداد د خلیفه استازي د لوی تولواک او د تاتار خاقان اعظم په دربار کې چې د هغه د لوړینې او مهربانۍ لاس دوستانو ته د رحمت سبب دی او توره یې د دښمنانو پر سرونو د تندر په څیر راپریوزی په دیر ادب او احترام سلام وړاندې کوی.

چنګیز خان : زه د بغداد د استازي په لیدو خوښ شوم، ده ته ډاډ ورکړه چې دلته به یې سر ته هیڅ خطر نه وی.

ترجمان : طاهر ته په عربي ژبه په خطاب کې : لوی تولواک ستاسو په راتګ خپله خوښي څرګندوی او دا هم فرمایي چې دلته ستاسو ویره بې ځایه ده، له تاسو سره به شاهانه مهربانۍ وشي او بیرته به مو خوښ واستوو.

طاهر : زه د انعامونو په هیله دلته نه یم راغلی، که د تاتار پاچا دومره مهربانه وی نو ماته دې د خلیفه د لیک له وړاندې کولو نه وروسته د اسلام د تبلیغ فرصت راکړی.

دا به زما لپاره لوی انعام وی.

ترجمان : د خلیفه استازي د لوی خان د مهربانۍ مننه کوی او د بغداد د خلیفه د لیک وړاندې کولو اجازه غواړي.

چنګیز خان : اجازه ده.

ترجمان : لوی خاقان حکم درته کوی چې د خلیفه لیک وړاندې کړه!

طاهر ور وړاندې شو په وړښمین توکر پیچلی لیک یې وړاندې کړ، چنګیز خان هغه پرانیست او ترجمان ته یې ورکړ او د اوږدو امر یې ورته وکړ په عربي ژبه د لیک لنډ مضمون داسې ؤ:

«د تاتاریانو پاچا چنګیز خان باید وپوهیږي چې پر موږ د خدای ج او د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول صلی الله علیه وسلم له لوری د اسلامی نړۍ د ټولو مسلمانانو د عزت، آبرو او آزادی دفاع فرض شوی ده، د خوارزم له پاچا سره زموږ څه اختلافات شته، خو پر اسلامی نړۍ له بهر نه د کومی حملی او ګواښ په خاطر موږ نه یوازی د خوارزم شاه په ملاتړ مجبور یو بلکی د هغه تر بیرغ لاندی به د یوه معمولی سپاهی په څیر جګړه د ځان لپاره نیکمرغی بولوه که دا رښتیا ده چی د تاتار پاچا د خوارزم پر سرحدونو پوځونه راټولوی نو موږ ګواښ کوو چی د خوارزم پر خلاف د جګړی اعلان به د ټولی اسلامی نړۍ پرخلاف د جګړی اعلان وبلل شی، ددی لیك په ځواب کی موږ د مغلو له پاچا نه دا اوریدل غواړو چی دوی به په خوارزم حمله نه کوی.

د مسلمانانو د خلیفه ابو العباس احمد ناصر الدین لخوا.

ترجمان د څه ځانګړی تغیر او تبدیل پرته لیك په تاتاری ژبه وژباړه، طاهر حیران ژ چی د چنګیز خان تندی معمولی تریو نه شو، هغه په پوره اطمینان پر خپل ځای ناست ژ او په معنی داره موسکا یی طاهر ته کتل.

د هغی په سترګو کی دا لوستل کیدل چی ده ته دغه لیك له یوی په زړه پوری توکی پرته هیڅ اهمیت نه لری.

چنګیز خان : خپل خلیفه ته زموږ له لوری دا پیغام ورسوه چی موږ له اسلامی نړۍ سره، د دښمنی اراده نه لرو، خوارزم شاه له موږ سره ډیر زیاتی کړی دی، بیا هم موږ پر هغه د تیری او حملی اراده نه لرو.

ژباړن : تاسو خلیفه ته د خاقان اعظم لخوا دا پیغام ورسوی چی ستا په سپارښت خاقان اعظم د خوارزم شاه تیروتنه بخښی او پر اسلامی نړۍ له حملی نه ډډه کوی.

طاهر : زه به دا پیغام خلیفه ته ورسوم، له دی نه پرته باید عرض وکړم چی د خلیفه لیك د بغداد د اولس د احساساتو ترجمان دی ستا په اړه دا مشهوره ده چی په زړه کی دی د خپل پوځی ځواك د بنکارولو اراده پر هری وعدی او تعهد بری مومی، خو که تاسو پر خپلی دی وعدی پابندی ونه کړه او پر خوارزم مو حمله وکړه نو ټول بغداد او له ختیځه تر لویدیځه ټوله اسلامی نړۍ به د سارائیی توپان په څیر ستا سو په مخکی راپورته کیږی.

ترجمان : د خلیفه استازی په ډیر ادب او درناوی عرض کوی چی د اعلیحضرت دغه پیغام به خلیفه ته اوروی، ستا دا وعده د اسلامی نړۍ د تسلی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره کافی ده، خو که تاسو پر خوارزم حمله وکړه نو د بغداد او نورو اسلامی هیوادونو خلك به خپل حکومتونه د خوارزم پر ملاتړ مجبور کړی او هغوی تول به د مغلو د لښکر د سیلاب په مخ کی له دردناکی تباهی سره مخ شی.

چنګیز خان : موږ چی چاته دوست ووایو، بیا د هغوی له لوری بی اعتمادی نه خوښوو.

ترجمان طاهر ته وکتل ویی ویل : لوی خان پردی بی اعتمادی ښکارولو سخت خفه شو، ځکه خو مهربانی وکړه چوپ شه.

طاهر : دیر ښه! اوس زه د لوی خان په مخکی د تبلیغ اجازه غواړم.

ترجمان : په دوه زړه توب، د خلیفه استازی د تاتار د اولس د مذهبی عقایدو نه زیات اغیزمن دی، او هغه ددی اجازه غواړی چی د اسلام په اړه څه ووایی.

چنګیز خان :ده ته زموږ لخوا ووایه چی موږ له وفادارو مسلمانانو څخه کرکه نه کوو.

ترجمان : طاهر ته په خطاب کی : لوی خان دیر مصروف دی او تاته د رخصت اجازه درکوی او دا هم فرمایی چی له وفادارو مسلمانانو سره دښمنی نه لری.

طاهر پریشانه شو ترجمان ته یی وکتل او ویی ویل : که هغه اوس مصروف وی ماته دی بل وخت د تبلیغ موکه راکړی.

چنګیز خان وپوښتل : د خلیفه استازی څه غواړی؟

ترجمان وویل : دی د جناب عالی مننه کوی او عرض کوی چی که تاسو په څه خبره خفه شوی یاست بخښنه غواړم.

چنګیز خان وویل : زه افسوس کوم چی مصروفیت می نور د ناستی اجازه نه راکوی که څه هم د خلیفه استازی دیر په زړه پوری سړی ښکاریږی، له ده نه وپوښته چی کله روانیږی؟

ترجمان طاهر ته په خطاب کی وویل : خان اعظم فرمایی چی موږ زیات مصروف یو ځکه خو د بیا لیدو امکان نشته د یخنی موسم راروان دی غوره دا ده چی ته زر تر زړه بغداد ته روان شه، دلته دیر مسلمان علما شته چی موږ ته د اسلام په اړه معلومات راکوی.

چنګیز خان د شا کوتی ته ولاړ.

*****

(٤)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خیمی نه بهر د چنگیز خان څو زامن او څو تنه مغل سرداران په یوه قالینه لمر ته ناست وو پخپلو کی سره ګړیدل، د یوه څوان په پوښتنه ترجمان له طاهر سره معرفی کړل، هغوی طاهر له څان سره کښیناوه او د بغداد په باب یی تری په پښتنی پیل کړی، طاهر د څینو پوښتنو څوابونه ورکړل او چی کله هغوی د بغداد د پوځ او د کلاګانو د څواکمنی په اړه وپوښتل ده ورته وویل چی زه ددی پوښتنو له څوابونونه ناتوانه یم.

د چنگیز خان یوه زوی وویل : تاته لکه چی بدګومانی پیدا شوه مور دغه پوښتنی په څه بد نیت نه دی کړی، له بغداد سره زمور اړیکی دوستانه دی. او مور د خپلو دوستانو په اړه ضروری معلومات خپل فرض ګڼو، دا هم باید درته ووایو چی له بهرنی نړی نه زمور معلومات لږ نه دی دا وګورئ!

د چنگیز خان زوی له جیبه یو دسمال راوایست او د طاهر په مخکی یی وغوړاوه او ویی ویل : ښایی تا د بغدادتر دی بشپړه نقشه پخوا هیڅ نه وی لیدلی.

پر دسمال نقشه واقعاً دومره بشپړه وه چی طاهر په حیرانی کی ډوب شو.

یوه مغلی سردار طاهر ته په معنی داره موسکا وکتل ویی ویل : اوس ته له مور سره په بی تکلفی خبری کولی شی، طاهر لا نقشی ته کتل چی یو خدمتګار راغی په تاتاری ژبه یی څه وویل او دغه خلك ټول جګ شول د خیمی په لوری روان شول، طاهر چی کله دسمال بیرته ورکاوه د چنگیز خان زوی وویل : که دا نقشه ستا خوښه شوی وی درسره وایی خله له ما سره نوری هم شته.

طاهر څواب ورکړ : نه! د بغداد نقشه زما پر زړه لیك ده.

کله چی دغه خلك یوی خیمی ته ننوتل ترجمان طاهر ته وویل : ته هم غضب کوی! ددی سړی په زړه کی چی د ککړو منارونه دروی د اسلام لپاره څای له کومه شی؟

طاهر څواب ورکړ : زه دده په بی پروایی افسوس نه کوم، خو پر دی خفه یم چی ما خپله ذمه واری پوره نکړای شوه.

ترجمان وویل : تاسو زما احسان په یاد ولری، چی لوی خان ته می ستا د ډیرو ترخو الفاظو تریخوالی ورونه بښود.

طاهر تکان وخوړ ویی ویل : ستا مطلب دا دی چی تا زما د خبرو مفهوم بدل کړی دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمان د یوی منافقانه موسکا سره ځواب ورکړ : نه! ما ستا ځینی خیالونه په مهذبه طریقه څرګند کړل.

طاهر وویل : له مهذبی طریقی نه ستا مطلب د چاپلوسانه طریقی څخه دی؟

ترجمان ځواب ورکړ : د مهذبی طریقی څخه مطلب هغه لاره ده چی اوس یی په ډیکه له درباره راونه ایستلو ستا سره یی بنایی څه رعایت کړی وای خو پر ما به یی خامخا غوسه سړوله.

طاهر وویل : کله چی ما ویل چی د مسلمانانو پر یوه حکومت به د تاتاریانو پر حمله د تولنی نړۍ مسلمانان متحد شی، د چنګیز خان موسکا دا ثابتوله چی یا هغه پر خپل پوځی ځواک زیات ویاړی او یا زما خبری هسی تش ګواښونه ګنی.

ترجمان وویل : لوی خان د مرګ په دروازه ولاړ هم د موسکا همت لری، پردی علاوه هغه پوهیږی چی د اولسونو د برخلیك پریکړی پر الفاظو نه بلکی په عمل کیږی، که زه ستا پرځای وای بیرته به بغداد ته تلم او د مغلو د پوځی ځواك په اړه به می د خلیفه غلط فهمی لری کول خپله ذمه واری بلله، تاسو تر اوسه هیڅ نه دی لیدلی تاسو له ما سره راځی!

طاهر له ترجمان سره د غونډې بلی ډډی ته ولاړ هغه لوری ته هم د غونډی نه لاندی په دره کی وړی وړی زیاتی خیمی دریدلی وی، ترجمان یو ځای ودریدلو خیمو ته یی اشاره وکړه ویی ویل : ته نه پوهیږی چی د غرونو دغه لړی تر کومه ځایه رسیدلی ده، او ماته دا هم نه ده معلومه چی د تاتاریانو پر پوځ څومره نوری دغسی دری ډکی دی زه دا هم نشم ویلی چی مغل به پر خوارزم حمله وکړی که نه، یوازی دومره پوهیږم که لوی خان له خوارزمیانو نه د بدل اخستلو پریکړه وکړه نو د نړۍ هیڅ قوت یی پریکړه نشی وربدلولی، او که د تولی اسلامی نړۍ پوځونه هم د تاتاریانو مخی ته راووزی هم د دوی د لښکرو سیلاب به یی دخاشاکو په څیر ورسره په مخه کړی.

هغه غونډی به د ریګونو یو بند ثابتی شی ځکه خو که ستا له بغداد سره خواخوږی وی نو خلیفه ته له داسی سړی سره د ډغرو مشوره مه ورکوه چی پر خپلو غلیمانو د خدایی قهر په څیر رانازلیږی.

طاهر غوسه شو ویی ویل : ته له ضرورت نه زیات د مغلو د نعمت حق ادا کوی، ماته د دی تولو لارو معلومات دی چی چنګیز خان یی د خپلو حریفانو ویرولو لپاره کاروی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دا منم چی د اختلاف په سبب اسلامی نړۍ ډیره کمزوری شویده، خو پردی کمزوری برسیره موږ کلونه کلونه د نصرانیانو لویو لویو په وسلو سنبال پوځونو ته ماته ورکړی ده، د چنګیز خان لښکری له هغوی نه زیاتی نه دی، او نه د خوارزم او بغداد پوځونه د مصر او شام له پوځ نه لږ دی. د لویدیځ د سترو په وسلو سنبال لښکرو د یرغل مقابلی ته د شام، فلسطین، او مصر نه تر پنځوس زره تنو زیات لښکرنه دی ور وتلی، خو د تاتاریانو مقابلی ته به د بغداد دری لکه او د خوارزم څلور لکه تنه لښکر د جګړی ډګر ته راوزی، که تا زه د خلیفه خواخوږی بللی یم او له تاتاریانو نه د ویری مشوره راکوی نو زه تاته د چنګیز د وفادار په توګه مشوره درکوم چی د اسلام د دفاعی ځواک په اړه دده غلط فهمی لری کړه.

ترجمان ځواب ورکړ : چنګیز خان د ځان کم ګنلو د احساس له خاوندانو څخه نه دی، خو د بغداد خلیفه د ځان کم ګنلو احساس ښکاره کړیدی، له خلیفه سره نه یوازی دا احساس دی چی خوارزم شاه به د چنګیز خان د یرغل تاب رانه وړی بلکی د هغه دا باور هم دی چی خلیفه به یی هیڅ مرسته ونه کړای شی، که د هغه د بغداد او خوارزم پر ځواک اعتماد وای، نو چنګیز خان ته به یی ستا په لاس دا پیغام نه را استاوه چی پر خوارزم حمله ونه کړی، یو ځواکمن انسان هیڅکله هم خپل حریف ته نه وایی چی پر ما حمله مه کوه که نه نو نیتجه به یی درته ښه نه وی، هغه پردی ډاډه وی چی د وخت په راتلو به د لوټی ځواب په تیږه ورکوی.

طاهر وویل : په دی پیغام کی د خلیفه هدف دا ؤ چی د خوارزم شاه او بغداد د اولس دا بدګومانی لری شی چی عباسی خلافت د خوارزم شاه پرخلاف له مغلو سره څه معامله کوی.

ترجمان یو ځل بیا په منافقانه موسکا طاهر ته وکتل ویی ویل : د خوارزم شاه په اړه نشم ویلی چی بدګومانی به یی لری شوی وی که نه خو تا د لوی خان یوه بدګومانی لری کړه، راځه زه دی خیمی ته ورسوم.

طاهر په بیړه تری وپوښتل : ته لومړی دا وایه چی ما کومه بدګومانی لری کړه؟

ترجمان وویل : تاته به راتلونکی حالات د دی ځواب درکړی.

: نه نه ته به یی راته وایی!

: نه تا وویل چی زه د چنګیز خان وفادار یم، او زما د وفاداری غوښتنه دا ده چی دا راز ښکاره نه کړم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمان دا وویل او بیا یی یوی او بلی خوا ته وکتل او ویی .ویل :

ستا څینی خبری ماته له زغم نه بهر وی خو نه پوهیږم ولی له تا سره د خواخوږی احساس کوم، زما مشوره تاسو ته دا ده چی له کوم بل چا سره د بلدیدو هڅه مه کوه، او چی څومره زر کیدای شی له دی ځایه روان شه، نور له مانه څه پوښتنه مه کوه، راځه!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو راز

په بیرته راستنیدو کی طاهر او د هغه ملګری د مغلو د سرحد نه له تیریدو وروسته د خوارزم په سرحد کی یوه وړوکی ښار ته ننوتل، دا ښار له خوقند نه نژدی سل میله جنوب ختیځ لوری ته د خوشحاله کروند ګرو او سوداګرو د هستوګنی ښار و، د شاوخوا سرحدی پهرو لپاره په ښار کی پنځه زره تنه پوځ ؤ طاهر چی له بغداده قراقرم ته تلو هم له دی ښار نه تیر شو د ښار حاکم او څو نور مخور له ده سره ښه ښلد شوی وو، د ښار حاکم د پخوا په څیر دی په خپل کور کی ایسار کړ، د ښار اوسیدونکی د مغلو نه په اندیښنه کی وو، ځکه خو یی چی د طاهر د بیرته راستنیدو خبر واورید څو تنه لوړ رتبه افسران او سرداران د حاکم کورته راغلل.

طاهر دوی ته تول حال لنډ لنډ بیان کړ، دوی ته یی ډاډ ورکړ چی که د خلیفه پر ګوانښ برسیره یی پر خوارزم حمله وکړه نو بغداد به په خپل تول توان د دوی ملاتړ کوی.

یوه سوداګر وپوښتل : ستا د چنګیز خان پر وعده باور دی؟

طاهر ځواب ورکړ : نه! همدغه سبب دی چی زه بغداد له دی حالت نه خبرول غواړم او غواړم چی زر تر زره هلته ځان ورسوم.

حاکم پوښتنه وکړه : که بده نه منی زه یوه خبره درته کوم.

: ووایه!

: د ځینو خلکو دا ګومان دی چی د زحمت په وخت کی به خلیفه له نیکو دعاګانو پرته له موږ سره نور هیڅ مرسته ونکړای شی، له موږ سره به دده دا هم ډیره مرسته وی، خو ځینی خلك دا ګومان هم کوی چی خلیفه دا پیغام ځکه د چنګیز خان په نامه واستاوه چی دده لومړنی پیغام چی چنګیز خان یی پر خوارزم یرغل ته لمسولی ؤ نیول شویدی له خلیفه سره دا ویره وه چی که دده لومړنی پیغام په اسلامی نړۍ کی مشهور شی نو دا لږ ډیر پاتی عزت به یی هم ورسره ختم شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکی د بغداد په اولس کی به هم ناکراری راشی، حُکه خو یی له یوه پلوه په بغداد کی د خوارزم د سفیر او تاسو غوندی خلکو د داد لپاره دوهم پیغام واستاوه او اوس هغه ښایی په مناسبه موقع بل پیغام چنگیز خان ته واستوی چی زه له وضعی نه په دی مجبور شوم چی تاته گوابښ وکړم، ته زما له لوری داده اوسه.

طاهر خُواب ورکړ:

د خلیفه په اړه داسی بدگومانی له تاسو سره نه ښایی، بیا هم که خدای ج مه کړه ستاسو بدگومانی او اندیښنه پرځای وی هم زه دا داد درکوم چی حالات به خلیفه پر خبره ټینګ پاتی کیدو ته اړ کړی، ما په قراقرم کی د انسانی ککړو څلی لیدلی دی، اوس به د بغداد په جوماتونو کی ماته دا آسانه وی چی ووایم چی مغل څومره د انسانیت ستر غلیمان دی، او که پرخوارزم کوم سیلاب راغی څپی به یی بغداد ته هم رااوړی، او که ما د خلیفه او یا صدر اعظم پرنیت څه شك راغی نو زه به د بغداد په جوماتونو کی دا اعلان کوم چی ستاسو ساتونکی له چنگیز خان سره ستاسو د عزت او ناموس معامله کړی ده، خو زما باور دی چی خبره به تر دی پوری راونه رسیږی، که خلیفه له خوارزم سره خواخوږی ونه لری هم نو د بغداد د ژغورنی لپاره به له خوارزم شاه سره په مرسته مجبور وی.

سبا ته طاهر روانیده خو د ښار حاکم ورته وویل:

نن د جمعی ورځ ده د ښار اوسیدونکی هیله لری چی د جمعی لمونځ ستا په امامت ادا کړی حُکه خو نن خامخا پاتی شه، په دی حُنډ کی به د لاری پهره دارانو ته ستا لپاره د تازه نفسه اسونو تیارولو موقع هم په لاس ورشی، د والی په ټینګار طاهر په یوه ورځ نور پاتی کیدلو راضی شو.

د جمعی له لمانحُه نه وروسته والی له هغه سره ډیر تود روغبړ وکړ ویی ویل: ستا په ژبه کی جادو دی، کاشکی د بخارا او سمرقند د جوماتونو خطیبان هم نن دلته وای.

خلکو له طاهر سره د مینی په خاطر دی د والی تر کوره بدرګه کړ.

*****

(۲)

همدغه ورځ طاهر د مازدیګر له لمانحُه نه وروسته له جومات نه د والی د کور په لوری روان ؤ چی په لاره کی یی د ښار کوتوال ولید، هغه ورته وویل: ته ما د والی په کور کی لتولی زه ستا لپاره راغلم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهر : خیریت دی؟

کوتوال : کومه خاصه خبره نشته، که درته زحمت نه وی له ما سره یو خُل ولاړ شه، طاهر له خپلو خواخوږو او عقیدت مندانو نه چې ورسره را روان وو رخصت واخیست او له کوتوال سره ملګری شو، څو ګامه چې ولاړل پوښتنه یې وکړه : آیا داسې کومه خبره ده چې ته یې دلته ماته نه وایې؟

: ما د خلکو د وړاندې تاته نشو ویلی، کوتوال له جیبه د وریښمین توکریو وړوکی دسمال راویوست او طاهر ته یې په لاس کې ورکړ ویې ویل:

ته دا پیژنې؟

طاهر وویل : نه په دې که څه شی ذې؟

کوتوال خُواب ورکړ : ته یې خلاص کړه پخپله یې وګوره، ښایې داسې څه پکې وویني چې پیژنې یې.

طاهر دسمال خلاص کړ ویې کوت، دری غمی پکې وځلیدل، طاهر په سوالیه نظر کوتوال ته وکتل، هغه چې د طاهر اندیښنه احساس کړه ویې ویل :

دا غمی ستا له یوه نوکر سره وو.

طاهر اندیښمن شو ویې ویل : تا د هغه تلاشی اخستی ده؟

کوتوال خُواب ورکړ : ته بده مه منه دا زما ذمه واری وه، ستا یو نوکر همدا اوس د یوه زرګر په دوکان کې ولاړ ؤ او دایو غمی یې ور ښودلو چې څومره ارځښت لري، هغه سوداګر پرون او نن ستادوینا او ملاقات تر اغیزې لاندې راغلی، هغه شکمن شوی ؤ چې له داسې معمولی سړی سره دومره ګران بیه غمی له کومه شول، ماته راغې خبر یې راکړ چې ښایې هغه دا غمی له تانه غلا کړی وی، ځکه خو زه دده په لټون پسې ووتم، هغه د یوه بل سوداګر په دوکان کې غمی بیه کاوه، د بیې په اړه دده ناکراری ښودله چې دا ده همدا اوس ترلاسه کړی دی، ځکه هغه ما ونیوه او بندیخانې ته مې بوته، هلته مې یې چې تلاشی واخستله دوه نور غمی هم ورسره راووتل.

طاهر وویل : تا تری وپوښتل چې غمی دی له کومه کړل؟

کوتوال خُواب ورکړ : هغه تر اوسه پورې څه خُواب نه راکاوه او ستا له خبرولو نه دمخه مې پر هغه څه زور راوستل مناسب ونه ښلل.

طاهر په یوه ژور سوچ کې ډوب شو.

د امنیې قوماندانې ته چې نژدې شول طاهر وویل : تا د هغه د نوم پوښتنه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه؟

کوتوال ځواب ورکړ : هغه خپل نوم کمال ښیی .

طاهر وویل : غوره دا ده چی زه یوازی خبره ورسره وکړم.

کوتوال وویل : ته زما کوتی ته ولاړ شه زه به یی همالته درولم.

طاهر یی په کوټه کی کښیناوه او کوتوال لږ ځند وروسته کمال ور ووست له طاهر سره یی پریښود او دی تری بیرون ته ووت.

طاهر کمال ته وکتل، د هغه حالت د یوه لوټ شوی سوداگر نه توپیر نه درلود، یوه شیبه یی سترگی وغړولی طاهر ته یی وکتل او ویی ویل : هغه غمی زما خپل وو.

طاهر ورجگ شو د غمیو دسمال یی د هغه په لاس کی ورکړ او ویی ویل : ویریږه مه، ره یوازی پردی پوهیدل غواړم چی دا دی له کومه کړل؟ ما، ما... ما دا غمی د مغلو په خیمه کی وموندل.

: نو دا بیا ماته راکړه، د مغلو مال باید بیرته هغوی ته ورسوو.

:نه، نه، دا زما دی، دا زما دی.

: نو بیا ووایه چی چا درکړی دی؟

: چا نه دی راکړی په لاره کی می وموندل.

طاهر په یوه لاس د هغه مری کلکه کړه او پر بل لاس یی په خوله څو څپیړی ورکړی ویی ویل : ریښتیا ووایه که نه د سر خیر دی نشته.

کمال د خپلی مری د ژغورنی هڅه وکړه ویی ویل : زه بی گناه یم، ماته هیڅ معلوم نه دی.

طاهر پرمخ یوه بله څپیړه وواهه ویی ویل : داسی ولی نه وایی چی دا غمی چنگیز خان درکړی دی!

کمال چیغه کړه ویی ویل : د خدای په خاطر په ما رحم وکړه ابو اسحق به می ووژنی!

طاهر وویل : اوس زما لاس د ابو اسحق له لاسه ستا شاه رگ ته زیات نژدی دی. ته به وایی!

: ماته دا د چنگیز خان یوه نوکر راکړل.

طاهر یی مری پریښوده ویی ویل : ایا دا سهی نه ده چی په هغه ورځ مو سرونه خریلی وو له چنگیز خان سره مو ولیدل؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمال خپله خولی پر سر برابره کړه ویی ویل : نه موږ له هغه سره نه دی لیدلی؛
طاهر وویل : خولی دی لری کړه!
کمال د هغه د حکم د منلو پرځای دوه گامه شاته شو.
طاهر ور وړاندی شو او د هغه له سره یی د خولی د لری کولو هڅه وکړه، خو هغه خولی پر سر کلکه کړه ویی ویل : پرما ورحمیږه! د خدای په خاطر ابو اسحق به می ووژنی! طاهر په خوله یوه بله څپیړه ورکړه ویی ویل : شورمه کوه، او د هغه له سره یی خولی لری کړه، د کمال له سره تور غوړی لږ لری شوی وو، او په ورو ویښتانو کی په سره رنگ طاهر څو عجیبی لیکی ولیدی، په ځیر یی چی وکتل دا د عربی څو حرفونه ښکاره شول، څو شیبی د طاهر وینی په رگونو کی وچی شوی، د سره رنگ له ټول لیك لوستلونه وړاندی ده دا احساس کړه چی له بغداد نه د اسلامی نړی په وینو کی د لمبولو دسیسه بشپړه شویده.
او دی یی له ټول پام او احتیاط سره سره ددی ناولی هدف لپاره د لاس آله گرځولی.
هغه خپلی شوندی وچیچلی د کمال خولی یی د هغه پر سر ور کیښوده تر مټ یی ونیو او بهر ته یی را ویوست، کوتوال بهر ولاړ ؤ، طاهر ورته وویل :
زه ستا مننه کوم اوس که ستا اعتراض نه وی زه دی له ځانه سره بیایم.
کوتوال وویل : ته د خپل واك یی چی خپل مجرم ته سزا ورکوی او که یی بخښی، خو زه مشوره درکوم چی له داسی ملگرو سره پام کوه.
طاهر ځواب ورکړ : ته باور وکړه چی زه د داسی گناهکارانو پر بخښنه عادت نه یم.
چی بهر ته راووت د والی د محل سره نژدی طاهر یو خوږ ولید یوی او بلی خواته یی وکتل بیایی کمال ته وویل : سر دی دلته ومینځه!
کمال لږ ځنډ دوه زړی ودرید، خو طاهر خنجر راوکیښ او په درانه غږ یی ورته وویل : زر کوه که نه زه به ددی گران بیه لیك د لوستلو لپاره ستا د سر په رغړولو هم صرفه ونه کړم.
کمال په ویریدلی لهجه ورته وویل : دغه غوړی په اوبو نه پاکیږی.
نو سر دی په ریگونو ومښه!
لږ ځنډ وروسته طاهر د کمال د سر لیك په دی مفهوم پوهیدو بریالی شو:
په اسلامی نړی کی ناکراری خوره شویده، خوارزم شاه ته د تیاری موقع مه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوه، د مسلمانانو د خلیفه او د بغداد د خلکو دعاګانی له تاسو سره دی.
استازی به ددی پیغام د څنډیدو سبب درته ووایی، د خلیفه له لوری چی طاهر څه وایی د هغه نه غلط مطلب وانه خلي، هغه یوازی د لاری د ستونزو په خاطر در استول کیږی.

د عباسی دولت نعمت خوار او ستاسو خاص خادم وحید الدین «د بهرنیو چارو وزیر»

* * * * *

کله چی طاهر کمال ته بیرته خولی ورپرسر کړه او له ځانه سره یی روان کړ هغه په عجز ورته وویل :

ماته نه ده معلومه چی پر سر می یی څه لیکلی دی، هغوی له سهاره تر مابنامه په تیرو ستنو زما پر سرڅه لیکل، چی له دیر درده تر دری شپو پوری ویده نه شوم، له ما سره یی تر بیرته راستنیدو وروسته د انعام وعده کړی، زه بی ګناه یم پرما ورحمیږه!

طاهر وویل : ته یوازی په رښتیا ویلو ځان د رحم وړ ثابتولای شی.

: تاسو زما د سرد خیر وعده وکړی. زه هر څه ویلو ته چمتو یم.

: زه به ستا د سر د ساتنی هڅه وکړم، ووایه په دی دسیسه کی کوم کوم شریك دی؟

: زه نه پوهیږم! ابو اسحق زما پر سترګو پټی کیښودی او یو کورته یی بوتلم، هلته یی په یوه سمڅه کی واچولم، له جمیل سره می په همغه سمڅه کی ولیدل، زموږ د دواړو سرونه یی راباندی وخریل او څه یی پری ولیکل او چی بیرته لږ ویښتان پری راشنه شول نو ابو اسحق وویل : کله چی درته ضرورت شو زه به تاسو د یوه مهم پروګرام لپاره راسره بیایم، سمدستی مو له وزیر اعظم سره په ملازمت تاکم، بیا موږ د صدر اعظم په طبیله کی د اسونو د پاللو لپاره وګومارل شوو، هلته چی ورغلو وپوهیدو چی د طبیلی سرپرست ابو اسحق دی، هغه موږ ته پنځه پنځه سوه دیناره راکړل او ورسره یی دا ګواښ هم وکړ چی که دا راز چاته څرګند شو نو ستاسو سرونه به غوڅ شی.

طاهر پوښتنه وکړه : په دی موده کی مو کله له صدر اعظم سره څه ملاقات وشو؟

: هغه مو ولیدو خو ناڅاپی، خبری اتری می نه دی ورسره کړی، یوازی په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستی ورځ چی ته ورسره ناست وی ابو اسحق موږ وروستلو خو چی څه مو ورسره وویل ته یی گواه یی، په طبیلی کی له مزدوری نه وړاندی چی تاسو په کومه سمځه کی وی هغه د صدر اعظم له کوره څومره لری وه؟

: موږ یی د شپی له هغه ځایه راوایستلو او په سترگو یی پټی راتړلی وه، خو دومره ویلای شم چی هغه کور د سیند پر بله غاړه ؤ.

: ته پخوانی د بهرنیو چارو وزیر وحید الدین پیژنی؟

: زه یی نه پیژنم خو د جمیل گومان دا ؤ چی په سمځه کی چا زموږ پر سرونو لیك کړی هغه د بهرنیو چارو وزارت د یو مهم منصب خاوند ؤ، په طبیله کی له گومارل کیدو ووسته دی کله هغه بیا لیدلی دی؟

: نه!

: ابو اسحق کله تاسو صدر اعظم ته ور وستلی یاست او ستاسو پر سر لیکنی یی ورښکاره کړی دی؟

: نه! موږ له همغی یوی ورځی پرته چی ته هم موجودوی هغه ته نه یو ورغلی.

د طاهر د زړه بار لږ راکم شو، لږ تر لږه یی دا ډاډ وشو چی صدر اعظم په دی دسیسه کی شریك نه دی او دغه دسیسه د صدر اعظم نه پټه د بهرنیو چارو د وزیر لخوا په کار اچول شوی ده چی د صدر اعظم د طبیلی سرپرست هم پکی شریك ؤ، د رخصتیدو په وخت کې هغه ته صدر اعظم ویلی وو چی له بهر نه د کوم سړی د استولو پرځای زه له خپلو نوکرانو نه دوه دری تنه درسره استوم، د وحید الدین یوه دسیسه افشا شوی وه، خو پخوا له دی چی هغه ځان غلی کړی د بلی دسیسی جال یی خپور کړ، طاهر د خلیفه په اړه هم زړه ته تسلی ورکوله چی هغه هم د وزیر اعظم په څیر له دی دسیسی نه ناخبره دی، خو د هغه په ذهن کی دا د تصویر دوهم مـخ ؤ، هغه چی هر څومره پر دی اړه سوچ کاوه هومره یی پریشانی زیاتیده کله یی چی خوشباوری په بدګومانی بدلیده نو سوچ به یی کاوه چی دا هر څه لکه چی د صدر اعظم په اشاره شویدی، او د احتیاط په خاطر به یی دغه خلك له ځانه لری ساتلی وی چی که د لومړی ایلچی په څیر ونیول شی نو داسی ثبوت به نه پریږدی چی د صدر اعظم په سازش کی شریکیدل ثابت کړی، خو دده د زړه سخا به په داسی سازش کی د صدر اعظم شریکیدل رد کړل.

هغه بیا له کمال نه وپوښتل : په دی موده کی دی کله له خلیفه سره لیده کاته شویدی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

:نه!

: په هغه مانښام یی تاسو چنګیز خان ته وروستی؟

: هوکی! ابو اسحق موږ د چنګیز خان مسلمان خدمتګار ته وروستلو، هغه سرونه راباندی وخرییل او بیایی چنګیز خان ته بوتلو.

: تا به د جمیل او ابو اسحق پر سر لیکلی مطلب لوستی وی؟

د جمیل پر سر ددی لیکنی فارسی ژباړه ده، او د ابو اسحق پر سر په چینی ژبه څه لیکل شویدی، هغه هم ښایی د همدی ژباړه وی.

طاهر وویل : ته ولاړ شه زه له شانه درپسی راځم، خو که دی ابو اسحق ته څه خبره وکړه او یادی د تیښتی هڅه وکړه نو درته ښه به نه وی.

کمال له څه ویلو پرته چوپه خوله په مخکی شو.

طاهر په ژورو سوچونو کی ورو ورو ګامونه اخستل د ښار د حاکم مانۍ ته ورننوت او د خپلی کوټی پرځای د بلی کوټی له وره سره چی نور ملګری یی پکی وو ودریدل، د دروازی یوه پله ترلی او بله خلاصه وه، طاهر کمال ته اشاره وکړه او هغه دننه ورننوت ابو اسحق چی ولید په زوره یی ورته وویل : ته ډیر احمق یی، موږ ټول ښار درپسی وکوت ته چیرته ورک وی؟

کمال په ویریدلی لهجه ځواب ورکړ : زه همدلته وم.

: تا طاهر لیدلی دی؟

: طاهر ... هغه دلته نشته؟

: ستا چی چیرته زړه وغواړی دروومی، که په موږ څه مصیبت راغی نو ستا له لاسه به وی.

طاهر غلی کوټی ته ورننوت ابو اسحق ژر وویل : موږ ستا په اړه خبری کولی، تاسو چیرته وی موږ ډیر درته په اندیښنه کی وو.

طاهر ډده د ځواب پرځای وویل : ستا او ستا د ملګرو له پاکی سره ولی دومره کرکه ده؟ تا او ملګرو دی تر اوسه د سر هغه تور تیل نه دی مینځلی؟

ابو اسحق پر خپله پریشانی د قابو کیدو هڅه وکړه ویی ویل : موږ د مغلو دغه سوغات بغداد ته رسول غواړو. که هلته کوم تاتاری پیدا شو د بغداد له خلکو نه به هیله وکړو چی همدغسی سلوک ورسره وکړی.

طاهر وویل : ته دی لږ خولی له سره لری کړه!

ابو اسحق له لږ دوه زړه توب وروسته خپله خولی له سره لری کړه او بیایی ژر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرته پر سر کړه ویی ویل:

زما له احتیاط سره سره دغه غوړی زما له سره پاك شوی دی.

: په بغداد کی تور تیل لږ نه دی ته دی سر ومینځه هلته به یی له سره غوړ کړی، او جمیله! ته راشه، یو ځل ستا سر هم گورم.

جمیل ابواسحق ته وکتل د هغه اشاره یی ولیده زر یی خولی له سره لری کړه او بیایی بیرته پر سر کړه.

طاهر کمال ته وویل : تا هم تر اوسه سر نه دی مینځلی!

کمال یو پر بل پسی ابو اسحق طاهر او جمیل ته وکتل او د طاهر په اشاره یی له سره زړه نا زړه خولی لری کړه.

ابو اسحق او جمیل د یوی شیبی لپاره هك پك ودریدل طاهر وویل:

ابواسحاقه! لکه چی د کمال پر سر څه لیکل شوی دی ته یی ولوله او ماته یی واوروه!

ابو اسحق وویل : نو ته په هر څه پوه شوی یی؟

طاهر وویل : نه! تر اوسه ستاسو د کوپړیو لیك له مانه پټ دی.

ابو اسحق جگ شو د هغه یو لاس د خنجر په موتی ږ، طاهر په بیړه خپل خنجر راویوست او په درانده غږ یی وویل : کښینه! ستا جوش او احساسات زما دا نظر نشی بدلولی چی خاین، بی زړه وی.

ابو اسحق اوس د طاهر پر ځای خپلو ملگرو ته کتل، د کمال بی حسی دده له زغم نه لوړه وه، جمیل څو ځلی د جگیدو هڅه وکړه خو د طاهر کتو هغه په ناستی مجبور کړ.

طاهر وویل : د خوارزم د پاچاهی لپاره ستا سر ډیر قیمت لری، که یی هغه ضبط کړ نو وعده کوم چی نور بدن به دی بغداد ته ورسوم.

کمال وویل : مگر تا خو له ما سره وعده کړی.

طاهر د هغه خبره ورغوڅه کړه ویی ویل : ته چوپ شه.

ابو اسحق په ویریدلی غږ وویل : تاسو او موږ تول د خلیفه خدمتگاران یو، په کوم نیك نیت چی تا خپل درسپارل شوی مسئولیت ادا کړ په همغسی نیك نیتی ما خپله ذمه واری ترسره کړه، دا غوره نه ده چی موږ دلته له یو بل سره د جگړی پرځای بغداد ته ولاړ شو او خپله لانجه خلیفه ته وسپارو؟

طاهر وویل : ته دروغ وایی، خلیفه ستا او د بهرنیو چارو وزیر په دسیسه کی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریك نه دی.

: ایا دا به غوره نه وی چی دلته د څه غلط اتکل پرځای بغداد ته ولاړ شی او له خلیفه نه پوښتنه وکړی؟ که د هغه ګواهی ... ابو اسحق د طاهر تر شا په دروازه کی څوك ولیدل چی ولاړ وو، ودریدو او بیا یی لهجه بدله کړه ویی ویل : ته د خوارزم نه د انعام په تمه مورچل نشی راښکیل کولای او ځان نشی ژغورلای.

تا د خلیفه نه د انعام د ترلاسه کولو لپاره مورچل د خپلو ناولو اهدافو لپاره استعمال کړو، اوس د خوارزم له پاچا نه د انعام په تمه مورچل پلوری!

کاشکی مورچل ته پخوا معلومه وای چی زمورچل په ککړیو څه لیکی؟ تا مورچل ته یوازی دومره ویلی وو چی تاسو د بغداد لپاره ډیر قوی خدمت ترسره کوی، او مورچل یی په بدل کی تاسو په سرو او سپینو پالو.

طاهر ور وړاندی شو د ابواسحق پر خوله یی د سوك وار وکړ ویی ویل :

چوپ! ذلیل انسانه، ته دا چاته ثابتول غواړی چی ستا په دی ناولی دسیسی کی زه هم شریك وم؟

ابو اسحق ځان راقابو کړ ویی ویل : تاته! چی مورچل ته دی د پیسو تمه راکړه او د ذلت او رسوایی تل ته دی وغورځولو، زه به ددی ښار واکمن ته ورشم فریاد به وکړم چی دا په جوماتونو کی ویناکوونکی د خپل وخت د اسلام ډیر ستر غلیم دی.

طاهر وویل : ته په دی اوتوبو تو ما ویرولی نشی، که ستا غوندی غدار په سزا رسولو لپاره زه پخپله هم غرغره شم پروا نشته.

د کوتی دروازه خلاصه شوه او د ښار حاکم له څو تنو سره ورننوت خپلو ملګرو ته یی وویل :

دوی ټول ونیسی، بیا یی طاهر ته مخ ور واړاوه او ویی ویل : ما ستا ټولی خبری واوریدلی، باور وکړه چی ددی هر څه له اوریدو سره سره ستا په باب زه د رایی بدلولو په سبب زیات خفه کیږم، بیا هم ستا په نظربندی مجبور یم.

طاهر وویل : نو اسحق ته د دروازی ترشاو ولیدلی چی لهجه یی بدله شوه، ته چی ماهر ځای ته بیایی، بیولی می شی خو زما په باب د څه رایی ورکولو نه وړاندی زما یو څو خبری واوره!

که ته د خپلو ملګرو تورونه رد کړای شی نو زه به روحاً آرام شم، خو د داسی درنی دوسیی پریکړه یوازی د قوقند حاکم کولی شی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

*****

(٤)

د ښار حاکم خپلو ملګرو ته امر وکړ چې د طاهر ملګرو ته زولنی واچوی، او دی له طاهر سره بلی کوټی ته ولاړ.

د طاهر د اوږدو خبرولە اوریدونه وروسته هغه د کمال د حاضرولو امر وکړ، له هغه نه یی د څو پوښتنو نه وروسته طاهر ته مخ واړاوه ویی ویل : تر کومه چې په ما پوری اړه لری ستا په باب زما بدګومانی تر ډیره حده لری شوی ده خو ما مخکی هم عرض کړی دی چې زه د قوقند د لوی حاکم د امر له ترلاسه کولو پرته هیڅ نه شم کولی، زه نن خپل استازی هغه ته استوم، ستا سره دومره مراعات کولی شم چې تاته زولنی دروانه چوی، خو په کلاکی به تر څارنی لاندی خامخا وی.

ستا د ملګرو د سرونو له کتنی نه وروسته به دوی بندی خانی ته واستوو.

مابنام ددی ښار د حاکم ایلچی د قوقند په لور روان شو، حاکم په خپل لیک کی د طاهر د بی ګناهی په اړه وضاحت کړی و.

نژدی یوه نیمه اونی تر نظر بندی وروسته طاهر یوه ورځ د ایستلو تورو په پهره کی د ښار حاکم ته واستول شو، هغه طاهر ته وویل چې د قوقند د لوی حاکم تیمور ملك څواب راغلی دی ته باید هلته ولاړ شی.

: زما ملګری به څه کوی؟

: د ښار حاکم څواب ورکړ : هغوی ډیر لری رسیدلی دی.

: ستا مطلب څه دی؟

: زما مطلب دا دی چې تیمور ملك د دوی پرځای د دوی سرونه غوښتی وو او زه د هغه د حکم په عملی کولو مجبور وم.

: نه! ته له بیړی نه کار مه اخله، په بغداد کی ددی دسیسی د تولو کردارونو د نیولو لپاره د دوی ژوندی پاتی کیدل ضروری دی.

: ما وویل چې ما هغه امر عملی کړی دی.

: مګر کمال او جمیل ښایی ددی سزا حقدار نه وو.

: زه د دوی په بدل کی د خپل سر غوڅولو ته تیار نه وم پر دی علاوه ستا ښه هم په دی کی ده، ته هسی د خپلو ملګرو سپیناوی کوی، تیمور ملك په خپلو سترګو د لیدو نه وروسته په غوږو د تائید ضرورت نه احساسوی، که ته دا ګومان کوی چې کمال ستا د بی ګناهی تصدیق کولای شوای د هغی کمی ما پوره کړی دی، ما تیمور ملك ته ښه لیك لیکلی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملك

علاوالدین محمد خوارزم شاه ډیر ضدی او خپلسری پاچا ؤ، د خوارزم په شمالی او ختیځو بریدونو یی چی د تاتاریانو د یوی یوی غلچکی حملی او لوټ او تالان خبر واورید دوه لکه تنه لښکر یی راټول کړ او وړاندی تګ یی پیل کړ، جلال الدین د ده زلمی، زړور او هوښیار زوی دده له دی پریکړی سره مخالف ؤ، هغه د هیواد د امیرانو په غونډه کی اوچت شو خپل پلار ته یی وویل : که ته ماته د خپل پوځ د یوه سپاهی په حیث د خبرو اجازه راکوی نو وایم چی مونږ باید له دغه لښکر سره په سرحدی سیمو کی تم شو، که ته د تاتاریانو د یوی نیمی حملی نه وروسته د دوی تیښته د کمزوری سبب ګڼی داسی نه ده، د دوی هدف دا دی چی مونږ وپاروی او هغو سختو غرنیو لارو ته ورشو چی تنګ او دنګ ګړنګونه او لاری یی دوی ته د برجونو او مورچلونو په څیر دی، په هوار ډګر به مونږ دوی د خس او خاشاك په څیر راسره واخلو خو په غرنیو سیمو کی وړاندی تګ مونږ ته زیات له خطرو ډك دی.

هغوی به په شا درومی او په یوه داسی ځای کی به تر مونږ راتاو شی چی زمونږ وړاندی او وروسته به له تباهی پرته بل هیڅ نه وی.

تجربه کارو پوځی جنرالانو هم د جلال الدین نظر تائید کړ، خو خوارزم شاه د ځینو چاپلوسو امیرانو تر اغیزی لاندی ؤ له دی نظر سره یی مخالفت وکړ، د هغه لومړی او وروستی دلیل دا ؤ چی ډاکوګانو ته په سزا کی دوه زړه توب که وښیونو نړی به داسی وانګیری چی مونږ کمزوری شوی یو، او تر ننه مونږ هر غلیم ته دا ښودلی ده چی مونږ کمزوری نه یو، زمونږ باور دی چی که مغل وزر وکړی او والوزی هم مونږ به وربانده بریالی شو.

کله چی جلال الدین په هیڅ دول هم د خپل پلار رایه بدله نکړای شوه ویی ویل : نو که ستا دا اراده وی نو زه غواړم چی ما ددی عملیاتو لپاره واستوی او ته له

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور پوځ سره په هیواد کی پاتی شه.

خوارزم شاه د خپل هوښیار زوی دغه رایه هم ونه منله او ده ته یی د هیواد د اداری مسئولیت وسپاره پخپله له پوځ سره د شمال ختیځ په لور وخوځید.

د جلال الدین اندیښنی سهی شوی، د دوه لکه مسلمانانو په مقابل کی د مغلو تیت او پرک ډلگی راټولی شوی او له څلورو خواونه یی شاته تگ پیل کړ، خوارزم شاه د خپل ځواك په نشه مغرور د خپلو تجربه کارو جنرالانو مشوره ونه منله او پرمخ ولاړ.

دده د حوصلی ټینگولو په خاطر څو ځایه د مغلو لښکر له لږ مقاومت وروسته په شا وتښتیده، د تاتاریانو دغه چل پاچا نور هم بی پروا او په خپل زور مغرور کړ، تر دی چی یو سهار په یوه دره کی چی دری لوریو ته یی اوچت غرونه او یوی خواته یی گڼ ځنگل وُ د خوارزم لښکر د مغلو له څو ډلگیو سره مخامخ شول د مغلو پوځی ډلگی په جگړه جگړه کی په شاو ولاړی او ځنگل ته ننوتلی خو له دریو لوریو نه د غرونو نه د تاتاریانو منظم پوځونه رابنکاره شول، خوارزم شاه په خپله اشتباه هغه وخت وپوهیده چی له څلورو خواوو پری دغشو باران جوړ شو، په تنگه دره کی ترکی نیزه وهونکو ته د خپل کمال ښودلو هیڅ مجال نه وُ، له گڼ ځنگله پرته دوی ته د پناه بل ځای تر سترگو نه شو، د غشو پر باران برسیره د تاتاریانو بی شمیره پوځ په دره ورپریوت او د خوارزم په لښکرو یی مرگو گډه کړه، د دی تباهی نه د ژغورنی لپاره دوی ځنگل ته پناه یوړه، خو هلته هم د هری ونی شاته یو مغل پوځی سنگر نیولی وُ، تر قضا ماسپښین پوری د مغلو لښکر په ځنگل کی د خوارزم پوځونه پاك کړل او تاتاریان ورو ورو بیرته غرونو ته وختل، خو د خوارزم د پوځ تباهی دومره زیاته وه چی مانبام یی افسرانو د مړو د شمارلو پرځای ژوندی شمارل.

له دی ماتی او تباهی وروسته خوارزم شاه د نور پرمختگ جرئت ونه کړ او چی بیرته راستون شو په لاره کی خبر شو چی د تاتاریانو لښکر د قوقند په لوری پرمخ روان دی، د قوقند والی احوال ورکړ چی اوس له ما سره یوازی پنځه زره تنه پوځ دی خو زه باور لرم چی تر یوی مودی پوری به د تاتاریانو توپان تم کړای شم، خو که پاچا ماته شل زره تنه پوځ راواستوی نو زه به د اسلامی نړۍ په اړه د مغلو ارادی د تل لپاره بدلی کړم.

خوارزم شاه د تیری ماتی نه دومره وارخطا او په غوسه شوی وُ چی له غوسی نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی د تیمور ملك لیك څیری کړ، استازی ته یی وویل : که تیمور ملك دا فکر کوی چی تر موږ زیات د تجربی خاوند دی نو هغه احمق دی.

خو د ځینی افسرانو د مشوری په نتیجه کی خوارزم شاه تیمور ملك ته پیغام واستاوه چی زه د شل زره تنو د راستولو نه وړاندی تا ازمویم چی په پنځه زره تنو تر کومه د تاتاریانو د لښکر مخه نیولی شی.

*****

(۲)

د قوقند په بندیخانه کی د طاهر دوی میاشتی تیری شوی، د بندیخانی له سرپرست نه هغه څو ځله وغوښتل چی د ښار حاکم ته یی ورولی، خو هر ځل یی دا ځواب اوریده چی کله هغه فرصت ومومی پخپله به یی وروغواړی، طاهر له سرپرست نه د لیك لیکلو اجازه وغوښته خو ځواب یی واورید چی د جاسوسی په تور بندیانو ته دا اجازه نه ورکول کیږی، طاهر ته له نورو بندیانو سره د لیدو او خبرو اترو اجازه هم نه وه، له زندان نه د بهر نړۍ نه بی خبره ژوند نا کراره شو او له ځان سره به یی ویل: ولی می نه ورغواړی؟ له زندان نه بهر څه تیریږی، ایا مغلو یرغل راوړی دی؟!

لوی حاکم زما په اړه د سوچ فرصت نه لری، ایا هغه زما له خبرو اوریدو پرته د عمری بند سزا راکوی؟

یوه ورځ څو پهره دارانو د ایستلو تورو په سیوری کی هغه له زندان نه راویوست او د ښار د والی تیمور ملك مانی ته یی بوت، تیمور ملك یو نیك خویه او د ورین تندی خاوند سړی ؤ، د هغه د توری او زړورتیا داستانونه تر لری لری پوری مشهور وو، د طاهر ټوله کیسه یی په آرامی واوریده، هغه د کیسی له اورولو وروسته د خوارزم د سفیر لیك ورکړ چی په هغه کی یی د طاهر په نیك نیتی اعتماد ښکاره کړی ؤ، په دی لیك کی د صلاح الدین ایوبی د توری یادونه هم شوی وه.

تیمور ملك تر لږ ځنډه سر ښکته واچاوه او په فکرونو کی ډوب شو وروسته یی سر پورته کړ طاهر ته یی عقابی سترګی وروړولی ویی ویل : تر کومه چی زما په رایه پوری اړه لری زما رایه ستا پرخلاف نه ده، خو د پاچا امر دا دی چی دغسی دوسیی ماته راواستوی، ستا د نیولو خبر هغه ته رسیدلی دی او زه د هغه د امر انتظار کوم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهر ویل : زما په زندان کی دوی میاشتی تیری شوی، اوس ماته دا معلومات هم نشته چی بهر په نړۍ کی څه تیریږی، زه دیر زر غواړم بغداد ته ځان ورسوم، هلته باید خلك له سهی حالت نه خبر شی، زما زړه گواهی راکوی چی مغل به یوه ورځ ستاسو پر هیواد یرغل کوی، او زما دا باور دی چی د بغداد په مداخله به دا یرغل دریږی، که داسی ونه شول نو لږ تر لږه به زه د خوارزم له خلکو سره د مرستی لپاره هلته خلك راټول کړای شم، ماته یوازی څو ورځی رخصت راکړه، زه وعده کوم چی د بغداد خلکو ته د پیغام له رسولو وروسته بیرته تاسو ته حاضر شم، د یوه بندی له خولی ښایی داسی غوښتنه درته خندنی ښکاره شی، خو زه تاسو ته څه ور دا باور درکړم چی زه یو مسلمان یم او د مسلمانانو عزت او ابرو تر ځانه راباندی گران دی! د خدای په خاطر زما پر وعده باور وکړی، که نه نو لږ تر لږه می زر خوارزم شاه ته واستوی.

تیمور ملك څواب ورکړ : څوانه! له تاتاریانو سره زمونږ جگړه پیل شویده، او تر اوسه پوری زمونږ د ډیری بدی ماتی خبر بغداد ته هم ښایی رسیدلی وی او امکان لری پر اسلام د کفر د لومړی بری په ویاړ بغداد په چراغونو رڼا شوی وی، په دی حالت کی زه پوهیږم چی که ستا نیت ریښتیا سهی وی نو د بغداد د خلیفه مانی تاته د قوتند له زندان نه زیاته خطرناکه ده، هغوی چی له تانه کوم کار اخستل غوښتل وایی خست، ښایی هغوی ستا د ژوندی پاتی کیدو ضرورت احساس نه کړی او د پاچا حضور پر زړه او دماغ چی تازه ماتی کومه بده اغیزه کړی ده د هغی له مخی زه دا خطر احساسوم چی ښایی هغه د جاسوس د نامه له اوریدو سره دخبری پوره اوریدو ضرورت احساس نه کړی.

طاهر چی د ماتی خبر واورید تر یوی شیبی پوری حیران ودرید، د هغه حالت هغه چاته ورته ۀ چی د خوب په حالت کی سیند ته غورځیدلی وی. لږ څنډ وروسته پر خپلو اعصابو راقابو شو ویی ویل : زه د خپل مرگ پروا نه لرم خو خدای شاهد دی چی زه بی گناه یم.

ماته یی دوکه راکړی، زه یوازی دا غواړم چی له مرگه وړاندی دغه اشتباه جبران کړم، او زه بغداد ته له رسیدو نه پرته دا کفاره نه شم ادا کولی، ستاسو اصلی مجرم پخوانی د بهرنیو چارو وزیر وحید الدین دی، که هغه ژوندی ۀ زه وعده کوم چی په څو ورځو کی به یی سر درته راوړم که نه نو زما سر به حاضر وی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملك وویل : زمونږ اصلی مدعیان خلیفه او صدر اعظم دی، د بهرنیو چارو وزیر یوازی د هغه د لاس اله کیدای شی.

که ته د هغه د سر راوړو وعده کوی نو زه به ستا د خوشی کیدو په باب څه فکر وکړم.

طاهر په زوره چیغه کړه : نه نه! هغوی داسی نشی کیدای، زه د هغوی په اړه په داسی خبرو باور نشم کولی، په کومه ورځ چی د اسلامی نړۍ دغه ستنی دومره خامی شی په همغه ورځ به د نړۍ هیڅ ګوټ زمونږ لپاره په امن نه وی، آیا هغوی پردی هم نه پوهیږی چی خوارزم د مغلو په وړاندی وروستی کمر دی، که دا کمر پریوت نو بغداد به هم له تباهی نه ونه ژغورل شی.

تیمور ملك وویل : یا ته هم ناپوه یی او یا له مانه ناپوه جوړوی.

ایا ته نه پوهیږی چی تر اوسه د خلیفه څو تنه جاسوسان نیول شوی دی؟

طاهر ځواب ورکړ : په هغو ټولو دسیسو کی د وحید الدین لاس ؤ، زما باور دی چی خلیفه او صدر اعظم هیڅ خبر نه دی.

تیمور ملك وویل : که تا د پاچا حضور په وړاندی داسی په جرئت د خلیفه او صدر اعظم د بی ګناهی دفاع وکړه نو زما باور دی چی سمدستی به دی له خپلو دری نورو ملګرو سره یوځای شی.

طاهر ځواب ورکړ : زه د ځان له ویری د چا پرخلاف په دروغو شهادت نشم ورکولی.

تیمور ملك د هغه په ځواب کی څه ویل غوښتل خو یو پوځی افسر دننه ورغی او ویی ویل چی د پاچا استازی د راتلو اجازه غواړی ، تیمور ملك وویل : دننه یی راوله.

لږ ځنډ وروسته یو ترکی پوځی افسر دننه ورغی تیمور ملك ته یی یو لیك ورکړ، تیمور لیك ولوست بیایی لومړی استازی او بیا طاهر ته وکتل او په غمجنه لهجه یی وویل:

ستا په باب د محترم پاچا حکم راغی، زه افسوس کوم چی نور زما په وس کی هیڅ نشته، ته یی پخپله لوستلی شی.

تیمور ملك لیك طاهر ته وراوړد کړ، خو طاهر د لیك له اخستلو نه پرته وویل : زه د لیك مطلب ستا په تندی کی لولم، زه یوازی دا پوښتنه کوم چی تر څه وخته ژوندی یم؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملك وویل : تر سبا پوری، او بیایی سر ښکته واچاوه، د طاهر پر شونډو یوه درناکه موسکا وغوړیده، تیمور ملك لږ څنډ وروسته سر پورته کړ په خوله یی څه ونه ویل خو ستر گو یی ویل : ځوانه! زما له تا سره خواخوږی ده خو بی وسه یم.

طاهر وویل : که دا وروستی پریکړه وی نو ایا زه د یوه با عزته مرگ هیله کولی شم؟

تیمور ملك څواب ورکړ : د لوی سلطان حکم دی چی تا د خلکو په وړاندی غرغره کړو.

تیمور ملك د نوری څه خبری کولو نه پرته جگ شو او بلی کوټی ته ولاړ.

*****

(۳)

طاهر یی د لوڅو تورو په سیورو کی له محل نه راویوست، د دروازی د زینو نه لاندی د خلکو گنه گونه وه، خلکو چی هغه ولید د کسات او بدل احساساتی ناری یی اوچتی کړی: د قوم غدار، د خلیفه جاسوس! د اسلام دښمن ویی نیسی ویی وژنی!

سپاهیانو چی گنه گونه زیاته ولیده ودریدل، له گنی گونی څو تنه زلمیان راووتل په زینو وختل خو سپاهیانو په تورو ویرول او ویی شړل، بیا هم د گنیٔ گونی شور او احساسات شیبه په شیبه زیاتیدل، یو چا ډبره وویشتله خو هغه د طاهر پرځای ذ یوه سپاهی په تندی ولگیده او هغه سر په دواړو لاسو ونیو او کښیناست.

څو نوری ډبری راغلی او دری څلور تنه نور سپاهیان هم تپیان شول، یو پوځی سالار مخی ته شو هڅه یی وکړه چی خلك پوه کړی چی دده د اعدام امر شویدی خو د هغه غږ د خلکو په شور ماشور کی ورك شو او پر هغه د یوی ډبری له لگیدو وروسته یی چیغی کړی: بندی بیرته محل ته بوزی او دروازه وتړی.

خو طاهر د پهره دارانو د لوڅو تورو پرتوڼه کړه یو گام وړاندی شو دواړه لاسونه یی اوچت کړل او په لوړ غږ یی وویل :

مسلمانانو! د یوه غدار او جاسوس پرخلاف د نفرت دغه احساسات په تاسو کی د ژوند ثبوت دی، خو تاسو ته ښایی معلومه نه وی چی زما د مرگ حکم شوی دی، ما به سبا ته ستاسو په مخکی په غرغره راوځړوی او له هغه نه وروسته به زما دوسیه هغه لوی عدالت ته وړاندی شی چی هلته هر مظلوم د عدالت تمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لری، د خلکو شور ماشور ورو ورو کراریده او دوی د کرکی او نفرت سره سره له طاهر نه څه اوریدل غوښتل خو یوه سپاهی د طاهر په ورمیږه توره ورکیښوده ویی ویل : ته د خلکو په مخکی د خبرو کولو حق نه لری.

څوك له شانه راغلل او د سپاهی لاس یی ونیو، سپاهی چی شاته وکتل تیمور ملك یی په مخکی ولاړ ؤ، ټول سپاهیان د والی په مخکی په ادب او درناوی ودریدل.

یوه شیبه وروسته ورو ورو د خلکو شور ماشور بیا اوچت شو، تیمور ملك وړ وراندی شو لاس یی اوچت کړ او ویی ویل : د لوی پاچا په حکم به دغه سړی سبا ته ستاسو په مخکی پانسی شی، ایا داسی سړی چی یوازی د یوی ورځی میلمه دی ستاسو له خوا د ښه سلوك حق نه لری؟

تیمور ملك پهره دارانو ته په ده پسی د ورتلو امر وکړ او په زینو کی ښکته شو، څو گامه چی ښکته شو خلکو ته یی وویل : زه ډیر مصروف یم د سرحد نه اخوا د تاتاریانو پوځونه لیدل شوی دی، زه ویریږم چی د جنوب د نورو ښارونو په څیر په قوقند هم ناڅاپی یرغل رانه وړی، ځکه خو دا د نارو مهال نه دی، د تورو تیرولو وخت دی، تاسو زما دری څلور تنه سپاهیان تپیان کړل، تاسو پوهیږی چی زما سره زیات سپاهیان نشته، که تاسو وعده وکړی چی نور به په لاره کی سپاهیان نه آزاروی نو زه به بیرته ستون شم او په مهمو چارو به غور وکړم، که نه نو تر زندان پوری باید زه پخپله ورسره ولاړ شم.

یو زلمی په لوړ آواز وویل : ورونړو! دا څه ناپوهی ده! موږ په دی نازك وخت کی خپل گران حاکم ته تکلیف ورکوو او وخت یی ضایع کوو، اوس ستاسو داډ حاصل شو چی گناهکار ته به عبرتناکه سزا ورکول کیږي، نور څه غواړی څُی له دی ځایه!

خلك په ورو ورو ډلگیو سره تیت او پرك شول، تیمور ملك د محل په لور بیرته وگرځیده سپاهیانو ته یی وویل : بندی ته هیڅ ډول تکلیف ونه رسیږی.

پر آسمان وریځی را خپری وی، د شمال په سره هوا کی د طاهر بدن ریږدیده، یوه سپاهی خپل پوستین راواخست او هغه ته یی ور واغوست، طاهر هغه ته د مننی په نظر وکتل او پوستین یی بیرته هغه ته ورکړ ویی ویل : مننه، د یوی ورځی میلمه ته نور ددی ضرورت نشته.

*****

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٤)

سباته د قوقند بازارونو د واورو برستن اغوستی وه، طاهر له بندی خانی نه بیرون د یوی چوتری پر سر ولاړ ؤ، د هغه لاسونه شاته په کلك پری ترل شوی وو، له ده نه دوه گامه لری د پانسی پری راځړیدلی ؤ، شا و خوا ته د واوری اوریدو سره سره په سلگونو تنه ولاړ وو.

د مرگ دومره نژدی لیدو سره سره د طاهر په څیره غیر معمولی سکون ؤ، د زندان د سرپرست په اشاره جلاد په چوتره ور وخوت د غرغری پری یی په لاس ونیو او طاهر ته یی دلرگی په تخته د دریدو اشاره وکړه، طاهر په تخته ودرید یوی او بلی خواته یی وکتل په نندارہ کوونکو کی اوس هغه پخوانی جوش او احساسات نه وو، جلاد د غرغری پری د طاهر په غاړه کی ورواچاوه، د بندی خانی سرپرست ور وراندی شو ویی ویل : ستا لپاره دا وروستی فرصت دی که ستا داسی کومه هیله وی چی موږ یی ترسره کولی شو. نو ویی وایه!

طاهر وویل : ما ددی خبری ځواب پخوا هم درکړی په داسی مهال خدائ پالونکی له انسانانو نه هیلی نه کوی، ما چی څه غوښتل له خپل خدای (ج) نه می غوښتی، که زما دعاگانی د هغه په دربار کی قبولی شوی وی نو ماته د کوم انسان په مخکی د لمن غوړولو ضرورت نشته، او که د هغه په دربار کی زما دعاگانی نه وی قبولی شوی نو ته زما لپاره هیڅ نشی کولی.

د زندان سرپرست بی ځوابه شو ویی ویل: بیا هم که ته په بغداد کی کوم خپلوان ته څه پیغام استول غواړی ښایی موږ یی بندوبست وکړای شو.

طاهر ځواب ورکړ : د خدای (ج) او رسول (ص) هر نوم اخستونکی زما خپل او عزیز دی، او ما دوی هر یوه ته یو پیغام ورکول غوښتل، که خدای (ج) ته له مانه د څه کار اخستل منظور وی نو ماته به خامخا موقع راکړی که نه نو زما باور دی چی له مانه وروسته به یو غوره انسان ددی هدف لپاره وټاکی.

: زه پوښتلی شم چی هغه پیغام څه دی؟

: هغه پیغام دا دی چی اوس کفر د اسلام په مقابل کی خپل ټول ځواکونه تنظیموی، پر مسلمانانو فرض دی چی د دین د ساتنی لپاره سره یو او منظم شی.

سرپرست وویل : اوس یوازی څو شیبی وخت لری که څه دعا غواړی ویی غواړه!

طاهر په سپینو وریځو پټ آسمان ته مخ واړاوه او هغه دعایی چی د شپی یی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ځلی تکرار کړی وه بیا تکرار کړه:

زما پروردګاره! آیا زه ستا د دین په هیڅ درد نه خورم، ما ستا په لار کی د جهاد په نیت له تورو او نیزو سره لوبی زده کړی، ایا زما په برخه له یوه هیبتناك مرګ پرته هیڅ نشته، ما د صلاح الدین ایوبی «رح» د توری حق هم ادا نکړای شو؟

زما خاونده! د انسانانو د غلطو پریکړو ماتول تاته هیڅ نه دی، جلاد لاندی د تختی د لری کولو لپاره د سرپرست د حکم انتظار کاوه، په نندار چیانو کی اوس ډیر داسی هم وو چی طاهر ته یی د بی پروایی او یا غوسی د نظر پرځای په خواخوږی کتل.

ناڅاپه د ښار له لوری د خلکو چیغی او فریادونه اوچت شول، څو سپاره په تراټ راغلل په هغوی کی یوه په لوړ غږ وویل : مغل راغلل! د ښار د ساتنی لپاره چمتو شی! دغه اعلان د یوی شیبی لپاره خلك هك پك کړل، او یوه شیبه وروسته ټولو د، مغل راغلل، مغل راغلل په چیغو سره د خپلو خپلو کورونو په لوری روان شول، لږ ځنډ وروسته چی د زندان د سرپرست اعصاب پرځای شول او خپله ذمه واری یی بیاور په یاد شوه نو میدان تش شوی ؤ، هغه یوه شیبه دوه زړی شو خو بیایی جلاد ته د تختی د کش کولو امر وکړ خو له یوی خوانه یو له رعبه ډك غږ اوچت شو: ودریږه!

د تیمور ملك غږ یی چی وپیژاند د زندان ځارن شاته وکتل، تیمور ملك پر اس سپور ؤ له هغه سره څو نور سپاهیان هم وو، هغه چوتری ته نژدی له آس نه پلی شو په چوتره وخوت د طاهر له غاړی نه یی د غرغری پړی لری کړ، او بیایی په خنجر د هغه د لاسونو پړی غوڅ کړ، طاهر زر پوښتنه وکړه: تاتاریان څومره لری دی؟

تیمور ملك ځواب ورکړ : نژدی لس میله به وی! تاته له ښار نه د وتلو پوره فرصت شته.

: چیرته د تلو لپاره! طاهر په داډ منه لهجه وپوښتل؟

: بغداد لوری ته! تا غوښتل چی بغداد ته ولاړ شی که نه؟

: نه اوس له بغداد نه دلته زیات کار دی.

: ډیر ښه ته له ماسره ولاړ شه، تیمور ملك دا وویل او یوه سپاهی ته یی امر وکړ چی خپل اس او توره طاهر ته ورکړی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

*****

(۵)

د خوارزم شاه د لومړی ماتی نه وروسته د سرحدی نورو دیرو ښارونو په څیر د قوقند زیات اوسیدونکی د لویدیځ ښارونو ته لیږدیدلی وو، له هغه وروسته چی تیمور ملك ته سلطان د نورو پوځونو د ور استولو نه انکار وکړ نو هغه پاتی خلك هم له خطرنه سم وپوهول او دا مشوره یی ورکړه چی ماشومان، تورسری او بوداګان له ښار نه وباسی او کوم خوندی ځای ته یی ورسوی، خو پردی سربیره د قوقند د ښار درغه برخه خلك لا په ښار کی پاتی وو، د ځینو خلکو لا تر اوسه دا ګومان ژ چی د خوارزم شاه ماته اصلاً د غرنی سیمی او د لاری له هسکو تیتو سره د نابلدی په سبب وه او تاتاریان به پر بری برسیره د قوقند په لوری راوړاندی نشی، خو د مغلو د راتګ خبر په ښار کی ګډودی جوړه کړه، او خپل ماشومان او تور سری یی راوویستل د واوری اوریدو سره سره یی په یوه او بله خوا منډی وهلی، تیمور ملك او ملګرو یی په شا وخوا غونډیو کی مورچل ونیول او د مغلو د لښکر مخکینی ډلی یی تر دری ورځو ښار ته له ننوتلو ایساری کړی، د یرغل کوونکو مغلو شمیر ورځ په ورځ زیاتیده، په تیرو دری ورځو کی د تیمور ملك سرښندویانو په میړانه د تاتاریانو یرغلونه په شا کړل، خو د هغوی د شمیر زیاتیدو په سبب یی نور مخه نیول ورته ګران شول، په څلورمه ورځ چی له تیمور ملك سره یوازی زر تنه سرښندویان پاتی شول هغه ته یی جاسوسانو خبرو ورکړ چی د چنګیز خان زوی «زوچی» له یوه لوی لښکر سره پرمخ راروان دی.

اوس د تیمور ملك وروستی مورچل د سیند په منځ کی یو تاپو ژ، چی د ساتنی بندوبست یی له څو میاشتی پخوانه کړی ژ، په یوه زمانه کی د قوقند واکمن او د لوړی طبقی خلك په دی تاپو کی اوسیدل، پخوانی کلا او څو ویجاړی کندوالی اوس هم پاتی وی، د شپی مهال د ښار هغه اوسیدونکی چی له تیمور ملك سره یی د یو ځای مرګ او ژوند ژمنه کړی وه په کښتیو کی دغه تاپو ته ورسول شول او بیا یی څو سپاره پاچا ته د مرستی د وروستی غوښتنی لپاره واستول، تاپو ته نژدی سیند دومره سورور ژ چی له یوی څنډی نه ایله غشی بلی څنډی ته رسیدای شوای. تیمور ملك له څو میاشتو راسی دلته د څو میاشتو اذوقه او نور ضروریات هم ذخیره کړی وو.

زوچی دا احساس کړه چی دغه تاپو به زر فتحه نه شی نو دغه قومانده یی خپل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه مرستیال ته وسپارله، نیمایی پوځ یی ورته پریښود ، دی پخپله له نور پوځ سره د جنوب لویدځ په لوری ولاړ.

تاتاریانو د شاوخوا کلیو ښاندو خلك د میړو او وزو په څیر راوستل او د سیند په غاړه یی تاپوته د ډبرو د لاری جوړولو لپاره وګومارل، په زرګونو تنه بوډاګانو، تورسریو او ماشومانو به د مغلی سپاهیانو د لوڅو تورو په سیوری کی ډبری راوړی او په سیند کی به یی غورځولی، د سیند په غاړه د تاپو په لوری ورو ورو لاره جوړیده، تیمور ملك دغه خطر احساس کړهغه د څولویو لویو کښتیو پر څنډو د لرګی له تختو مورچی جوړی کړی او دننه یی خپل غوره غشی ویشتونکی پکی کښینول د سیند پر څنډه په راتولو تاتاریانو یی حملی پیل کړی.

په دغو حملو کی لومړی مغلو زیات مړی ورکړل، کله کله به په زور دلاری جوړولو لپاره راوستل شویو هم چی تاتاریان د حمله راوړونکو په لوری متوجه ولیدل دوی به پری پر ډبرو حمله وکړه او بیا به یی په سیند کی ورتوپ کړل، ځینی به د کښتیو د حمله راوړونکو په وجه وژغورل شول او ځیني به د مغلو د غیشی ویشتونکو د غیشو په یرغل کی ووژل شول.

ددی ستونزو په وړاندی تاتاریانو پر منجنیق د ډبرو پرځای سکروټی او یا د بل شویو تیلو لوښی پرکښتیو ورووېشتل او کښتیو ته یی اور واچاوه.

تیمور ملك د مغلو ددی حربی په وړاندی پر کښتیو چټونه ودرول او دننه د یرغل کوونکو لپاره یی وړوکی وړوکی سوری پکی پریښودل، خو ددی ټولو هڅو سره سره د تاتاریانو د بی شمیره پوځ په وړاندی تیمور ملك بی وسه شو او د سیند له غاړی نه د تاپو په لوری لاره ورو ورو ور نژدی کیده.

علاو الدین محمد خوارزم شاه د تاتاریانو له لاسه د رومبی ماتی نه وروسته دومره بی زړه شوی ؤ چی د تیمور ملك د څو ځلی پیغامونو او غوښتنی سره یی هغه ته مرسته ورنه کړه، بلکی ځواب یی ور واستاوه چی د تاپو دفاع، پریږدی او له دوی سره یوځای شی، خو د تیمور ملك غیرت دا نه خوښوله چی خپل ملګری یوازی پریږدی، کله چی لاره تاپوته دومره نژدی شوه چی په منجنیق تاپو او د تاپو د څنډو مورچلونه تر برید لاندی راغلل نو تیمور ملك ته د تاپوله پریښودلو پرته بله لاره پاتی نه شوه.

* * * * *

(٦)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو مانښام تیمور ملك خپلو ملګرو ته د تاپو د خالی کولو حکم وکړ، د شپی مهال پر اسمان وریځی راخوری وی د تیمور ملك ټول ملګری په کښتیو کی سپاره شول او چی لږ وړاندی ولاړل اورښت پیل شو تیمور ملك د وریځو له امله د شپی تیاره یوه غیبی مرسته بلله خو چی کله باران پیل شو او توری وبریښیدی نو دا اندیښنه ورته پیدا شوه چی د تورو په بریښنا کی د تاتاریانو پهره داران دوی ونه وینی که داسی وشول نو دیر سخت زیان به ور واوړی، نژدی نیمه شپه هغه ته معلومه شوه چی د دوی اندیښنه بی ځایه نه وه، دوی د تورو په بریښنا کی د سیند دواړو غاړو ته تاتاریان پر اسونو سپاره ولیدل چی، لږ نور وړاندی ولاړل د پلیو سپاهیانو زیات شمیر یی ولیدل چی روان وو، له تیمور ملك سره د خپل پوځ وتلی افسران سپاره وو، ده تری مشوره وغوښتله، د ټولو اتفاق پردی پریکړه راغی چی ګڼ ځنګل ته ورسیږی نو کښتی به څنډی ته کړی، که په تیاره کی له تاتاریانو سره د دوی مقابله وشوه هم ځینی کسان به په تیاره کی په یوه او بل لوری ځان وایستلی شی، تیمور ملك د ټولو د رایی له اوریدو نه وروسته وویل : ظاهر تر اوسه چوپ دی زه د هغه رایه اوریدل غواړم.

د کښتی له یوی څنډی نه ځواب راغی: زما په نظر موږ ته دوی لاری په مخکی دی، یوه دا چی په یوه ځای کی څنډی ته شو او تر وروستی سلګی پوری جګړه وکړو، که ځنګل وی او که هوار میدان دا ټوله سیمه له مغلو نه ډکه ده او زموږ لپاره د تیښتی چانس دیر کم دی. په دی صورت کی که د یوه په بدل کی دوه نه وی نو یو خو ضرور وژنو، که په کوم ځای کی موږ پر څنډی پلی کیږو او بیا په یوه او بله تښتو او له شا د غشو نخښه ګرځو زه دا غوره ګڼم چی تر شا پر تټر غشی وخورو.

بله لاره دا ده چی تر هر میل وروسته یوه کښتی شاته پریږدو، او چی کله نوری کښتی وړاندی تیری شی دوی څنډی ته ووزی او پلی شی او تشی کښتی بیرته سیند ته ورټیل وهی، تاتاریان به خامخا له پاتی کښتیو سره پرمخ روان وی.او شاته چی کومی کښتی پاتی کیږی د هغو د ژغورنی امکانات دیر دی.

د تاتاریانو د دوکی لپاره به موږ د بریښنا په پرق کی پر هغوی غشی اوروو، په دی ډول به موږ تر لږ ختو پوری په یوه او بل لوری د تیښتی فرصت ترلاسه کړو. وروستیو څو تنو ته ښایی د کښتیو څنډو ته ایستلو فرصت په لاس ورنه شی ځکه خو هغوی باید ښه لامبوزن وی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طاهر له دوهم تجویز سره تول سلا شول، خو تیمور ملك دا اندیښنه وښوده چی کله تشه کښتی بیرته سیند ته تیل وهل شی هغه د نورو کښتیو په څیر د سیند په منځ کی نشی تلای، د کښتیو د شمیر د برابر ساتلو لپاره د کښتیو ساتل ضروری دی، ددی هدف لپاره د نورو کښتیو تگ باید کرار شی خو دا هم ضروری ده چی هغه باید له څنډی نه لری وی، چی کښتی تشه شی نو دا دواړه صورتونه امکان نه لری.

د لږ بحث نه وروسته دا پریکړه وشوه چی په هره کښتی کی باید یو داسی رضا کار وی چی لامبو یی زده وی، او چی سپارلی پر څنډه پلی کړی بیرته کښتی له کاروان سره یوځای کړی.

باران ودرید، د وریځو له تور شلیدلی څادر نه دلته هلته ستوری وځلیدل، په یوه ګڼ ځنګله کی یی لومړنی کښتی پریښودله او چی لږ ځنډ وروسته دغی کښتی د خپلو سپارلیو له پریښودونه، وروسته د کښتیو کتار ته ځان ورساوه، او د هغی رضا کار د خپلو سپارلیو په امن ښکته کولو پیغام راوړ دوهمه کښتی شاته شوه.

د شپی په وروستی برخه کی په کښتیو کی یوازی دیرش تنه رضاکاران سپاره وو، او نوره ټوله سپارلی په څنډو پلی شوی وه، پر څنډو د دوی په تعقیب پسی راوتلی سپاره همغسی ورسره غبرګ روان وو، تیمور ملك یو پر بل پسی رضاکارانو ته په سیند کی د ځان غورځولو او څنډی ته د رسیدو امر وکړ، او کله چی ټولی کښتی تشی شوی نو خپل ملګری ته یی وویل : طاهره! نور وخت مه ضایع کوه، کښتی تیتیږی، که له دی نه کومه یوه څنډی ته ولاړه نو مغل به خبر شی، که ستا لامبو نه وی زده نو یوه کښتی څنډی ته بوزه.

طاهر ځواب ورکړ : زما لامبو زده ده خو ته به څه کوی؟

تیمور ملك په غمجنه لهجه ځواب ورکړ : ماته د ډوبیدونکی بیړی د مانو د ذمه واری پوره کولو موکه راکړه، کله چی ته څنډی ته ووزی زه به هم د ځان ژغورلو هڅه وکړم.

طاهر یی چی دوه زړی ولید تیمور ملك وویل : زه له امر نه غاړه غړول ښه نه ګڼم زر کوه!

طاهر ځواب ورکړ: زه ستا د امر له منلو نه غاړه نه غړوم خو زما یوه هیله ده!

تیمور ملك وویل : زه نور د څه هیلی د پوره کولو اهل نه یم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووایه څه وایی، وخت مه ضایع کوه سپیدی چوی!

طاهر ور ، : ته وعده وکړه چی که له دی وروسته په ژوند کی کله ماته له تانه د څه غوښتنی موقع په لاس راغله ته به یی نه ردوی!

تیمور ملك ځواب ورکړ : تا ځان د داسی وعدی اهل ثابت کړ، ورځه زه ستا د یوی پرځای دوی غوښتنی ترسره کوم.

طاهر خدای پامان وویل او ورو په اوبو کی ښکته شو او د څنډی په لوری یی لامبو ووهله، د شپی د سړی هوا او ستومانی په وجه یی بدن شل شوی ؤ، د سیند اوبه له زغم نه وتلی یخی وی، دی چی څنډی ته ورسید هلته له یوه بل مصیبت سره مخ شو، څوسپاره په څنډه روان وو، طاهر د یوی ونی ریښی ونیولی او په اوبو کی پاتی شو، او چې سپاره تیر شول هغه د راوتلو هڅه وکړه خو هغه اوس پلی سپاهیان ولیدل، د هغه بدن بلکل کرخ شوی ؤ، کله چی پلی تیر شول له شانه یی په یوه واتن بیا د سپرو د اسونو د پښو ترپهار واورید، د طاهر حوصلی ځواب ورکړ، زر له اوبو نه راووت د یوی ونی په تنه یی تکیه وکړه او ودریده، په څنډه د ونو او تیاری په سبب د تاتاریانو پوځ ګډوډ وراندی روان ؤ، طاهر څه سوچ وکړ او توره یی له تیکی راوایستله، کله چی پنځلس شل تنه سپاره تیر شول هغه د ګڼو ونو په منځ کی د یوه آس د شنهار غږ واورید، ده د ښاخونو په منځ کی لاره وایستله او ورو ورو ورنژدی شو، طاهر په تیاره کی په ځیر ځیر وکتل او کوم لوری ته چی د سپاره د آس مخه وه همغی خواته ورنژدی شو او د یوی ونی شاته ودریده، د سترګو په رپ کی بیا د طاهر یو لاس د اس پر قیضه ؤ او پر بل یی سپور په توره وواژه په بیړه یی د رپیدونکی مغل خولی او پوستین تری وښکل او پخپله یی واغوستل او پر اس سپور شو د سیند په غاړه روان شو.

*****

(۷)

د سهار د نخښو رابریدو لپاره لا څه وخت پاتی ؤ، تیمور ملك چی خپله کښتی پریښوده او په لامبو یی څنډی ته ځان ورساوه نو د ونی د تنی له شانه پری غږ وشو:

تیمورہ!

هغه تکان وخوړ یوه او بله خوایی وکتل او ژر تر ژړه یی توره وایستله او د خطر سره یی د مقابلی لپاره ځان تیار کړ، د ونی د تنی له شانه بیا غږ اوچت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو: ویریږه مه زه یم طاهر!

تیمور ملك زر دونی شاته ځان ورساوه، طاهر د اس جلب نیولی ولاړ ؤ، تیمور ملك په بیړه ورته وویل : ددی آس په ترلاسه کولو سربیره ته لا دلته ولاړ یی؟

طاهر په ډاډ ځواب ورکړ: دغه اس ستا لپاره دی اوس بیړه کوه!

تیمور ځواب ورکړ : زه د خپل تقدیر نه د وتلو لپاره له چانه متروکه نه اخلم!

طاهر ځواب ورکړ: تا زما د دوو غوښتنو منلو وعده کړی ده، او زما لومړنی غوښتنه همدغه ده.

تیمور ملك بی ځوابه غوندی شو ویی ویل : دلته بحث کول ښه نه دی راځه له ماسره!

طاهر په لاس کی د آس قبضه نیولی وه او له تیمور سره روان شو، د سیند له غاړی نه نژدی دری سوه گزه لری تیمور ملك ودریدو ویی ویل آیا ستا نیت له مانه د وعدی اخستو په وخت کی همدغه ؤ ؟

: هوکی؟

: ستا باور ؤ چی اس به په لاس درځی او ماته به یی راولی؟

: دا زما اراده وه د خدای (ج) شکر دی چی پوره می کړای شوه.

تیمور ملك د طاهر له لاسه د اس قبضه واخستله او پری سپور شو بیایی وویل : ته زما تر شا سپور شه!

طاهر ځواب ورکړ: په دی ډول به دواړه پاتی شو.

تیمور ملك وویل : پر خدای دومره بهروسه درلودونکی انسان مایوسه باید نه شی، ښایی ستا په سبب زه هم وژغورل شم، زر کوه، د مغلو غړونه راځی لکه چی هغوی تشی کښتی ولیدلی.

طاهر د تیمور ملك ترشا سپور شو، نژدی دوه میله په څنگل کی له مزله وروسته د غونډیو لړی پیل شوه، طاهر د آس ستومانی احساس کړه څو ځله یی غوښتل چی پلی شی خو تیمور ملك پرینښود.

د لمر له لومړنیو وړانگو سره دوی یوی تنگی دری ته ورسیدل، او چی طاهر شاته وکتل د تاتاریانو څو سپاره په تراټ پسی ورزغلیدل.

طاهر وویل : هغوی په موږ پسی راغلل، د خدای (ج) په خاطر ما دلته پلی کړه زه یی په همدی تنگی کی ایسارولی شم، تا ته به د ژغورنی موقع په لاس راشی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملك بیله دی چی آس ودروی پوښتنه وکړه:
هغو ی څو کسه دی؟
:اوه!
: نو زه هم درسره پلی کیږم.
: خو څوك ویلی شی چی په دوی پسی به لوی لښکر نه وی؟
: همدغه سبب دی که نه چی زه تایوازی نشم پریښودلای.
طاهر وویل : تا زما د دوو غوښتنو د منلو وعده کړی وه زما دوهمه غوښتنه همدا ده چی تاسو ما دلته پلی کړی.
: زه د څان په خاطر ستا ددی قربانی سبب پوښتلی شم؟
: خوارزم د مغلو د سیلاب په مخ کی وروستی کمر دی، او دی کمر ته ستا په څیر ساتونکی په کار دی زه پر تا احسان نه کوم غواړم د اسلامی نړی یو خدمت ترسره کړم.
خوارزم شاه څو بی زړه مشاورینو له کاره غورځولی دی، ته په هغه کی د نوی ژوند ساه پوکلی شی.
تیمور ملك ځواب ورکړ : زه یوازی یو سپاهی یم، توره وهل می زده دی، په اولس کی د ژوند ساه پوکل ستا غوندی خلکو کار دی، ته ورځه زه له اس نه پلی کیږم او د هغوی لار بندوم.
طاهر وویل : خپله وعده مه هیروه، زما پر خدای (ج) تکیه ده، مورږ دواړه به یو ځل بیا سره یوځای شو، طاهر دا وویل او له زغلیدونکی اس نه یی توپ کړل، تیمور اس ودراوه او ویی ویل :
په ځولی کی دی څو غشی دی؟
طاهر ځواب ورکړ : پنځه دانی!
تیمور ملك خپله د غشو «کڅوړه» ور وغورځوله او ویی ویل : شپږ به په په دی کی هم وی، کاشکی د خوارزم په پوځ کی ستا په څیر پنځه سوه تنه سپاهیان نور وای.
تیمور ملك اس چارگام خوشی کړ، او طاهر د تنگی په یوه کنډو کی د غونډی په یوه لوړه اوږه د یوی ډبری ترشا مورچل ونیو.

* * * * *

(۸)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چی لومړی سپور د کندونه ور واوښت طاهر په غشی وویشت او هغه د اس له شانه لری وغورځید، په دی څنډ کی بل سپور له کندونه راواوښت او د طاهر د غشی دم ته برابر شو، د هغه دوهم غشی هم په نخښه برابر ولګیدو خو دری تنه نور سپاره په یو ځل له کندونه را واوښتل، طاهر له هغوی نه یو وویشت پاتی نورو اسونه ودرول او د بیرته ګرځیدو اراده یی وکړه، خو له پاسه دوه غشی نور راغلل او یو مغلی سپاهی بل تپی شو له اس نه ولوید، دوهم د اس تر شا ځان پناه کړ او ځان یی وژغوره او خپلو نورو ملګرو ته یی د خطر خبرداری ورکړ، ترڅو طاهر بل غشی په لیندہ کی ایښود تاتاری له اس نه پلی شو او د یوی ډبری شاته یی پناه واخسته، هغه نورو ملګرو ته هماغسی چیغی وهلی او د خطر نه یی خبرول.

طاهر د ډبری ترشا سنګر پریښود او د کندو بل لوری ته د غوندی په اوږه ورواوښت، لاندی نژدی دیرش څلویښت ګزه لری دوه سپاره ولاړ وو او د ناری وهونکی ملګری ځواب یی ورکاوه، طاهر د یوی ډبری ترشا کښیناست.

دغو دوو مغلی سپاهیانو په خپله ژبه پخپلو کی څه سره وویل بیا له اسونو پلی شول اسونه یی په یوه بوتی وترړل او د غوندی داسی ځای ته ورسیدل چی هلته د پتپدو لپاره څه ځای نه وُ، ناڅاپه د طاهر له لیندی نه یو پر بل پسی دوه غشی ووتل او هغم دوه تنه ولویدل او څو ګزه لاندی پریوتل، طاهر له ډبری نه سر راپورته کړ لاندی یی وکتل چی په مخ کی یی یو سیوری ولید، ناڅاپه یی شاته را وکتل او غونی یی زیږه شول پنځه شپږ ګامه پاس یو تاتاری توره ایستلی ورته را روان وُ، طاهر زر لیندہ وغورځوله او جګ شو، د هغه لاس لا د توری موتی ته نه وُ رسیدلی چی تاتاری د توری وار پری وکړ، دی په بیړه یوی خواته خم شو او د مغلی پوځی توره په تیږه ولګیده. د هغه د بل وار نه د مخه طاهر یو ګام شاته شوی وُ او توره یی ایستلی وه.

څو ځله د دواړو توری یو له بل سره وجنګیدلی او تاتاری خپل حریف خطرناک احساس کړ او شاته تلو، هغه څو ځلی د پښی خرلو او مقابلی هڅه وکړه خو زور یی ونه رسید د ډبری وروستی څنډی ته چی ورسید د طاهر توره یی پر سر ولګیده شاته ورغړید او په یوه ژور ګړنګ کی ولوید.

طاهر د سترګو په رپ کی له غوندی نه راکوز شو او په بوتو ترلو آسونو نه په یوه سپور شو چی تر کندو واوښت نو دده په غشو زخمی یو نیم ژوندی مغل یی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولید چی پر کمره یی خپل سر واهه، دی ورپلی شو غشی یی تری راوکیښ او بیرته یی په خپله د غشو کڅوړه کی واچاوه او بیرته پر اس سپور شو.

طاهر اس چارگام وزغلاوه او د واورینو غرونو نه تیریده، په ځینو سختو لارو کی یی د اس رفتار ورو کاوه د لاری په باب یی هیڅ معلومات نه ؤ، د غرنیو خوړونو اوبه لری نه وی خو له لوړی یی سیك ختلی ؤ، د شپی یخنی یی وجود کرخت کړی ؤ، او اوس هم سره له دی چی لمر تود ؤ خو د ساړه شمال څپی یی پر بدن له زغم نه وتلی وی.

په لاره کی څو داسی کلی مخی ته ورته راغلل چی سوځیدلیو کورونو او د ماشومانو او ښځو بی گور او کفنه مړیو یی د تاتاریانو د یرغل او وحشت گواهی ویله.

ماسپښین مهال طاهر د یوه پراخ میدان نه تیریده، پر آسمان وریځی راخوری شوی او یخنی هره شیبه زیاتیدله، قضا ماسپښین واوره اوریدل پیل شول، د طاهر آس نژدی له پښو لویدلی ؤ، غاړه یی ښکته اچولی وه او ورو ورو روان ؤ، دواوری په توپان کی د طاهر پام نه ؤ چی په کوم لوری روان دی، خو هغه د دریدو پرځای تگ غوره باله.

مازدیگر مهال اس په واوره وغورځید لغتی یی ووهلی او مړشو، طاهر پلی مزل پیل کړ، هغه به ایله دوه میله مزل کړی ؤ چی نور یی حوصلی ځواب ورکړ، د واوری توپان نور هم زورور شو شپه راتلونکی وه، پر طاهر د بیهوشی څپه راتله، زړه یی غوښتل چی په واوره وغځیږی او ویده شی، خو هغه ته معلومه وه چی دا به دده وروستی خوب وی، بیایی د زړه په زور څو گامه گرځیدی واخستل خوله څو گامه وروسته یی بدن بیرته بی سیکه شو په واورو کښینیاست، خو د انسان په فطرت کی د ژوندی پاتی کیدو هیله تر وروستی شیبی له مایوسیو سره جگړه کوی.

طاهر یو ځل بیا اوچت شو، آسمان ته یی وکتل او د دیری عاجزی په حالت کی یی دعا وکړه:

ای د ځمکی او آسمان خاونده! زما د ژوند یو ارمان هم تر اوسه نه دی پوره شوی، نور په ما کی دوراندی تلو همت نشته، تاته پناه درورم او له تانه مرسته غواړم، خو که زما په برخه له مرگه پرته بل څه نشته نو ماته د یوه مؤمن حوصله راکړه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی دعانه وروسته طاهر داسی انګیرله لکه د ژوند له یوه بوج نه چی بی غمه شوی وی، کښیناستلو چی یو غږ یی تر غوږ شو او په رګونو کی یی سړیدونکی وینه بیرته توده شو، دا د یوه اس د شنهار غږ ؤ، طاهر یوه او بله خوا وکتل نژدی پنځوس ګامه لری یو اس څنګ غوړونه ولاړ ؤ او دده په لوریی کتل.

طاهر په منډه ځان اس ته ورساوه، آس دوه دری ګامه ورته رامخی ته شو او د هغه په تټر یی خپل مخ وموښلو، پر آس زین ترلی ؤ طاهر چی ولید وپوهیده چی دا د کوم مسلمان ؤ، له زین نه یی واوره وتوړله او پری سپور شو اس څو قدمه واخیستل خو بیا ودرید او په یوه راوتلی ځای یی پښه ووهله، طاهر ورکوز شو واوره یی یوه او بله خوا واړوله او د یوه انسان مړی یی راویوست د هغه په پوښتیو او خیټه دوه غشی ښخ وو، طاهر انا لله و انا الیه راجعون وویل او بیرته یی هغه په واورو کی وپوښه، اس یی پرور میږ وتپاوه او پښه یی پری واړوله.

د ژوند نوی هیلی د طاهر په رګونو کی نوی تودوخه وزغلوله، چی لږ وړاندی ولاړ د اس پر زین ترلی یوی کځوړی ته یی پام شو لاس یی پکی دننه کړ د غوښی او پنیر یوه یوه توټه یی راوایستله، سمدستی یی وخوړلی او د مړیدونه وروسته یی په ځان کی د ځواك احساس وکړ اس ورو ورو په خپله طبعه روان ؤ، طاهر یی دمخ اړولو او په کوم بل لور د ګرځولو ضرورت نه احساساوه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثـــریـــا

تیاره ماښام طاهر یوه ویجاړ کلی ته ورسید، کنډوالو شاهدی ویله چی د مغلو د سیلاب کومه څپه پردی کلی تیره شویده، د اس له مزله داسی ښکاریده چی شاوخوا نژدی کوم کور دده هدف نه دی، طاهر په ځیر ځیر کتل چی که د کوم کور له کړکی او یا وره نه څه رڼا ووینی، د زیاترو کورونو دروازی خلاصی وی او د واورو پنډی پنډی دیری ددی گواه وی چی دننه څوك پکی نشته، د یوه کور د تړلی دروازی مخی ته چی طاهر ورسید د توری په څوکه یی یوه پله دننه تیله کړه د پلی له خلاصدو سره سم د شړیدلیو مړیو له زغم نه وتلی بوی د طاهر لاره ډب کړه، اس غوږونه څك کړل غاړه یی کوږه کړه او د وړاندی تلو اراده یی وه طاهر د اس پرورمیږ لاس راتیر کړ ویی ویل : زما دوسته ! زما حوصله ځواب راکوی که کومه امن ګوښه درته معلومه وی ځان رسوه.

کله چی اس له کلی نه بیرته بهر وتلو د طاهر په خیال کی وروګرځیدل چی ښایی د اس پر عقل باور هوښیاری نه وی، د شپی تیاره ورو ورو زیاتیدله، هغه اس یو ځل ودراواه او په زوره زوره یی چیغی کړی:

څوك شته! څوك شته!

د هغه غږ د شپی په غیږه کی چوپ شو، او له دی وروسته د لیوانو آوازونو دده تصور ور رد کړ، اس وشنیده ګواکی خپل سپاره ته یی ویل : ولی مایوسه کیږی منزل ته رارسیدلی یی.

طاهر اس بیا خپلی خوښی ته پریښود، له کلی نه لږ لری په ګنډو ونو کی تیر شو او بیا په یوه لوړه غونډی وخوت د واوری اوریدو او تیاری له املـه طاهر تر دوه ګزه وړاندی هیڅ نه لیدل، د غونډی پر سر له یوه دیوال سره په خوا کی اس وړاندی روان شو، څو قدمه وړاندی په یوه خلاصه دروازه ورننوت او په شنهار شو د طاهر په مخکی یو لوړ کور ؤ، هغه ارادی ځواك چی دی یی تر دی ځایه رارسولی ؤ نور ځواب ورکړ، د یوه نغری بل اور ته کښیناستل او ویده کیدل یی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس تر تولو لویه هیله وه.

د کور دانګړ دروازه خلاصه وه، خو دننه د ړنا نوم او نخښه نه وه، ده فکر وکړ چې ښایی په دی کور کی هم څوك نه وی ښایی اس دده د وروستی منزل لپاره ددی کنډواله کلی تر تولو غوره کور تاکلی وی، اس چی انګړ ته ننوت ودریږ طاهر تری پلی شو، د هغه پښې پرسیدلی وی او نور یی د بدن د بوج اوچتولو حُواك نه درلود، بیایی په خپل تول زور چیغی کړی: څوك شته! څوك شته؟

دده غږ د دبرو له دیوالونو نه بیرته راغبرګ شو او آزانګی یی وکړی، ده اس پریښود او دواړه لاس یی په دیوال تکیه کړل او چیغی یی وهلی وړاندی ولاړ.

د دهلیز نه تیر شو او یوی کوټی ته ورغی، د کوټی د دیوال سره په څلورو خواوو کی راوګرځید، خو ده ته د خپل غږ حُواب راغبرګ نه شو، بیایی په خیال کی وروګرځیدل چی له شګونه د هیلو مانی جوړوی، که دلته کوم انسان پاتی وای نو د کور تولی دروازی به خلاصی نه وی.

په زړه کی ورتیره شوه چی اوس د اور یوه سپرغی زما حُان ژغورلی شی خو د اور بلولو لپاره ورسره څه شی نه وو، ناڅاپه یی تر پښو لاندی نرم شی احساس کړل ورتیټ شو چی لاس یی پری وواهه یو پوستین ؤ کښینناست او هغه یی زر واغوست، خو زر یی داسی احساس کړه چې ده تللی تودوخه دغه پوستین نشی ورته راګرځولی، خو څو ساعته وړاندی یی اس یوه غیبی مرسته وګڼله، اوس هم دده ضمیر ددی منلو ته تیار نه ؤ چی اللهؒ ښه یی یوازی پریږدی، باور یی ؤ چی الله تعالی په خپل رحمت تر دی حُایه را رسولی دی، ده خدای (ج) ته د یوه ستر هدف لپاره د ژوند دعا کړی وه او دغه هدف تر دی حُایه په رارسیدو نه پوره کیده، دا کور دده وروستی منزل نه دی، تقدیر یوازی دده امتحان اخلی، نهیلی د مؤمن له شان سره نه لګیږی، دا شپه به تیره شی سهار به د لمر وړانګی ده ته د ژوند نوی تودوخه وروبخښی او دا هم امکان لری چی ددی کور په کوم ګوټ کی د الله کوم بنده اور بل کړی وی او دده د ورتګ انتظار کوی، په دی ډهنی کش و کړپ کی لمونځ ور په یاد شو، زر زر یی تیمم وواهه، او خپل تول حُواك یی راټول کړ او راپورته شو.

د لمانځه نیت اراده یی چی کوله په زړه کی وروګرځیدل چی کیدای شی ددی کور په کومه ګوښه کی څوك د تاتاریانو له ویری غلی شوی وی، هغه په لوړ آواز آذان وکړ او له لږ شیبی انتظار نه وروسته د چا له راتګه مایوسه شو او نیت یی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتاړه.

په لمانځه د بوختیدو نه وروسته یی د بدنی تکلیف احساس ورو ورو غلی شو، د لمانځه له ختمولو وروسته یی د دعا په وخت کی تتی رنا ته پام شو، زړه یی په توپونو شو او زر یی شاته مخ واړاوه.

*****

(۲)

یو اته کلن ماشوم مشال په لاس کی ولاړ و، د هغه ترڅنګ یو بل زلمی ډ چی توره یی په لاس کی نیولی وه، د ځوان څیره ډیره زیاته جذابه او زړه وړونکی وه، د جامونه یو ترکی سپاهی ښکاریده ظاهر په خپل ژوند کی تر اوسه دومره زړه وړونکی څیره نه وه لیدلی هغه د یوی شیبی لپاره حیران ورته کتل، د ماشوم او دی زلمی په څیرو کی زیات ورته والی و.

ظاهر دا احساس کړه چی خدایځ دده د لارښوونی لپاره له اسمانه دوی پرښتی را استولی، دواړو د اندیښنی په حالت کی ده ته کتل، ظاهر ورته وویل : السلام علیکم! ماشوم او ځوان دواړو په یوه غږ د هغه سلام ته وعلیکم وویل ، خو د ماشوم پرځای د ځوان د غږ ترنم زیات دده په غوږو کی راغبرګ شو ځوان په عربی وویل : که زه اشتباه نه کوم ته عرب یی؟

ظاهر په حیرانی وویل : تا څه وړ وپیژندم؟

: ستا آذان می چی واورید لهجه دی عربی وه.

ظاهر وویل : ستا لهجه هم له عربو نه زیاته بدله نه ده.

د ځوان پر شونډو پیکه او مایوسوونکی موسکا وزغلیده او ویی ویل زما مور عربه وه، خو اوس ددی خبرو مهال نه دی، ته د واورو له توپان نه راتیر شوی یی راځه له ماسره!

د ځوان په غږ کی ازانګی او موسیقی وه، داسی اغیزه وه چی له غوږونو نه تیریږی او زړونو ته رسیږی.

ظاهر جګ شو له ځوان سره تلو ته چمتو شو ځوان له دوه دری ګامه اخستلو وروسته ودریدو ویی ویل : ته د شپی مهال دلته څه وړ راغلی؟

ظاهر ځواب ورکړ : ماته له دی ځایه څو میله لری په دښته کی په واورو کی پراته یوه مسلمان شهید آس په لاس راغی، هغه آس زه دلته راورسولم.

د ځوان په څیره کی د غم او خفګان نخښی رابری شوی بیایی وویل : تا ښه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولید هغه تپی ؤ که د واورو توپان وژلی ؤ؟

: هغه تپی و، که هغه ستاسو عزیز او دوست ؤ نو افسوس کوم.

خُوان وویل : هغه زموږ پخوانی خادم ؤ، ما نن له یوه ضروری پیغام سره سمرقند ته واستاوه... ستا شوندې نیلی شوی، راځه دغه ځای خوندی نه دی.

کشر ماشوم ډیره په لاس کی په مخکی شو له دوو کوتونه دننه تیر شول او بیا یوه تنګ دهلیز ته ووتل، خُوان په دهلیز کی د ډبرو یوه تخته لری کړه، لاندی یو سوری ؤ چی یو سړی په اسانی تری کوزیدای شوای، د سوری نه لاندی د لرګو زینه ښکته شوی وه، لومړی کشری ماشوم او بیا ورپسی طاهر سمځی ته ورښکته شول او د تولو په پای کی زلمی ور ښکته شو او سوری یی بیرته په همغه ډبره بند کړ.

د زیر زمینی په یوه کونج کی په نغری کی اوربل ؤ، پرغولی یوه ښکلی قالینه غوړیدلی وه، او یوی خواته دری څلور پوستینونه ایښی وو، خُوان طاهر ته یوی خواته د کښیناستلو ست وکړ ویی ویل : ته به وږی یی زموږ سره د غوښو له څو وچو توتونه پرته هیڅ نشته.

: ما ستا سو د خادم له کځوړی نه غوښه او پنیر واخستل، اوس زه له اور پرته بل هیڅ شی ته اړتیا نه لرم، دایی وویل او بیا طاهر خپلی موزی وایستلی او د اور خواته یی پښی وغزولی، کوته ښه توده وه، طاهر ناست ؤ خو ورو ورو پریوت او لږه شیبه وروسته په درانده خوب ویده شو، خُوان اوچت شو پر هغه یی یو پوستین ور وغوړاوه.

*****

(۳)

د یوه خوارې او زړه ورونکی غږ په اوریدو طاهر سترګی وغړولی او د پریشانی په حالت کی جګ شو کښیناست او ویی ویل : زه چیرته یم او بیایی د شمعی په رڼا کی خُوان ولید چی دی یی راپاځولی ویی پیژاند او سمدستی یی وویل : سهار شو؟

خُوان خُواب ورکړ: اوس ماسپښین کیدونکی دی، ته ډیر زیات ویده وی.

: تر اوسه خو پوره تیاره ده!

: ته د کور د لاندی په کوټه کی یی، د لمر رڼا دلته نه راځی، د طاهر له سترګو نه د خوب خومار ورو ورو لری کیدو خو د تیرو ورځو بدنی ستومانیو درد

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی لا په بدن کی ژ، هغه له لږ سوچ وروسته وویل:

د شپی می له تانه ډیری پوښتنی زړه غوښتی خو خوب رالاندی کړم، اوس تاسو راته ووایی دلته څه کوی؟ او هغه ستاسو نوکر چیرته تلو او تاسو یی چاته پریښودی؟ زما په گومان دلته پاتی کیدل ډیر خطرناك دی، موږ باید زر تر زره له دی ځایه ځانونه وباسو.

ځوان ځواب ورکړ : ما هم له تانه ډیر څه پوښتل غوښتل خو ښه شوه چی ته زر ویده شوی، زما پلار ددی ښار حاکم ژ، د سلطان له ماتی وروسته د شاوخوا کلیو په څیر په دی ښار کی هم ویره خوره شوه، خلکو له خپل ښار بچ سره بلخ، بخارا او سمرقند ته هجرت وکړ، ما له خپل پلار سره په اوسیدو تینګار وکړ خو هغه زه د خپل وړوکی والی سره یوځای له یوی قافلی سره بلخ ته په تلو مجبور کړم په بلخ کی زما بابایو مشهور سوداگر دی، زموږ د قافلی شمیر د دوو سوو تنو په شاوخوا کی ژ، چی زیات پکی تور سری او ماشومان وو، له دی ښاره نژدی شل میله لری زموږ پر قافلی د تاتاریانو یوی ډلگی حمله راوړه، میړونو په میدان مقابله وکړه، خو وسه یی ونه شوه، ټول یو یو ووژل شول، ځینو ښځو هم مقابله وکړه او ووژلی شوی او نوری ژوندی ونیول شوی، زما په مخکی ترټولو ستره مسأله د اسماعیل ژغورل وو، د ویری له سببه د هغه کړیکی ما نشوای اوریدای، پلار می د طبیلی تر ټولو غوره اس راکړی ژ، ما اسماعیل له کچر نه راکوز کړ او په شا پسی می راسره سپور کړ، او اس می چار گام خوشی کړ، د شپی د تیاری او گڼ ځنگل په سبب مغلو زه تعقیب نکړای شوای، خو زما به د هغو خویندو زړه سوری کوونکی کریڼی هیری نه شی چی د تیښتی په وخت کی می اوریدی.

ځوان چی تردی ځایه خبره راورسوله چوپ شو، د هغه په غټو غټو ښکلو سترگو کی اوښکی راوځلی شوی، طاهر په ځیر ځیر ورته کتل، ماشوم چوپ په یوه کونج کی غلی ناست ژ، د هغه په څیره کی هم د تیرو پیښو ځوروونکی نخښی او تار وو، طاهر په ناستی هغه ته غیږ وغوړوله، ماشوم لږ ورته وکتل او بیایی په منډه ځان ورته راورساوه او په غیږ کی ورولوید په سلگیو شو، تر لږ ځنډه یی شوندی بوځی بوځی کړی او پر ژړا د راقابو کیدو هڅه یی وکړه، خو چی طاهر د هغه پر سر لاس راکش کړ او د تسلی ورکولو هڅه یی وکړه نو په زوره زوره یی وژړل.

طاهر ورته وویل : مه ویریږه موږ به ډیر خوندی ځای ته ولاړ شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلك وویل : په لاره کی به مغلیان وی، هغوی ماشومان خوری.

: نه، نه تاته چا په دروغو داسی ویلی دی.

زلمی طاهر ته وویل : اسماعیل به ماته تسلی راکوله نن خدای (ج) خبر دی په ده څه وشول.

طاهر په غور ځوان ته وکتل او ویی ویل:

گومان کوم چی ته د اسماعیل خور یی!

د هغه بنه ناڅاپه زیړه شوه او سترگی یی ښکته واچولی.

طاهر وویل : ویریږه مه، ستا عزت او ساتنه زما ذمه واری ده، تا خپله کیسه تر اوسه پای ته نه ده رسولی.

کله چی نجلی بیا طاهر ته وکتل په سترگو کی یی اوښکی ځلیدلی، هغی په لستونی اوښکی پاکی کړی ویی ویل : کاشکی ددی بی وسی او بی کسی په وخت کی زمونږ د قوم له نجونو نه ځوانان جوړیدای. له تاتاریانو څخه د تیښتی نه وروسته بیرته خپل کور ته ولاړو، دریمه ورځ پلار جان ته دا خبر ورسید چی پر ښار مغل یرغل راوړي، له هغه سره ټول ځلور سوه تنه سپاهیان وو، ځینو افسرانو مشوره ورکړه چی له دی لږ پوځ سره له تاتاریانو سره مقابله د ځان وژنی په معنی ده، خو هغه ډیر غیرتی ؤ، د ښار پریښودل یی غوره ونه ګڼل، پلار جان ته می جاسوسانو خبر راوړ چی پردی ښار د یرغل راوړونکو تاتاریانو شمیر ډیر نه دی د هغه باور ؤ چی څو ورځی به یی ایسار کړای شی، په دی ځنډ کی به له سمرقند یا بلخ نه څه مرسته راورسیږی، خو د قوقند په اړه چی کومی اوازی خپری شوی هغو د ښار دننه د خلکو زړونه وغورځول، ځینو افسرانو زما پلار جان ته ویل چی سلطان تیمور ملك ته مرسته وانه ستوله، ته ولی د مرستی تمه تری کوی؟ د پلار جان ورستی ځواب دا ؤ چی زه به خپل فرض پوره کړم ماښام مهال یی پوځ ته امر وکړ چی سهار وختی له ښاره راووزی او پر مغلو یرغل وکړی خو تر سهاره نژدی دوه سوه تنه تښتیدلی وو، تردی چی زمونږ د محل زیات خدمتګاران هم وتښتیدل.

سهار مهال له رخصتیدو نه دمخه پلار جان د لومړی ځل لپاره ددی سمځی لاره راوښودله او علی یی راسره پریښود ، علی زمونږ پخوانی خادم ؤ، پلار جان په دی سمځه کی د څو ورځو خوراك هم پریښود ، مونږ ته یی وویل چی که مونږ ماته وخوړه هم تاسو له دی کوتی نه د تیښتی هڅه مه کوی، ځکه چی مغل چاته د تیښتی فرصت نه ورکوی، د هغه دا هیله وه چی د خوارزم پوځونه به له تیاری

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته دی خواته خامخا راځی.

له علی نه پرته نورو خدمتګارانو ته زمونږ ددی غلی ځای درک معلوم نه ؤ، دوی ورځی دلته غلی وو، د محل نور پاتی خدمتګاران هم وتښتیدل، علی به مونږ د بهر له حال نه خبرولو، دریم ماښام د پلار جان اس تش راستون شو، او په همدی شپه مغل ښار ته راغلل او پاتی ژوندی خلك یی ووژل.

تر دوو ورځو پوری دغه کور د مغلو مرکز ؤ او په شاوخوا کلیو کی یی لوټ او وژل پیل کړی ؤ او مونږ له علی سره په دی کوټه کی غلی وو، دغه دوی ورځی مونږ ته له کلونو ډیری اوږدی وی، دریمه ورځ هغوی ښار پریښود، په محل کی بشپړه چوپتیا وه خو مونږ تر شپی پوری انتظار وکړ، د شپی مهال علی د سوری له لاری بهر ته ووت او خبر یی راوړ چی زمونږ یو اس د طبیلی سره نژدی ګرځیده ما هغه ونیو او په طبیله کی می وتاړه، له دی نه وروسته مونږ دا دعاګانی کولی چی د مسلمانانو کوم پوځ دی خواته راشی، ورمه شپه مونږ دا پریکړه وکړه چی سهار وختی به دا ځای پریږدو او د بلخ په لور به خوځیږو، امکان لری چی په لاره کی د کومی پوستی پهره داران زاسره مرسته وکړی، خو چی ماسپښین مهال د واوری اوریدل پیل شول نو ما د سمرقند د حاکم لپاره دا لیك ولیکه چی مونږ له دی ځایه وباسی او بلخ ته مو ورسوی علی زما غوښتنلیك ورسره واخست او روان شو.

اوس چی ته پر کوم اس راغلی یی په همدی اس علی سپور وتلی ؤ، زما په ګومان هغه د کوم تاتاری د ظلم نخښه شویدی، اوس لکه چی خدای (ج) ته زمونږ مرستی ته را استولی یی ته له کومی خوا راغلی یی؟

طاهر لنډ لنډ خپل داستان واوراوه او په پای کی یی نجلی ته وویل : زه لږ بهر وزم او د موسم حالت ګورم.

: محل ته د مغلو د راتګ خطر هر وخت وی ځکه خو د بهر ته وتلو لپاره دا لاره ډیره خوندی ده، دا یی وویل او بیا هغی په دیوال کی لګیدلی یو څرخ واراوه، د لږ غږ سره په یوه برخه کی دومره درز راپیدا شو چی یو سړی تری په اسانی تیریدای شوای.

نجلی وویل راځه زه لاره درته ښیم، اسماغیل تکان وخوړ ویی ویل : زه هم درسره ځم.

*****

(٤)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سمځی د کوټی د تټی رڼا په پرتله غاړ ډیر تیاره ؤ، نجلی او ورور یی زړورپکی وړاندی تلل، خو طاهر ورو ورو پلونه اخستل، ځای ځای د غاریوی او بلی خواته ځمکی کیندل شوی وی او پراخی کوټی پکی جوړی شوی وی.

طاهر نژدی پنځوس ګزه وړاندی لاړه پریښوده او په یوه کوټه ننوت، په دی ځند کی نجلی او ورور یی نور هم وړاندی ولاړل، طاهر د پریشانی په حالت کی د کوټی پر دیوالونو لاس واهه چی د نجلی غږ یی واورید: ته چیرته یی؟

طاهر ځواب ورکړ: زه لاره نشم موندلی.

نجلی خپل ورور ته مخ وروګرځاوه ویی ویل : اسماعیله ورشه ترلاس یی ونیسه.

اسماعیل طاهر تر لاس ونیوه ویی ویل : زما سره راځه زه په تیاره کی هم لیدای شم.

طاهر وویل : په دی کوټو کی ښه زیات پوځ اوسیدای شی،

نجلی وویل : هوکی! خو کاشکی له موږ سره کافی پوځ وای.

یو ځای ته چی ورسیدل نجلی ودریده ، ویی ویل:

اوس لږ پام کوه او راځه وړاندی چینه ده، اسماعیله ته زما لاس ونیسه!

دری واړو د یو بل لاسونه ونیول او وړاندی ولاړل څو ګامه وړاندی تیاره لږ شوه ښی لوری ته وګرځیدل او چی څوګامه نور ولاړل نجلی بیا ودریده. دلته رڼا زیاته وه، طاهر ولیدل چی د یوه وړوکی ډنډ پرځنډه ولاړ دی، د یوه کمره نه چینه را خوټیږی او اوبه یی په ډنډ کی راتویږی، او د ډنډ زیاتی اوبه له غار نه تیریږی، پنځه شپږ ګامه وړاندی د غار خوله وه چی ډیره تنګه وه.

اوبه تر زنګنو تیتی وی، اسماعیل او طاهر هم د نجلی په څیرله اوبو راوتلیو ډبرو پښی ایښودلی او د غار له خولی راووتل، د دوی په مخکی په ونو پوښلی دره وه، واوره اوس نه اوریدله خو وریځی لا خوری وی، وښی، ډبری او د ځمکی بوټی هر څه په واورو پوښلی او پټ وو.

د غار نه راوتلیی اوبه په یوه لښتی کی ښکته بهیدلی او د یوه خور سره چی ډیری اوبه پکی بهیدلی یو ځای کیدلی، طاهر تر لږ ځنډه دغه په زړه پوری منظری ته حیران ؤ، بیایی خپلو ملګرو ته وکتل، تر لږ ځنډه یی بی پامه سترګی د نجلی په څیره میخ شوی، هغه ښکلی وه، په پرخه د مینځل شوی ګل نه زیاته ښکلی، د کایناتو انځورګر د واورې له توتی نه تراشلی او د وینو سرخی یی پری

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور زیاته کړی وه، خفګان او غم یې څیره د وریځو تر نریو پردو لاندی سپوږمی په څیر ښایسته کړی وه، نجلی مخ واړاوه او په بی پروایې یی وروړته وکتل، د طاهر له خولی بی اختیاره ووتل: نوم دی څه دی؟

: ثریا! هغی خوب ورکړ او بیا یی په پریشانی طاهر ته وکتل، د هغی سترګو ویل : ګوره زه ستا په پناه کی یم خو د یوه غیرتی پلار لور یم.

طاهر په خپل وجود کی لرزه احساس کړه او مخ یی واړاوه، تر لږ خندې یی سر خوړند کړ او له سوچ وروسته یی وویل : زه باید زر تر زره بغداد ته ولاړ شم، خو له دی نه وړاندی باید تا بلخ ته ورسوم، چی اسمان شین شی له دی ځایه به وخوځیږو، له دی دری نه د وتلو لاره کومه ده؟

نجلی یوی خواته اشاره وکړه ویی ویل : هغی لوری ته د غونډی نه چی تیر شی لاره ده.

طاهر وویل : که لږ راوخوت نو مورږ به سبا ته روان شو.

نجلی اسمان ته وکتل ویی ویل : اوس ښایی نوره واوره هم واوریږی.

طاهر وویل : تاسو لږ خندې دلته ودریږی زه پاس ځم او ګورم ښایی...؟

نجلی پوښتنه وکړه : ښایی څه؟

: هیڅ نه!

: ستا به ګومان وی چی که د مسلمانانو پوځ چیرته ښکاره شی، زه به هم سهار او ماښام په همدی ټمه پردی غونډی ختم.

طاهر وویل : ستاسو دغه سمځه خو ډیره خوندی وه خو د کلی له خلکو نه چاته معلومه وه که نه؟

ثریا خواب ورکړ : نه ددی غونډی په شاوخوا کی به تل پهره ولاړه وه، پلار جان چی ماته دغه د تل کوټه او سوری راوښودل نو د هغو پهرو په هدف وپوهیدم.

: ډیر ښه! زه اوس بیرته راګرځم، طاهر دا وویل او په واوروکی یی ګامونه اوچت کړل ثریا زر ورته وویل : نه نه! ددی غار سره نژدی د پښو خاپونه مه پریږده، ته د خوږ له لاری ولاړ شه.

طاهر د ثریا په وینا په اوبو کی روان شو او چی لوی خوږ ته ورسید، په لویو لویو تیږو یی پښی ایښودلی او غونډی ته وخوت، د غونډی له څوکی نه یی ځلورو خواو ته وکتل خو دواورو له سپین ځادر پرته یی هیڅ خو ځیدونکی څیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترسترگو نه شول، کله چی بیرته راکوز شو او خپلو ملګرو ته راورسید واوره بیا پیل شوه، طاهر لوړه احساس کړه،

چی کله بیرته د ځمکی د تل کوتی ته ولاړل ثریا لږ لاندی «وچه غوښه» د یوی اندازی وچی میوی سره په پتنوس کی د طاهر مخی ته کښیښودل او ویی ویل : ته به خامخا وږی شوی یی، تا د شپی مهال هم څه ونه خوړل.

طاهر ځواب ورکړ : ماته ستا سو د نوکر له کځوړی نه پوره خوراکی شیان په لاس راغلل، خو له ما سره د اس غم دی ما هغه همداسی پریښود.

: زه سهار وختی پاس ورغلی وم طبیلی ته می بوت او هلته می وتاړه، هلته وچ واښه ډیر دی.

بیا یی ورورته مخ ور واړاوه: اسماعیله! ته ورسره کښینه وخوره!

اسماعیل ورسره کښیناست، طاهر د غوښی یوی ټوټی ته لاس ور وغځاوه، بیا یی بیرته راټول کړ ثریا ته یی وکتل او ویی ویل : ته څه کوی؟

ثریا ځواب ورکړ : ته زما فکر مه کوه، زه ډیر وختی سبا ناری کوم، اسماعیل ناوخته له خوبه پاڅي ځکه یی تر اوسه څه نه دی خوړلی، طاهر یوه ټمړی په خوله کړه اسماعیل ته یی وویل : وخوره!

خو اسماعیل اندیښمن خورته وکتل.

ثریا لږ ور وړاندی شوه د ماشوم پرسر یی لاس راتیر کړ او ویی ویل : اسماعیله ولی یی نه خوری؟

د هلك په سترګو کی اوښکی راغلی او د ریږدیدلو شوندو راټولولو هڅه یی وکړه، دواړه لاس یی وغځول او ثریا ته ورتر غاړه وت.

زه یی نه خورم، زه یی نه خورم او په سلګو شو.

طاهر ترخی اوبه په خپل حلق کی احساس کړی، پتنوس یی اوچت کړ او د ثریا مخی ته یی کښیښود او ویی ویل :

ما خپله برخه وخوړه.

ثریا : نه نه! وخوره ته وږی یی!

: د یوی عربی مور له لور نه زما همدغه ټمه وه، خو زه اوس ستا میلمه نه بلکی ساتونکی یم، ما ماښام پوره خواړه خوړلی وو خو تا سبایی ماښام هم څه نه وی خوړلی، طاهر جګ شو لیندې یی واخستله، غشی یی د غشو په کځوړه کی ورسره واچول او ویی ویل : تاسو دا وخوری، زه به انشاء الله زر بیرته راستون

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شم، که می په کلی کی څه شی ونه موندل بهر گوندی څه ښکار ومومم.

ثریا وویل : په کلی کی د انسانانو د مړیو نه پرته هر څه مغلو ورسره وړی دی، او په دی موسم کی ښایی ښکار هم ونه موندل شی.

طاهر وویل : زما باور دی چې خدای (ج) موږ دلته د لوږی د مرګ لپاره نه یو راتول کړی، زه به انشاء الله تش لاس نه راستنیږم، تاسو د مانښام غم مه کوی دا خواړه وخوری.

ثریا وویل : که ستا د خدای پر مهربانی دومره بروسه ده نو لږ تر لږه خو خپله برخه وخوره او بیا ولاړ شه.

طاهر ورتیټ شو د غوښی یوه ټوټه یی په خوله کی کښیښوده او ویی ویل : بس ! ما خپله برخه واخستله.

نجلی وویل : زه تا بهر ته رسوم بیرته راځم

:نه، ما لاره ولیدله، طاهر دا وویل او د غار له لاری بهر ته راووت.

د طاهر له تلو نه وروسته ثریا وویل : اسماعیله اوس یی وخوره!

کشری ماشوم ځواب ورکړ : ستانه پرته یی نه خورم.

ثریا په پټنوس کی پراته خوراکی شیان دری برخی کړل او بیا یی یوه برخه جلا کړه ویی ویل : دا د هغه برخه ده چی بیرته راستون شی ډیر به وږی شوی وی، او دا نوره زما او ستا برخه ده.

*****

(۵)

ماسپښین مهال اسمان شین شوی و د لمر دورانګو غبرګون پر سپینو واورو سترګی بریښولی، شمال دریدلی ؤ او په موسم کی یو په زړه پوری بدلون احساسیده. ثریا او اسماعیل د غار نه بهر لږ لری په یوه ډبره ناست وو او د طاهر د راتګ انتظار یی کاوه، دواوری د ویلیدو له امله د ونو ښاخونه اوتنی ورو ورو لغړیدی مخامخ د خوږ اوبه ورو ورو زیاتیدی.

اسماعیل وویل : خور جانی هغه تر اوسه رانه غی! په داسی لمر کی مخامخ ښکار موندل کیږی.

ثریا ځواب ورکړ : دعا کوه!

: هغه ډیر ښه سړی دی که پلار جان وای دی به یی د پوځ سالار تاکلی ؤ، مګر خوری که هغه ته د ښکار پر ځای تاتاریان په مخه ورشی نو څه به کیږی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: خدایٔ به یی مرسته کوی.

: که موږ دلته کوم مغلی ولیدو نو بیا؟

: دلته موږ له پاسه هیڅوک نشی لیدای.

: که هغه تاتاریانو ونیو او د ځان ژغورنی په خاطر یی موږ وروښودلو نو بیا؟

: چوپ شه، د میلمنو په باب داسی سوچونه څوک نه کوی.

: که بیا واوره ونه اوری نو موږ به له دی ځایه روانیږو؟

: انشاء الله!

اسماعیل چوپ شو، خو لږ وروسته یی چیغی کړی، هغه راغی!

هغه راغی، خوری! خوری! هلته گوره غرڅه یی راوړ.

وگوره خوری! وگوره څومره لوی دی، هغه په ډیر زحمت په اوږه را اړولی، اور خو به نه وی گل شوی؟!

ثریا دونی له تنی نه لږ لری شوه ویی کتل طاهر یو غرڅه په اوږه را اړولی ؤ او له خوږ نه راپوری ووت.

اسماعیل بیا وویل : خوری! اور خو به نه وی مړ شوی! زه ډیر وږی یم.

ثریا وویل : تا خو ویل چی زه ښه موږ یم!

: که ما دانه وای ویلی نو تا به خپله برخه هم نه خوړله، اوس خو دا دي خدای (ج) غرڅه رالیږلی دی، خوری دا ډیر ښه سړی دی.

طاهر د غار خولی ته نژدی شو دوی ته یی وکتل ویی ویل :

تاسو زر دننه ولاړ شی. زه ویریږم چی شاوخوا چیرته د تاتاریانو کومه ډله نه وی، دغه غرڅه زما د غشی له نخښه کیدو نه دمخه تپی ؤ.

لږ ځنډ وروسته نجی دوی ټول په تل خونه کی ناست وو ثریا غوښه کبابوله اسماعیل په وار وار ویل : خوری! اوس به پخه وی زر یی راکوزه کړه.

طاهر د تیرو ستومانیو او ځورنه وروسته اوس په دی تیاره او تنگه خونه کی د آرامی احساس کاوه، بیا یی هم د راتلونکی په باب ذهن د پریشانی احساس کاوه، کله کله به یی په ذهن کی ور وگرځیدل چی والوزی او بغداد ته ځان ورسوی، هلته په دنگو محلونو کی یوه هنگامه او محشر جوړ کړی او لکه په ولاړو اوبو کی د ژوند شور پیدا کړی، ده په خیال کی د بغداد په جامع جوماتونو کی له احساساتو ډکی ویناوی کولی.

کله به یی د بغداد له بی شمیره پوځ سره یوځای د خوارزم شاه تر جنډی لاندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاتاریانو مقابله کوله، کله به یی خلیفه او صدر اعظم ته راتلونکی خطرات بیانول خو چی له دوی به مایوس شو نو ترخی او توندی خبری به یی ورته کولی.

او کله به یی په خیال کی وحید الدین د محاکمی په میز درولی ؤ او د خلیفه په مخکی به یی په لوړ غږ د هغه د جرم ثبوتو نه وراندی کول.

د دی رنگارنگ خیالونو په یرغل کی به یی کله د اسماعیل په خواب کی د ثریا غږ واورید، هغه غږ چی د پسرلی د مرغانو له نغمونه دیر خوندور او زړه وړونکی ؤ، ده به د اور له تت براس نه هاخوا د هغی ښکلی څیره لیده، او د یوی شیبی لپاره به یی د زړه اندیښنی په لطیفو تکانونو بدلی شوی، مخی ته به یی یوه بله دنیا وغوړیده، هغه دنیا چی انسان سترگی پکی وغړوی بیا د خوندی گوښی په لټه کی شی، له خانه پرته د یوه بل داسی چا په خاطر چی په موسکا کی یی د ژوند له توپانونو نه پناه اخلی.

د سهار په گردونو کی پټ لمر د وړانگو په څیر د غم په وریځو کی د ثریا مخ نور هم زړه وړونکی ښکاریدو، د حیا په زرگونو پردو کی پټو د ثریا په غمجنو سترگو کی د طاهر لپاره رومبی او وروستی پیغام همدا ؤ چی موږ دواړه د یو بل لپاره یو، زمونږ دواړو یو بل ته اړتیا ده، طاهر احساسوله چی دی ته ورته د یوی بلی څیری تصویر هم له پخوانه دده په زړه کی شته، داسی غږ ده پخوا هم اوریدلی ؤ.

طاهر د ژوند د واټ په داسی پراو کی ؤ چی سړی وروسیږی نو د یو چا د ملگری اړتیا احساسوی، هلته چی د کومی نجلی له شونډو لوټل شوی موسکا ښیرته ورته راستنول سړی ته په کایناتو کی ترټولو ستره ذمه واری شی، خو دی له هغو کسانو څخه ؤ چی له گلونو سره د لوبیدو پرځای د ازغیو په موښلو د زیات خوند احساس کوی، د رباب له نغمونه د تور و شرنگا پری ښه لگیږی، او د ځان لپاره د ژوند پرځای د بل لپاره مرگ سعادت گنی، او په کوم یوه گل د خپلو ستړگو یخولو او خوښولو پرځای په خپلو وینو په زرگونو بوتی اوبول غواړی.

د ثریا په څیر د خوارزم د زرگونو نجونو د بی کسی تصور د طاهر بدن ولړزاوه، د قوم د هغو زرگونو میندو خویندو کریږی او فریادونه یی واوریدل چی لمنی ته یی د وحشی تاتاریانو لاسونه ورغځیدلی وو، هغوی چی اسمان ته په حیرت او حسرت کتل او ویل یی دا زمونږ د عصمت او عزت ساتونکی په کومه ولاړل؟ زمونږ په غیرتی بچیانو او زړورو وروڼو څه وشول؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهر تکان وخوړ ویی ویل : مور به سبا ته ماسپښین مهال له دی ځایه روانیږو.

ثریا لږ ځنډ په سوچ کی شوه طاهر بیا وویل : مور یوازی لومړی دوه دری پراوه په خطر کی یو، وروسته ښایی له کومی پهری نه مرسته وغواړو.

ثریا وویل : زما سره یوازی د اسماعیل غم دی، زمور سره یوازی یو اس ژ هغه هم مړ شوی دی.

: مړشویدی! تا څه وخت ولید؟

: کله چی ته ښکار ته تللی وی، زه هلته ورغلی وم، هغه ماته سهار هم ناروغ ښکاریدو.

طاهر په ژور سوچ کی ډوب شو، لږ ځنډ وروسته اسماعیل وویل : زما په باب اندیښنه مه کوی زه پلی درسره تلی شم.

ثریا وویل : ته دا امیدو نه لری چې د خوارزم پوځونه به بیرته دلته راشی؟

طاهر ځواب ورکړ : کوم پوځ چی د تیمور ملك مرستی ته ونه رسیدای شو زما تری هیڅ ټمه نشته، خو مصیبت انسان د تقدیر د معجزو په هیله کړی.

زه د خوارزم شاه له مرستی نه مایوس یم، خو د خدای (ج) له مرستی نه مایوس نه یم.

که مور پلی غرنی لاره غوره کړو نو د دښتی له لاری نه به خوندی وی، په لاره کی د کوم تپی سپاهی د اس موندل هم له اټکل نه لری نه دی، له دی نه پرته زما ګومان دی چی تاتاریانو د شمال لویدیځ په لوری مخه کړی، چنوب ته د بلخ لاره به انشاء الله خوندی وي، مور به سبا ته له خیره له ماسپښین وروسته له دی ځایه روانیږو.

* * * * *

(٦)

کله چی ماښام طاهر له مانځه نه وروسته د دعا لپاره لاسونه اوچت کړل نو پاس یی د کور په انګړ کی د اسونو د پښو ترپهار واورید : ثریا جګه شوه د اور سکروټی یی په ډبرو پټی کړی طاهر له دعا وروسته ورته وکتل ثریا په ویریدلی لهجه ورو وویل : ښایی تاتاریان ژی خو له پنځو شپږو اسونو نه زیات نه دی.

طاهر وویل : کیدای شي شاته لښکر ورپسی وی.

اسماعیل په غمجنه لهجه وویل : اوس ښایی مور بلخ ته ونه رسیږو، طاهر په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تسلی ورته وویل : نه، انشاء الله مورږ به خامخا څو.

: کله؟

: ممکن نن!

: ثریا وپوښتل : نن به څو!

: هوکی له دی غوښی نه د دوو دری ورځو د خوراك په اندازه بیله کړه په یوه کڅوړه کی یی واچوه..

: مگر په واورینه لاره د شپی پلی مزل؟

: ته د پلی مزله په باب ولی سوچ کوی؟ ایا خدای (ج) اسونه راونه لیږل؟

ثریا وویل : ددی اسونو اخستل لږ گران دی.

طاهر څواب ورکړ : کوم کار چی ضروری وی د هغه په اړه دا سوچ څوك نه کوی چی گران دی که آسان.

لږ څنډ وروسته له پاسه د تك تك غږونه اوچت شول.

ثریا وویل : لکه چی په منځ کوټه کی د اور بلولو لپاره ورونه ماتوی، او اسونه یی په طبیله کی ترلی وی، زه په زینه ورخیژم، د دوی له خبرونه د دوی د سهی شمیر معلومولو هڅه کوم.

: مگر پاس ډبره اوس مه خوځوه، ښایی کوم یو په هماغه کوټه کی وی.

: نه ته غم مه کوه، ثریا دا وویل په زینو وختله سوری ته نژدی یی غوږ ونیو او د غږونو د شمیر معلومولو په هڅه کی شوه لږ څنډ وروسته راکوزه شوه او د طاهر له پوښتنی پرته یی وویل : هغوی شپږ او یا اووه تنه دی. دوی د تیمور ملك په لټه کی دی، امکان لری تر سهاره یی نور ملگری هم راورسیږی، زه د دوی په ژبه نه پوهیږم خو د تیمور ملك نوم په وار وار اخلی زما همدا گومان دی.

هغوی اوس د پاس کوټی ښی لاس ته په دریمه کوټه کی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپاهی لور

په تل خونه کی شیبه په شیبه تیاره زیاتیدله، مغلو په خپله ژبه کومه راګ سندره ویله، طاهر د ماسختن د لامنځه نه وروسته تر ډیره وخته پر خپل ځای ناست ؤ، کله چی د تاتاریانو راګ ختم شو نو ثریا او اسماعیل ته یی د تیاریدو وویل په زینو وروخوت او له چت سره یی غوږ ونیو، یوه تاتاری خبری کولی او نورو غوږ نیولی ؤ، د دوی د ژبی څو لفظونه طاهر هم زده کړي وو، هغه یوازی دومره وپوهیده چی خبری کوونکی خپلو ملګرو ته کومه کیسه کوی، طاهر وړو د ډبری سرپوښ لری کړ او یوی خواته یی کیښود، له سوری نه یی سر ویوست دایی احساس کړه چی په کوټه کی څوك نشته چی بهر راووت د ډبری سرپوښ یی بیرته په سوری ورکیښود، په تیاره کی له څوګامه اخستلو وروسته د طاهر لاس په دروازه ولګید، هغه ورو دروازه تیله کړه خو کرچهار یی دی پریشانه کړ، زړ یی پریښوده، او له دیوال سره نیغ ودرید، د دروازی د بیرته پوری کیدو په وخت کی نور هم غږ اوچت شو.

کیسی او روونکی تاتاری ناڅاپه چوپ شو، له یوی شیبی وروسته یی خپل یوه ملګری ته څه وویل او هغه په خوبوړی حالت کی وګرزیده څه یی وویل، دواړه چی د طاهر په ګومان یو کیسه کوونکی و او بل یی اوریدونکی له یو بل سره په بحث شول بیا یی یو د منځ کوټی ته راغی او له ځانه سره یی کنځلی کولی.

طاهر وپوهیده چی له دی دوو تنو نه پرته نور کسان ویده دی.

مغل سرتیری د منځ له کوټی نه تیر شو او د طاهر د کوټی ور یی خلاص کړ د کوټی دواړه ورونه یو بل ته مخامخ وو څکه خو د دریمی کوټی د اور تته رنا د طاهر کوټی ته هم رارسیدله.

هغه له دیوال سره جوخت چوپ دریدلی ؤ، تاتاری په بی پروایی د هغه کوټي ته ورننوت او یوی او بلی خواته یی له سرسری نظر وروسته سترګی ومونبلی خپل ملګری ته یی کنځلی وکړی او د بیرته ستنیدو په تکل شو چی د طاهر اوسپنیز

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس یی پرورمیږورپریوت، د لنډی تاتاری له خولی آه قدری هم ونه وتله، د سترګو په رپ کی طاهر هغه وواژه او ورویی ځملاوه.

له دریمی کوټی نه د کیسی کوونکی غږ اوریدل کیده او هغه به ښایی د خپلی کیسی وروستی برخې اورولو ته ناکراره ؤ، طاهر زر توره له تیکی راوویستله او له دیوال سره ودریږ په زوره زوره یی ساه وکښله.

د کیسی اوروونکی گومان وکړ چې لکه چی ملګری یی په بله کوټه کی ویده شو، په خندا رااوچت شو یو بل شوی لرګی یی ورسره راواخست هماغه کوټی ته یی ځان ور ورساوه، خو تر څو یی سم وضعیت معلوماوه د طاهر توره یی په سینه ښخه شوه او په غولی پریوت، له دی سره یی له خولی یوه کریږه ووته په دریمه کوټه کی د دوی ملګری د هغه په چیغه راویښ شول او د یو بل پوهولو هڅه یی کوله، طاهر د سترګو په رپ کی ځان دریمی کوټی ته ور ورساوه، کوټه د اور په سبب پوره رڼا وه، تاتاریان پاځیدل او توری یی را واخستلی خو د طاهر توره پری د تندر په څیر راپریوته له هغوی نه دوه نور هم د سترګو په رپ کی ورپیدل په دی ځنډ کی پاتی نور دری تنه راسنبال شول.

د طاهر توره څو ځله د هغوی دری واړو له تورو سره ټکر شوه،تاتاریانو چی ولیدل حریف یی خطرناك دی هڅه یی وکړه چی سره تیت او له دری خواو حملی پری پیل کړی، خو طاهر له یوه کونج نه دوی ته دا فرصت ورنکړ چی هلته دلته تری توپ کړی او تیت شی، څو شیبی وروسته له هغوی نه یو بل هم تپی شو او په ځمکه رپیده، د طاهر مټ هم لږ زخمی شوی ؤ، خو په مخامخ کونج کی یی چی په مخ کی یوازې دوه تنه حریفان لیدل نو د احساساتی حملو پرځای یې په ډاډه زړه او آرامي مقابلی ته دوام ورکړ.

ناڅاپه طاهر شاته یوه کریږه واوریدل، ده زر ځای بدل کړ او شاته یی وکتل، شاته یی ثریا ولاړه وه چی په وینو سره توره یی په لاس کی وه او مخی ته یی یو بل تاتاری چی طاهر لا تر اوسه نه ؤ لیدلی په ځمکه تپی لغتی وهلی، په دی ځنډ کی د طاهر دواړو حریفانو دوه لوری ونیول، ثریا د طاهر ، د څه اشاری د لیدو پرته د یوه مخی ته ودریدله، خو طاهر چیغی کړی : ثریا! ته زما له شانه لری شه، طاهر د لومړی ځل لپاره د هغی نوم واخست، او دی ته یی د تاسو پر ځای ته وویل ، چی دا د ثریا لپاره دیر ستر انعام ؤ، هغی وویل : ته زما فکر مه کوه ما هم د یوی عربی مور شیدی رودلی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: مګر اسماعیل یوازی؟

: هغه هم زما ورور دی.

اوس طاهر او ثریا اوږه په اوږه ولاړ و او دواړه مغلی سرتیری بیا یوه کونج ته ایسار شول، ناڅاپه طاهر ګام واخست او د سترګو په رپ کی د ثریا د حریف تاتاری مټ دده په توره غوڅ شو، په دوهمه شیبه کی د ثریا توره د هغه تر تهټ بوټه ختلی وه.

اوس د طاهر مخی ته یوازی یو تاتاری ژ او ثریا په پوره داد د لویدلی دښمن په چپنه خپله توره پاکوله، تاتاری اوس د مرګ او ژوند نه بی پروا ژ او د وحشی ځناور په څیر یی حملی کولی، ناڅاپه د طاهر پر شونډو موسکا خوره شوه، د یوه مجاهد موسکا چی د دښمن په غوږونو کی د مرګ هیبتناکه کړسنده خندا شی او کړنګیږی، د هغه توره د تاتاري پر سر وځلیده او بیا یی ترسینی پوری ورسیده.

د ثریا پر شونډو هم موسکا لوبیدله، هغه موسکا چی په لومړنیو پیړیو کی به د اسلام د لوړو لخوا غازیانو ته تر ټولو لوی انعام ژ.

طاهر څو شیبی له خپل چاپیریال نه پردی شو د هغی زمانی په ښکلیو خیالونو کی ډوب شو چی یوی ساده عربی پیغلی به د اسلام د سرښندویانو ډله لیدله چی د دوی له کلی نه به تیریدله دوی به دا سندره ویله

د قوم غیرتی زامنو! ستاسو د اسونو د پښو ګرد موږ ته له کهکشان نه ګران دی.

ستاسو په ګردونو کی پټ مخونه موږ ته له سپوږمی نه ښکلی ښکاری.

د طاهر لستونی چی ثریا په وینو سور ولید ویی ویل : ته تپی شوی یی راشه زه دی تپ وترم.

: دا معمولی تپ دی، دایي وویل بیا یی لستونی پورته کړ او مټ یی ثریا ته ورښکاره کړ، ثریا په دسمال د هغه مټ وتاړه ویی ویل : ما شپږ اوه تنه اټکل کړی وو دغه اتم لکه چی په طبیله کی ژ له شانه یی غوښتل پر تا حمله وکړی.

: زه ستا مننه کوم که ته نه وای نو ماته به یی ګوزار له شانه خامخا خطرناک ژ.

: د خدای (ج) په خاطر داسی مه وایه زه یوازی خپل وکالت کوم زه هلته نشوای تمیدلی نو چی د روازی ته راغلم ومی لیدل چی هغه غلی له شا روان دی او پر تا حمله کول غواړی، زماله خولی چیغه ووته زه ډیره پری پښیمانه یم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: ثریا! تر هغو چی په اسلامی نړۍ کی ستا په څیر نجونی زیږی، په نړۍ کی مسلمانان هیڅ قوت نشی لاندی کولی، څو شیبی دمخه زه ډیر مایوس وم خو اوس می زړه گواهی راکوی چی هغه قوم چی ستا غوندی نجونی زیږولی شی باید په ژبه یی د مایوسی الفاظ نه وی هغوی که د ځمکی تل ته هم ولاړ شی نو په ستورو کمندونه اچولی شی.

انقلاب هغوی لاندی کولی شی خو بنخولی یی نشی، د حوادثو توپان یی سره پاشلی او تیت پرك کولی شی خو ورك کولی یی نشی، د مغلوتوپان ډیر زور ور توپان دی امکان لری دا د اسلامی نړۍ وروستی کمر هم ورسره په مخه کړی، خو ته اوستا په څیر نوری د قوم لونی په هره زمانه کی داسی معماران زیږولی شی چی شگی سره یوځای کړی او مضبوط او نه ماتیدونکی کمرونه تری جوړولی شی.

د ثریا په سترگو کی د مننی اوښکی ځلیدی، هغې وویل : ما هم څو شیبی وراندی گومان کاوه چی د قوم د ځلمیانو وینی سپینی شویدی خو نه، کوم اولس چی تا غوندی سرتیری لری د هغوی بیرغ هیڅ څواك نشی نسکورولی.

: ته ژاړی؟

: ثریا په خندا شوه!

په اوښکو لنده موسکا، په شبنم د لمبیدلې گل موسکا چی د حورو بی شمیره کړسنده خندا گانی پکی غلی وی، هغی وویل : نه پوهیږم نن می ولی غم هیر دی، ښایی ددی لپاره چی نن مې د قوم د غلیمانو نه یو تن وژلی دی.

: نه ددی لپاره چی تا د خپل قوم د یوه سرتیری ژوند ژغورلی، خو اوس راځه اسماعیل به اندیښمن وی، اسونه به هم زمونږ انتظار کوی.

طاهر یو بل شوی لرگی ورسره واخست او د تل خونی په لوری له ثریا سره روان شو، کله چی هغه د سوری نه ډبره لری کړه لاندی د اسماعیل غږ اوچت شو:

ودریږه! څوك یی زما نخښه نه خطا کیږی!

ثریا وویل : اسماعیله مورږ یو!

هغه بیا له خوښی نه په ډکه لهجه وویل : اجازه ده راځی!

کله چی طاهر او ثریا له بل شوی لرگی سره لاندی ورغلل اسماعیل یی ولید چی لینده او غشی یی په لاس کی ولاړ ؤ.

طاهر وویل : اسماعیله مورږ بلخ ته روان یو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: څه وخت؟

: همدا اوس : ، ستا خو به ساړه نه کیږي؟

: نه، خور جانی می ویل چی ستا به ساړه کیږي ځکه چی ته د تاوده وطن اوسیدونکی یی.

ثریا د کباب شوی غوښی یوه ډکه کڅوړه طاهر ته ورکړه او بیا یی په یوه ګوټ کی لرګی لری کړل د څرمنې یو وړوکی بکس یی راواخست او ویی ویل : زه د قوم امانت تاته سپارم زما خدای بخښلي پلار چی خطر احساس کړ، د بیت المال زیاته برخه یی سمرقند ته واستوله، دغه پاتی دوه زره اشرفی یی د جګړی میدان ته له تلو مخکی ماته راکړی، له اشرفیو نه پرته په دی بکس کی څو غمی د ده خپل مال ؤ، خو زه دا د قوم د شهیدانو د زامنو مال ګنم.

پلار جان به می د خپلی تنخواه زیاته برخه زما نیکه ته ورکوله چی په سوداګری کی یی په کار واچوی هغه اوس په بلخ کی زموږ لپاره ډیره ځمکه او جایداد اخستی دی.

طاهر دواړه کڅوړی ورسره واخستلی، ثریا په بل شوی لرګی یوه شمه بله کړه، دری واړه بیرته د زینو په لاره پاسنی کوټي ته وختل، د کور له کوټونه ووتل او طبیلی ته ورغلل.

په طبیله کی د تاتاریانو اته اسونه تړلي وو، طاهر، ثریا او اسماعیل په دری اسونو سپاره شول، پاتی اسونه یی له کوره راوویستل او تیت پرک یی وشړل، دوی چی له کوټی نه وتل ثریا اس ودراوه او ویی ویل : لږ ودریږه زه له دي ځایه د وتلو نه دمخه یوه دعا کوم، طاهر او اسماعیل ثریا ته وکتل او اسونه یی ودرول.

ثریا د آسمان ځلیدونکو ستوروته وکتل او په ډیره دردمنه لهجه یي دعا وکړه:

ای د عالم پالونکیه! زه ستا د محبوب صلي الله علیه وسلم د امت د زرګونو بی کسه نجونو څخه یوه یم، ته د دوی تولو د ساتنې په خاطر د قوم زامنو ته د خپلو پلرونو میړانه او همت ورکړی چی هغوی یو ځل بیا پردی محلونو د اسلام بیرغونه ورپورې، دغو چوپوکو څوکه یو ځل بیا غازیان ورکړی، چی د اسونو د پښو تړپهار واوری، ددی ښار په ډوراتو جوماتونو کی یو ځل بیا د الله اکبر ناري او ازانګی اوچتی کړی، پالونیکه ! ته د خپل دین شان اوچت کړی آمین!

طاهر او اسماعیل هم آمین ورسره غبرګ کړل، او بیا دری واړو اسونه پریښودل چی مزل وکړی، لږ ځنډ وروسته دوی د ښار نه بهر د بلخ په لور په هسکو تیتو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارو روان وو، اسمان شین ژ او یخنی له زغم نه وتلی وه، خو اسماعیل په وار وار دا ویل چی دیر ښه موسم دی او زه په پوستین کی په تنګ شوی یم.

*****

(۳)

دریمه ورځ غرمه مهال طاهر د مسلمانانو د پهری یوه ورکی دلګی ولیدله، کله چی ورورسیدل په پراو کی د طاهر د پوښتنی په څواب کی یوه سپاهی وویل د ختیځ سرحد له پریښودلونه وروسته اوس دلته څلور زره تنه پوځیان راټول شویدی او په یو دوو ورځو کی به دوی هم د سمرقند په لوری خوځیږی.

طاهر د پوځ له لوی افسر سره دلیدو هیله وکړه، خو سپاهی ورته وویل چی دلته د هرو پنځوس، شپیتو تنو پر سر یو تن مشر ژ خو پرون یو څوک راغي ټول اوس د هغه تر هیبت لاندی دی او د حکم منلو ته یی غاړه ایښی ده.

طاهر وپوښتل : هغه څوک دی؟

سپاهی څواب ورکړ : تیمور ملك.

تیمور ملك! هغه چیرته دی؟

: ته هغه پیژنی؟

: تیمور ملك څوک نه پیژنی!

سپاهی د طاهر د اس جلب ونیو ویی ویل : راځی زه تاسو هغوی ته ورولم.

ثریا او اسماعیل په هغوي پسی روان شول، طاهر د یوی خیمی مخي ته ودریدو دری واړه له اسونو نه پلی شول، سپاهی خیمی ته ننوت او خبر یی ورکړ لږ ځنډ وروسته تیمور ملك بهر ته راووت چی طاهر یی ولیدو غیږ یی پرانسته او ور وراندی شو او دواړه غیږ په غیږ شول.

تیمور ملك وویل : د خدای شکر دی چی روغ دی وینم، او بیا یی ثریا او اسماعیل ته پام شو، ثریا د نارینه ژ جامی اغوستی وی، او نیمایی مخ یی په پوستین کی پټ ژ.

تیمور ملك وپوښتل : دا څوک دی؟

طاهر وویل : دا زما ملګری دی، زه به د دوی کیسه درته واوروم خو موږ په لاره دیر لږ آرام کړی دی، دا د ښځو خیمی ته واستوه، تیمور ملك په حیرانی وپوښتل : د ښځو خیمی ته؟

طاهر وموسکل ویی ویل : دا نجلی ده!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور ملك وویل : ښاغلی تور سری! زه ستا په جامو تیر وتم، ته پریشانه نه شی کله چی د قوم د میړونو غیرت او میړانه ولاړ شی، د قوم لونی باید همدغسی جامې واغوندی.

ثریا سترګی ښکته کړی خواب یې ورکړ : زه د قوم د بچیانو له میړانی نه مایوسه نه یم.

: تا یوازی طاهر لیدلې دی خو په قوم کی د داسی نامردو کمی نشته چی د تاتاریانو د نامه په اوریدو یی لاس او پښی شل شی، اوس د دی خبرو وخت نه دی تاسو استراحت ته اړتیا لری او ستا له پاره د ښځو خیمه مناسبه نه ده، ته به هری یوې ته د تسلې په خاطر باید خپله ټوله کیسه له سره واوروی، ځکه خو زه خپله خیمه درته پریږدم. زه او طاهر به په بله خیمه کی شپه تیره کړو، دایی وویل او بیا تیمور ملك یوه سپاهی ته مخ واړاوه ورته ویی ویل : دا دننه بوزه او د خوراك ځښاك بندوبست یی وکړه، ثریا او اسماعیل د تیمور ملك پراخی خیمی ته ننوتل، او تیمور ملك له طاهر سره د یوه افسر خیمی ته ولاړل.

*****

(٤)

سهار وختی ثریا د درانه خوب په حال کی د آذان زړه ورونکی تکبیرونه واوریدل، لږ ځنډ وروسته دی دغه آذان هم د شپی د ځینو ښو او ځینو وهمناکو خوبونو یوه برخه بلله، موذن چی آذان پای ته ورساوه دې سر راپورته کړ په تته ړنا کی یی یوه اویله خوا وکتل بیا یی په ویره غږونه وکړل اسماعیله، اسماعیله!

اسماعیل د دی ترځنګ ویده ؤ په اړخ واوښت ثریا وخوځاوه او راویښ یی کړ، هغه راپورته شو سترګی یی ومښلی ویی ویل : زه تیار یم!

: چیرته د تلو لپاره تیار یی؟

: بلخ ته نور چیرته!

: بلخ ته ... اوف ماتوله شپه بیا دیر عجیب او حیرانوونکی خوبونه لیدل. داسی ګومان می کاوه چی تر اوسه په هماغه لاندی خونه کی یم، چی هغه چیرته دی؟

: څوك طاهر ! هغه له خپل ملګری سره په بله خیمه کی دی، تا چی د ماسختن لمونځ وکړ ویده شوی، هغه راغلی ؤ له بهر نه یی پوښتنه وکړه چی څه شی ته خو به ضرورت نه وی ما خواب ورکړ چی نه، هغه ستا په باب پوښتنه وکړه ما ورته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

رویل چی ویده ده او دی ببیرته ستون شو.

: زما په باب یی څه ویل؟

: هغه ویل چی خور ته خو به دی څه تکلیف نه وی؟

،بیا یې خُواب ورکړ ؟

:ما ورته وویل چی هغه خو په درانه خوب پرته ده او خړپړ!

: دیر نالایق یی! زه کله خړپوم، ریښتیا روایه تا هغه ته همداسی وویل ؟

اسماعیل په خندا خُواب ورکړ : نه مایوازی دومره ورته رویل چی هغه ویده ده.

: نور هغه څه ویل ؟

: هغه ویل ته هم ویده شه، سهار به د لمانځه نه وروسته موږ د بلخ په لور روانیږو.

هو ریښتیا خوری! د هغه له تلو وروسته خیمی ته څو ځوانی او ښځی راغلی او چی ته یی ویده ولیدلی ببیرته ولاړی.

: تا به زه راویښه کړی وم.

: ما غوښتل، راویښه دی کړم خو هغوی زه منعه کړم، هغوی له مانه پوښتنه کوله چی ایا ریښتیا ستا خور یو تاتاری وژلی دی؟

ما ورته وویل هوکی، دا ریښتیا ده نو هغوی ټولی حیرانی شوی.

هغوی ویلی چی سهار به ستا له خور سره گورو.

ثریا وویل : ته ولاړ شه له نارینه ؤ سره لمونځ وکړه.

زه هم لمونځ ادا کوم.

لږ ځنډ وروسته ثریا له لمانځه نه وروسته لاس اوچت کړل دعایی وکړه وروسته یی چی شاته وکتل څو تنه ښځی یی تر شا ولاړی وی، ثریا راجگه شوه یوی نجلی ورته وویل:

موږ د شپی مهال راغلی وو، ته ویده وی ویښول مو دی مناسب ونه بلل، موږ ستا کیسه اوریدلی ده او ټولی پر تا ویاړ کوو.

ثریا خُواب ورکړ : ستاسو له ستاینی نه مننه، مگر دا خو کومه لویه کارنامه نه وه.

یوی ښځی ووویل : دوی ټولی له تاتاریانو نه زیاتی ویریږی ته لږ نصحیت ورته وکړه.

ثریا وویل : زه په نصحیت نه پوهیږم زه هم ستاسو په شان یوه ښځه یم، په هر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت زه ستاسو هیله نه ردوم راځی کښینی، نجونی کښیناستی یوی نجلی وویل : لږ ودریږی، زه نوری ښځی هم را غواړم، دایی وویل او له خیمی نه ووتله لږ ځنډ وروسته پراخه خیمه د ښځو او نجونو نه ډکه شوه ثریا شرمیدله او په دوه زړه توب یی خپله وینا پیل کړه:

زما مصیبت ځپلو خویندو! په تیرو پیړیو کی د اسلام په لونو داسی سختی هیڅکله هم نه وی راغلی، په خوارزم کی زموږ د دبد بی بیرغ را نسکوریږی او د تاتاریانو د وحشت او تیری توند او زورور سیلاب پر خوارزم برسیره د اسلامی نړۍ هر هیواد ته گواښ پیدا کړی دی، په دی نازکه موقع کی تاسو څکه مایوسی یاست چی د اسلام د زامنو هغه لومړنی میرانه او زړورتیا پاتی نه ده، په دوی کی د لومړنیو پیړیو د غازیانو په څیر د شهادت مینه نشته، خو زه پوښتنه کوم چی نن هغه ښځی چیرته دی چی خپل خاوند او یا ورور به یی د جگړی له ډگر نه په شا ولید نو د خیمی لرگی به یی ورپسی راواخست او ویل به یی چی که دی تیښته وکړه د سر خیر دی نشته!

زما خویندو! د رالویدونکی قوم وروستی تکیه د هغوی لونبی وی تاسو د قوم وروستی تکیه یاست، تر څو ستاسو سینی د ایمان په نور روښانه دی ستاسو زامن، ستاسو میړونه او ستاسی ورونه د نړۍ هیڅ ځواک نشی ماتولی.

ترڅو پوری د قوم د میندو سپیڅلی شیدی د قوم د لونو په رگونو کی د وینو په بڼه چلیږی د دوی په زړونو کی به د شهادت هیله ژوندی وی، او ترڅو چی د اسلام د زامنو په زړونو کی د شهادت هیله وی دوی به د هر لوی دښمن په وړاندی د مرگ پیغام ثابت شی.

که قوم مړ شوی وی نو ستاسو سره د هغه د بیرته راژوندی کولو د ژوند اوبه «آب حیات» شته، قوم که ویده دی تاسو یی وخوځوی او راویښ یی کړی، تاسو د میړونو د پښو زنځیر مه کیږی، خپلو میړونو ته ووایی چی د جگړی له ډگر نه سر لوړی راستانه شی، موږ به د کور په څلورو دیوالونو کی ستاسو د عزت او آبرو ساتنه کوو، خپلو ورونو ته ووایی چی میدان ته ووزی، د دښمن غشی دی په تټر وخوری او تاسو به په هغوی فخر او ویار کوی، خپلو زامنو ته ووایی چی که تاسو بی زړه شوی او وینه مو د شاله خوا په تپ تویی شوه نو د قیامت په ورځ به موږ د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د رحمت لمن ونیسو او ورته وایو به چی یا رسول الله : زموږ د زامنو شفاعت مه کوه، هغوی زموږ د شیدو وقار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی ساتلی.

د ثریا غږ له خیمی نه بهر تر لری لری اوریدل کیده پر طاهر او تیمور ملك سربیره نور سپاهیان او افسران یو د بل په اشاره د خیمی نه بهر راتول شوی وو خو یې هك پك ولاړ وو او خپلو د احساساتو له زوره ژړل.

ثریا چې چوپه شوه تیمور ملك له بهر نه په لوړ آواز وویل : درنی خوری! ستا دپر وروسته بهر ولاړ دی، په دوی کی خو یې داسی دی چې د تاتاریانو د نامه په اوریدو یې پښې په لرزه شی، ته دوی ته هم حوصله ورکړه.

ثریا په ریړدیدلی غږ ځواب ورکړ:

څوك چې له تاتاریانو نه ویریږی زه هغه خپل ورور نه‌ښم بللی، هغوی ته ووایه چې هیڅ یوه نجلی به چې د یوی مسلمانی مور پی یی رودلی وی دی ته تیاره نشی چې داسی بی همته ته ورور ووایی.

که دوی په خپله ذمه واری کی سستی وکړه نو موږ به خپل ټیګری ور واغوندو او د دوی زنګ وهلی توری به اوچتی کړو د تاتاریانو په مخکی به سینی سپر کړو.

زموږ مینه او اطاعت د میړنیو لپاره ده د بی همتو لپاره نه، که دوی زموږ د اېرو ساتنه نشی کولی نو د قیامت په ورځ دی د خدای (ج) د غیرتی بندګانو په کتار کی د دریدو تمه نه کوی، د اسلام لونی که نن چاته ورور وایی نو هغه به د محمد بن قاسم «رح» په څیر غازی وی، چې د قوم د یوی لور په فریاد یی په اوولس کلنی یو هیواد فتحه کړ، په هغه ورځ به هره مسلمانه میرمن خپل بی همته میړه هیر کړی د خپلی هغی خور په میړه به فخر کوی چې چپنه یی د شهادت په وینو رنګ وی، په هغه ورځ به مسلمانی مینډی وایی چې زموږ زامن هغه بی همته او بی زړه نه دی چې د غلیم د توری واریی پر خپل تټر وانه خست، زموږ زامن هغه غازیان دی چې میړانی یی مسلمانی سپځلی د ټولی نړۍ په سنګر کی سر لوړی کړی. که دوی غواړی چې موږ یی په ویاړ خپل ورونه وېولو نو دوی ته سنایی چې پر خپلو چپنو د شهادت د وینو خاپونه راوړی، موږ ته دی خپل بدنونه راوښیی چې په تورو اونیزو تپی وی.

ثریا چې خبری پای ته ورسولی سنګی ورغلی او هره یوه بیله بیله ورتر غاړی وتله، له خیمی نه بهر تیمور ملك طاهر ته ویل:

تر څو زموږ په اولس کی داسی لونی وی موږ به د اسلام له دښمنانو سره تر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیرپو پیرپو جگړی وروسته هم ماته ونه منو، طاهره! ته ډیر نیکمرغه یی، زه دعا کوم چې ستاسو د ژوند لاری بلخ ته په رسیدو بیلی نه شی. د خپلو اوچتو ارادو د بشپړیدو لپاره چې تاته د ژوند د کوم ملګری ارتیاوه درته پیدا شو، ته دا تل د ځان ملګری کړه.

طاهر چوپ ولاړ ؤ، د هغه په غوږو کې لا د ثریا د غږ انګازې وې، دې په تصور کې له ثریا سره په یوه لوړ برج ناست ؤ او لاندې یې په لکونو تنو ته د جهاد درس ورکاوه، د خیال په یوه بل ټوپ دې د یوې غونډې لمنې ته رسیدلی ؤ، هلته چې طبیعي ګلان غوړیدلی وو، خوږې وړمې چلیدې او د غرنیو خوږونو اوبو د نه ختمیدونکې خوښۍ سندرې ویلې، ثریا دلته هم ورسره وه، او هغه د خوږ په غاړه په ګلبوتو کې ډډه وهلې وه او زړه وړونکې سندره یې اوریدله.

د سترګو په رپ کې بیا دې د جګړې په میدان کې ؤ او ثریا یې پر زخمونو پټې ور ایښودلې. له ډیرو ورځو وروسته یې یوه بله ټجلی په خیال کې وروګرځیده، هغه صفیه وه، ځکه چې د صفیې او ثریا یو څو ځانګړې صفتونه سره شریک وو، او یا د دې لپاره چې له ثریا نه وړاندې ډده په ذهن کې د صفیې تت غوندې تصویر ؤ، د صفیې په اړه ډه له دې زیات څه تصور نه ؤ کړې چې د هغې له ډه سره ډیره زیاته خواخوږي او همدردي ده، یوه داسې خواخوږي چې د څه بخښنې ارتیا نه لري، ده په زړه کې له څه ځانګړې احساس پرته د صفیې په اړه سوچ کولای شوای، خو د ثریا په اړه د ده احساسات بلکل بدل وو، هغې د خپل بې پایه تسخیروونکې ځواک سره د ده پر زړه او دماغ غلبه کړې وه، خو بیا هم دې داډه ؤ چې په بلخ کې به یې لاری سره جلا شی او ډده په زړه کې به یوازې ښکلی یادونه پاتې شی او دغه یادونه به یې هم ښایی تر ډیره پریشانه نه کړی.

تیمور ملک تر لږ ځنډه هغه ته په ځیر ځیر وکتل بالاخره یې وویل: ته ولې اندیښمن یې؟ که غواړې زه به دې په دې معامله کې ملګرتیا او لارښوونه وکړم.

نه، نه! طاهر ټکان وخوړ ویې ویل : اوس نه تر اوسه زما د ژوند ددې خبرو مهال نه دی راغلی.

*****

(۵)

د سهار د اِنجلې نه وروسته ثریا او اسماعیل د سفر تیاري ونیو، تیمور ملک دوی ته د ستومانه اسونو پرځای دري تازه نفسه اسونه ورکړل، طاهر د بیت المال

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشرفی تیمور ملك ته وسپارلی، تیمور د لاری پهره دارانو ته دا لیك ولیکه چی دوی ته په لاره کی چی څومره امکان لری دومره اسانتیاوی برابری کړی، پردی سربیره یی تر دوو پراوونو مزله پوری د خطر احساس کاوه له دوی سره یی د سپرو ساتونکو یوه ډله واستوله.

د رخصتیدو په وخت کی طاهر ته تیمور ملك لاس ورکړ ویی ویل : زما دا لیك به نه یوازی تر بغداده ستا د رسیدو په لاره کی په کار درځی بلکی که د وضعی نه مجبور شی چی بیرته دلته راشی نو دا به دی د بیرته راستنیدو په وخت هم په درد وخوری، دا ښه درسره وساته، بیا یی ثریا ته مخ واړاوه ویی ویل :

زما خوری! تاته به په لاره انشاءالله هیڅ تکلیف نه وی ستا د لاری ملګری یو داسی زلمی دی چی یو ځل یی زما ژوند ژغورلی دی.

: زه هغه پیژنم، ثریا دا وویل او طاهر ته یی وکتل بیا یی سترګی ښکته واچولی، د دی په څیره کی دهسیا سرخی ویل : ته دی له مانه ښه نه پیژنی.

له ټولی ورځی مزله وروسته ماښام مهال دوی یوی چوکی ته ورسیدل، دوهمه ورځ یوه ښار ته ورسیدل طاهر ساتونکی سپاره بیرته رخصت کړل، د ښار حاکم چی د تیمور ملك لیك ولید د دوی یی ښه خدمت وکړ، سهار چی کله ثریا د ښار د حاکم له کوره راووتله نو د نارینه ؤ پرځای یی د ښځی جامی اغوستی وی.

کله چی دوی پر اسونو سپاره شول او له ښار نه ووتل نو ثریا په شرمناکه لهجه وویل : ما جامی څکه بدلی کړی چی نور مونږ ته خطر نشته، ما اوریدلی دی چی تاتاریانو په خپل ټول زور د بخارا او سمرقند په لور مخه کړی ده.

طاهر وویل : څکه خو زه غواړم چی زر تر زره بغداد ته ځان ورسوم.

ثریا وویل : ته زما په خاطر څنډیږی خو ماته نور په لاره کی خطر نشته، که ته مناسبه بولی نو زه به د راتلونکی ښار له حاکم نه وغواړم چی ما بلخ ته واستوی، ته له هغه ځایه نیغ بغداد ته روان شه. خو اسماعیل زر وویل:

: نه، نه! زه تا له بلخ نه وړاندی نه پریږدم چی ولاړ شی. دا اصلاً د ثریا د زړه غږ ؤ، طاهر وویل : ښه ورورکیه، زه تر غزنی پوری ستا سره تلو ته تیار یم.

اسماعیل وویل : خدای دی ما له بلخه وړاندی په تلو نه مجبوروی پر اس د زیات سپریدو په سبب می پسنی شلی شوی دی، مګر په بلخ کی به ته څو شپی زمونږ میلمه وی.

طاهر څواب ورکړ : داسی نشی کیدای د بلخ دروازی ته چی ورسیدو زمونږ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاری به سره بیلیږی.

اسماعیل وویل : ته زمونږ سره د بابا تر کوره نه څی؟

: کاشکی له ما سره وخت وای.

: اسماعیل مایوسه شو وبی ویل : ته بیا بیرته کله نه راځی؟

: د اسماعیل په دی پوښتنه د ثریا زړه په درزا شو، طاهر له لږ دوه زړه توب وروسته ځواب ورکړ : که زما په ژوند کی د فرصت څه شیبی راغلی نو انشاء الله خامخا به راشم.

نو بیا خو په بلخ کی زمونږ کور خامخا ووینه او بیا ولاړ شه.

: ستا د بابا نوم څه دی؟

: عبدالرحمن.

طاهر او اسماعیل تر دیره خبری سره کولی او ثریا په زړه کی په وار وار د طاهر دا خبره تکراروله: که په ژوند کی کله ماته فرصت په لاس راغی نو انشاء الله خامخا به راځم.

او د هغی زړه په وار وار دا پوښتل چی آیا دا خبره هغه یوازی د اسماعیل د تسلی لپاره کوله او که نه ده ته معلومه ده چی له اسماعیل نه پرته بل څوك به زیات له بغداد نه د راتلونکو قافلو په انتظار وی تر اوسه پوری د طاهر له خولی داسی خبره دی نه وه اوریدلی چی دی ته دا ښکاره شوی وای چی د ژوند د لوړو منزلونو په لور د گام اوچتولو سره به د طاهر په زړه کی د لاری د یوه ورك منزل د ملگری یاد پاتی شی.

دی د طاهر په لوړو ارادو او هدفونو ویاړ کاوه، دی په هر لحاظ طاهر د، درناوی وړ باله، پردی خبره خوښه وه چی هغه د میړانی جوهر او کمال لری، د هغه په سترگو کی سپیڅلتیا، شرافت، او میړانه ځلیده، په ده کی ټول هغه څه موجود وو چی د اولس ورته اړتیا ده، او له دی سره ده هر هغه څه هم درلودل چی ثریا یی هیله کولای شوه.

*****

(٦)

څومره چی منزل ته نژدی کیدل هومره د دوی په زړونو کی اندیښنه زیاتیدله، ښایی دواړو به دا شکایت درلود چی تر اوسه ولی یو د بل د زړه له کیفیت نه بی خبره دی، دوی یو بل لیدل غوښتل، خو سترگو یی د پورته کتو نه انکار کاوه، د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ژبو څه ویل غوښتل خو ژبی یی گونگی وی.

بالاخره یوه ورځ دوی په هغه ځلور لاری ودریدل چی د بلخ او بغداد لاری سره بیلی شوی وی. د اسماعیل اس څو گامه وړاندی ؤ هغه شاته راوګرځید او ویی ویل:

تاسو ولی دریدلی یاست راځی که نه!

طاهر وویل : ودریږه اسماعیله.

: زه نور پر اس نشم سپریدای دایی وویل او له اس نه پلی شو اس یی تر جلب ونیو او په یوه تیږه کښیناست.

ثریا طاهر ته وګرځید او ویی ویل : د ده زړه داسی دی چی ته تر کوره راسره ولاړ شی.

طاهر وویل : ته زما له خوا دی وپوهوه زه به له دی ځایه تر مانښامه یو پراو مزل وکړم.

ثریا په غمجنه لهجه وویل : زه به یی وپوهوم.

: سبه نو د خدای پامان!

د ثریا شونډی ورپیدی، د خدای پامان ویلو هڅه یی وکړه خو ستونی یی بند شو، ژبه یی ودریده او په سترګو کی یی اوښکی ډنډ شوی.

طاهر د آس د جلب د ګرځولو اراده وکړه خو په لاسو کی یی سیك نه ؤ

: ولاړ شه! ثریا وویل ،راو بیا یی له سترګو اوښکی وڅڅیدی.

طاهر وویل : ثریا! هغی ونی ته وګوره د تولو ونو پانی رژیدلی دی خو هغه شنه ولاړه ده.

ثریا مخ بل لوری ته واړاوه، طاهر وویل اوس ماته مخ راوګرځوه، زه له تا سره څه خبری کول غواړم.

ثریا وویل : ووایه! که ته زما د اوښکو تر اغیزی لاندی راغلی.وی نو باور وکړه دا د مننی او تشکر اوښکی دی، زه خپل مرستندوی ته له اوښکو پرته څه هدیه کولی شم!

طاهر وویل : ثریا ته داسی فکر مه کوه چی زه ستا له احساس نه خبر نه یم او دا ګومان هم مه کوه چی زما په زړه کی ددی اوښکو هیڅ قیمت نشته، زما له سپینو خبرونه غلط مطلب وانه خلی، زه دا ددی لپاره وایم چی په دی له فتنو نه ډکی زمانی کی د ویلو او اوریدلو فرصت په وار وار نه برابریږی. زه سبا ته د بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدو په تمه نن له تانه خدای پامانی اخلم، کیدای شی هغه سبا دیر زر راشی او دا هم کیدای شی چی ددی سبا په انتظار څو کلونه تیر شی، او دا هم امکان لری چی دغه سبا بلکل رانشی په هر صورت که تقدیر د ژوند په کومه څلور لاری کی یو حُل بیا سره یوځای کړو نو زه به د ژوند تر وروستی پراوه ستا ملګرتیا د تقدیر یو دیر ستر انعام ګنم. سمدستی زه تاته ددی ویلو ضرورت نه وینم چی زما مسئولیت ما بغداد ته ورېولی او له هغه وروسته به د تاتازیانو د مقابلی لپاره د خوارزم هر مورچل ته ځان رسول خپل فرض ګنم، ته د هغه وخت لپاره دعا کوه چی زه د فتحی خبر بلخ ته درته راوړم، چی زما چپنه په وینو رنګ وی او زما پر بدن د تپونو نخښی او داغونه وی.

ثریا مخ ور واړاوه طاهر ته یی وکتل او ویی ویل : زه به ستا انتظار کوم، کاشکی ما په هغو مورچلونو کی ستا ملګرتیا کولی شوای، ددی په سترګو کی د امید ډیوی بلی وی او طاهر احساسوله چی سپوږمی د وریځو له پردوڼه ناڅاپه راووتله، له یوی شیبی چوپتیا وروسته ثریا بیا وویل : اوس زه له تانه یوه هیله کوم.

: ووایه!

: د بابا تر کوره خامخا راسره ولاړ شه، زه یو حُل یوازی هغه دروازه تاته درښیم چی ستا په انتظار به تل خلاصه وی، او چی ته کله بلخ ته بیرته راشی نو زموږ د کور هیڅوک هم دا ونه وایی چی ته کوم پردی او نا آشنا څوک یی.

ته زموږ له بابا سره وګوره، هغه به خوښ شی، زه وعده درسره کوم چی که نن نه وی نو سبا سهار ته به دی خامخا، رخصتوو، زما باور دی چی ته زما لپاره د دوو ورځو مزل په یوه ورځ کی کولی شی.

طاهر وویل : درځی!

اسماعیل په ورو ورو شګو یوه ډبره نخښه کړی وه او پری ویشتله یی طاهر او ثریا یی چی ولیدل ورنژدی شول جګ شو او پر اس سپور شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرتیری او سوداگر

شیخ عبدالرحمن یو چاغ او د ډیرو شتو خاوند سړی ؤ، د هغه مانی د بلخ د څو شاندارو مانیو نه یوه وه، دده د سوداگری کار او بار تر لری لری هیوادونو پوری غځیدلی ؤ، د سوداگری قافلی یی له بخارا او بغدا نه تر ډیلی پوری تلی راتلی، د ده د هستوګنې د کور ترڅنګ په یوه لوی او پراخ بل کور کی د ده دفتر ؤ.

پر خوارزم د تاتاریانو د حملی نه وروسته هغه د کار او بار په راتولولو مجبور شوی ؤ د بخارا او سمرقند نه ده ته ډیر د اندیښنی وړ خبرونه راتلل، څو اونی وړاندی یی بلخ خوندی باله او خپل مال او شتمنی یی دلته راتول کړل، خو اوس یی خپل قیمتی مالونه غزنی ته استول.

طاهر یی چی په کومه کوته کی ایسار کړی ؤ تهوله په قیمتی غالیو پوښل شوی وه او د اطلس او کمخواب پردی یی پر کړکیو راځړیدلی، هغه له اسماعیل سره په نژدی جومات کی د ماښام لمونځ ادا کړ او د ښار د ګنبی ګونبی نه د ډک بازار له لیدو وروسته بیرته راستون شو.

هغه له اسماعیل سره خبری کولی چی کوتی ته یوه معمره ښځه «حنیفه» ورننوته، اسماعیل ژر جګ شو ویی ویل : انی راغله!

طاهر هم زر له خپل ځایه جګ شو او په ادب ودریدل، د حنیفی له سترګونه د غم او خفګان چینی خوتیدی، چی راغله بیله څه مقدمی یی وویل : زه ستا مننه کوم، تا په موږ ډیر لوی احسان کړی دی خدای (ج) دی اجر درکړی.

طاهر ځواب ورکړ : زه ځان د مننی حقدار نه بولم، دا زما ذمه واری او مسئولیت ؤ، زه د اسماعیل په پلار ډیر خفه یم.

حنیفی سر پورته کړ ویی ویل : هغه مړ شوی نه دی شهید دی، له هغه نه زما همدا هیله وه، ماته ثریا وویل چی ته به سهار وختی بغداد ته روانیږی، زه تاله ضروری کارنه نه ایساروم. خو که دی بیا په دی لاره کله مخه شوه نو دغه کور خپل کور وبوله، کله چی بغداد ته ورسیږی دا مه هیروه چی په بلخ کی یوی عربی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور تاته زوی ویلی دی.

بیا یی اسماعیل ته وکتل ویی ویل : زویه ستا بابا احوال کړی ژ چی زه بد له میلمه سره دوډی خورم، خو دیر زیات انتظار مه کوه، هغه ته زیات سوداګر راغلی دی امکان لری دلته راتګ یی هیر شوی وی، له کوتی نه د وتلو په وخت کی حنیفه بیا د کوتی په وره کی ودریده او طاهر ته یی وویل:

زویه ! سهار له رخصتیدو نه دمخه زما دعاخامخا درسره واخله او بیا روان شه.

لږ ځنډ وروسته له بلی نڅدی کوتی نه چا اسماعیل ته غږ وکړ او د طاهر په زړه کی درزا پیل شوه دا د ثریا غږ ژ.

اسماعیل د دروازی نه پرده لری کړه کوتی ته ورننوت او لږ ځنډ وروسته بیرته راغی ویی ویل : د خورجانی ګومان دی چی بابا جان ښایی ناوخته شی راځی تاسو دوډی وخوری.

طاهر وویل : آیا دا به غوره نه وی چی لږ نور انتظار وکړو؟

اسماعیل ځواب ورکړ : د بابا هیڅ درک نه لګی، انا وایی چې هغه کله کله تر نیمو شپو پوری په دفتر کی بوخت وی.

: دیر ښه! طاهر دا وویل او جګ شو له اسماعیل سره بلی کوتی ته ننوت.

*****

(۲)

په دسترخوان رنګ رنګ خواړه کتار شوی وو، یو حبشی غلام لاس په نامه په یوه ګوښه کی په ادب ولاړ ژ، دغه دسترخوان د بغداد د کوم امیر له دسترخوان نه کم نه ژ.

طاهر چی کښیناست له اسماعیل نه یی وپوښتل: نور میلمانه هم راځی؟

هغه ځواب ورکړ : نه د نورو میلمنو دوډی یی بهرنی میلمستون ته ور استولی ده، خور می ویل چی ته استراحت ته اړتیا لری، هغو خلکو به ټوله شپه له تانه پوښتنی کولی څکه یی ستا لپاره دلته بندوبست وکړ.

د دوډی له خوړولو وروسته طاهر له اسماعیل سره جومات ته ولاړ او د ماسخوتن لمونځ یی ادا کړ بیرته کوتی ته راستون شو اسماعیل ته یی ویل : اسماعیله! اوس به تا ته خوب درځی ولاړ شه ویده شه.

اسماعیل جګ شو د کوتی تر دروازی ولاړ خو بیا یی څه په زړه کی وګرځیدل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرته راوګرځید طاهر ورته وویل : ولی څه خبره ده؟

اسماعیل وویل : زه ویریږم چې ویده به می پریږدی او ولاړ به شی، طاهر هغه ته تسلی ورکړه وې ویل : زه به له تا سره وینم او بیا به روانیږم، ورځه ولاړ شه.

اسماعیل داده شو او بهر ته ووت.

خادم په نغری کی پر اور نور لرګی ور واچول او طاهر له کرسی نه جګ شو په بستره ځملاست، لایی سترګو ته خوب نه ژ ورغلی چې اسماعیل بیا راغی ورته وې ویل : بابا می ستا د لیدو لپاره راځی:

طاهر جګ شو کښیناست، لږ ځنډ وروسته یو لنډی مرنډی سړی کوټی ته ورننوت طاهر زر جګ شو او لاس یې ورکړ!

شیخ عبدالرحمن دوه دری ځلې له سره تر پښو پر طاهر نظر وزغلاوه او بیا یې له څه مقدمې پرته وویل:

: ستا نوم طاهر دی؟

: هو صیب!

: عرب یی؟

: هوکی!

د تاتاریانو د حملی پر وخت په قوقند کې وې؟

: هوکې!

: تا هلته څه کول؟

: زه د تیمور ملك یو سپاهی وم.

: عبدالرحمن په خواشینی سره وویل : هغه بدنصیبه هم یو سپاهی ژ.

: څوك؟ طاهر وپوښتل.

: نصیر الدین، ددغو هلکانو پلار، ما خپلی میرمنی ته ډیر وویل چې زما لور یوه سرتیری ته مه واده کوه، کله چې هغه غریبه مړه کیده دغه ښاغلی په مصر کی د نصرانیانو پرخلاف په جګړه بوخت ژ، بیا یی د خوارزم شاه د خدمت جذبه پر سر کیوته، اوس د هغه د اولادونو انا ژاړی، د داسی زوم په اړه له دی پرته د بل خبر راتلو ته کیدای شی؟

سپاهی یا په جګړه کی مری او یا تپی کیږی اوس له ژړا څه ګټه؟

طاهر ځواب ورکړ : ویښتی د قوم د سرښندویو سپاهیانو په اړه زما نظر ستا له نظر سره یو شان نه دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرحمن وویل : ته بډه مه ګنه مانه غوښتل په دی اړه بحث وکړم زه یوازی دومره پوهیږم چی عمر می ٦٠ کاله دی او تر اوسه می پر بدن یو وړوکی زخم هم نشته، زه یو ځل له یوه سرشوخه اس نه لویدلی یم، له هغه وروسته تر اوسه پوری پر اس له سپریدو وړاندی د اس حسب او نسب پوښتم، خو زه هغه ځوانانو ته حیران یم چی په وار وار له تپی کیدو وروسته بیا هم د تورو سره لوبیدل خوښوی.

طاهر وویل : د قوم عزت او آزادی یوازی د همدغسی ځوانانو په برکت دوام کوی، که د اولس ټول خلك ستا غوندی پر بدن د «ګریدو» نه وویریږی نو تاتاریان به په دی ځمکه موږ ته ساه اخستل ګران کړی

: ته غلط پوه شوی، زه له عادی سر تیرونه نفرت نه لرم، زما یوازی له هغو خلکو نه ګیله ده چی په کور کی آرام وی خو دوی د خپلو عزیزانو او دوستانو د ژړولو لپاره د جګړی ډګر ته روانیږی، نصیر الدین له داسی کسانو څخه ډ.

طاهر وویل : د قوم د عزت او ازادی لپاره جګړه د هر سړی ذمه واری ده، دلته د خاص او عام خبره نه ده، د خدای (ج) په وړاندی د امیر او غریب د وینو قیمت یو دی بلکی زه خو وایم چی که اولس آزاد وی نو امیران زیاته ګټه تری اخلی، ځکه خو د قربانی په وخت دوی باید له قوم نه وروسته نه بلکی وړاندی وی.

عبدالرحمن په بحث کی بی ځوابه غوندی شو او د موضوع د بدلولو لپاره یی اسماعیل ته وویل : اسماعیله بچوا! ته ځان سرتیری کوی او که سوداګر!

: زه به سرتیری وم خو سوداګر به هم وم.

عبدالرحمن پریشانه شو طاهر ته یی وکتل او ویی ویل : ماته معلومه شوه چی ته سبا ته روانیږی!

: هوکی! زه نن روانیدم، خو ستا د لیدو په شوق پاتی شوم

: ډیر ښه، زه به سهار خامخا درسره ګورم دایی وویل او اسماعیل یی تر مټ ونیو او بهر ته ووت.

د بالاخانی پر زینو چی خوت بابا لمسی ته په لوړ غږ ویل : بی عقله ما خوارزمشاه ته دوه لکه دیناره وراستولی دی، په دی پیسو هغه زیات پوځیان وربللی شی، زما مقصد د سرتیرو توهین نه ډ، زما مطلب دا ډ چی سوداګر هم د خپل کار او بار په سمبالولو د هیواد او قوم ښه خدمت کولی شی، که ستا پلار د خوارزم شاه لپاره د وینو ورکولو پرځای زما سره د سوداګری په کار او بار کی لاس کړی وای نو زموږ کار او بار به په لکونو دیناره نور هم پرمختګ کړی ډ او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوارزم شاه ته به مې زياته مرسته ورکړی وه.

اسماعيل ويل : پلار جان مې د خوارزم شاه لپاره سرنه دی قربانی کړی، هغه زموږ د عزت او آزادی لپاره سر ورکړی دی، عبدالرحمن له غوسی نه په ډکه لهجه ويل : ځکه خو يی ته يوازی پريښودی او ولاړ، د خدای (ج) شکر باسه چی دغه ځوان يی مرستی ته درولیږه، که نه نو معلومه نه ده چی پر تاسو به څه راتلل مګر تاته دا بحث چا درښودلی راځه!

طاهر د دوهم ځل لپاره په زينه کی د هغوی د پښو غږ واورید او بيا موسکی شو او په بستره وغځيد.

*****

(۳)

سهار چی طاهر له جومات نه بيرته راوګرځيد اسماعيل په کوټه کی ډ ورته ويی ويل : په بله کوټه کی سبا ناری تيار دی!

طاهر چی له سبا ناری نه وزګار شو يو نوکر ورته ودريد ويی ويل : صاحب دی غواړی!

طاهر د اسماعيل په لاربښوونه له کوټی نه راووت يوی پراخی برنډی ته ووت څو ګامه لری په يوه زينه وخوت.او د دوهم پوړ يوی ښايسته کوټی ته ننوت.

عبدالرحمن يوی تکيی ته ډډه وهلی وه په مخ کی يی په يوه زرين پتنوس کی يوه کڅوړه وه، ورجګ شو طاهر ته يی لاس ورکړ او بيا يی له ځانه سره نژدی کښيناوه ويی ويل:

ستا آس چمتو دی، ثريا ويلی چی ستا يوه ورځ ضايع شوه، ځکه خو زه له خپلی طبيلی نه غوره اس درکوم، ما د ښار له والی سره هم ليدلی دی، هغه د لاری د پهره دارانو لپاره دا ليک راکړی دی وايی خله.

طاهر د عبدالرحمن له لاسه د والی ليک واخست ويی ويل : ډيره مننه! خو زما سره ذ تيمور ملک ليک ؤ.

ماته ثريا وويل : خو د تيمور ملک ستوری په دی ورځو کی سرګردان دی، زما سره ويره وه چې ښايی د بلخ د والی سپاهيان د هغه ليک ته څه ارځښت ورنه کړی، د ثريا دا انديښنه هم وه چی که تا د تيمور ملک ملګری وښولی نو د پهری پرسر سپاهيان به ډول ډول پوښتنی درنه وکړی او ستا ډير وخت به ضايع کړی.

طاهر جګ شو ويی ويل : زه ستا ددی زحمت مننه کوم ، نور ماته اجازه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکړی!

: ودریږه! عبدالرحمن له زرین پتنوس نه کڅوړه راپورته کړه او د خپل درونډ وجود توازن یې برابر کړ جګ شو ویې ویل : زه ستا د زحمتونو انعام نشم درکولی خو زما له خوا دغه سوغات ومنه.

د طاهر په ښکلی او پراخه تندی وړې وړې ګونځې را پیدا شوې د عبدالرحمن له لاسه یې پتنوس واخست پر ځمکه یې کښیښود او کڅوړې ته یې اشاره وکړه ویې ویل:

په دې کې څه شی دی؟

: دوه زره اشرفی! که یې ته لږ بولی نو دوه چنده به یې کړم.

: زما په اړه ستا ګومان غلط دی، ماته اجازه راکړه، دایی وویل او بیا یې د خدای پامانی لپاره عبدالرحمن ته لاس ور اوږد کړ، خو عبدالرحمن پریشانه شو په دواړو لاسو یې خپله چپنه موښله.

: ته خفه شوی، څه ډول بد ګومانی! زه ستا د هرې لویې هیلی پوره کولو ته تیار یم، زه به د ثریا او اسماعیل د وزن په اندازه غمی درکړم، د احسان او نیکی بدل نیکی ده، ته په پراخ زړه وغواړه زه به یې په پراخ زړه درکړم، پر خدای (ج) سوګند چې د ثریا او اسماعیل د ژوند ژغورونکی به زما له کوره خفه ولاړ نه شی، زه یو عرب یم.

طاهر وویل : ما ستا لپاره هیڅ نه دی کړی، که می څه کړی هغه زما مسئولیت ؤ، که ته عرب یې زه هم یو عرب یم، خو تر عربی پخوا دواړه مسلمان یو، او مسلمان د چا اخلاص په پیسو نه تلی.

عبدالرحمن اوس خپله چپنه ډیره زیاته ګرولې، هغه څه ویل غوښتل خو د شا د کوټی پرده وخوځیدله، ثریا ناڅاپه راښکاره شوه او د عبدالرحمن لاس یې ونیو.

بابا جانه! ثریا په ویریدلی لهجه زیاته کړه : انا دی غواړی عبدالرحمن بیله دی چې څه ووایی د ثریا سره د شا دروازی په لوری ولاړ، ثریا تر دروازی ورسره وه بیا ودریده یوه شیبه یې چوپه خوله طاهر ته وکتل او چې د پردی تر شا یې د دروازی بندیدو غږ واورید نو په غمجنه او هیله منه لهجه یې طاهر ته وویل : زه له تانه بخښنه غواړم، ما تولی خبری واوریدی هیله کوم چې زما بابا جان به یو ساده سوداګر وبولی او غلطی به یې ورمعاف کړی. هغه له سوداګری پرته نور په هیڅ نه پوهیږی، هغه ته توله نړۍ یوه منډه یې ښکاری، هغه چې د شپې پر آسمان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدونکی ستوری وینی هم گومان کوی چی هغه به په خپلو کی څه معامله کوی. د خدای (ج) په خاطر ته له دی ځایه خفه مه څه! دا زما غلطی وه، ماته نه وه معلومه که نه ما به پوه کړی وای، ووایه ته د هغه غلطی وربخښنی که نه... زما لپاره؟

طاهر وموسکل او ثریا احساس کړه چی د ذهن له آسمان نه یی د غم وریځی لری شوی. هغه ورته وویل : ثریا! ته ولی پریشانه کیږی؟ ستا لپاره په زهرو ککړ غشی هم په تټر خوړلو ته تیار یم، او ستا بابا جی خو ماته هیڅ هم نه دی ویلی. زما په زړه کی د هغه زیات عزت دی هغه په خپل نظر کومه بده خبره نه ده کړی. فرض کړه که له ما سره څه نه وای زما د ارتیا احساس د هغه ذمه واری نه وه؟ ثریا موسکی شوه، او د موسکا سره یی اوښکی په سترګو کی راغلی.

طاهر په یوه وخت کی ددی په سترګو کی اوښکو او په شوندو موسکا ته حیران شو، هغه د لمر لومړنیو وړانګو ته ګلان لیدلی وو چی راپاڅیدل، هغه د ګلاب پر پاڼو د پرخی غمی لیدلی وو، خو د ثریا سترګی په پرځه کی تر لمبیدلیو ګلانو ډیری زړه وړونکی وی د هغی شوندی د لمر وړانګو ته ترغوړیدونکو غوټیو زیاتی په زړه پوری او ښکلی وی.

یوه زړه وړه نجلی د مرګ په وړاندی خندلی شی، خو د ناڅاپی خوښی پیغام چی واوری کله چی په موسکا شی نو سترګی یی بی اختیاره د اوښکو خزانی شیندی.

ثریا وویل : ته لږ څنډ دلته ودریږه، باباجان به دی خدای پامانی ته راشی، اسماعیله پری یی نژدی چی ولاړ شی. ثریا له کوټی نه راووته او د هغه کوټی په دروازه کی ودریده چی بابا او انا یی سره ګړیدل، ثریا ودریده د دوی خبرو ته یی غوږ ونیو او چی د هغوی خبری یی واوریدی په خپلو باړخو ګانو او غوږونو کی یی تودوخه احساس کړه.

شیخ عبدالرحمن ویل : ثریا هم دا غواړی!؟

د ثریا انا ځواب ورکړ : که ثریا داسې نه غوښتلی نو ما به هغه احمقه بللی وای، ته پخپله فکر وکړه که ته د ثریا پر ځای وای، نو ستا په زړه کی به ددغه ځوان په اړه یوه نه لری کیدونکی هیله نه راپورته کیده؟

عبدالرحمن له لږ فکر وروسته وویل : په دې کې شک نشته چې هغه ډیر نیک خویه دی، په دې کی هم شک نشته چې شریف دی، د لوړ نسب ښکاری، سترګی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې مړې دی، خو که د ثریا پرځای زه وای نو دواده لپاره به مې د داسې ځوان غوره کولو حماقت نه کاوه چې تل سر په تلې کې ګرځې، په هر صورت اوس زما باور شو چې ته که نن نه وی نو سبا ته، که سبا نه وی نو بله ورځ به د ثریا په اړه پر ما خپله پریکړه منې ځکه خو زه وسله ایږدم، ته دا ده اوسه، زه همدا اوس ورځم، خو هغه تللی نه وی.

عبدالرحمن په زوره غږ کړ: اسماعیله، اسماعیله!

د اسماعیل غږ راغی : څه وایی؟

: میلمه شته دی!

: هوکی!

: ورته ووایه لږ ودریږه زه اوس درځم.

حنیفی وویل : مګر د خدای (ج) لپاره نوره سادګی وته کړی، هغه په غوسه شو ویې ویل : ته اوس هم ټینګار کوی چې د اشرفیو ور وړاندی کول زما ناپوهی وه.

حنیفی ځواب ورکړ : ناپوهی نه وه نو څه وو؟

: په خدای (ج) سوګند چې له کومې ورځې په سبه بده پوه شوی یم دا می لومړی سړی لیدلی چې له دولت نه کوکه لری.

: بنه اوس د خدائ لپاره ورځه خو سم پام کوه بیا غږیږه.

: نو ستا په ګومان زه هسې بې پامه لګیا یم! په خدای(ج) سوګند په وینا کې یوازی ته یې چې ما پر خپل عقل قایله نکړای شوی، په بلخ، سمرقند، او بخارا کې داسې شاعر نشته چې زما په ستاینه کې یې بوللی نه وی ویلی.

: که دی نن کومه غلطی ونه کړه نو د تل لپاره به زه هم ستا په هوښیاری اعتراف وکړم.

: نو بیا دروازی ته نژدی کښینه او زما خبری واوره.

ثریا له خپلې هیلی زیات څه واوریدل د یوی سارایی هوسې په ځیر له کوټې نه وتښتیده، او خپلې کوټې ته ولاړه، په لوبه هنداره کې یې خپله ځیره ولیدله، د هغې بارخوګان تك سره اوښتی وو، زر یې قلم او کاغذ را واخیست پر قالینه کښیناسته او په لیك بوخته شوه، دا ددی لومړی لیك ؤ.

*****

(٤)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرحمن په بله کوټه کې له طاهر سره ولاړ ؤ، هغه اسماعیل ته وکتل، ویې ویل : زویه! ته د لږ ځنډ لپاره بهر ته ووزه، اسماعیل جګ شو په برنده کې ودریدو عبدالرحمن طاهر ته وویل :

کښینه زویه! په تا ناوخته کیږي خو زه یوه ضروري خبره درسره کوم، زیات دی نه ایساروم.

دواړه یو بل ته مخامخ کښېناستل، عبدالرحمن وویل:

د داسې خبرو لپاره خلك لنډې او اوږدې مقدمې پدې خو ستا بیړه ده، او زه هم مصروف یم، په میلمستون کې زیات سوداګران ناست دي، زما له هغوی سره ضروري خبرې دي ځکه خو زه دغه کیسه لنډوم، ماتاته دولت وړاندې کړ تا رد کړو دی نه مانه، او که یې ریښتیا راباندې وایې زه پرې خفه شوم.

طاهر موسکی شو ځواب یې ورکړ: که ته تر اوسه پردی ټینګار کوی نو زه عرض کوم چې ته ماته کوم دولت راکوی هغه د خوارزم شاه بیت المال ته واستوه، قوم ښایی دی ته تر بل هر وخت زیات ضرورت ولري.

: زه ستا دا هیله نه ردوم، دغه پیسې به همالته واستوم خو زه درته د بل څه ویلو لپاره راغلی یم.

: ووایه!

: ستا په زړه کې تر اوسه داسې هیله شته چې ماته دی نه ده ویلې، د عبدالرحمن میرمن د پردی تر شا ولاړه وه او شونډه یې چیچله.

طاهر وویل : ته ووایه هغه کومه هیله ده؟

: خبره دا ده چې تا د خپلو اخلاقو او شرافت په سبب ځان د یو لوی انعام حقدار ثابت کړی دی.

طاهر وویل : که دغه انعام طلا او نقره نه وی نو زه به یې حاصلول خپله نیکمرغی وبولم.

: ځوانه! ولې صفا نه وایی چې ته له ثریا پرته له مانه بل څه نه غواړی؟

طاهر سترګې ښکته واچولی.

: ولې څه نه وایی؟

: شریف ځوان په داسې وخت کې څه نه وایی، حنیفی دا وویل او د پردی له شانه کوتې ته ورننوته.

طاهر په ادب ودریدو، عمر خورلی ښځی د طاهر پر سر د مینې دواړه لاس

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیول ویی ویل : ژوندی اوسی زویه! ثریا ستا ده، اوس ولاړ شه خو ژر د بیرته راتلو هڅه وکړه.

*****

(٥)

د شمال په څیر د ګرندی اس هر ګام هغه د هغی ځمکی نه لری کاوه چی د هری ذری په سینه کی یی د مینی تکانونه احساسول، د شیخ عبدالرحمن له کور او د بلخ له بازارونو نه چی راووت داسی یی احساسوله چی په دی ښار کی دی میساپر نه ؤ، د یوه بلبل په څیر چی له یوه ګل سره د آشنایی نه وروسته ټول بن خپل ګنبی طاهر ته هم د بلخ هر څه خپل ښکاریدل، لکه دی چی دلته ډیره موده اوسیدلی وی او په کلونو کلونو یی په دی فضا کی الوت کړی وی...

ثریا یی چی لومړی ځل په څیر وکتله داسی یی احساس کړه چی له پخوا یی تصویر په زړه کی ؤ، او د هغی غږ یی له کلونو کلونو راسی په غوږونو کی ګرنګیده، او خدای (ج) خبر دوی له کومه وخته سره بلد وو.

طاهر ته ناڅاپه څه په ذهن کی وروګرځیدل او په یوه لاس یی هغه کڅوړه ولټوله چی له شانه یی پر زمین تړلی وه، ښکلی کڅوړه ده پر آس د پښتی اړخو پروخت لیدلی وه او اسماعیل ورته ویلی وو چی خورجانی می دلته د خوراك شیان درته ایښی دی، له ښارنه د راوتلو پر وخت دی په خپلو خیالونو کی ډوب شو او ترڅو میله مزله پوری یی کڅوړه ور په زړه نه شوه.

دی چی ډاډه شو چی کڅوړه پر زمین کلکه تړلی ده بیرته د خیالونو په نړی ورننوت د یوه خوږ غاړی ته چی ورسید له آس نه پلی شو په یوه ډبره کیناست.

د اوبو له څښلو وروسته اس د خوږ پرغاړه پرشنو وښو کی بوخت شو، طاهر هم د لوږی احساس وکړ، ورجګ شو کڅوړه یی زر خلاصه کړه او بیرته په ډبره کښیناست، د کڅوړی له خلاصولو سره یی په یوه وریښمین دسمال سترګی ولګیدی، دسمال یی راواخست د دسمال خوږ بوی او پکی د نغښتی کاغذ احساس د طاهر زړه په درزا کړ، هغه په دسمال کی نغښتی کاغذ پرانیست، تورې او کرښې ورته ګلان شول او تر سترګو لاندی یی نڅیدل، فضا ټوله سندریزه شوه، داسی سندریزه چی تالونه یی ډیر اوچت وو، ورو ورو دغه نغمه کراره شوه او غځیدونکی ګلان بیرته تور توری او جملی شول، ده د ثریا لیك لوستل پیل کړل، لومړی ځل یی شوندی نه خوځیدلی، دوهم ځل یی شوندی وخوځیدلی او دریم ځل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی په لوړ غږ لیك ولوست: «زما مرستندویه! تا ویل چی په دی له فتنو ډکه زمانه کی په وار وار د ویلو او اوریدلو فرصت نه راځی زه دغه کړښی د همدی احساس له مخی لیکم، انا او بابا جان زما د دایمی ساتنی لپاره ته غوره کړی یی، زه ویریږم چی د خپلی ناکراری په ښودلو به ځان د یوه مجاهد د خدمتګاری کیدو جوګه ثابت نه کړای شم.

کله چی تا بلخ ته نژدی له ما سره خدای پامانی کوله نو زما په سترګو کی اوښکی راغلی وی هغه مهال ماته دا احساس له زغم نه وتلی ؤ چی دواړه به یو له بله بیلیږو او د خپل خپل ژوندانه د کتاب نوی پانی به اړوو. زما دا باور نه ؤ چی تقدیر به مو بیا په یوه لاره سره روان کړی.

اوس زه په زړه کی دا تسلی احساسوم او تاته باور درکوم چی په راتلونکی کی به ته زما په سترګو کی اوښکی ونه وینی.

زه خامخا دا وایم چی د بغداد غوندی لوی او له ګنی ګونی ډك ښار ته چی ورسیږی دغه وړوکی ښار هیر نه کړی. خو له دی سره دا دعا هم کوم چی زما خیال ستا د لوړو ارادو په مخ کی خنډ نه شی، زما یادونه ستا د پښو زنځیر نه شی، خامخا به انا او بابا تاته بلخ ته د ژر بیرته راستنیدو ټینګار کوی خو زه دا هیله کوم چی ترڅو دی په بغداد کی مقصد نه دی ترسره شوی ته د بیرته راتلو اراده مه کوه.

زما فکر مه کوه، زه تل ستا یم، تر څو لمر نړۍ ته د سهار پیغام راوړی، او د شپی مهال پر اسمان ستوری ځلیږی زه به ستا انتظار کوم، ته چی هر چیرته وی زما لپاره همدا ډاډ بس دی چی ته زما یی.

«ثریا»

طاهر لیك په جیب کی واچاوه، د هغه لوړه لری شوی وه، په نه زړه یې خو نمړی وخوړې او کڅوړه یی بیرته پر زین وتړله او پر اس سپور شو.

اس له هوا سره خبری کولی او د طاهر په غوږونو کی د ثریا دالفاظ د نغمی په څیر کړنګیدل، «ته چی هر چیرته وی زما لپاره همدومره کافی ده چی زما یی».

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملی اقدام ته بلنه

زید د پخوا په څیر د ماسختن لمانځه نه وروسته په طبیله راوګرځید، نوکران یی ورتل او د کوربوی کوتی ته راغی کښیناست، لږ ځنډ وروسته د دیوی چوپولو لپاره راپاځید خو بیا یی څه چورت وواهه د کټ نه لاندی یی لاس یو ور او د اوسپنی مزبوت صندوق یی وکوت په زوره زوره یی کولپ کش کړ او بیا ډاډه شو دیوه یی مړه کړه.

په دغه صندوق کی چی د طاهر شتمنی او د صلاح الدین ایوبی «رح» توره وه زید ته تر ځان ګران ؤ، د طاهر له تلونه وروسته هغه له کوره بهر ته نه ووت، او لوڅه توره به یی په بستره کی ورسره ایښودله او ویده کیده.

د شپی به یی چی وږوکی غږ واورید پری راویښ به شو او توری ته به یی لاس کړو د بغداد د هغو بی شمیرو غلو او لوټارانو مقابلی ته به چمتو شو چی د ده په ګومان د طاهر له تلو وروسته ددی صندوق په لټه کی وو.

لومړی څو اونی خو به یی توره په لاس ټوله شپه په ناستی په پهره تیره کړه، له هغه وروسته یی د چپرکټ پر ځای پر صندوق بستره وغوړوله خو د صندوق سور او اوږده لږ وو دیر ځله به چی په ارځ واوښت لاندی به ولویده، ورو ورو یی اندیښنه کمه شوه او بیا یی صندق تر چپرکټ لاندی کیښود، اوس د کور نوکرانو ویل چی د شپی مهال یی په خوب کی خریدل لږ شویدی.

زید اوس هم نه ؤ ویده شوی چی د دروازی ټک ټک یی واورید، او ورپسی سمدستی غږ اوچت شو، د دروازی د خلاصیدو ږغ یی هم واورید توره یی ورسره واخستله اوپه لور غږ یی چیغی کړی: څوک دی؟

چی ځواب یی وا نه ورید په تیاره کی د دروازی په لوری ور نژدی شو او په لمك کی یی غږ ونیو، یو اس له دروازی نه دننه راټلو او نوکرانو یو بل ویښول.

چا پوښتنه وکړه : زید چیرته دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زید له خوښی نه زړه په توپونو شو، دا د طاهر غږ ؤ کله چې پهره دار ورته وویل چې هغه ویده دی نو ده د څادر اغوستل هم ضروری ونه بلل زر یې دروازه خلاصه کړه او په منډه ورغی طاهر ته ور تر غاړې ووت.

: ستا په لاس کې دا توره د څه لپاره؟

: اوه ! زما له یاده ووته، ما ګومان کاوه چې کوم ډاکو راغی دا می راواخستله.

طاهر په خندا شو او زید احساس کړه چې ناڅاپه دده نه د ګیلی هغه په زرګونو جملی هیری شوی چې د انتظار په ناپایه شیبو کې به یې په یوازیتوب کې له ځانه سره تکرارولی، یوازی دومره یې وویلای شوای: ته خو روغ یې؟ تپې خو به نه یې؟ زه ډیر درته اندیښمن وم.

طاهر ځواب ورکړ : زه بلکل روغ یم.

: ما پرون له یوه نجومی نه ستا په اړه پوښتنه وکړه.

: هغه څه درته وویل؟

: اوس که هغه ماته په مخه راغی نو کتابونه به یې سیند ته ورغورځوم. دروغجن، دوکه باز، مکار!

: بیا هم هغه تاته څه وویل؟

: خدای (ج) یې دی خوار کړی، هغه ویل چې ستا ستوری سرګردان دی، او ته د تاتاریانو په زندان کې یې، او ترڅو چې د ستوری دغه سرګردانی پای ته ونه رسیږی را به نه شی. خو دغه سرګردانی به د یوه کال دننه ختمه شی، ما هغه ښی ایمانه ته خوشی پنځه دیناره ورکړل.

هغه ستا په اړه نوری هم خوشی تشی خبری راته کولی.

طاهر وخندل پوښتنه یې وکړه : څه خبری؟

زید چې نوکران بوخت ولیدل ورو یې په راز دارانه لهجه وویل: راځه دننه!

طاهر دودی پخوونکی ته وویل چې دودی تیاره کړی او له زید سره دننه ولاړ، زید دیوه بله کړه، په رڼا کې د هغه سترګو د طاهر بلا اخسته، طاهر وویل ښه هغه خوشی خبری څه وی؟

: هغه ویل چې پر تا به یوه تاتاری شهزادګی مینه شی، او د هغې سبب به د مغلو له زندان نه خوشی شی، که سبا ته په مخه راغی نو داسی درس به ورکړم چې ټول عمر ورته یاد وی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهر وویل : له مدینی نه کوم لیك راغلی؟

: احمد بن حسن پخپله راغلی ؤ، دوی هفتی یی تیری کړی بیرته ولاړ، هغه ویل چی ته بغداد ته راشی خپل احوال په لیك کی ورته ولیکه.

طاهر د خپلو دوستانو په اړه وپوښتل زید ځواب ورکړ: مبارك هره ورځ راځی ستا پوښتنه کوی، عزیز او عبدالمالك دوهمه، دریمه ورځ احوال اخلی، نور کله کله راځی، هو یوه بودی ځو ځله دلته راغلی او هغه هم ستا په اړه پوښتنه کوی.

: هغه څوك کیدای شی؟

: ماته نه ده معلومه، یوه ورځ له شا پسی ورغلم، هغه د سیند پر سر پله تیره شوه او بیا د صدر اعظم کور ته ننوته.

طاهر وویل : زه اوس یو مهم کار تاته سپارم ته همدا اوس عبدالعزیز ته ورشه ورته ووایه چی عبدالمالك او نور اعتمادی ملګری درسره راوله او دلته راشی، که هغوی ویده وی هم ورته ووایه چی ضروری کار دی باید راشی زما لیك درسره یوسه.

*****

(۲)

طاهر چی د دودی له خوړلو نه فارغ شو زید، عبدالعزیز، عبدالملك او مبارك ورسره راوستل، زید بلی کوټی ته ولاړ او ویده شو، طاهر له خپلو دوستانو سره تر دیره وخته خبری کولی.

د عبدالعزیز په نظر خلیفه، صدر اعظم او وحید الدین دری واړه په دی دسیسه کی شریك ووه مبارك په دی اړه څه رأیه نه درلوده، هغه یوازی د عبدالعزیز خبری ورسره تائیدولی.

عبدالمالك د څه ویلو پرځای په چورتونو کی ډوب وو، کله چی طاهر تری رایه وغوښتله نو هغه له لږ سوچ وروسته وویل:

ستا ملګری چی ددی دسیسی ثبوتونه یی وړاندی کولی شوای وژل شویدی وحید الدین تر اوسه پوری ورك دی، د هغه پرځای د هغه مرستیال مهلب بن داؤد کار کوی، تر څو موږ د وحید الدین احوال معلوم نه کړو پر چا څه جرم نه شو ثابتولی، که هغه وژل شوی او یا په کومه نا معلومه بندی خانه کی بندی پروت وی نو زه د هغه په اړه دا ویلی شم چی په دی دسیسه کی د هغه هیڅ رول نشته.

عبدالعزیز پوښتنه وکړه: ولی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالمالك ځواب ورکړ : په پرده کی د هغه د وژلو او یا بندی کولو علاقه له هغه چا سره ممکنه ده چی د هغه د راڅرګندیدو نه ویریږی چی راز به یی افشا کړی، مثلاً خلیفه، یا صدر اعظم او یا کوم بل څوك چی دده په نامه یی دسیسه جوړه کړی ده، ددی پر خلاف که دی په خپله خوښه چیرته غلی شوی وی نو بیا دا خبره ثابته ده چی دی یوازی ددی خبرو ذمه وار او مسئول دی،ځکه خو تر څو موږ د وحید الدین د ورکیدو راز معلوم نه کړو ددی پیښو یادونه چاته باید ونه کړو.

طاهر وویل : دغه راز له دری تنو څخه څرګندیدای شی خلیفه، صدر اعظم او مهلب بن داود ، زه مهلب ځکه پکی راشریکوم چی د وحید الدین د ورکیدو نه وروسته په عامو حالاتو کی خلیفه باید د هغه پر مرستیال اعتماد ونه کړی، پردی سربیره سمدستی د هغه په وزیر کیدو هم شکونه را پیدا کیږی.

اوس پوښتنه دا ده چی له دی دری تنو نه لومړی له کوم یوه سره وګورم؟

عبدالملك وویل : تر ټولو دمخه له صدر اعظم سره وګوره، د خلیفه په محل کی په داسی رازونو پوهیدونکی د تل لپاره په ځمکه کی ښخیدای شی خو د صدر اعظم په کور کی لږ تر لږه یو داسی څوك شته چی ته یی د ځان بللی شی.

طاهر وپوښتل : هغه څوك دی؟

عبدالملك په موسکا ځواب ورکړ : هیر دی شو؟ ما خو ستا لپاره هره دوهمه او دریمه ورځ خپله میرمن د صفیی د تسلی لپاره استوله.

طاهر وویل : له ما سره ستا همدردی خو به د اخلاقی حدودو نه بهر نه وی؟

: نه ما یوازی د یوه دوست ذمه واری ترسره کړی.

هغه ستا په اړه واقعاً ډیره پریشانه وه.

طاهر وویل : زما پردی څه اعتراض نشته چی مشر ورور می یی، خو دا ده اوسه زما له دی نجلی سره هیڅ نشته.

: په هر حال د هغی له تا سره مینه ده، ډیره توده مینه او محبت.

زه پردی خوښ یم چې هغه ددی وړ ده، زما میرمن هم د هغی ډیره ستاینه کوی.

څلور واړه ملګری بیا اصلی خبرو ته راوګرځیدل او تر ډیر بحث وروسته دا پریکړه وشوه چی طاهر دی تر ټولو دمخه له صدر اعظم سره وګوری، عبدالعزیز همالته ویده شو، عبدالملك او مبارك خپلو کورونو ته ستانه شول.

*****

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

سهار وختی له لمانځه وروسته طاهر د صدر اعظم کور ته ورغی، د کور د مخی په باغ کی یی دواړو خواو ته د ګلونو پتی لیدل، ناڅاپه یی د ګلونو په منځ کی یوه ښکلی نجلی ولیده هغی ورو ورو قدم واهه، په لاس کی یی څو ګلان وو، هغه د یوه بوتی ترڅنګ ودریده، ور تیته شوه د یوه ګل د راشکولو لپاره یی لاس ور اوږد کړ، خو چی د طاهر د پښو غږ یی واورید مخ یی ور واړاوه، طاهر په یوه نظر هغه وپیژندله، هماغه غټی غټی شرابی سترګی چی د دجلی د سیند په څنډه یی لیدلی وی، او هماغه ښکلی مخ چی د سپوږمی په رڼا کی یی د همدې ښې په یوه څنډه کی لیدلی ؤ، هغه صفیه وه، هماغه صفیه!

د طاهر په لیدو د هغی څیره له خوښی وغوړیده، د یوې شیبې لپاره طاهر دوه زړی شو ودریده، خو بیا یی اوږده اوږده ګامونه واخستل او وړاندی ولاړ.

صدر اعظم چی خبر شو دی یی دننه وروغوښت، ښه تود روغبړ یی ورسره وکړ او ویی ویل : ډیر ځنډ دی وکړ، زه درنه مایوس شوی وم، څه وخت راورسیدلی؟

طاهر لږ په تفصیل ددی پوښتنو ځواب ورکول غوښتل خو ډیر زر یی احساس کړه چی د صدر اعظم پام په بل لوری دی، تر مایوسی زیات هغه پریشانه شو، د هغه ګومان ؤ چی صدر اعظم به د ابواسحق، کمال او جمیل پوښتنه تری کوی خو هغوی دده په یاد هم نه وو.

طاهر لا تر قراقرم پوری د رسیدو د حال تفصیل نه ؤ بیان کړی چی صدر اعظم یی خبره ورغوځه کړه ویی ویل : د خلیفه لیك یی چی ولوست چنګیز خان څه وویل؟

: هغه وویل چی موږ پر خوارزم د یرغل اراده پریښوده.

: دروغجن، دوکه باز هغه شوندی وچیچلی.

طاهر لږ فکر وکړ بیا یی وویل : مګر د چنګیز خان له خبرونه داسی ښکاریده چی د خلیفه د بی طرفی نه ډاډمن شوی وی، ښایی په قراقرم کی داسی خلك وی چی چنګیز خان ته دا تسلی ورکوی چی د خوارزم شاه په اړه د خلیفه ظاهر او باطن یو شان نه دی.

: دا خو هر احمق ته معلومه ده او زه چنګیز خان احمق نه ګڼم، په هر صورت زه په دی خفه یم چی ته مو هلته واستولی، اوس نړیوالو ته ددی ویلو موقع په لاس ورغله چی موږ پټ چنګیز خان ته ډاډ ورکړ او د هغه حوصله مو مضبوطه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، د لښکرو مشر له استعفی سره دغسی شکونه نور هم زور اخلی.

: د پوځ مشر استعفی ورکړه؟

صدر اعظم پردی پوښتنه تکان وخوړ ویی ویل : چاته تر اوسه په دی اړه څه مه وایه، زه هڅه کوم چی هغه خپله استعفی بیرته واخلی، اوس زموږ هغه ته اړتیا ده.

طاهر وپوښتل : د وحید الدین څه درک معلوم شو؟

: نه! او زما له دی خبرو سره اوس هیڅ دلچسپی نشته.

: زه له خلیفه سره لیدل غواړم، ته زما سره په دی اړه څه مرسته کولی شی؟

صدر اعظم په بی پروایی ځواب ورکړ : خلیفه د ځوانانو د احساساتو هیڅ پروا نه لری، ته به هغه ته وایی چی سمدستی د خوارزم شاه د ملاتړ اعلان وکړی، او ته به هماغه ځواب واوری چی د لښکر مشر یی مایوسه او استعفی ته مجبور کړ، او هغه ځواب دا دی چی ته موږ له کومه وخته راهیسی مشاور تاکلی یی؟

: امکان لری زه د خلیفه په وړاندی د راتلونکو خطرونو سهی نقشه وکاږم او...

وزیر اعظم د هغه خبره ورغوځه کړه : بچیه! په بغداد کی د پوهوونکو کمی نشته، ته ولاړ شه په مناسب وخت کی به دی راوغواړم ستا لپاره په یو مناسب منصب فکر کوم، تر څو ورځو پوری به خبر درکړم.

طاهر وویل : زه دی نتیجی ته رسیدلی یم چی په اوسنیو حالاتو کی د خلافت په دربار کی د کوم منصب په اخستلو څوك د قوم او اولس سهی خدمت نشی کولی، بیا هم زه تاته وعده درکوم چی د وخت په راتلو به زه ځان د اولس یو سرښندوی سپاهی ثابت کړم.

*****

(٤)

صفیی په لاس کی د گلو گیډی نیولی وه او په بن کی د تیری شوی ویالی په غاړه ولاړه وه، یو گل به یی په رنو بهیدونکو اوبو کی وغورځاوه او چی هغه به لږ لری ولاړ بیا به یی بل وروغورځاوه او نندارې به یی کوله، کله به یی چی گیډی خلاصه شوه د لندو پتیو نه به یی نور گلان راوشکول او بله گیډی به یې جوړه کړه او بیا به همدی لوبه له سره راگرمه شوه.

د صفیی به دریمه گیډی نژدی خلاصه شوی وه طاهر یی ولید چی له درشل نه راووت، د دروازی په زینو کی لاندی راکوزیده، دا زر زر د مرمرو دبرونه جوړ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی پله‌پرمر له ویالی تیره شوه او د ګلانو له بوټونه یی ګلان شکول او ورو ورو طاهر ته ور نژدی کیدله.

صفیی یوی او بلی خواته وکتل هیڅوک یی هم شاوخوا ونه لیدل، بیا یی هم زړه درزیده، ورو ورو د ګلو له بوټونه را ووتله او سړک ته د وروتلو لپاره یی د مرمر ډبرې په پله پښه کیښوده، خو په سترګو یی د حیا پردی راغلی دوه زړی شوه پښې یی وریږدیدلی او بیا وښوییده نژدی وه چی په ویاله کی ورپریوزی، طاهر ور وراندی شو او زر یی لاس ورته ونیو، صفیی په خجالت د هغه لاس ونیو د هغی پر څیره د حیا سرو او سپینو څپو نڅا کوله.

له شرم او حیانه وارخطا شوی صفیی په ورو وویل : شکریه!

طاهر وویل : افسوس دی ته خو به خوږ شوی نه یی؟

: نه!

طاهر دوه زړی شو او یو ګام یی واخست، صفیی زر ورته وویل، ما دا ګلان شکول واخله! بیا یی ګلان طاهر ته ونیول، طاهر هم په وارخطایی ګلان واخستل.

هغی وویل : په بغداد کی ستا د راتلو ډیر انتظار کیده ته ډیر ناوخته شوی!

: هوکی حالات داسی شول چی وڅنډیدم.

طاهر له کومی بلی خبری پرته خپله لاره ونیوه او ولاړ، صفیه لږ څنډ نوره هم هلته ولاړه وه، په بوټیو کی ګلانو خندل او د ویالی رنو اوبو په کړس کړس خنداکوله، هغی بیا څو نور ګلان وشکول او د مرمر ډبرو په تختو ودریده هغه یی یو یو ویالی ته وغورځول.

سکینه پر درشل راښکاره شوه د مرمرو په زینو ودریده او ناری یی کړی : صفیی! صفیی ته نن کورته نه راځی؟

صفیی زر ځواب ورکړ : درغلم!

د محل نه له راوتلو وروسته د سیند د پله پر سر طاهر د لږ څنډ لپاره ودرید، هغه ګلانو ته په ځیر ځیر وکتل او بیا د سیند د اوبو د بهیر په سیل ورتیټ شو، د یوه ژور خیال سره یی پر ګلانو لاسونه سست شول، ګلان سیند ته ولویدل او په څپو کی تری ورک شول.

طاهر وویل : ثریا! ثریا! زه ستایم، یوازی ستا!

او بیا له هغه ځایه روان شو، د هر ګام په اخستلو سره ګړندی کیده، په کور کی عبدالعزیز، عبدالملك، مبارك او افضل دده انتظار کاوه، هغوی چی دی ولید

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې یې تری پیل کړی، طاهر په ډاډ پر کرسۍ کښینناست ویې ویل : زه حیران یم چې دا خبره تر اوسه زما ذهن ته ولې رانغله چې که مورِ د هغه دسیسې اصلی مجرم ونیو هم د خوارزم مصیبت نشی رفع کیدای، امکان لری صدر اعظم ددی کار ذمه وار وی، دا هم کیدای شی چې د خلیفه پکی لاس وی، او دا هم امکان لری چې هغوی دواړه ذمه وار نه وی، خو دا وخت داسی نه دی چې باید ضایع کړای شی، د تاتاریانو سیلاب ډیر ګړندی پرمخ را روان دی، اوس تر هر څه لوی ضرورت دا دی چې د بغداد اهل د راتلونکو خطرونو نه خبر کړای شی، هغوی د غفلت له خوبه را بیدار کړای شی په بغداد کی یوی ډلی د بلی او یوی فرقی د بلی پرخلاف مورچل جوړ کړی دوی ته ددی ویلو اړتیا ده چې داسی یو محاذ هم شته چې د کفر ټول طاقتونه راټول شوی او مسلمانانو ته د ټولو قوتونو د یوکولو بلنه ورکوی.

زما باور دی چې یو شریك خطر مورِ ټولنیز جهاد او هڅو ته اړ کولی شی، په داسی حال کی به هغه خلك چې غلی غلی د تاتاریانو ملاتړ کوی، برالا زمورِ مخی ته راووزی.

زه غواړم چې اوس د بغداد د هر جومات نه یوازی یوه ناره اوچته شی او هغه دا چې د تاتاریانو د مقابلی لپاره مورِ سره یو یو، تر ټولو دمخه زه د بغداد په لوی جومات کی دا ناره اوچتوم.

افضل وویل : خدای (ج) د وکړی چې بریالی شی، خو له تیرو دوو دری پیړیو راهیسی د بغداد مسلمانانو یوازی پخپلو کی د یو بل سر ماتول زده کړی دی، سنی د شیعه دښمن دی او شیعه د سنی د وینو تږی، حنفی، شافعی، او مالکی یو له بل سره لاس او ګریوان دی، او حنبلی ټول خواته ډنګوی!

تاسو کوم جومات ته ولاړ شی کومی ټولنی ته د خبرو له پاره پاڅیږی له تاسونه به لومړی پوښتنه همدا وی چې جنابه ته له کومی مذهبی فرقی سره یی؟

طاهر ځواب ورکړ : زما سره ددی ستونزو احساس دی، خو زه ددی منلو ته تیار نه یم چې دغه حالات به نور هم دوام وکړی د شریك خطر احساس دغه اختلافات لری کولی شی.

افضل وویل : ددی ذمه واری زمورِ د هغو ټنبلو او لټو علماؤ ده چې هیڅ هدف نه لری خو نن هغوی ته دا ویل کیدای شی چې د تاسو مقابله له داسی چا سره ده چې د هر کلمه ویونکی دښمن دی، ستاسو د خپلواکی ډیوه مړه کیدونکی ده، مورِ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی علماؤ ته ویلی شو چی تاسو مسلمانان یو له بل سره وجنګول، اوس کفار په میدان کی درته د مقابلی چیغی وهی، زما باور دی چی خلك به هغوی میدان ته په زور راکش کړی.

عبدالعزیز او عبدالملك هم په دی بحث کی برخه واخستله، بالاخره دا پریکړه وشوه چی طاهر به د جمعی په ورځ د بغداد خلك د خوارزم د خلکو له حالت نه خبروی. او له دی نه وراندی به دا خبره مشهوروی چی یو سړی د بغداد د اولس په نامه د خوارزم د مظلومو مسلمانانو پیغام راوړی دی.

له جګیدو نه وراندی عبدالعزیز وویل : زما باور دی چی حکومت به موږ ته ډیر د داسی چارو اجازه رانه کړی، او په راتلونکو څو اونیو کی به زموږ منزل د خوارزم د جګړی ډګر وی، خو زموږ لپاره غوره دا ده چی حکومت زموږ له چارو څخه ناخبره وی، د طاهر د وینا نه وروسته به هغه کسان چی موږ یی په تاتاریانو پلورلی یو چوپ نه کښینی. له هغه وروسته موږ باید طاهر تر هغه وخته پوری پټ وساتو ترڅو د اولس احساسات د نه فتحه کیدونکی کلا په ځیزنه دی راولاړ شوی، که د صدر اعظم یا خلیفه نیت خراب وی نو سمدستی به د طاهر د نیولو هڅه وکړی، په دی ورځو کی له بده شامته په موږ کی د غدارانو کمی نشته، ځکه خو زه ستاسو په مخکی له تولو وراندی له طاهر سره د وفاداری سوګند کوم، او له تاسو نه هم غواړم چی دغسی سوګند وکړی.

تولو ملګرو قسمونه وکړل، بیا عبدالعزیز وویل: اوس که په موږ کی کوم یوه خیانت وکړ د نورو ملګرو به دا ذمه واری وی چی څټ یی ور پری کړی.

تولو دوستانو ددی وراندیز تائید وکړ او مجلس رنګ شو.

*****

(۵)

د جمعی نه وراندی په بنار کی د هر جومات او مدرسی په وره دا اعلان ځړیدلی ؤ چی د جمعی له لمانځه وروسته به یو سړی د ترکستان د مسلمانانو پرسر د تاتاریانو د ظلمونو په اړه د خپلو سترګو لیدلی کیسی اوروی.

قاضی فخر الدین د بنار څو با عمله علماؤ او د مختلفو مدرسو طالبانو د بغداد په کوڅو او واټونو کی دا شعارونه ورکول چی د بغداد د مسلمانانو په نامه د ترکستان مسلمانانو یو پیغام را استولی او ددی پیغام راوړونکی هغه ځوان دی چی پلار یی په بیت المقدس کی د هلال او صلیب په جګړه کی د مسلمانانو د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتحی بیرغ رپولی ؤ او صلاح الدین ایوبی «رح» په انعام کی خپله توره وربخښلی وه.

د پنجشنبی په مابنام صدر اعظم طاهر کورته ورووبالله او تری وپی پوښتل چی ته د بغداد خلکو ته څه پیغام اوروړل غواړی؟

د صدر اعظم په باب د طاهر شکونه بیا تازه شول خو هغه د تدبیر نه کار اخستل مناسب وبلل ځواب یی ورکړ:

ته پوهیږی چی د خوارزم هیواد د تاتاریانو وروستی هدف نه دی، که هغوی هلته بریالی شول نو دوهم هدف به یی عراق وی، کیدای شی د عباسی دولت سره د جنګیز خان اریکی دوام وکړی خو کمزور ته د زورور په دوستی باور حماقت دی، ځکه خو زه غواړم چی د هر ډول بدو حالاتو لپاره چمتو اوسو، زه غواړم د بغداد ویده خلك راویښ کړم که دښمن یرغل راوړی دوی خو لږ تر لږه د خپل کور ساتنه او دفاع وکړی.

: تا ماته هغه ورځ ولی ونه ویل چی په جامع جومات کی خبری کول غواړم.

: هغه ورځ دا زما په ذهن کی نه ؤ، که ته زما پر ځای وای په داسی چارو کی به دی له چانه مشوره اخستل لازم نه وو بللی.

: زه ویریږم چی ته د خلیفه په باب څه ګستاخی ونه کړی؟

: مګر ددی پرخلاف زه فکر کوم چی په دی وینا زه خلیفه او تاسو ته لوی خدمت ترسره کوم.

طاهر د صدر اعظم پر تینګار همالته ډوډی ته پاتی شو، پر دسترخوان قاسم هم ؤ، هغه په بی پروایی د خوارزم په اړه څو پوښتنی وکړی او چی کله طاهر له صدر اعظم نه رخصت واخست قاسم تر برنډی پوری ورسره راووت، طاهر ته یی لاس ورکړ او په طنز یی تری وپوښتل: آیا تر اوسه دی په کومه لویه غونډه کی وینا کړی؟

طاهر په موسکا ځواب ورکړ:

زه یوازی یو سپاهی یم.

له محل نه بهر عبدالملك او عبدالعزیز په ډیره ناکراری د طاهر انتظار کاوه، عبدالعزیز چی ولید ویی ویل : تا ډیره اشتباه وکړه موږ وویریدو چی صدر اعظم به تا خطرناك وګنی او بندی به دی کړی.

طاهر وویل:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هم ویریدم خو په دی کی مصلحت ؤ چی زه دوی تر سبا پوری د ځان په باب بدګومانه پری نړدم، ځکه چی بیا به دوی د جومات په دروازو پهری درولی وی.

*****

(٦)

د جمعی د لمانځه نه وروسته یو ځوان د منبر سرته پورته شو او خلکو ته یی طاهر ور وپیژاند، طاهر د خبرو لپاره پاځید. د دومره لویی غونډې په مخکې هغه د لومړی ځل لپاره دریدلی و.

د قرآن کریم څو آیتونه یی تلاوت کړل، بیا یی په وارخطایی خبری پیل کړی، د بغداد خلکو هره ورځ په مناظرو کی د لوبو لوبو اورژبو وینا کوونکو خبری اوریدلی وی، تر لږ ځنډه دوی په بی پروایی ناست وو او پخپلو کی یی پسپسکی کولی، په دی غونډه کی داسی خلك هم ناست وو چی د بغداد په یو جومات کی یی پر منبر په خپل مخکی د کوم پردی خبری د ځان توهین باله.

داسی خلك هم وو چی دا یی احساسوله چی کاشکی نن هم کومه مناظره وای.

یو مشهور عالم په ډیر ساده انداز اوچت شو ویی ویل : مهربانی وکړه ته کښینه هغه سړی ته د خبرو نوبت ورکړه چی له ترکستان نه راغلی دی.

پردی خبره ځینو خلکو وخندل. خو پر طاهر دی توکې بل ور اغیزه وکړه، هغه له یوی شیبی چوپتیا وروسته بیا خبرو ته دوام ورکړ:

زما دوستانو! دا ځای د ټوکو لپاره نه دی، بیا هم زه ستاسو ژوندی روحیی ستایم، کاشکی تاسو د جګړی پر ډګر هم دغسی ژوندی روحیه ولری، زه دلته ددی لپاره نه یم راغلی چی په وینا څوك راته شاباش ووایی، زه نه وینا کوونکی یم او نه داستان ویونکی.

زه یوازی یو استازی یم، د ترکستان د اسلام د هغو بچیانو چی له کوپړیو نه یی تاتاریان د فتحی په ویاړ ځلی جوړوی، زه د اسلام د هغو لونو استازی یم چی د عصمت ساتونکی یی په خاورو او وینو کی شتیږی او اوس یی وروستی امید تاسو یاست.

زما سره کړسندې خنداګانی نشته، اوښکې دی.

ای په خپله جادویی وینا فخر کوونکو! اولس ته د الاهو ویلو او ویدهٔ کولو وخت تیر شوی دی، زه تاسو د مرګ له خوبه رابیدارول غواړم، زما خبری په خلاصو غوږونو واورئ!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طاهر غږ ورو ورو اوچتیده، بنده ژبه یې اوس د غرنی خوږ د اوبو په څیر روانه شوه، او بیا ورو ورو خلکو په دغه غرنی خوږ کی د سیند څپی احساس کړی، د هغه سیند چی بندونه یو پر بل پسی نړوی، خلك هم په همدی څپوکی ورسره بهیدل.

طاهر د ماضی له مخ نه پرده پورته کړه هغه هیر منزل ته یی اشاره کوله چی سارایی عرب د نړی د نیولو په اراده تری راوتلی وو.

هغه د تاریخ پانی چپه اړولې د هغو غازیانو داستانونه یی اورول چی په ختیځ او لویدیځ کی یی د اسلام نوم لوړ کړی ؤ، هغه د راتلونکی په پردو کی غلی توپان ته اشاره کوله او خلکو په چوپه، چوپتیا کی غوږ نیولی ؤ، د ځینو سترگی لمدی وی، یوه زلمی ډیر په زحمت خپلی اوښکی را ایسارولی طاهر ویل:

د اولس پر لمن د بدبختی داغ په اوښکو نه په وینو مینځل کیږی.

په یاد ولری!

څه ور ژوند چی تاسو کوی، دا له فطرت سره ملنډې دي، او فطرت له ځان سره ملنډی وهونکی هیڅکله نه بخښی، د مسلمانانو نسبنده دا ده چی دوی به د کفارو په وړاندی د اوسپنیز دیوال په څیر دریدل، مگر اوس چی کفار خپل ټول ځواکونه ستاسو پرخلاف سره یو کوی، ستاسو علما تاسو په څلور لارو کی راغونډوی او د یو بل د سر ماتولو مشوره درکوی.

پردی یو سړی چی د بغداد د مناظرو یو نوماند ویناوال ؤ جگ شو او چیغی یی کړی:

زه په ډیر ادب او درناوی پوښتنه کوم چی ته په کومه فرقه پوری اړه لری.

طاهر هغه ته د کښیناستلو اشاره وکړه ویی ویل:

زه یو مسلمان یم.

: څه ډول مسلمان؟

: طاهر په غوسه ځواب ورکړ:

: تاسو له دری سوه کالو راسی د مسلمانانو ډولونه شماری خو تر اوسه یې د اصلی او بدل ډول پوښتینی او دروغجن مسلمان پریکړه ونشوه، ددی سبب دا دی چی تاسو نور د اسلام په تله نه تلی، بلکی هر یوه مو ځانگړی او بیله تله پیدا کړی ده چی پر هغوی ستاسو له خپل ذات پرته نور هیڅوك پوره نه خیژی.

زما دوسته! کیدای شی چی زه د یوه کم علمه سړی په بنه ستا په څیر فکرونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړای شم، د خیالونو په وزرونو به ستا سره لوړ الوت ونشم کړای. او د نورو د ایمان تللو لپاره چې تا کوم محک جوړ کړی دی زه ښایی په هغه پوره ونه خیژم خو که ته د خوارزم په کوم میدان کې زما سره په څنګ کې پراس سپور وای او بیا دی له مانه پوښتنه کړی وای چې ته څه وړ مسلمان یې نو ما به ځواب درکړی ؤ چې څو ګامه وړاندی د مؤمن د ایمان معلومولو محک دی، که زه د کفارو د غشیو په باران کې موسکی شم، که د دوی د تورو په سیوری کې کلمه ووېلی شم که د مرګ لاس خپلی مری ته نژدی ووینم مګر پښې می ونه لړزېږی، نو وپوهیږه چې مسلمان یم، که می بدن د کفارو د اسونو تر پښو لاندی غوبل شی او د ځنکدن په وخت می هم له شونډو دغه دعا اوریدی شی چې یا الله ! د خپل محبوب د دین جنډې اوچته وساته نو وپوهیږه چې زه مسلمان یم.

زما ورورہ! بده یې مه منه، د مؤمن د ایمان د پیژندلو تله هغه نه ده چې ته یې هره ورځ د بغداد په ځلور لارو کې بیانوی. نه! د مؤمن د ایمان معلومولو مقام د جهاد ډګر دی چې هلته د هر مسلمان د وینو رنګ سور وی که سنی وی او که شیعه، که حنفی وی، که مالکی، که ستا په ځیر روښانفکر عالم وی او که زما په ځیر کم علمه.

د امن په ځای کې که تر زر کلونو پورې هم مناظرې او بحث سره وکړی دا به معلومه نکړای شی چې کوم یو دروغجن یاست او کوم یو رښتین! خو ما په قونډ کې پخپلو سترګو ولیدل چې د یوی ډلی مسلمانان د بلی ډلی لپاره سپر وو، د حملې په وخت کې د هغوی ناره یوه وه، د شهادت په مهال یې کلمه یوه وه هغوی ټول یو رنګ مسلمانان وو.

هو د جګړې له ډګر نه بهر می څو رنګه مسلمانان لیدلی دی، په موږ کې داسی څوک هم شته چې وایی له زورور دښمن سره جهاد روا نه دی، په موږ کې داسی څوک هم شته چې د دښمن د نامه په اوریدو تښتی، داسی څوک هم شته چې د چنګیز خان د رحم جلبولو لپاره اسلامی نړۍ پر تاتاریانو خرڅوی، او دا ستاسو په ښار کې هم چې هر عالم د بل د ایمان معلومولو په خیال کې دی په دنګو محلونو کې اوسیدونکیو داسی ډله هم شته چې پر ترکستان د تاتاریانو د حملې ملاتړ کوی.

زما دوستانو او مشرانو!

ښایی ماته بیا په دومره لویه غونډه کې د خبرو فرصت په لاس رانه شی، زما

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبری په خلاصو غوږو واوری او زما پیغام هر هغه چا ته ورسوی چی د قوم د راتلونکی اندیښنه ورسره ده.

د تاتاریانو سیلاب معمولی سیلاب نه دي، اوس ددغه سیلاب مخی ته د خوارزم هیواد د وروستی مورچل او کمر په ځیر پروت دی، که دغه کمر له منځه ولاړ داسي مه ګڼی چی دغه سیلاب به نور تم شی، د هغه یاغی څپی به یوه ورځ د بغداد د دنګو مانیو تاداوونه هم ورچوی. که موږ غفلت وکړ نو د دنیا له مخی نه به محوه شو، زه داسی نه وایم چی اسلام به ورک شی، اسلام ورکیدونکی شی نه دی، دا د خدای «ج» دین دی، که یی تاسو ساتنه ونه کړای شوای نو خدای «ج» به کوم بل قوم د ده د ساتنی لپاره غوره کړی، دا داسی بیړه ده چی هیڅ توپان یی نشی اړولی، تل تر تله به لامبو وهی، که تاسو د خدای «ج» دغه کښتی پریښوده او په نورو کی سپاره شوی نو پخپله به ډوب شی او نور اولسونه به پکی سپاره شي.

ستاسو بری په تولنیزو هڅو او جهاد کی دی او تولنیز جهاد او هڅو ته تر بل هر وخت زیات اوس ضرورت دی چی د کفر ټول ځواکونه ستاسی د ورکولو لپاره چمتو شوی دی.

ما درته وویل چی د بغداد په دنګو محلونو کی اوسیدونکو ځینو خلکو د خوارزم په خلاف له تاتاریانو سره ګډه دسیسه جوړه کړې او یو تن جګ شو ویی ویل:

موږ غواړو د هغوی نومونه واورو!

طاهر ځواب ورکړ:

زه یوازی د دسیسې او خیانت په اړه معلومات لرم، تر اوسه کوم ځانګړی چاته اشاره نشم کولی، اوس پر موږ داسی مهال راتلونکی دی چی غلی منافقین په زغرده زموږ مخې ته راووزی.

د خلافت هغه امیران چی دلته حاضر دی، زه له هغوی نه غواړم چی خلیفه له اصلی حالت نه خبر کړی.

که د تاتاریانو «مغلو» په مقابل کی د خوارزم ملاتړ ونه کړو نو دا به زموږ د ځان وژنی په معنی وی.

د حالاتو غوښتنه دا ده چی د مسلمانانو خلیفه سمدستی د مغلو پرخلاف د جهاد اعلان وکړی، له هغه وروسته به د منافقانو د پلټلو اړتیا نه وی، هغوی به

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپله رامیدان ته شی، هغوی به هڅه وکړی چې زموږ مړی خپه کړی او غږ مو چوپ کړی. دوی به د تاتاریانو په ملاتړ د خوارزم د مسلمانانو پرخلاف فتوی ورکړی.

زما مسئولیت دا ؤ چې تاسو ته لاره درڼاییم، نور پرې تلل او یا کرار کښیناستل ستاسو خپل کار دی، که تاسو منظم شی نو زما باور دی چې د مسلمانانو خلیفه د راتلونکو خطرونو څخه ناخبره نه دی د جهاد اعلان به کوی.

سمدستی زه دانه شم ویلی چې د بغداد په اوسیدونکو کې څوک دی چې له مغلو سره یې سازش کړی دی، له دی نه مخکې زه د خلیفه او صدر اعظم لخوا د یوه اعلان کولو په انتظار یم، که نه نو په باور سره ویلی شم چې په بغداد کې د اسلامی نړۍ ترټولو لوی دښمن څوک دی.

سمدستی په تاسو کې چې څوک د مغلو پرخلاف د خوارزم د مسلمانانو ملاتړ کوی، هغوی دی ما د ځان ملګری وبولی، که هغوی دا لیدل غواړی چې د اسلام په محک د دوی د ځیرې رنګ څه ډول راوزی نو د خوارزم میدان زموږ نه ډیر لرې نه دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسیسه

څو ورځې وروسته د صدر اعظم د محل په یوه پراخه کوټه کې د هیواد پر حالاتو د امیرانو یو مجلس جوړ شو، د طاهر بن یوسف وینا د دوی د بحث موضوع وه.

یوه منصبدار وویل : هغه یو لیونی دی او له دی پرته بله چاره نه لری چی باید ونیول شی او چی خلیفه هم همدغسی امر کړی دی نو باید هیڅ سستی پکی ونه شی.

یوه بل وویل:

هغه نیغ پر چا تورونه نه دی لګولی، خو د بغداد د خلکو په نظر موږ ټول مجرمان یو، ددی باید سمدستی چاره وشی، زموږ لپاره د تعجب خبره دا ده چی د بغداد د هری فرقی خلك پری راټولیږی، په تیرو څلویښتو کلونو کی ما شیعه او سنی په یوه لاره روان نه وو لیدلی خو اوس می اوریدلی دی چی د هغه د کور په یوه دروازه سنی پهردار ولاړ دی او پر بله شیعه، تیره شپه په مامونیه څلور لاری کی مناظره کیدونکی وه، زه هم هلته ورغلی وم، دی له تاکلی وخت نه مخکی راغی او خبری یی پیل کړی او دا په تیرو دوو پیړیو کی لومړی ځل ؤ چی یو چا د ټولو فرقو خلکو ته توندی خبری کولی خو اوریدونکی چوپ وو، او کله چی هغه دا پوښتنه وکړه چی تاسو اوس هم یو د بل دښمنان کیدل غواړی نو زیاترو یی په نه ځواب ورکړ او دده له وینا وروسته تر ټولو عجیبه خبره دا وه چی سنی او شیعه یو له بل سره تر غاړی وتل.

ځکه خو موږ که هغه ته لیونی ووایو ځان ته به دوکه ورکړو، که موږ هغه اوس بندی کړ، نو د بغداد خلك به بیا دا حق لری چی ووایی چی موږ رښتیا هم د کومی دسیسی د رسوا کیدونه په ویره کی یوه، زه ویریږم چی هغه به په آرامی زندان ته تګ هم غوره ونه ګڼی موږ باید د بیړې پرځای د تدبیر نه کار واخلو.

د بهرنیو چارو نوی وزیر مهلب بن داود چی پخوا د وحید الدین مرستیال ؤ یو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زلمی ژه خلکو د هغه پر علمیت اعتراف کاوه، د هغه په اړه دا هم مشهوره وه چی دیر لری پام کوی صدر اعظم چی د هغه نه رایه وغوښتله هغه وویل:

زما په گومان باید موږ دی د لومړی وینا نه وروسته نیولی وای، اوس یی زموږ له غفلت نه گټه اوچته کړه د ساده گانو یوه لویه ډله یی ورسره ملگری کړی ده، اوس د هغه نیول خطرناك خامخا دی خو له خطرنه د بغداد د ساتنی په خاطر دا خطر باید قبول کړو.

د بهار ناظم جگ شو ویی ویل:

که د بهرنیو چارو وزیر وایی چی دا غفلت له مانه شوی دی نو زه دا ویل ضروری ہولم چی ما په هماغه شپه د ده په کور چاپه ووهله، خو هلته د ده له نوکرانو پرته نور څوك نه وو، راتلونکی شپه جاسوسانو خبر راکړ چی هغه د بهار په یوه جومات کی دی، ما دوه سوه تنه سپاهیان ور واستول خو هلته د ده د ساتنی لپاره دری زره تنه ځوانان تیار ولاړ وو.

د بهرنیو چارو وزیر وویل :

مگر زموږ سره خو د سپاهیانو کمی نه ؤ

صدر اعظم ځواب ورکړ:

زموږ د افسرانو او سپاهیانو زیات شمیر د ده پلویان شوی دی، زما په کور کی چی په دی څو تیرو شپو ورځو کی ځومره غونډی شوی ددی تولونه هغه خبر شوی دی.

یو ماښام موږ ته خبر راغی چی طاهر د ماسختن له لمانځه نه وروسته په جومات کی وینا کوی، ما پنځه سوه تنه سپاهیان په عامه جامه کی هلته ور واستول، هدایت می ورکړ چی له وینا وروسته یی را ایسار کړی او چی کله له جومات نه راووزی ویی ونیسي خو هغه ته بیا احوال رسیدلی ؤ او جومات ته رانه غی.

اوس د خلیفه امر داسی دی چی هغه باید په هر صورت ونیول شی، موږ ته ددی امر له منلو پرته بله لاره نشته، پنځوسو مفتیانو نن فتوی ورکړی ده چی هغه باغی دی، سبا ته به دغه فتوی مشهوره کړای شی، بیا به د خلکو عکس العمل وگورو او مناسب اقدام به وکړو.

نور امیران ولاړل خو مهلب بن داود لږ ځند له صدر اعظم سره خبری کولی، مهلب وپوښتل:

تاته معلومه ده چی په بغداد کی د ده پخوانی دوستان څوك دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

صدر اعظم ځواب ورکړ:

قاسم ته ټول معلوم دی.

د مهلب په غوښتنه صدر اعظم یو خدمتګار ته وویل چې قاسم راولی، د قاسم په راتلو صدر اعظم جګ شو او بلی کوټی ته ولاړ قاسم او مهلب تر ډیره پوری خبری سره کولی.

قاسم ویل:

زما په ګومان د ده په دوستانو کی یوازی افضل داسی دی چی موږ کار تری اخستی شو، د هغه له طاهر سره علاقه شته خو د عبدالملك، عبدالعزیز او مبارك په څیر یی دنده نه ده پریښی.

مهلب وپوښتل : که هغه سبا شپی ته دلته میلمه کړی نو رابه شی؟

: هغه څو شپی وړاندی له ما سره ولیدل، او زه ویلای شم چی زموږ اړیکی ډیری بدی نه دی، یوه ورځ هغه د خپلو تیرو ګستاخیو بخښنه هم وغوښته او ترڅو چی هغه د حکومت مامور وی موږ ډیر شنه باغونه ورښودلای شو.

که یی ته مناسب ښولی نو دلته به یی د راوستلو ذمه واری د لښکر نوی مشر ته وسپارو.

مهلب جګ شو قاسم ته یی لاس ورکړ ویی ویل:

ډیره ښه ده! سبا ته ستا کره زه، د لښکر مشر او افضل میلمانه یو.

صفیه نن هم د پخوا په شان د برنډی په بام ولاړه وه او د کوټې د کړکی سره یی غوږ نیولی ژ ډیر څه یی اوریدلی وو، کله چی قاسم او مهلب بهر ووتل نو دا راکوزه شوه خپلی کوټې ته ولاړه، ترڅنګ بلې کوټې ته یې وروکتل سکینه ویده وه، صفیی به د ویده کیدونه دمخه د ورځی د پیښو په اړه یو لنډ یادښت ولیکه سهار به یی د دروازی پهره دار ته وسپاره، دی د پخوا په څیر کاغذ او قلم راواخست کښیناسته خو د څو کرښو له لیکلو وروسته یی په زړه کی یو نوی خیال راوګرځید. او دغه خیال ددی د زړه په چوپو تارونو د مضراب کار وکړ، بیا وړو څو خوږی نغمی پورته شوی او دی داسی احساس کړه چی دغه نغمی یوه زړه وړونکی ترانه شوه چی ټول کاینات یی را لاندی او په غیږ کی ونیول، دا یو توپان ژ چی دایی ورسره په هوا کړی وه، یو سیلاب و چی دایی ورسره په څپو کی په اوږو کړی وه، د وریځو شنهار او د تونډ شمال کړیږی ویروونکی وی، خو له دی توپان سره په الوتلو دا نه ویریدله، د سیلاب څپی څوصله ماتوونکی وی، خو دی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره بهیدل غوښتل، د ویری زنځیرونه مات شول، د زندان دروازی وشړیدلی، د بغداد ډنګی مانی ددی له نظره پناه کیدلی، دا د طاهر سره د عربو د دښتی د خرما ژ په یوه بن کی وه، د احساساتو له زوره ددی له ریږدیدونکو لاسو قلم پریوت، او داسی یی احساس کړه چی د ژوندانه د سندری تار ناڅاپه وشلیده، پراخه کوټه د کپس په څیر ورته تنګه شوه، لویدلی قلم یی بیا راواخست د لیکلو پرځای یی پر کاغذ کړی وړی کرښی کش کړی، او بیا یی څه په خیال کی وروګرځیدل او په تشو ځایونو کی یی طاهر بن یوسف ولیکل. بیا یی کاغذ وشلاوه او ویی وغورځاوه. جګه شوه بستری ته ولاړه پری وغځیده هغی په وار وار ځان ته تسلی ورکوله:

زه به له هغه سره وګورم، وبه یی پوهوم چی نور دی په بغداد کی اوسیدل خطرناك دی، د هغه لمن به ونیسم ورته وبه وایم چی له دی کپس نه می خلاصه کړه، زما دلته هیڅوك نشته، هغه ښایی دا خوښه نه کړی خو زه به یی د بغداد پر پریښودو او خپل کورته په ستنیدو راضی کړم بیا به کاکا ته ووایم... نه نه د سکینی په خوله به ورته ووایم او هغه به یی ومنی که یی ونه منی نو زه یی بیا هیڅ پروا نه لرم، د بغداد کومه قافله به می هلته ور ورسوی، خو په دی حالت کی خوبه هغه مارتی نه؟

نه، نه، هغه داسی نه دی، هغه زما دی، هغه زمادی طاهر سارایی، زما سارایی:

هغه ویده شوه خو په خوب کی یی هم پر شونډو یوه موسکا نڅیدله.

*****

(۲)

راتلونکی شپه د قاسم پر دسترخوان نوی د پوځ سالار، مهلب او افضل راغونډوو، د ډوډی له خوړلو وروسته د سیند په غاړه د قاسم کوټی ته ولاړل.

د ډوډی خوړلو په کوټه کی صفیی له کرکی نه د طاهر په باره کی څه وانه وریدل، کله چی هغوی بلی کوټې ته د تلو لپاره پاڅیدل نو دی له هغوی نه دمخه د تنګو زینو له لاری هماغی دریځې ته ځان ورساوه، هلته کښیناسته تر لږ ځنډه له یوی او بلی خوا سره ګریدل، بالاخره مهلب د پوځ سالار ته وویل:

د صدر اعظم نظر داسی دی چی افضل ته په پوځ کی یو لوی منصب وروسپارل شی، پرون قاسم زما د وړاندی د هغه صفت وکړ، په پوځ کی د لایقو او وفادارو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوانانو اړتیا ده، د صدر اعظم له عبدالملك او عبدالعزیز نه ډیره تمه وه خو ما اوریدلی چی هغوی استعفا کړی او د طاهر بن یوسف ملاتړ کوی.

د پوځ سالار وویل:

که صدر اعظم غواړی زه د هغه خدمت ته چمتو یم.

مهلب وویل:

له دی نه علاوه په مصر کی موږ ته د نوی سفیر ضرورت دی، که د عبدالملك وفاداری شکمنه نه وای نو زما په نظر ددی منصب لپاره هغه ډیر مناسب ؤ خو افسوس چی طاهر بن یوسف ډیر ښه او ساده ځوانان بی لاری کړل، که څنګه قاسمه ته څه وایی که زه خلیفه ته سپارښتنه وکړم افضل ذمه واری قبلولو ته تیار دی؟

قاسم ځواب ورکړ:

زه د ده په استعدادونو اعتراف کوم خو ویریږم چی د عبدالملك او عبدالعزیز سره د دوستی په سبب به د بغداد پریښودلو ته تیار نه شی.

د افضل حالت هغه ماشوم ته ورته ؤ چی څوك یی په مخکی ډیر د لوبو سامان انبار کړی . ، هغه د صدر اعظم په مانیږکی د پوځ د سالار او د بهرنیو چارو له وزیر سره یوځای ډوډی خوړلی وه، په بغدادکی ده ته د لښکر د سالار د ښی لاس منصب او په مصر کی د سفیر کیدو دروازی په مخکی خلاصی شوی وی، هغه ته په ژوند کی د لومړی ځل لپاره د خپل ځان اهمیت معلوم شو، په شرمیدلی لهجه یی وویل:

که زه د بغداد لپاره کوم خدمت ترسره کولی شم د چا دوستی می په مخکی خنډ کیدای نه شی.

مهلب سمدستی ځواب ورکړ : ته د بغداد لپاره ډیر څه کولی شی د خپلو دوستانو لپاره هم ډیر څه کولی شی، که ته عبدالملك او عبدالعزیز له دردناکی تباهی نه ژغورل غواړی نو یوازی یوه لاره لری.

: کومه لاره؟

: هغوی وپوهوه!

: افضل ځواب ورکړ؟

زما ژبه د طاهر جادو نشی ماتولی!.

د طاهر په باب اوس موږ ته څرګنده شوه چی هغه د خوارزم په اشاره دلته په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغداد کی بغاوت جوړول غواړی، په کومه ورځ چی د ده مقصد پوره شی په همغه ورځ به خوارزم ته ځی، خو د ده د کړو وړو سزا به د ده ملګری وګالی.

افضل پوهیده چی دا د طاهر پرخلاف یو دروغ تور دی، خو چی کله د انسان په زړه کی بدی هیلی راپورته شی نو د خپل ضمیر د تسلی لپاره په دروغو خبرو هم باور کوی، ده وویل:

که دا خبره وی نو تاسو څه فکر کړی دی؟

مهلب وویل :

موږ د هغه نیول ضروری بولو، خو موږ نه غواړو چی له پوځ سره هغه خلك تکر شی چی په دروغو خبرو هغه پر خپل ځان راټول کړی دی.

موږ دا هم نه غواړو چی د یوه مجرم د نیولو پر سر د څو بی ګناه خلکو وینی تویی شی، موږ له طاهر سره هم سختی کول نه غواړو، غواړو چی هغه پوه کړو او له دی ځایه یی وباسو، د ده په تلو به دغه فتنه پخپله غلی شی.

د افضل زړه ګواهی ورکوله چی دا دروغ دی، دغه خلك د هغه د وینو تږی دی، خو د ده د ضمیر لپاره دا یوه بله تسلی وه، هغه وویل:

که تاسو ماته داد راکړی چی سختی به نه پری کری نو زه ستاسو سره مرستی ته چمتو یم.

مهلب وویل :

پر هغه د تکلیف راوستو سوال نه پیدا کیږی، زما خو پر دی هم باور دی چی د هغه نیت سهی دی، د خلیفه او یا کوم بل مسئول سړی په اړه له ده سره د بدګومانی د راپیدا کیدو په سبب که د خلکو د پاروولو پرځای نیغ موږ ته راغلی وای موږ به یی بدګومانی لری کړی وای، خو اوس چی هغه ترڅو نیول شوی نه وی موږ خبره نه شو ورسره کولی، دا زما لپاره ډیره د خفګان وړ خبره ده چی داسی یو هوښیار او زړور ځوان د اولس د خدمت پرځای په اولس کی ګډوډی راولی هغه هم د یوی بدګومانی په سبب.

ما له هغه سره دلیدو او د خبرو اترو هڅه وکړه، خو د هغه پټو مجلسونو ته ونه رسیدای شوم، که ته زموږ مرسته وکړی دا به ډیر لوی کار وی.

د لښکر سالار وویل : که افضل په دی هکله څه کولی شی نو خامخا به درسره مرسته وکړی.

قاسم وویل : کوم سړی چی د مسلمانانو ژوند د سمون په خاطر له خپل سره د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیریدو همت لری هغه به د چا د دوستی پروا ونه کړی.

د افضل پر ضمیر اوس د ملامتی بار سپك شوی ؤ، هغه وویل:

خبره دا ده چی څرنگه چی ما تر اوسه له پوځه استعفی نه ده کړی هغوی پر ما زیات اعتماد نه کوی، د طاهر څو مرکزونه ماته معلوم دی، خو دا ماته معلوم ، نه ده چی نن به هغه چیرته وی؟

هغه یوازی د شپی د خوب په وخت کی نیول کیدای شی، د ورځی لخوا د هغه په شاوخوا کی ډیر خلك وی، زه به تر یو دوو شپو پوری د هغه د ځای درك درکړم چی په دی ورځو کی چیرته شپه تیروی.

مهلب وویل : که ته په دی ماموریت کی بریالی شوی باوری یم چی خلیفه او صدر اعظم به پخپله مننه درنه وکړی، او امکان لری چی تا د ډیر مهم منصب لپاره مناسب وبولی.

افضل وویل:

مگر تاسو نه دا وعده په یاد لری چی له طاهر سره به بد سلوك نه کیږی.

مهلب ځواب ورکړ : زه په دی وعدی ولاړ یم.

بیا هغه پاڅید. قاسم ته یی وویل : اوس صدر اعظم ته ددی خبرو په باب څه مه وایه.

قاسم ځواب ورکړ : نه! زه پخپله غواړم چی ترځو موړ په خپل هدف کی بریالی شوی نه یو د منډو رامنډو په باب مو باید څوك خبر نه شی.

*****

(۳)

قاسم د خپلو میلمنو د رخصتولو لپاره تر بهر دروازی پوری ورسره راووت، دروازی ته چی راورسیدل مهلب وویل : پرون صدر اعظم وویل چی ستاسو محل هم د هغه له جاسوسانو نه پټ نه دی، که نن هم چا زموږ خبری اوریدلی وی نو...!

قاسم په خندا ځواب ورکړ:

د هغی کوټی په چت کی یوازی د کوترو یوه جوړه ځاله لری چی غوږونه لری خو ژبه نه.

خو چی بیرته راوګرځید قاسم په دی خبره لږ اندیښمن شو فکر یی وکړ چی که طاهر د دوی له دی مجلس نه خبر شی نو راتلونکی وینا به یی زیاته تونده وی.

په لاره کی یی د ګلانو له پټیو نه څو ګلان راوشکول او چی د خپلی کوټی ورہ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ورسید لږ ودرید او په چرتونو کی شو او بیا یی وموسکل د صفیی د کوټی په لور ورغی په زړه کی یی په وار وار ویل:

خدای پوهیږی چی هغه له مانه ولی داسی ترهیدلی ده؟

که هغه ویده وای نو طاهر به خپ خپ ورغلی وای او په بستره به یی ګلان ورته ایښودل، بیرته به تری تللی ؤ خو د هغه د کوټی له نیم کښ وره نه رنا راوتله دی چی ورنژدی شو ودرید په څه فکرونو کی ډوب شو او بیا بیرته راوګرځید خو دوه دری ګامه چې ولاړ له کوټی نه یی ... د چا د ورو ورو غږیدو غږ واورید، سکینی او صفیی به د ویده کیدو په وخت کی یو بل ته کیسی اورولی، خو دغه غږ لږ دروند ؤ، بیا هغه د صفیی غږ واوریده چی ورو ورو غږیده دی بیرته زر راوګرځید او دوره ترشا ودرید، دننه نه یی واوریدل:

ګوره دا د خبرو وخت نه دی، ته په بیړه، ولاړه شه، بیا به تاته په وار وار زحمت نه ورکوم، واخله دا زما ګوته، تاته به نور هم ډیر څه درکړم.

قاسم زر شاته شو او د یوی ستنی ترشا ودرید، ور خلاص شو او یوه نوکره ګړندئ راووتله د قاسم سره نژدی تیره شوه.

قاسم په چوپو ګامونو له هغه ځایه په شا ولاړ او د یوی بلې لارې نه د مانۍ د دروازی زینو ته ورسید، نوکری چی هغه ولید هکه پکه ودریده.

قاسم تری وپوښتل : ته په دی ناوخته چیرته ځی؟

نوکره وویریده په ویره یی وویل : صیب ... زه!

قاسم ډاډ ورکړ ویی ویل : زه خو دیو نه یم ته ولی ویریږی؟

بیا یی ورته وویل : دلته راشه!

قاسم هغه تر مټ ونیوله او خپلی کوټی ته یی بوتله.

: ووایه چیرته روانه وی؟

نوکری څه ګړی وړی پلمی جوړی کړی خو قاسم یو ځلیدونکی خنجر راویوست او ور ویی ښود هغی چیغی کړی:

ټول درته وایم ، ماته صفیی لیك راکړی دی.

: چیرته د چا لپاره؟

: د دروازی یوه پهره دار ته !

: څه ملندی وهی قاسم بیا د خنجر څوکه د هغی پر تټر ورکښیښود.

: نه، نه زه ریښتیا وایم، ماته معلومه نه ده چی پهره دار هغه لیك چیرته وړی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: لیك کوم دی؟

نوکری له خپل لستونی نه یو وریښمین دسمال راویوست په هغی کی یې نغښتی کاغذ راویوست د قاسم په لاس کی یی ورکړ قاسم پانه ولوسته لنډ شانته لیك داسی ژ:

ستا په اړه یوه خطرناکه پریکړه شویده، افضل ستا د نیولو وعده کړی ده، ډیری خبری داسی دی چی زه یی په خپله درته ویل ضروری بولم، قاصد به هغه ځای دروښیی چی هلته ته د څه خطر سره له مخامخ کیدو پرته له ما سره لیدلی شی، د خدای «ج» لپاره خامخا راشه!.

د غوسی نه د قاسم شونډی رپیدی، نوکری د هغه د بی رحمه کتو تاب رانه ورای شو او په ژړا شوه.

قاسم وغوړید ویی ویل : چوپه!

: زه بی گناه یم پر ما رحم وکړه، زه یوه نوکره یم، ما د صفیی د امر له منلو نه انکار کله کولی شوای ما وبخښه!

: ستا د خلاصون همدا یوه لاره شته چی له مانه خبره مه پټوه.

: زه هر څه ویلو ته تیاره یم.

: صفیی د ملاقات لپاره کوم ځای ټنډولی دی او هغه پهره دار کوم دی چی ته لیك ورورې؟

: هغه سعید دی او ماته صفیی وویل چی سعید دې هغه جنوبی دروازی ته راولی.

: له دی نه وړاندی یی کله سره لیدلی دی؟

: نه!

: پیغام یی ورته رسولی؟

: هوکی!

: ته خبره یی چی دا پیغام چاته ور وړی؟

: نه، پردی یوازی سعید او د جنوبی دروازی پهره دار خبر دی، صفیی ماته یوازی دومره ویلی چی زه یوازی د یوه بی گناه د ژوند ژغورل غواړم.

: ډیر ښه ته ولاړه شه دا لیك سعید ته ورورې، خو که دی دا ورته وویل چی ما لیدلی دی نو لاس او پښی به دی وترم او د دجلی سیند ته به دې وغورځوم، چی بیرته راغلی صفیی ته به هم دا خبره نه کوی، خو که هغی وویل چی تا ځنډ ولی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ څه ځواب به ورکوی؟

نوکری له لږ فکر وروسته وویل : ما تر اوسه لمونځ نه دی کړی زه به ورته ووایم چی د لمانځه لپاره وځندیدم.

: ته ډیره هوښیاره یی، واخله، تاته به نور هم ډیر څه درکړم، او بیا قاسم څو طلایی سکی هم د هغی په لاس کی ورکښیښودی.

*****

(٤)

سعید د بغداد د یوی ګڼ میشته ګوښی په یوه تنګه کوڅه کی تیریده بیا یی د یوه زاړه کور دروازه وشرنګوله، یو سړی راووت سعید یی وپیژاند هغه یی یوی بلی تنګی کوڅی ته بوتلو، هغه په لاره کی تری وپوښتل : کوم ضروری پیغام دی راوړی؟

: ډیر ضروری!

لږ ځنډ وروسته دواړه د یوه دری پوړه کور په دروازه کی ودریدل، د سعید ملګری پنځه ځلی له لږ ځنډ ووسته دروازه وټکوله، چا د دروازی په منځ کی له یوی وروکی کړکی نه راوکتل، او د سعید ملګری یی وپیژاند دروازه یی خلاصه کړه.

د سعید ملګری وویل : دی دننه ښوزه؟

سعید چی دننه ولاړ پهره دار دروازه بیرته بنده کړه، لږ ځنډ وروسته چی طاهر، عبدالملك او عبدالعزیز د صفیی لیك ولوست له سعید نه یی ډول ډول پوښتنی کولی، سعید دا خبره تائید کړه چی افضل دننه مانی ته تللی ؤ، هغه دا هم وویل چی مهلب او د پوځ سالار یی هم دی مانی ته په تلو راتلو کی لیدلی دی، خو پر دی نه پوهیده چی صفیی طاهر د څه لپاره وربللی دی.

دری واړو دوستانو لږ ساعت پردی بحث وکړ، د عبدالعزیز رایه دا وه چی د پوځ سالار، د بهرنیو چارو وزیر او صدر اعظم له افضل نه زمونږ د اوسیدو ځایونه معلوم کړی دی او دوی به خامخا کومه خطرناکه پریکړه کړی وی، او صفیه د یوی ښځی په ځیر ستا تر هدف ستا د سر خیر غواړی او ورته قیمتی ښکاری، هغه به په غالب ګومان درته وایی چی ته له څلورو خواوو تر خطر لاندی یی ځکه خو د خپل ځان د ژغورنی په فکر کی شه.

عبدالملك وویل:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د معلوماتو له مخی زه پر دی احتجاج کوم چی تاسو صفیه یوه عادی نجلی ګڼی، که د هغی خپل ښځینه احساسات څرګندول هدف وای په دی لیک کی یی په څو کرښو کی کولی شوای.

عبدالعزیز وویل : مګر ددی د لیک له لګدون نه داسی ښکاری چی دی د لیک لیکلو فرصت نه دی موندلی.

عبدالملك وویل : یعنی څه مجبوری به یی په مخ کی وی؟ ددغی مجبوری په سبب یی طاهر ورغوښتی، اوس که طاهر ورنه شی نو هغه به څه ګومان کوی؟

طاهر اوچت شو توره یی سنبال کړه ویی ویل : هغی ماته د خدای «ج» نوم شفیع کړی دی. زه به خامخا ورځم، هغی یو ځل زما ژوند ژغورلی، که زما پر سر د هغی دا احسان نه وای هم ما به د قوم د یوی لور غږ ته لبیك وایه.

عبدالعزیز وویل : نو زه درسره ولاړشم.

طاهر قاطع وویل : نه! موږ باید پر هغی اعتماد وکړو، که څه خطر وای هغی به زه یوازی نه ورغوښتم.

*****

(۵)

د صدر اعظم د محل د جنوبی دروازی نه چی طاهر ورننوت د سپوږمی په رڼا کی یی صفیه ولیده، هغه د یوی ګنی ونی لاندی ودریده، طاهر هغی ته ورنژدی شو ویی ویل:

: ووایه!

: زه افسوس کوم چی یو ملګری دی غدار شو.

طاهر وویل : دا خبر. دی په لیك کی کړی، زه هغه ضروری خبره پوښتم چی تایی په لیك کی یادونه کړی.

صفیی چی د الفاظو کومې ذخیری جوړی کړی وی د وچو پانو د هغه انبار په څیر چی ښوکی یی تیت پرك کړی داسی تری تیت او ورك شول، دی پخپله په زړه کی پوښتل چی : ما دی د څه لپاره راوغوښت؟

هغی بیا پر خپلو حواسو د راقابو کیدو هڅه وکړه ویی ویل : زما یوه غوښتنه ده.

: ماته ستا هره غوښتنه د امر په معنی ده.

: حکومت ستا د نیولو په تکل دی، که یی په څو ورځو کی په آرامه ونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولی نو گومان کوم چی د زور له کارولو څخه به دریغ ونه کړی.

طاهر په داډ وویل : ماته معلومه ده.

: نو د خدای «ج» په خاطر له دی ځایه ولاړ شه، تاته هر وخت خطر دی.

: زه له خطرونه نه ویریږم، خو ستا له مشورې نه د مخه ما له دی ځایه د تلو اراده کړې وه.

: کله به ځی؟

: دیر زر!

: نو ما هم درسره بوزه!

طاهر تکان وخوړ یو گام شاته شو، خو صفیه ور وړاندې شوه تر لمن یې ونیو وییل:

دا مانې ماته یو زندان دی، په دنیا کې زما هیڅوک نشته، زه له دی ژونده په تنگ شوی یم، زه په مدینه کې په کومه څپره کې ژوند غوره گڼم، زما له بغداده کرکه ده، زما له دی محلونو نه کرکه ده چې د انسان په جامه کې ماران پکې اوسیږي.

: تاته ښایی دا معلومه نه وی چې زما هدف مدینه نه خوارزم دی.

: زه هلته هم تلو ته تیاره یم.

: مگر د هغه ځای حالات تاته معلوم نه دی، هلته له پخوانه په زرگونو د قوم داسی لونی شته چې ساتونکی نه لری.

زه پر هغوی یوه بله نه ور زیاتوم.

نو زه به ستا تر بیرته راتلو پورې انتظار وکړم، ته وعده وکړه چې ما به نه هیروی.

د طاهر ثریا ور په یاد شوه په غمجنه لهجه یې وویل:

زما نه اشتباه وشوه، زما گومان ؤ چې ته زما له ارمانونو سره خواخوږی لری.

صفیه یو گام شاته شوه وډریده، بیایی په درناکه لهجه وویل : ورځه! ما داسی گڼله چې ستا په زړه کې له انسانیت سره همدردی ده، خو ته پر ځان مین یې، ستا یوازی له خپل ذات سره محبت دی.

طاهر وویل : کاشکی تاته معلومه وای چې زه په ازغیو کې د مزله لپاره پیدا شوی یم، زه تا له ځانه سره نه شم کشولی، تا چې له ماسره کوم احسان کړی ښایی زه یې بدل درونه گرځولی شم، زما ورمیږ به تل پری تیت وی، زه ځان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتونکی نه یم خو د یوه سپاهی په ژوند کی داسی پراوونه راځی چی هغه د ژوند ډیری غوره هیلی قربانوی، هغه د چا د خولو په بدل کی د وینو تویدلو ته چمتو کیږی خو د هغه ذمه واری هغه پردی مجبوروی چی د چا د اوښکو پروا هم ونه کړی او د جګړی دګر ته روانیږی، ته په یوه شانداره مانۍ کی اوسی هم نفس دی تنګیږی. خو په ترکستان کی ستا په زرګونو داسی خویندی دی چی تر دی پراخ اسمان لاندی د سر پټولو ځای نشی موندلی، اوس زما د زیاتی پاملرنی حقداری هغوی دی.

د اسلام بدنصیبه لونی د عراق، مصر او عربو د نورو آرامو ښارونو اوسیدونکو خویندو ته فریادونه کوی چی که ستاسو میږونه، وروڼه او دوستان زموږ مرستی ته را رسیدای شی نو د خدای «ج» لپاره یی لاره مه تړی!

صفیی خپلی اوښکی پاکی کړی ویی ویل : ما وبخښه، ورځه خدای «ج» دی مرستندوی شه، ما پر تا غلط ګومان وکړ، زه یوه سنځه یم... ولاړ شه...!

دا تر دروازی ورسره ملګری وه، د سعید په اشاره پهره دار دروازه خلاصه کړه، طاهر یو ځل مخ ور واړاوه شاته یی ور وکتل، د هغی ځیره تازه او پر شونډو یی موسکا وه، په اوښکو لمبیدلی، ښایسته او سپیځلی موسکا چی په یوه وخت اروا پاله هم وه او حوصله ماتوونکی هم.

: ته خو به له مانه خفه شوی نه وی؟ طاهر زړه نا زړه وپوښتل:

: هغی په خواږه آواز وویل : نه! ته خو به ما هیروی نه!

طاهر ځواب ورکړ : هیڅکله نه!

طاهر ګړندی له دروازی ووت او صفیه په دروازه کی ودریده، هغه یی څاره، هغه له زینو څخه ښکته کیده چی ناڅاپه له ښی او کینی لوری دوی ډلی سپاهیان راښکاره شول، طاهر پخوا له دی چی توره وباسی د پنځلس شل تنو په منځ کی ایسار شوی ؤ.

صفیی په زوره وویل : سعیده وتښته.

سعید او دوه تنه پهره داران د مانۍ د یوه کونج په لوری په منډه ولاړل صفیه له دروازی راووتله خو قاسم په زینو کی ور وخوت او د هغی مټ یی ونیو ویی ویل : صفیی! تا نن ډیر لوی کار وکړ، ورځه اوس آرام وکړه، او هغه د ده په اوسپنیزو متو کی بی وسه وه ورسره روانه شوه، څو ګامه چی ولاړ ودریدل سپاهیانو ته یی وویل : سعید لکه چی وتښتید هغه هم راونیسی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کور دننه قاسم صفیه خپلی کوټی ته ور ټیله کړه او له بهر نه یی دروازه پسی زنځیر کړه.

چی بیرته راغی قاسم د مهلب په ډیر ټینګار طاهر هغه ته وسپاره پهره دارانو د محل ټول ځایونه ولټول خو سعید او دوه تنه پهره د ان یی ونه موندل. بالاخره یوه سپاهی خبر ورکړ چی د مانۍ یوه کښتی ورکه ده. نو اوسه به دوی بلې غاړې ته رسیدلی وی.

د نیمی شپی نه وروسته چی کله مهلب طاهر د زندان ساتونکی ته سپاره سعید او د هغه ملګرو عبدالملك او عبدالعزیز ته خپله کیسه اوروله.

*****

(٦)

طاهر بن یوسف د دجلی د سیند په غاړه د لوی زندان په یوه تل خونه «زیر زمینی» کی قلف ډ، سهار شوی ډ خو په زندان کی لا تیاره وه، دوه تنه پهره دار راغلل چی دی یی ویده ولیده دوډی یی ورته کښیښوده او تری ولاړل، یو دوه ځله یی سترګی وغړیدلی خو چی تیاره به وه بیرته به په لټ واوښت او ویده به شو. بالاخره یی داسی احساس کړه چی څوك یی خوځوی او له خوبه یی پاځوی.

هغه په ارخ واو، ت ویی ویل : څوك یی؟

: کرار غږیږه!

: طاهر وویریده سترګی یی وغړولی او په تیاره کی یی په ځیر له کتلو وروسته یو بل څوك ولیدل چی نژدی ورته ولاړ ډ جګ شو او کښیناست.

نا آشنا سړی ورته وویل : له کومی ورځی چی دا زندان جوړ شوی دی ښایی دومره د اوږده خوب خاوند نه وی ورته راغلی، اوس خو ماسپښین کیدونکی دی.

طاهر وویل : زه له ډیرو شپو راسی ډاډمن نه یم ویده شوی.

: نو داډه اوسه نور عمر به دلته په مزو ویده یی.

: ته څوك یی؟

: زه یو وخت یو څوك وم، اوس یو بندی یم.

: د شپی یی چی زه دلته راوستم زما په ګومان دلته څوك نه وو، ښایی ته یی همدا اوس دلته راوستلی یی؟

: نه زه له څو میاشتو را په دیخوا شاهی میلمه یم، زما او ستاد کوټی په منځ کی د یوه دیوال پرده ده، داسی ښکاری چی دغه د ځمکی د تل کوټی لومړی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیری پراخی وی خو وروسته چی د بندیانو شمیر زیات شو دیوالونه یی پکی پورته کړل او په دوو برخو یی وویشلی.

: نو ته په کومه لاره دلته راغلی؟

نا آشنا ځواب ورکړ : راشه زه یی دروښیم. په پیل کی دلته لیدل گران وی، ته زما مټ ونیسه، ویریږی مه، ځو شپی وروسته به زما په څیر ته هم په تیارو کی په لیدو بلد شی، ظاهر له نا آشنا سره له یوه تنگ محراب نه د تیریدو په وخت وویل

: دا خو ډیره پراخه لاره ده.

هغه ځواب ورکړ : نه تر اوسه تا د خپلی خونی اندازه نه ده اتکل کړی.

دا دروازه هغه په دوو برخو ویشی، زما کوټه هم دغسی ده، څو گامه چی نور ولاړل نا آشنا سړی تیټ شو ځمکی لوری ته یی اشاره وکړه ویی ویل : وگوره! دا سوری زما کوټی ته ورغلی دی، له دی لاری تیریدل بلدیدل غواړی، ته ښایی تیر نه شی لږ چاغ هم یی خوډ یر زر به ما غوښتی ډنگر شی، زه چی لومړی دلته راغلم ډیر چاغ وم، تر یوی میاشتی پوری دلته د لنده بل له املې په سړی تبه راځی او اشتها سوځی.

: دا لاره تا څنگه ومونده؟

: کله یی چی زه دلته راوړم یو سړی په دی کوټه کی ډ چی سر به یی له دیوال سره جنگاوه، تر دوو دری ورځو پوری می څه پروا ونه کړه خو بیا می یوه ورځ د ده په ځواب کی دیوال ور وډباوه، چی بیا لږ ځند وروسته زما په کوټه کی دیوال ته نږدی چا له ځمکی سر راویوست او ویی ویل :

السلام علیکم !

زه دومره وویریدم چی که د تیښتی لاره وای نو تښتیدلی به وم، هغه راته وویل : مه ویریږه زه ستا گاونډی یم، له لږ ځیر وروسته می وپیژاند، هغه قاضی ابو داود ډ چی په یوه دوسیه کی یی د پخوانی صدر اعظم د خوښی سره سم له پریکړی کولو نه انکار کړی ډ، دا لاره هغه زما د راتگ نه ډیر پخوا جوړه کړی وه، هغه ماته وویل چی د بی کاری نه په تنگ شوم بیا می د غولی دوی تختی لری کړی نجنه ځمکه می د یوه مات لوښی په کودی وکیندله، هغه ویل چی په څو ورځو کی می دغه سوری جوړ کړ خو چی په دی کوټه کی می څوك ونه موندل ډیر خفه شوم، په همغه لومړی ملاقات هغه زه پر ځان مین کړم خو دوه نیمی میاشتی پس هغه وفات شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پهره دار دلته سهار او مابنام دوه ځله راځی، له هغه وروسته به ټوله ورځ او ټوله شپه دواړه سره لیدای شو، یوازی د جمعی په ورځ هغوی د جاروکولو لپاره راځی، په هغه ورځ به دغه تختی پردې سوری ور ایږدی او غوره دا ده چی خپله جامه هم دلته وغورځوی. ته به هم خامخا زما په څیر په اوږده بند محکوم وی. ماته معلومه ده چی د جیل دی کوتو ته هغه څوک رالیږی چی بی گناه دی، خو ته زلمی یی زه حیران یم چی حکومت ولی دومره مهم بللی یی؟ ما ښایی چیرته لیدلی یی! راځه هغه بل لوری ته ولاړ شو هلته تیاره لږه کمه ده.

طاهر له نا آشنا سره بیا کښیناست، هغه ورته وویل: دودی وخوره.

طاهر ځواب ورکړ : زما اشتها نشته.

هغه وویل : دا ږیښتیا ده چی دلته هر بندی لومړی ورځ دودی نه خوری، ما هم دری ورځی ونه خوړه خو بیا ورو ورو سړی عادت کیږی.

ښه ته اوس دا ووایه چی ته تردی ځایه څه ور راورسیدلی، زه ستا نور څه درد نشم دوا کولی خو یو بل ته به خپل خپل داستان واوروو او خپل غمونه به سره سپک کړو.

زما گومان دی چی ته خامخا ما چیرته لیدلی یی، دلته چی سړی راځی حافظه یی ډیره خرابیږی.

: زما نوم طاهر بن یوسف دی.

: طاهر بن یوسف! ما دا نوم هم اوریدلی دی، ته په پوځ کی وی؟

: نه!

: نو په کومه اداره کی وی؟

: په یوه کی هم نه، زه بغداد ته د یوه لوی ارمان لپاره راغلی وم.

: نو بیا سهی ده دغه زندان د هماغو خلکو نصیب دی چی بغداد ته د لویو ارمانونو لپاره راځی، د خلیفه او نورو امیرانو د غضب ور هماغه څوک وی چی خدای «ج» تری خوښ وی، ښه ده اوس ماته خپله کیسه واوروه!

طاهر بغداد ته د راتلو او له قاسم سره د توری وهلو له مسابقی نه خپله کیسه پیل کړه.

نا آشنا یی خبره ورغوځه کړه ویی ویل : رایاد شول ته همغه ځوان یی، ما هغه ورځ هم دعا کوله چی خدای «ج» دی له بد نظره ساته، ښه وراندی څه وشول؟

طاهر د خوارزم له سفیر سره د خپل ملاقات یادونه وکړه چی هغه تکان وخوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېی ویل : ماته وګوره، زه وحید الدین یم.

: ته ! طاهر ناڅاپه وپوښتل!

: هوا هغه بدنصیبه زه یم، زما له دی ځایه د خلاصیدو امید نشته، او زه که ځان درته بی ګناه ثابت کړم کومه ګټه نشم کولی، خو اوس دواړه ملګری یو ځکه زه ستا د تسلی او داد لپاره خدای پاك حاضر ګنهم او سوګند کوم چی ما چنګیز خان ته څوك نه دی لیږلی.

طاهر وویل : زما پر تا باور دی، که هغوی پر تا څه جرم ثابتولی شوای نو په برالا محکمه کی به یی محاکمه کړی وای، زه یوازی دا پوښتنه کوم چی ته یی څه وخت او څه ډول دی بندیخانی ته راواستولی؟

لومړی دی ته خپله کیسه تمامه کړه، وروسته به زه ستا د تولو پوښتنو ځواب درکړم، طاهر تر پایه خپله کیسه وکړه. وحید الدین تر لږ ځنډه په ژورو فکرونو کی ډوب هغه ته کتل، بالاخره یی وویل:

اوس زه ستا پوښتنو ته ځواب درکوم، ستا د کیسی له اوریدو وروسته زما دا شك په یقین بدل شو چی زه د مهلب بن داود په دسیسی کی رابنکیل شوی یم. دغه سړی په بغداد کی د چنګیز د سفیر ملازم ؤ، د شهزاده مستنصر په سفارش ما په خپل دفتر کی راسره ونیو د ده د علم په اړه باید ووایم چی زه یی اوس هم ستایم، د خپل عمر په تناسب هغه ډیر هوښیار دی، د شهزاده مستنصر په واسطه یی تر خلیفه پوری اړیکی ورسیدی، او ما داسی احساسوله چی زه هسی تش په نامه د بهرنیو چارو وزیر یم، د سپینو او تورو تول اختیار له هغه سره ؤ، که زما ورځ نه وای ګرځیدلی نو مخکی می باید استعفی کړی وای، خو زما په برخه دغه ذلت ؤ، ما یو دوه ځله هغه ته د استعفی خبره وکړه. خو خلیفه ته یی شکایت وکړ، خلیفه پر ما پتکی وکړی، له هغه وروسته ما له هغه نه سترګی پټی کړی د چنګیز خان د عروج داستانونه چی مشهور شول نو هغه ماته مشوره راکړه چی له چنګیز خان سره د دوستی ترون لاسلیك کړو او د خوارزم پر خلاف یو محاذ جوړ کړو. ما ددغه خبری مخالفت وکړ اول هغه هم چوپ شو، ما صدر اعظم ته څو ځلی شکایت وکړ چی دغه سړی خطرناك دی خو هغه ددی خبری پروا ونه کړه، یوه ورځ زه خلیفه وروغوښتم امر یی راته وکړ چی د چنګیز خان په نامه د دوستی یو پیغام واستوم، خو ما دا عذر وراندی کړ چی په اوسنی حالت کی زموږ استازی ته له خوارزم نه تیریدل او قراقرم ته رسیدل نا ممکن دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم فصل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

که هغه په لاره کی ونیول شی نو د خلافت د دربار بدنامی به وی، خلیفه چی زما دلیل واورید هیڅ یی زور ورنه کړ، خو څو ورځی وروسته مهلب راته وویل چی نن صدر اعظم خلیفه ته یو لیك وراندی کړ چی د خوارزم حکومت د بغداد ډیو استازی د تلاشی نه وروسته له هغه نه ایستلی دی او په بغداد کی یی خپل نفرینه ته را استولی دی، هغه دا هم راته وویل چی په هغه لیك ستا لاسلیك دی ځکه خوښه دا ده چی ته چیرته غلی شه خو ما د هغه مشوره ونه منله ورته ومی ویل :

څرنګه چی ما داسی لیك نه دی لیکلی نو زما له پوښتنی او پلټنی څه ویره نشته، زه همدا اوس د خوارزم د سفیر، صدر اعظم او خلیفه په وراندی خپله صفایی وراندی کوم، خو چی کله زه له دروازی راووتم بهر نهه، لس تنه سپاهیان او کوتوال ولاړ وو. د مهلب په اشاره یی زه ونیولم اوس راته معلومه شوه چی مهلب زما په جعلی لاسلیك پیغام استولی او له ما وروسته چی خلیفه هغه سمدستي زما پرځای وتاکه دا معنی لری چی دا هر څه د خلیفه په اشاره شوی دی. هغه د بدنامی له ویری زما د محاکمی کولو څخه ویریده او د خوارزم د سفیر د تسلی لپاره به یی زما له بندی کولو وروسته هغه ته ویلی وی چی مجرم چیرته تښتیدلی دی.

ستا په گومان صدر اعظم په دی دسیسه کی شریك نه دی؟

: نه! که هغه شریك وای نو زما سره به مهلب هم دلته یوځای ؤ، زما په گومان خو هغه زما له بندی کیدو څخه هم نا خبره دی، که نه نو هغه به برالا په محکمه کی زما په باب عرض کړی ؤ، زه دا منم چی هغه تر وروستی حده چاپلوسی خوښوونکی دی. خو له مغلو نه یی کرکه ده، او هغه د خوارزم سره د ښو اړیکو پلوی ؤ.

د هغه تر تولو ستره کمزوری له خپل نالایق زوی قاسم سره مینه ده.

طاهر وویل : مگر خلیفه چنگیز خان ته په پیغام استولو کی ستا نوم ولی استعمال کړ؟ هغه په آسانی ستا پر ځای مهلب او یا بل څوك تاکلی او د خپل لاس آله گرځولی شوای.

: دا ددی لپاره چی د استازی د نیول کیدو په صورت کی په داسی چا تور ولگیږی چی خدمتونو ته یی نور خلیفه ضرورت ونه لری، زما په اړه د خلیفه یقین زاغلی ؤ چی زه به په دی مسأله کی راز ونه ساتلای شم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور او وینی

علاو الدین محمد خوارزم شاه د لومړی ماتی نه وروسته شمال لویدیز ته مخه کړه او د سیحون «آمو» په غاړه یی واړول، د جنوب له ښارونو نه د نورو پوځونو د ور رسیدلو په انتظار شو، د قوقند له فتحی وروسته چنګیز خان د آمو سیند په بهیر کی د شمال لویدیز پرځای د لویدیز لوری ته مخه کړه او خپل زیات پوځ یی جنوبی لوری ته واستاوه.

هغه له دی محاذه د خوارزم شاه د پام اړولو لپاره خپل دوه زامن په شمال کی «اترار» لوری ته واستول، خوارزم شاه په خپل ګومان د چنګیز خان زامنو ته د سیحون، پر غاړه د یوی سختی ماتی ورکولو لپاره بی دریغه پوځی تیاری نیولی ؤ. خو ناڅاپه یی خبر واورید چی د چنګیز خان پوځ د جنوب ختیځ څخه د آمو سیند په بهیر د سمرقند او بخارا په لوری را روان دی، محمد شاه ته سمدستی دوی اندیښنی پیدا شوی لومړی د خپلی حکمرانی دوی مضبوطی کلاوی د ده له لاسه د وتلو اندیښنه له بله پلوه که دغه دوه مضبوطی کلاوی د ده له لاسه ووزی نو د آمو سیند څخه د ارال تر جهیل پوری به ټوله پراخه سیمه په ډیره آسانی د دوی له لاسه و وزی او په جنوب کی به د مرستی او اذوقی لاره پری بنده شی.

محمد شاه په دی وخت کی هم د خپلو تجربه کارو جنرالانو مشوره ونه منله او په یوه محاذ پر خپل ټول ځواك د مغلو د مقابلی پر ځای ئی د لښکر زیاته برخه د مختلفو ښارونو د دفاع لپاره واستوله، څلویښت زره تنه پوځ یی د آمو د سیند پر غاړه آبادو ښارونو د ساتنی لپاره پریښودل او هغه بخارا ته مخه وکړه، دیرش زره تنه یی هلته پریښودل او له پاتی لښکر سره سمرقند ته ورسید.

په دی موده کی د چنګیز خان یو زوی تر آمو پوری ووت او په اترار یی یرغل کړی ؤ، د ښار والی تر وروستی سلګی وجنګید او چی مغلو برجونه او دروازی ور ونړولی او د ده پاتی پوځونه یی هم تر تیغ تیر کړل هغه په یوه برج وخوت او یوازی یی پر مغلو د غشو باران جوړ کړ، چی غشی یی خلاص شول بیا یی پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خښتو ویشتل.

بالاخره هغه ژوندۍ ونیول شو او د چنګیز خان دربار ته یی بوتلو، چنګیز خان یی په غوږونو او سترګو کی ویلی شوی سرب وروځځول او ویی واژه.

د چنګیز دوهم زوی تاشقند ونیو، بیا د مغلو لښکر په څو برخو وویشل شو او د آمو «سیحون» د سیند په غاړه یی د څو وړوکی ښارونه لاندی کړل.

چنګیز خان له خپل یوه زوی «تولای» سره د بخارا په لور وراندی ولاړ او په لاره کی پراته کلی یی په وینو او اورونو کی راونغښتل، خوارزم شاه په سمرقند کی د هغه د پرمختګ خبر واورید، د پوځ د سردارانو اوس هم دا نظر ؤ چی د چنګیز خان سره باید یو پریکنده جنګ وشی، خو خوارزم شاه بیا هم د بخارا برجونه او مورچل مضبوط وبلل د دوی رایه یی رد کړه او د ښار د ساتنی لپاره یی نور پوځ هم ور واستاوه، پردی سربیره یی د جنوب له ښارونو نه سمرقند ته د لښکر استولو امر وکړ، خوارزم شاه دا هیله درلوده چی مغل به د بخارا په نیولو څو میاشتی تیروی او په دی موده کی به دی د خپل سلطنت شړیدلی نظم او اداره بیرته راسمبال کړی.

چنګیز خان د ښار له کلابندی نه څو ورځی وروسته دا احساس کړه چی د ښار فتحه کول دومره اسانه نه دی، په تیرو فتحو کی هغه د وسلو جوړولو ډیر مسلکی ماهرین نیولی وو، چی په هغوی کی ځینو د دوی خدمتګاری قبوله کړی وه، د یوه سړی په مشوره چنګیز خان پر ښار اور لرونکی غشی ور وویشتل، د اورنیو غشو له املې د ښار په یوه ګوټ کی اور بل شو، چی په ټول ښار کی له دی پیښی نه ګډوډی او وارخطایی ګډه شوه.

ترکی پوځونو له مجبوری نه له ښار نه بهر مقابله او جګړه پیل کړه، خو ماته یی وخوړه، مغلو هغوی له ځلورو خواو را ایسار کړل او ټول یی تر تیغ تیر کړل.

د ښار مخور چی له پوځ نه محروم شول چنګیز خان ته یی د یوه هیأت استولو پریکړه وکړه، د ښار یو منلی سپین ږوبی امام زاده رکن الدین له دی پریکړی سره مخالف ؤ، هغه د ښار د سپین ږوبو په مخکی احساساتی خبری وکړی وییل : موږ لږ تر لږه تر شپږو میاشتو پوری د ښار نه دفاع کولی شو، زما باور دی چی د سمرقند پوځونه به په دی حالاتو کی دلته را رسیږی، اوس به چنګیز خان د ښار د دروازو د خلاصولو په خاطر زموږ هر شرط ومنی، خو دمغلو په باب دا ګنل چی دوی به د کومی ژمنی پابند پاتی شی د ځان تیر ایستل دی. کله چی د مغلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځونه ښار ته ننوزی نو هماغسی سلوك به درسره کوی چی د اترار او تاشقند له اوسیدونکو سره یی کړی.

خو د امام زادهٔ غږ د صحرا فریاد ته ورته شو چی هیڅوا وانه وریدد ښار د مشرانو استازو چی له چنګیز خان سره ولیدل پر ښاریانو یی دا زیری وکړ چی ستاسو سرونه، عزت او مال خوندی دی، د ښار نوی حاکم به هم مسلمان وی او د ښار دروازی بیرته شوی.

*****

(۲)

رکن الدین سهی ویلی وو، د بخارا خلکو وحشت او ستم پر خپلو سترګو لیده، هغه مدرسی چی د قرآن زده کړه به یکی کیدله د مغلو پوځیانو اسونه یکی وترل او طبیلی یی تری جوړی کړی، چنګیز خان د بخارا د لوی جومات په مخکی له اس نه پلی شو، له یوه سړی نه یی وپوښتل:

دا ستا سو د پاچا کور دی؟

: نه دا د خدای «ج» کور دی.

چنګیز خان جومات ته ننوت حاضرو خلکو ته یی په خطاب کی وویل : زما پوځونه ستومانه شویدی هغوی خوب او خوراك ته اړتیا لری، هغوی ته د خپلو کورونو دروازی خلاصی کړی، او زموږ د اسونو لپاره دغسی پراخ ځایونه خالی کړی او وابنه هم ورته تیار کړی، په یاد ولری چی تاسو د خدای «ج» له قهر نه ویریږی او زه درباندی د خدای قهر را نازل شوی یم.

چنګیز خان خپل یوه ترجمان ته وویل چی دغه خبری دوی ته ووایه او بیا له جومات نه ووت، دا یی پیل ؤ وروسته بیا چی د بخارا اوسیدونکو څه ولیدل د دوی له اتکل او تصور څخه ډیر زیات وو، د شپی مهال نارینه ؤ ته خپلو کورونو ته د ننوتلو اجازه نه وه، دوی به بهر د کورونو په مخ کی ولاړوو او د کورونو دننه یی د مغلی سرتیرو وحشیانه خندا گانی او د خپلو تورسریو زړه ریږدوونکی کریږی اوریدی، که به د چا غیرت په جوش راغی او خپل کور ته به یی د ننوتلو هڅه وکړه د پهره دارانو د توری په ګوزار به پر خاورو او وینو کی راپریوت.

د امیرانو پر مانیو د مغلو پهری له دی نه هم سختی وی، هغوی ته به یی ډول ډول شکنجی ورکولی او د پټو خزانو پوښتنی به یی تری کولی، چی کله به دوی کومه خزانه ور وښودله نو ورته وبه یی ویل چی تا نور هم ډیر څه غلی کړی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی به چې څه درلودل ټول به یې ورکړل خو تاتاریانو به تر مرګه نه پریښودل.

د بخارا د اوسیدونکو په لاس به یې بیلونه ورکړل او د امیرانو د مانیو تاداوونه به یې پرې کیندل. او کله چې دوی پوه شول چې په بخارا کې څه د کار شی پاتې نه دی نو د ښار اوسیدونکی یې یوه پراخ میدان ته راوستل، نور له چا سره شك نه ؤ چې له دوی سره به څه کوی.

هر لوری ته د ماشومانو او ښځو زړه بورنوونکی کریږی اوچتی وی، د نارینه ؤ په سترګو کې اوښکې وی، ښځې په کریږو چیغو او ژړا له نارینه ؤ نه جلا کړای شوی د بې کسانو سترګې اسمان ته اوچتې وی، له هغوی نه آزادی اخستل شوی وه او په ښار کې د دوی له کورونو نه اورونه او لمبې جګې شوی وی، اوس د دوی ښځې هم تری اخستل شوی وی، هغه پرده داری ښځې چې تر اوسه یې مخ لمر نه ؤ لیدلی، تاتاریانو د دوی د زامنو او میړونو د وړاندی د دوی پر عصمت تیری کاوه، د نارینه ؤ مخې ته د مغلو د سپرو د نیزو دیوال ولاړ ؤ او له هغوی نه وسلی ټولی شوی وی.

امام زاده رکن الدین چیغې کړې : بې غیرتو! څه ته ګورې! له څلورو لوریو د تکبیر چیغې اوچتې شوی او د بخارا اوسیدونکی د مغلو پر لښکر ور پریوتل، د تشو لاسو او دتورو مقابله پیل شوه، خو په څو شیبو کې زیاتو خلکو په تش لاس له مغلو نه نیزې، توری او خنجرونه اخستې وو، هغو سرتیرو چې د تورسریو بې عزتی یې کوله زیاترو د توری سنبالولو او پر اس سپریدو فرصت ونه موند، خو د مغلو زیات لښکر پر اسونو سپاره او هر ډول مقابلې ته چمتو وو هغوی په څو حملو کې د مړیو انبارونه جوړ کړل، بیا هم دوه زره تنه مغلی عسکر وژل شوی وو، هغوی په غوسه شول او په څو ساعتونو کې یې ټول ووژل او ډګر یې صاف کړ، یوازې څو تنه تور سریې پاتې شوی د هغوی لاسونه یې په رسیو وترل او بیا یې د اسونو پر زینونو باندې وترلې او د سمرقند په لوری یې کوچ وکړ، پر اسونو ترلې ښځې تر ډیره لاسونو سره سمې نه شوا ځغستلای، هغوی به وغورځیدې او چې شاه به یې ورکړه مغلی سپاره به په خنجر له زین نه پرې پرې کړ.

چنګیز خان د بخارا په فتحه دومره خوښ نه شو لکه چې د خپلو دوه زره جنګیالیو په مرګ چې خفه ؤ.

* * * * *

(۳)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمرقند په دفاعی لحاظ د خوارزم شاه تر تولو مظبوط ښار ؤ، د ښار د ساتنی لپاره یو لك اولس زره تنه پوځ تیار ؤ، خو د مغلو په لاس د بخارا د فتحی د خبر له اوریدو سره د سلطان اعتماد ولړزیده، د ښار قوماندہ یی څو سردارانو ته وسپارله او پخپله د بلخ په لوری ولاړ، پوځ چی له دوو لویو شخصیتونو څخه د سهی لاربښوونی هیله درلوده هغوی په سمرقند کی نه وو، د پاچا زلمی زوی چی د خوارزم زمری یی ورته ویل، د هیواد په شمال لویدیځو برخو کی پوځ راتولاوه، هغه خپل سرتمبه پلار ته استازی واستاوه او سمرقند ته یی د راتلو اجازه تری وغوښتله خو د سلطان له طرفه دا ځواب ورغی چی : ته زما څخه زیات د تجربی خاوند نه یی. چی کله درته ضرورت شو راوبه دی غواړم.

دوهم تیمور ملك ؤ چی د قوقند په جګړو کی یی تول ترکستان پر میړانه او توره اعتراف وکړ، د هغه په باب د سمرقند زاړه او واړه دا رایه وه چی په یو لك اولس زره پوځ مغلو ته په هر میدان ماته ورکولی شی. خو چی سلطان سمرقند ته راغی هغه یی د بلخ شاوخوا جنګیالیو قبیلو د منظم کولو لپاره ولیږه.

کله چی خوارزم شاه هم له سمرقند نه ووت نو په تول لښکر کی مایوسی خپره شوه، سرداران او امیران له پخوانه د رقابتونو په سبب په مختلفو ډلو او تولګیو ویشل شوی وو، چی دیوه با نفوذه سړی له سر مشری نه محرومیت د دوی ترمنځ اختلافونه نور هم زیات کړل.

د کلابندی په دوران کی د چنګیز خان یو زوی چی د سیحون «آمو» د سیند په شاوخوا کی یی ډیر ښارونه او ښارګوټی ونیول له زیات شمیر بندیانو سره له خپل پلار سره یوځای شو، د سمرقند برجونه او دیوالونه ډیر مظبوط وو، د وولس او- سپینزی دروازی چی په برجونو کی یی ساتونکی ناست ؤ نه فتحه کیدونکی وی.

چنګیز خان د دیوالونو او برجونو په شاو خوا بندیان د مورچلو پر جوړولو وګومارل او د اوږدی کلابندی تیاری یی پیل کړ، د ښار ساتونکی پوځ دا احساس کړه چی تر دوو میاشتو پوری به تاتاریان په شاوخوا سیمه کی دومره پښی ښخی کړی چی بیا که له بهر نه له موږ سره مرسته کیږی هم نو ښار ته به یی را رسیدل امکان نه لری، د مورچلونو د جوړولو لپاره له شاوخوا کلیونه د بندیانو نوری ډلی راوستل شوی.

ددغو حالاتو سره د مقابلی په خاطر د پوځ سردارانو پریکړه وکړه چی بهر وروزی او مقابله وکړی، ترکان ډیر په میړانه جنګیدل او په هماغه شیبو کی چی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مغلو د لښکر پښې په لړزیدو شوی څو تنه پوځی سرداران چې پخوا یې له چنګیز خان سره معامله کړې وه له دیرش زره پوځ سره له هغوی سره یوځای شول. د فتحی نه وروسته چنګیز خان په لومړی ورځ د دوی خاطر وساته، دوی ته یې د اغوستو لپاره د مغلی پوځیانو جامې ورکړې، خو کله چې په ښار کې له عامې وژنې نه بیغمه شول هغه دیرش زره غداران یې له سردارانو سره یوځای په خوب ویده په مرګ وسپارل. چنګیز خان د دښمن له غدارانو نه د کار اخستو قایل ؤ خو د هغوی په ژوندی پریښودو نه ؤ.

د سمرقند له فتحی نه وروسته چنګیز خان خپل ډیر غوره سپاره په خوارزم شاه پسې ور واستول. چنګیز خان ګومان کاوه چې که خوارزم شاه فرصت وموند نو په څو ورځو کې به نور لښکر تیار کړي. ځکه خو هغه تعقیب کوونکو پوځیانو ته حکم وکړ چې په هره بیه د خوارزم شاه درک ولګوی او چې په کوم ښار کې دی هغه کلابند کړي، له نورو ښارونو نه لاره کړه کړي او په خپل حال یې پریږدي.

خوارزم شاه ته هم معلومه شوه چې چنګیز خان د نورو ښارونو له نیولو وړاندې دده د نیولو لپاره هڅې کوي. هغه له مختلفو ښارونو څخه تیر شو او نیشاپور ته ورسید، تاتاریانو د لارې ښارونه پریښودل او همالته ورپسې ور ورسیدل، خوارزم شاه همدان ته مخه کړه خو مغل د سیوري په څیر ورپسې وو، په یوه ځای کې یې را لاندې کړ او د خوارزم شاه نه پرته یې د هغه نور زیاتره ملګري تر تیغ تیر کړل خوارزم شاه پخپله په غشو زخمي وتښتید، اوس په دې دنیا ده ته تر ټولو ستره مسأله د ځان ژغورل وو، د هغه خپل ملګري تري په تنګ شوی وو، او چې له ځلورو خواو نه مایوس شو د خزر بحیرې په غاړه یې واړول، د ټولو قبیلو سردارانو ته یې خلك واستول خو هیڅوك یې مرستې ته ورونه رسیدل.

*****

(٤)

خوارزم شاه نور په دنیا کې په هیڅا اعتماد نشو کولای، د مغلو په څیر یې هر وخت له خپلو ملګرو نه هم د ځان ویره احساسوله، ده به د ځان لپاره څو خیمې درولې، خو له یو دوو غلامانو نه پرته به هیڅا ته دا معلومه نه وه چې نن شپه به هغه په کومه خیمه کې ویده وي. یوه شپه دې له خپلې پراخې خیمې څخه راووت او په یوه وړوکې خیمه کې ویده شو سهار لومړی خیمه په غشیو سورې سورې وه. یو ماښام د سمندر په غاړه ولاړ ؤ، چې له لیرې یې ګردونه ولیدل چې پورته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول، شك ورته پیدا شو چی مغلیان راغلل، خو یو سپاهی راغی خبر یی ورکړ چی دا د مسلمانانو لښکر دی، لښکر چی را نژدی شو ودریدل هغوی یوازی پنځه زره تنه وو، خوارزم شاه مایوس شو یو سپور وراندی راغی او خوارزم شاه یی له لیری وپیژاند اس یی ور وزغلاوه نژدی ورغی

دا جلال الدین ؤ.

یوه شیبه پلار او زوی یو بل ته کتل، خوارزم شاه وویل:

جلاله ! له اس نه نه پلی کیږی!

: نه زه باید ډیر لری ولاړ شم، زه یوازی ددی پوښتنی لپاره راغلی یم چی زه دی د څه لپاره رابللی وم؟

: نو ته زما مرستی ته نه یی راغلی؟

: په دی ویرانه کی تا ته د څه شی خطر دی؟ زه د مرګ په لټه پسی حُم، له مرګه د تښتیدونکو به څه مرسته وکړای شم؟

خوارزم شاه ور وراندی شو د جلال الدین د اس جلب یی ونیو ویی ویل : نه نه زه تانه پریږدم چی ولاړ شی، حُمکه پر ما تنګه شوی ده، ته زما وروستی تکیه یی، راځه زه خپله خیمه درښیم چی په غشو سوری سوری ده، نن ټوله دنیا زما دښمنه ده، ایا زما زوی هم زما مرسته نه کوی؟

جلال الدین ځواب ورکړ: کاشکی تا له دنیا سره څه ښیګنه کړی وای ستا په سبب هیواد ته د یوه وحشی غلامی ور په برخه شوه، تا یوازی د ځان د ژغورلو په خاطر ټول هیواد لیوانو ته وسپاره، اولس ستا د اشتباهاتو سزا ګالی، مسلمانان ستا په خاطر د مغلو له لاسه د خپلو خویندو او نږورانو بې پتی ګوری، نن ته دا پیغاړ ور استوی چی راشی زما پر خیمه پهره وکړی خو په کومه خوله؟

جلاله ! جلاله زه ستا پلار یم.

: کاشکی زه ستا د کور پرځای د یوه غریب خو غیرتی په کور کی زیږیدلی وای.

جلاله ! زما زړه مه خپه کوه!

: کاشکی ستا په سینه کی زړه وای. خو تقدیر هلته د غوښو یوه بی حسه ټوټه ایښی.

: آخر له دی خبرونه ستا مطلب څه دی؟

: هیڅ نه، دا زما له تا سره وروستی ملاقات دی. او زه تاته له دی غوښتنی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره راغلی یم چی خزانه ماته وسپاره، زه غواړم چی د بخارا او سمرقند د خزانو په څیر دا هم د دښمن په لاس کی ونه لویږی. زه د نویو پوځونو راټولولو لپاره یوی یوی تنګی ته اړتیا لرم.

: نو ستا ګومان دی چی له مغلو سره جنګیدلی شی؟

: زما له پیله دا ګومان ؤ خو تا می لاره بنده کړی وه.

: جلاله ! له تاتاریانو سره جګړه لیونتوب دی، او زه په دی مصیبت کی له پاتی شتمنی څان خلاصول نه غواړم. د خدای «ج» لپاره زما ملګری شه، پر ما تر څانه ستا ژوند ډیر ګران دی، ددی آسمان لاندی داسی ځایونه شته چی موږ پاتی ژوند په آرامه پکی تیر کړای شو. موږ به مصر ته ولاړ شو، اندلس ته به ولاړ شو.

: زه له بی غیرتو سره د ژوند تیرولو پرځای له میړنیو سره مرګ غوره ګڼم، هغه اولس چی ستا د تخت لپاره خپلی وینی بهولی، نن هغه زما وینو او خولو ته ضرورت لری، زه هغوی ته شا نه شم کولی!

: مګر په دی پنځه زره کسانو به ته څه وکړای شی، مغل د شګو له ذرو نه هم ډیر دی.

: په داسی وختونو کی یو سر تیری له بری او ماتی نه بی پروا ډګر ته په ور ننوتلو مجبوریږی، زه به خپله ذمه واری پوره کړم، بری او ماته د خدای (ج) په لاس کی دی، خو په ژوند پر ما ته اعتراف د یوه مسلمان له شان سره نه ښایی. زما پردی هم باور دی چی که زه دغه پنځه زره تنه پوځ ته د میړنیو مرګ ور زده کړم نو ټول قوم به ژوندی او راپاڅی، ته مصر ته ولاړ شه زما دا خزانی په کار نه دی، زه به په نس ډبری وتړم او بدن به په ټوپکو پټ کړم وبه جنګیږم، او زما باور دی چی اولس به راسره ملګری شی.

جلاله الدین اس راوګرځاوه او پوښه یی کړ،

: جلاله‌ودریږه! ما دلته مه پریږده! دلته زما هیڅوک نشته ماله څانه سره بوزه.

جلال الدین اس ودراوه ویی ویل : راځه!

: چیرته ؟

: د آزادی په لټه پسی په مرګ پسی!

: نه نه! زویه زما خبره واوره موږ له مغلو سره نه شو جنګیدای.

: ستا حکم ماته د خدای «ج» او رسول «ص» له حکم نه معتبر نه دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ لاری او هدفونه سره بیل دی خدای پامان!
څو ورځی وروسته خوارزم شاه ته چا خبر راوړ چی تاتاریان راغلل او هغه د خزر بحیری یوی جزیری ته پناه یو وړه، او بیا همالته په نومورکی مړ شو.

*****

(۵)

د مغلو سیلاب د ترکستان، خراسان او ایران پراخه میدانونو ته مخه کړه، د اور او وینو ددغه توپان په مخکی غرونه، سیندونه، او کلاګانی هیڅ هم نه وی، په شمال او لویدیځ کی د مغلو د سیلاب څپی د خوارزم له هیواده تیری شوی او د دنیپر د سیند څنډ وته ورسیدی. د چنګیز خان یو زوی په روس کی د مسکو دروازی ورټکولی، بل زوی یی په ختیځه اروپا کی وړوکی وړوکی پادشاهی تر ناتار لاندی راوستی وی خو د خوارزم په پراخ هیواد کی تر اوسه یوه نه ماتیدونکی مورچه پاتی وه، د سیلابونو توندی او ګړندی څپلی څو ځلی پری ور واوښتی خو هغه یی ونه لړزولی شوه، د خوارزم په ایرو کی لا تر اوسه یوی سپرغی‌لمبی وهلی، او چنګیز خان دا خطر احساساوه چی که یی دغه سکروټه مړه نه کړه نو د اَیرو دغه انبار به یو وخت یو اور غورځوونکی غرشی، دغه اوسپنیز کمر او دغه بله سپرغی جلال الدین و، د یوه بی زړه پلار میرنی زوی. هغه له هغو کسانو څخه ؤ چی په ژوند یی ماته منل نه پیژندل او چی د ماتی او بری څخه بی پروا جګړه کوی، او چی د سمندر د ژور توب پروانه کوی او پکی ور ښکته کیږی.

جلال الدین د سرتیرو د ګوتو په شمیر یوی ډلی سره څو ځلی له مغلو سره مقابله وکړه، هغه به چی په یوه ځای ماته وخوړه وبه ووت او دوبمه ورځ به اوریدل کیدل چی دیرش څلویښت میله لری یی د خپل هیواد کوم له لاسه تللی ښار بیرته نیولی دی، کله به له هغه سره پنځه زره تنه سپاهیان وو کله پنځه سوه او کله بیا له پنځو سوو نه هم لږ، خو هغه به جنګیده، د وږی زمری په څیر به یی له شا یرغل راوړ، د شاهین په څیر به یی د مخی پر لښکر حمله وکړه او تاتاریانو به ورته کتل دوی به د سترګو په رپ کی په کوم غره او یا څنګل کی الوتنیه شول.

د شپی مهال به د هغه سپرو د مغلو په چونی‌حمله وکړه، او د سترګو په رپ کی به د بلومشالونو په واسطه سلګونو خیمو اور واخست، هغه د تاتاریانو د بی شمیره لښکر نه ونه ویریده، پر فتحه شویو ښارونو او کلیو د مغلو د تیریو او ظلمونو داستانونو او نکلونو دده حوصله ماته نه کړه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنوب د ښارونو اوسیدونکو چې د بخارا، سمرقند او نورو ښارونو پر خلکو د مغلو د ظلم داستانونه واوریدل زیاتره اوسیدونکی یې ګاونډیو هیوادونو ته په هجرت اړ شول. د عراق، شام «سوریې» افغانستان او مصر په لوري تللیو لارو پر سر په لکونو کډوال له لوړې مړه کیدل، شتمن خلك د محمد شاه د لومړي ماتې د خبر له اوریدو سره ګاونډیو هیوادونو ته مهاجر شوی وو. خو د څو نورو ښارونو له فتحې وروسته چې کله د تولو پردې باور شو چې مغل کوم داسې نارینه سړي ژوندی نه پریږدي چې توره اوچتولی شي نو غریبو او بې وسه خلکو هم خپل کلي او ښارونه پریښودل دغو قافلو او لارښوونکو ته یې ډیرو لږوته دا معلومه وه چې د دوی هدف کوم ځای دی، خو دوی بیا هم روان وو، له شمال ختیځ نه د مغلو یرغلونو دوی د جنوب لویدیځ په لور خوځولی وو.

کومې قافلې به چې له مغلو سره مخ شوی په هغوی کې به له څو ښځو پرته تول وژل کیدل.

د ازل له ورځې تر ننه د ورځې لږ او د شپې ستوریو د خدای «ج» په ځمکه پر خپلو سترګو داسې ظلمونه نه وو لیدلی.

د کډوالو زیاتره ډلې د مروی په لوری تللې، او دا هغه ښار ؤ چې شپږ پیړۍ پخوا د ترکستان لوی فاتح قتیبه «رح» بن مسلم باهلی پکې اوسیده، هلته د سلطان سنجر سلجوقی قبر هم ؤ.

د جلال الدین د عملیاتو له امله زیاتره کډ وال د مغلو له یرغل نه خوندی مروی ته ورسیدل، په څو میاشتو کې هلته څو لکه تنه کډوال راټول شول.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهمی پریکړی

د طاهر په بندیخانه کی لس میاشتی تیری شوی وی، په لومړنیو څو هفتو کی خلك ډیر احساساتی او پاریدلی وو، خو ورو ورو یی جوش او جذبه غلی شوه او مظاهری بندی شوی، حکومت چی د اولس نه ډاډه شو د حکومت پر خلاف د بغاوت په تور یی د عبدالعزیز، عبدالملك او د دوی د نورو ملګرو د نیولو فرمان صادر کړ، خو د هوښیارو او د نفوذ خاوندانو یوه ډله بیا هم د دوی ملاتړی وه او حکومت ته په آرامه د دوی د نیولو فرصت برابر نه شو.

چی د بخارا، ترمز، سمرقند، طوس او ری په باب د بغداد خلکو دردوونکی خبرونه واوریدل بیا پر بل ارخ واوښتل او د طاهر پلویان زیات شول.

د کډوالو یو کاروان بغداد ته ورسید، د هغوی نه چی د مغلو د اروا خوږونکو ظلمونو کیسی خلکو واوریدی د بغداد په هر مجلس کی د خلیفه او نورو امیرانو پر بی حسی مجلسونه تاوده شول، چی ایران ته یی د تاتاریانو د لښکرو ننوتلو خبر واورید اندیښنه او وارخطایی یی په ویره بدله شوه، او خلکو په وازکومی د خلیفه، صدر اعظم او نورو امیرانو پرخلاف خپله غوسه څرګندوله.

یوه شپه د سپار د هر جومات په دروازه دا اعلان لګیدلی ؤ چی:

«د غفلت پر خوب ویدو! وینې شئ چی د مرګ اوبرېادی توپان د بغداد دروازی ټکوی، کوم خلك چی تاسو خپل ساتونکی ګڼی هغوی له مغلو سره ستاسو د عزت او ازادی معامله کړی ده، ایا تر اوسه د حکومت بی طرفی ددی ثبوت نه دی چی طاهر بن یوسف چی د خلیفه او چنګیز خان په منځ کی د پټی معاهدی خبره رسوا کړه هغه رښتیا شوی ده. که د طاهر تور غلط ؤ نو حکومت په محکمه کی ولی د دعوی جرئت نه کوی؟

که خلیفه له علاوالدین محمد خوارزم شاه سره دښمنی درلوده هغه خو مړ شو، اوس په ترکستان، ایران او خراسان کی د مغلو د بی دریغه ظلمونو د خبرونو له اوریدو سره ولی هغه د جهاد اعلان نه کوی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بغداد خلکو! ستاسو غدار تاسو پر هغه دښمن پلوری چې رحم هیڅ نه پیژنی، اوس ددی مهال را رسیدلې دی چې تاسو یوه پریکړه وکړی د بغداد په لوی جامع جومات کې به د جمعې د لمانځه نه وروسته یو پیغام واورول شی!»

د جمعې په ورځ په جامع جومات کې د پښې ایښودلو ځای نه ؤ، پیغام اوروونکی عبدالملك ؤ، اوریدونکو دا احساسوله چې د طاهر بن یوسف روح د بندیخانې نه راوتلی او د ده په وجود کې دی، د هغه د وینا تر تولو رومبی اغیزه دا وه چې کومو قاضیانو چې د طاهر بن یوسف پر خلاف د بغاوت فتوی ورکړی وه، د هغوی کوروڼه یې وسوځول، ماښام مهال پاریدونکو خلکو د صدر اعظم د کور په مخکې شعارونه ورکول.

*****

(۲)

د پاچهی مشران په یوه پراخه کوټه کې د خلیفه د تخت مخې ته پرکرسیو ناست وو، جاروهونکې د خلیفه د راتګ اعلان وکړ او امیران تول ودریدل، یوه سپاهي د تخت تر شاه پرده پورته کړه، او خلیفه د څلورو توره ایستلو حبشي غلامانو د تورو په سیوری کې راښکاره شو پر تخت کښیناست، د جاروهونکې په بل اعلان امیران تول پر خپلو کرسیو کښیناستل.

د خلیفه په امر د ښار ناظم جګ شو د ښار د تازه حالاتو په اړه یې خپل راپور وړاندی کړ، زیاترو امیرانو په نوبت د هغه په اړه خپل خپل نظر واوراوه دوی تول پر دی تکی متفق وو چې د طاهر بن یوسف په زندانی کیدو خلك زیات پاریدلی دی، د ښار د لوی قاضی کور یوازی په دی سبب سوځول شوی دی چې ولی یې د هغه پرخلاف د بغاوت فتوی ورکړی وه، او کومو علماؤ چې د هغه د بې دینه کیدو اعلان کړی ؤ احساساتی خلك یې پر کورونو هره ورځ کانی اوروی. د ښار پر جوماتونو بې لاری ځوانانو قبضه کړی ده او د پاچهی هر امیر او منصبدار ته د منبر پر سر کنځلی کوی.

د ښار کوتوال وویل چې د عبدالعزیز او عبدالملك د هڅو په نتیجه کې د پوځ یو شمیر افسران پټ د همدغو باغیانو ملاتړ کوی، خلیفه ددی تولو خبرو له اوریدو وروسته په ناکراری پر بل اړخ واوښت او ویې ویل :

د باغیانو د مصروفیتونو په اړه مو ډیر څه اوریدلی دی، زه دا پوښتنه کوم چې تاسو تر اوسه پوری څه کړی دی څومره کسان نیول شویدی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوتوال او د بنار ناظم پردی پوښتنه صدر اعظم ته وکتل، صدر اعظم جگ شو ویی ویل :

د امیر المؤمنین په اجازه دی پوښتنی ته زه ځواب وایم، خلیفه په اثبات سر وخوځاوه او صدر اعظم وویل:

خلك زیات پر دی پاریدلی دی چی مور طاهر د محکمی د پریکړی نه پرته بندی کړی دی، هغوی په خپلو ویناگانو کی پر حکومت سخت تورونه لگولی دی. که هغه محکمی ته راوستل شی نو زما باور دی چی د کوم تور ثبوت به رانه ورای شی او د اولس ذهنیت چی نن زمور پر خلاف دی سبا ته به تر دی ډیر زیات د هغه پر خلاف وی، مور که نن بی دریغه نیول پیل کړو، نو د بغداد زندانو نه به ډك شی خو د باغیانو شمیر به لږ نه شی.

پردی سربیره د ترکستان په فتحه شویو سیمو کی د مغلو ظلمونه له چانه پټ نه دی، کله چی د اسلامی هیوادونو اوسیدونکو ته معلومه شی چی د بغداد خلك حکومت له مغلو سره په سازش تورن کړی دی، او حکومت د برالا محاکمی پرځای پر خلکو فشار راوړی او غږ یی خپ کول غواړی نو هغوی به پر دی حق په جانب وی چی دا سوچ وکړی چی زمور حکومت ړښتیا هم مجرم دی.

طاهر په منبر دریدلی ؤ او دا اعلان یی کړی ؤ چی له ده سره کوم نوکران له دی ځایه تللی وو د هغوی پر خریلو سرونو د پخوانی بهرنیو چارو وزیر او د حضرت امیر المؤمنین په لاسلیکونو داسی لیك و چی مغلو ته پر خوارزم باندی د یرغل هڅو نه شوی وه، خو مور په آسانه دا ثابتولی شو چی دا هسی یوه افسانه ده، وحید الدین د خپلی لومړنی دسیسی له رسوا کیدو سره غلی شوی ؤ او تر اوسه پوری یی درك نشته. او طاهر د وحید الدین د غلی کیدو او ورکیدو نه یوه یوه نیمه میاشت وروسته قراقرم ته تللی. ځکه هغه دا نشی ثابتولی چی د ده ملگریو د وحید الدین څخه څه لیکنه او یا هدایت وړی دی.

له دی پرته هغه دری کسان وژل شویدی او سرونه یی خوارزم شاه ته وړاندی شویدی ځکه خو دی هغه لیك هم نشی وړاندی کولی، زما باور دی چی که هغه د قاضي مخی ته راوستل شی نو د بغداد تر تولو ناپوهه سړی به یی هم دروغجن وبولی، ددی پرخلاف که بی له محاکمی هغه بندی وساتل شی او یا کومه بله سزا ورکړای شی د بغداد د خلکو ناکراری به ورسره زیاته شی.

د سلطنت زیاترو امیرانو د صدر اعظم له وړاندیز سره اتفاق او ملاتړ وښود،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلیفه مهلب بن داود ته وکتل او هغه جگ شو په فصیحه ژبه یی وینا پیل کړه:

موږ د طاهر په باب دا اشتباه کوو چی هغه د عادی عقل خاوند دی. زما په گومان هغه د بغداد فضا د تیاره کولو لپاره د خوارزم د حکومت په لاربنونو عمل کوی، د هغه د دولت او شتمنی کیسی پخوا هم مشهوری وی، اوس به یی ددی پروگرام له پاره نور هم دیر څه راوړی وی، هغه نوکران چی له ده سره تللی وو دیر معمولی خلك وو، امکان لری چی د دولت په ټمه د هغه د لاس آله کیدو ته چمتو شوی وی، او دا هم امکان لری چی هغوی ژوندی وی. او طاهر دوی د بغداد په کوم گوټ کی غلی کړی وی، او د دوی د مرگ خبر یی د دی لپاره خپور کړی وی چی موږ یی لټونه ونه کړو، تاسو یوازی پر دی اعتبار هغه محکمی ته راوستل غواړی چی د ده په ملاتړ د شاهدی ورکولو څوك نشته، خو که ناڅاپه هغه دری کسان له کوم گوټ نه را ووزی او عدالت ته راشی نو خلکو ته تاسو بیا دا نشی ویلی چی هغوی دروغجن دی.

پر دی علاوه دا هم امکان لری چی وحید الدین یوازی د دی سازش د پټولو لپاره غلی شوی وی، همغه د هغو دریو کسانو پر سرونو څه لیکلی او همغه د خلیفه جعلی لاسلیك کړی وی، چاته به د پخوانی د بهرنیو چارو وزیر د لاس لیکلو پیژندل گرانه نه وی، طاهر په یوه وینا کی ویلی وو چی په قراقرم کی یی د هغو نوکرانو سرونه خرڅیلی وو او لیکونه یی لوستی وو، ځکه خو داسی ښکاری چی هغوی یی له طاهر سره له بغداد نه د لیږلونه څه موده دمخه چمتو کړی وی.

وحید الدین یو عام سړی نه ؤ، هغه د حکومت یو مهم غړی ؤ، که په محکمه کی د هغه گناه ثابته شی نو اولس به موږ تول ذمه وار وگڼی، ځکه خو محکمی ته د هغه راوستل له خطره خالی نه گڼم، که موږ له عقل نه کار واخلو دا تولی ستونزی حل کیدای شی، حضرت امیر المؤمنین او د درناوی وړ صدر اعظم دی ماته اجازه راکړی زه دوی ته یوازی یو څانگړی وړاندیز لرم.

خلیفه مازدیگر مهال صدر اعظم او مهلب ته د حاضریدو وویل او نوریی مجلس ړنگ کړ.

مازدیگر مهال چی کله صدر اعظم د خلیفه د مانۍ دروازی ته ور ورسید نو د ښار ناظم او مهلب تری راوتل، د صدر اعظم د پوښتنی په ځواب کی مهلب وویل چی زه خلیفه له وخته وړاندی ور وبللم او ما خپل وړاندیز هغه ته وکړ، خلیفه زما سره پری متفق دی او اوس زه ستا حضور ته در روان وم، ما خلیفه ته دا مشوره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړی چې طاهر ته له بنده د تښتیدو موقع ورکړی، د مغلو لښکر پر مروی حمله کړی ده، هغه او د هغه سرښندوی ملګری به ټول د جګړی میدان ته وروتښتی، چې وروسته به بیا خلك په خپله آرام شی، د ده له نیولو نه وروسته حکومتی جاسوسانو وویل چې که دې یو دوی ورځی نور نه وای نیول شوی نو بغداد به یی پریښی وای، اوس موږ هغه ته د خوشی کیدو موقع ورکوو. په ښار کی به دا اعلان وکړو چې هغه څوك چې نوموړی بیرته ونیسی ډیر لوی انعام به ورکړل شی. او د هغه له تلو نه دوی ورځی وروسته به موږ دا مشهوره کړو چې طاهر د خوارزم شاه په اشاره په بغداد کی د لویی فتنی پیدا کولو لپاره راغلی ؤ.

صدر اعظم وویل : تا چې موږ ته دا لاره راوښودله د هیواد لوی خدمت دی وکړ، زه همدا اوس د جیل ساتونکی ته امر کوم چې د هغه د تښتیدلو بندوبست وکړی.

مهلب وویل : دا کار ماته وسپاره، زه سبا ته پخپله د ښار له ناظم سره د زندان مسئول ته ورځم او پر دی به یی پوه کړم چې څه وکړی.

صدر اعظم وویل : تا زه د یوه لوی ذهنی کشمکش نه خلاص کړم زه ستا مننه کوم.

مهلب څواب ورکړ : دا زما فرض وو.

: خلك ډیر احساساتی شویدی زما په ګومان باید هغه زر له جیله راووزی.

: ته ډاډه اوسه هغه به تر سبا پوری آزاد شی.

* * * * *

(۳)

صفیه د سیند په غاړه د دوهم پوړ پرچت ولاړه وه، ماښام شوی ؤ، په لویدیځ افق کی چې وریځو لږ په خپله غیږه کی نیولی ؤ تکی سری ځلیدی، مارغانو چې د آسمان مشال پتیدونکی لیده خپلو خپلو ځالو ته یی پناه ورله، د فضا د تیاره کیدو سره د سپوږمۍ ژیړه څیره روښانه کیدله، ستورو د آسمان له پیځکو راکتل او غمجنو کائناتو موسکل، فضا ورو ورو سړیده، تولې ورځ سرګردانه او ستومانه کب نیوونکیو په بله څنډه خپلی کښتی درولی، د اوبو پر مخ به کله کله کوم ناکراره کب توپ وواهه او بیرته به په اوبو کی ډوب شو.

صفیی د کوزیدو اراده کوله چې د چا د پښو غږ یی واورید دی مخ ور واړاوه وینی لید او بیرته یی په بی پروایی مخ واړاوه، هغه قاسم ؤ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وویل : صفیی یخني ده څه دلاندی!

صفیی هیڅ ځواب ورنکړ، او وړاندی شوه د سیند په نندارە شوه.

: صفیی د خدای «ج» لپارە، چی څومرە دی زړه غواړی ما ورتە، خو ستا دا چوپتیا راتە لە زغم نه اوچتە دە، کە ماتە معلومە شی چی د دی سمندر د لوری پە بدلولو ستا موسکا راګرځولی شم نو پە خدای «ج» سوګند چی ورتە چمتو یم.

هغی چیغی کړی : تە دروغجن یی، مکار یی، د خدای «ج» لپارە ورک شە ما مە پریشانە کوە.

: بس زە د همدی اوریدلو لپارە راغلی وم، هغه د خپل خجالت د پټولو لپارە د موسکا هڅه وکړه.

د صفیی لهجه نوره هم ترخه شوه ویی ویل : تە ظالم یی، کینه کښ یی، د اولس غدار یی، ورځه کە نه نو لە دی بامه بە ځان وغورځوم.

قاسم ور وړاندی شو د هغی مټ یی ونیو ویی ویل :

صفیی ریښتیا ستا لە مانه دومرە کرکه دە؟

: زە تا د کړکې وړ هم نه بولم، او بیا یی د خپل مټ د خلاصولو هڅه وکړه.

قاسم پە غوصه خپل غاښ چیچل ویی ویل : دا هر څه د هغه سارایی طاهر لە لاسه دی.

: ماتە تل د کرکې وړ بللی.

: تە دروغ وایی، تا چی نن پلار جان، مور او سکینی تە وویل تول می واوریدل. زمانه دی د کرکی سبب دا دی چی تە لە هغه جاهل سره مینه لری، خو تە بە دی خپلە پریکړه بدلوی، تە بە پردی مجبوریږی چی زما پە پښو کی سر کیږدی.

صفیی قاسم تە پە سپك نظر وکتل ویی ویل : زە بە مرګ غوره وبولم، او زە پر دی ویلو نه شرمیږم چی زە لە هغه سره مینه لرم، ما چی کاکا، کاکا ناویی او سکینی تە څه ویلی دی تولی دنیا تە یی ویلی شم، تە هغه تە تر تولو درنه د مرګ سزا ورکولی شی، خو ماتە بە د دی مانی نه د هغه د قبر خاوره ګرانه وی. تە لە مانه هر څه اخستی شی خو د هغه مینه نشی رانه اخستی!

: تاتە بە د هغه د قبر خاوره ګرانه وی خو زە پە باور درتە وایم چی د هغه بە قبر هم نصیب کی نه وی.

: زە د دی پروا نه لرم، زە بە هغه هر ځای ولیدای شم، د سیند پە هغو څپو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی، د سپوږمۍ په رنا کی، د ستوریو په ځلکا کی، هغه به هر وخت له ماسره وی. زه به په ګلانو کی د هغه موسکا وینم، د شمال په غږ کی به یی غږ اورم، ته هغه له مانه اخستی شی خو بیلولی یی نشی.

: نو د دی مطلب دا دی چی ستا د مینی په اړه ددی پروا نه شته چی هغه ژوندی وی که مړ، ستا د هغه د ژوند له لوړو ارمانونو سره هیڅ نشته؟

: ته د هغو اوچتو ارمانونو نه څه خبر یی، په یوه خبر نه ویاله کی رالوی شوی چینجی د آسمان له لوړو سره د خبری کوونکی عقاب په خیالونو کله پوهیدای شی.

: نو ته دا خوښوی چی ستا د شاهین وزرونه یوازی ستا په خاطر غوڅ کړای شی؟ که ته دا غواړی چی هغه د خپل لوړ ارمان لپاره ژوندی پاتی شی نو ته هغه د مرګ له خولی ژغورلی شی، خو ته به یوه وړوکی قربانی ورکوی.

: زه د دی لپاره ډیری لویی قربانی ورکولو ته چمتو یمه.

: خو بیه فکر وکړه ستا د ده له ذات سره مینه ده، د هغه د ارمان لپاره به تاته قربانی آسانه وی، ته به د خپلی مینی قربانی ورکوی، ووایه د دی لپاره تیاره یی؟

وایه! ولی چوپه یی...! زه نن ستا د ازمویښت لپاره راغلی یم، غوږونه دی بیه خلاص کړه، واوره! د هغه د وژلو پریکړه شویده، خو ستا یوه وعده د هغه ژوند ژغورلی شی، زه هغه ته له زندان نه د تښتیدو موقع برابرولای شم، دی ترکستان او یا بل هیواد ته تلاشی او د خپلو لوړو ارمانونو لپاره ژوندی پاتی کیدای شی.

صفیه لږ نرمه شوه ویی پوښتل:

ددی په بدل کی له مانه څه وعده غواړی؟

: ته به له ما سره د واده وعده کوی.

دواړو لږ څنډ یو بل ته وکتل، د صفیی په غوږونو کی د طاهر دا خبری کړنګیدلی: ته په یوه شانداره مانۍ کی اوسی هم خپله ساه بنده ګنی، خو په ترکستان کی ستا په زرګونو داسی خویندی دی چی تر دی آسمان لاندی د سرپټولو ځای نه لری اوس تر تا زیاتی هغوی زما د پاملرنی حقداری دی، د مسلمانانو هغه بد نصیبه لورانی په عراق، مصر او د عربو نورو په امن ښارونو کی اوسیدونکو خویندو ته په چیغو چیغو وایی چی که ستاسو ورونه، میړونه او دوستان زموږ مرستی ته را رسیدای شی نو د خدای «ج» لپاره یی لاره مه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندوی.

د هغه سیند وړی په څیر چی د څنډی څو بوتی یی لاس ته ورغلی وی صفیی یوه ژوره ساه واخسته او ویی ویل : زه ... زه وعده کوم، خو زما ستا پر خبرو باور نشته، له زندان نه را خلاصول ستا د وس خبره نه ده.

قاسم امیدوار شو ویی ویل : ته ډاډه اوسه هغه به ډیر زر خلاص شی.

صفیه سر تر پایه عذر او هیله شوه ویی ویل : قاسمه زما سره چل مه کوه، اسلامی نړی هغه ته ارتیا لری، که ته مانشی بخښلی نو په خپلو لاسو می زندیه کړه، په دنیا کی زما وجود اونه وجود برابر دی، خو د هغه مرګ ښایی د سلګونو انسانانو مرګ وی.

قاسم څواب ورکړ : ته به ډیر زر واوری چی هغه خوارزم ته ورسید، راځه چی ښکته شو.

صفیه له هغه سره روانه شوه.

دا چی کوتی ته ورننوته سکینی ورته وویل : چیرته ورکه وی ډوډی سړه شوه.

دا د څواب ورکولو نه پرته پر بستره وغځیده او په بالښت یې مخ پټ کړ په سلګیو شوه.

سکینی راجګه کړه او ورته ویی ویل : صفیی، صفیی؟ په تا څه وشول، ووایه، د خدای «ج» لپاره ووایه!؟ خو صفیی د هغی لاس وڅانده ویی ویل : سکینی ولاړه شه، ما یوازی پریږده.

*****

(٤)

مابنام مهال د بندی خانی په انګړ کی دننه د بندیخانی د ساتونکی د کور په یوه کوټه کی مهلب، د ښار ناظم او د زندان مسئول ناست وو، د ښار ناظم له مهلب نه وپوښتل :

که نن هم هغه ډوډی ونه خوری نو؟

: نو سبا ته به یی خامخا وخوری.

د زندان مسئول وویل : زما په نظر خو وحید الدین هم لږ خطرناك دی، زه ویریږم چی کله هغه زمونږ پر ورمیږونو توره ثابت نه شی، ځکه خو زه غواړم چی هغه هم د زندان له ژوندە خلاص کړای شی.

مهلب وویل : د هغه په باب به وروسته ګورو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو سپاهی دننه ور ننوت او مهلب ته یی وویل چی قاسم له تا سره لیدل غواړی.

مهلب حیران شو ویی ویل : قاسم! رایی وله.

قاسم چی راغی په شا کی لهجه یی ووېل چی له ځنډه یی لټوی، مهلب تری وپوښتل: تاته چا وویل چی زه دلته راغلی یم؟

: ماته ستا له کوره معلومه شوه چی د ناظم سره راغلی یی، د ناظم له کوره د دی ځای درك را معلوم شو، زه یوازی له تا سره دوی خبری لرم.

مهلب ناظم او د زندان مسئول ته اشاره وکړه، هغوی دواړه جگ شول او بلی کوتی ته ولاړل، قاسم په یوه کرسیه کښیناست مهلب تری وپوښتل : ته اندیښمن معلومیږی ووایه خیریت خو به وی؟

: زه له تانه یوه پوښتنه کوم.

: وپوښته.

: د پلار جان له خولی راته معلومه شوه چی ته طاهر ته د تښتیدلو موقع ورکوی؟

: دا سهی ده خو ته دا خبره چاته مه کوه.

: زه د یوه دوست په حیث پوښتم چی آیا ته رښتیا داسی کوی؟

: دا بلکل سهی ده، خو که ستا دا خبره خوښه نه وی نو پریکړه بدلیدای شی.

قاسم ځواب ورکړ : نه، نه بلکی زه غواړم چی دا پریکړه بدله نه کړای شی.

مهلب وموسکل ویی ویل : ولی ته په خپل ضمیر څه بار احساسوی؟

قاسم وخندل ویی ویل : زما سره د بوج احساسولو ضمیر نشته.

: زه د داسی ضمیر له ستاینی نشم تیریدای، خو ماته ووایه چی ته داسی خطرناك سړی ولی آزادول غواړی؟ که هغه خلاص شی هم زما او ستا دښمن به وی.

: نو ددی مطلب دا دی چی ته هغه...؟

: ته ویریږه مه، که ستا دا خوښه وی چی هغه دی ژوندی وتښتی نو زه د خپلی خوښی پر خلاف هغه ته د تیښتی موقع برابروم.

قاسم وویل : زه تاته یو بل زحمت درکوم.

: که زه د خپل دوست لپاره څه وکولی شم نو پری آرام به شم.

: زما کومه خبره له تانه پټه نه ده، ته پوهیږی چی زما له صفیی سره واده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدونکی دی، طاهر موږ د هغی په مخکی ونیو، د هغی له طاهر سره یوازی پر دی مینه وه چی هغه د اسلام یو لوی خدمتگار دی، اوس هغه پر ما بدگومانه ده، که ته زما مرسته وکړی نو دی ته دا باور ورکولی شو چی د طاهر په خلاصیدو کی زما ډیر لاس ؤ، او تا زما د دوستی په سبب خلیفه ته دا وړاندیز کړی ؤ، ښایی د هغی زما پر خبره باور راشی.

مهلب وویل : همدومره خبره! ما دا گنهله چی ته به ماته د یوه لوی کار کولو ووایی، سبا سهار به دا زما لومړنی کار وی خو دا به غوره وی چی له دی سره د مخامخ خبرو پرځای زه له تاسره داسی ځای خبری وکړم چی دا یی واوریدای شی.

قاسم ځواب ورکړ : ددی بندوبست به وکړای شی.

هغی ته یوازی دا باید معلومه شی چی زه له تا سره خبری کوم، دا به یی خامخا د اوریدو لپاره راشی.

مهلب وخندل ویی ویل : په راتلونکی سیاسی ژوند کی به تاته داسی هوښیاره میرمن ډیره ښه مرستندویه وی، زه ستا پر سر د پوځ د سر مشر پټکی وینم.

: مننه، او ستا په اړه زما زړه شاهدی وایی چی زما د پلار نه وروسته به د عظمیٰ صدارت منصب ستا په لاس کی وی.

: خو زما ستا په اړه اندیښنه ده چی په یوه مهال به د دواړو منصبونو چلولو هڅه وکړی!

: او د تا په باب زما اندیښنه ده چی د خلیفه نه به د تاج د اخستلو له هڅو هم دریغ ونه کړی.

مهلب وخندل او بیا یی جدی وویل : خو ته پوهیږی چی زه خلیفه ته وفادار یم!

قاسم جگ شو ویی ویل :

ما توکی کولی، ښه ده زه نو ولاړم، تاسو سهار ته د راتلو وعده په یاد لری.

: زه به خامخا درشم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تقدیر لاس

طاهر د مابنام له لمانځه وروسته لاس پورته کړل او دعایی کوله چی پهره دار راغی د ډوډۍ لوښی یی کیښود او بیرته ولاړ، له تیرو دوو ورځو را په دیخوا د هغه صحت ښه نه و، ځکه خو یی د دعانه وروسته هم ډوډی ته پام ونه کړ، لږ ځنډ په کوټه کی له قدم وهلو وروسته یی دیوال ته تکیه وکړه او کښیناست، بیا یی څه فکر وکړ جگ شو او د کوټې بلې خواته یې پر وحید الدین ورغږ کړ:

نن ته نه راځې؟

هغه ځواب ورکړ : اوس درځم.

طاهر لږ ځنډ د هغه په انتظار قدم وواهه، بیا د ماسخوتن په لمانځه ودریدو، وحید الدین چی د ده کوټې ته ورغی پوښتنه یی وکړه:

اوس څنگه یی؟

د طاهر ځواب یی چی وانه وریدو ورنژدی شو او ویی ویل :

ته لمونځ ادا کوی!

هغه لږ ځنډ ورسره ناست ؤ بیا یی ناڅاپه وویل:

ستا په کوټه کی د پنیر بوی دی.

طاهر د سنتو د ادا کولو نه وروسته هغه ته وکتل، وحید الدین بیا په زوره پزه کش کړه ویی ویل : زه حیران یم چی نن د پنیر بوی راباندی لگیږی.

طاهر ځواب ورکړ : زما د بویولو حس نن کار نه کوی، د دروازی سره زما خوراك دی که پنیر پکی وی خوږلی یی شی.

وحید الدین بیا په زوره زوره د پزی کشولو سره وویل:

غوښه هم شته، زه چی له کومی ورځی راهیسی دلته راغلی یم ظالمانو یوازی په دوارو اخترونو کی غوښه رالیږلی وه، د پنیر خو می تر اوسه کله تصور هم نه دی کړی، زما پر خبره باور وکړه په پهره دارانو کی خامخا ستا کوم خواخوږی شته، زه د غوښی او پنیر هیله نه لرم خو په داسی وختونو کی دوستان یادول ضروری دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوف ته لا لمونځ کوی!

طاهر سلام وگرځاوه : او ویی ویل : ته هغه خواړه ولی نه را اخلی! که پنیر پکی وی تول یی ستا، که غوښه وی نیمایی یی ته وخوره او که سړه دودی وی نو توله به ته خوری.

: په خدای «ج» سوګند ماته می د بویولو حس دوکه نه راکوی، دایی وویل او لوښی یی راواخست او طاهر ته نژدی کښیناست:

خدای «ج» دی ستا خواخوږی ته خیر ورکړی، غوښه هم شته او پنیر هم، او دودی هم غوړه ده.

طاهر وویل : زما انتظار مه کوه، زه چی لمونځ بشپړ کړم بیا به درشریك شم.

: سهی ده په دا ده زړه دی لمونځ کوه، دودی زموږ له ضرورت نه زیاته ده.

زه یی له پنیر نه پیلوم خو ستا برخه به پریږدم، هغه نمبړی ژوولە او له ځان سره یی ویل:

دا به د کوم سخی سړی کار وی، په خدای «ج» سوګند که زه له بنده خلاص شوم او صدر اعظم شم د بغداد تول سخیان به د بندیخانی ساتونکی کړم، او دا امر به ورته کوم چی بی ګناه بندیانو ته دوه وخته غوښی او پنیر ورکوی. نه، بلکی شیدی، شات او میوه هم، زه به د سرکاری باغونو تولی میوی د بندیانو لپاره وقف کړم.

طاهر لمونځ پای ته ورساوه او د دعا لپاره یی لاس اوچت کړل چی د وحید الدین د زامو غږ ډیر پری بد ولګید ناڅاپه دا غږ بیا چوپ شو او څو شیبی وروسته هغه په زحمت وویل : طاهره! دودی ته لاس ورنه وړی زهر پکی دی، زهر!

طاهر وارخطا شو ورته ویی کتل، هغه پر ځمکه ولویده او په ترپکو یی پیل وکړ ویی ویل : دوسته خدای «ج» پامان! وحید الدین احساس کړه چی څوك یی په مضبوطو لاسونو مری ورخپه کوی.

څو ځلی له ارځ په ارځ اوښتو وروسته هغه لاسونه پر غولی تکیه کړل او سر یی اوچت کړ او بیا یی په زوره په ځمکه وواهه، طاهر د هغه متی ونیوی او سر یی په خپله غیړه کی ونیو، ناڅاپه یی د وجود تول رګونه ساړه شول او هغه د څو سلګیو نه وروسته ساه ورکړه.

طاهر هغه سړی ته ورته ؤ چی ناڅاپه د فلج حمله پری وشی، هغه په خپل ژوند

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی دومره نه ژ ویریدلی، څو شیبی یی د وحید الدین سر په غیږ کی ژ او بی حرکته ناست ژ، ورو ورو یی د زړه تکانونه بیرته پرځای شول.

له ویری دریدلی سترگی یی وخوځیدی یوه او بله خوا یی وکتل په لاسو کی یی حرکت پیدا شو وحید الدین یی وخوځاوه او غږ یی پری کاوه، بیا یی په زړه کی وویل :

ته مړ شوی یی، دا دوډی ستا لپاره راغلی وه او اوس؟

یو خیال یی د بربنډا په څیر په ذهن کی ور وگرځید او له دی سره یی ساه گرندی شوه، زړه یی په درزا شو، په غوږونو کی یی کړنگهار شو.

لاس او پښی یی ورپسی مړه شول، له دروازی نه بهر یی په زینو کی د خلکو د پښو غږ واورید او د سترگو په رپ کی د ده ټول حواس بیرته را پرځای شول.

د وحید الدین مړی یی په اوږه کړله همغه سوری نه یی ور ننه ویست او د پاسه یی تختی پری کښیښودی، د پښو غږونه نور هم زانړدی شول، هغه زر د خوراك د لوښو ترڅنگ پرمخی پریوت، خلك د دروازی سره ودریدل او لږ ځنډ یی خبری سره کولی: بیا چا په زوره دروازه وټکوله او بیا په کولپ کی کلی وڅرخیده او د دروازی د زنځیر د خلاصیدو غږ اوچت شو، د دروازی د خلاصیدو او د غږ له اوریدو سره طاهر سترگی پټی کړی او ساه یی ونیوه.

مهلب، د زندان څارونکی او د ښار ناظم د پنځو تنو سپاهیانو سره دننه ورغلل د یوه سپاهی په لاس کی مشال ژ.

د طاهر پر بدن د یوی لغتی له گوزار نه وروسته مهلب وویل : ودی لیدل! تا ویل چی لږ نور انتظار هم وکړی، د دی زهرو یو څاڅکی د یوه پیل د وژلو لپاره بس دی، لږ مشال راتیټ کړه، زه وگورم چی ده څه شی خوړلی دی. سپاهی مشال تیټ کړ او مهلب وویل : وگوری! ما درته ویل چی دغه وحشی به لومړی پنیر خوری، له نیمایی نه زیات یی خوړلی دی، داسی معلومیږی چی له ژوولو پرته یی تیر کړی دی، د دی یوه نمړی هم بس وه دا نور پنیر درسره واخله سبا ته به د وحید الدین میلمستیا وی، راځی چی زما دلته نفس ایساریږی. نور کار سنبالول د سپاهیانو کار دی، گوری له مړی سره ډبرې خامخا وتړی خو دومره درنې نه وی چی ځای پر ځای ډوب شی، او سبا ته یی کب نیوونکی راوباسی، داسې ډبرې ورسره وتړی چی مړی یوازی د اوبو پر سر معلوم نه شی خو اوبه یی ورسره یوسی.

د زندان مسوول وویل : ته غم مه کوه، دوی د دی په څیر په لسگونو مړی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوندی کړی دی دا زما خاص کسان دی.

مهلب څو د سرو زرو سکی را وایستلی پر سپاهیانو یی وویشلی او ویی ویل : دا ستاسو بخشش دی.

مهلب، د بنار ناظم او د زندان څارونکی ولاړل، سپاهیانو طاهر راکش کړ بهر ته یی راویوست او پر اوږه یی واړاوه روان شول، د سیند غاړی ته چی ورسیدل دی یی کښتی ته ور وغورځاوه، د طاهر ملا کلکه ولګیده خوله خولی یی غړ ونه خوت. دری تنه سپاهیان بیرته روان شول، او دوو تنو یی کښتی اوبو ته ورټیل وهله او پکی سپاره شول.

یو سپاهی وویل : ته د ده پر ملا ډبره وټړه زه به پارو وهم.

دوهم یی ځواب ورکړ : ته ټول بد کارونه پر ما کوی.

: اوس له ده سره نور څه بد کیدای شی، ننه ته دا کار وکړه سبا ته به یی زه وکړم.

سبا ته به هم موږ دوه دوه اشرفی اخلو، خدای (ج) د وکړی چی د بهرنیو چارو وزیر پر څو نورو کسانو هم خپل زهر وازمویی خو آشنا! په دی کار چی وزیر د بنار ناظم او د زندان څارونکی څومره شی ترلاسه کوی د هغو زرمه برخه هم موږ ته نه راکوی.

پر کښتی ټول ضروری شیان موجود وو، یوه سپاهی د طاهر تر ملا رسی راتاو کړه او یوه ډبره یې پری وټړله، یوه ګرداب ته چی ورسیدل دواړو طاهر له لاسو او پښو ونیو او ورو یی په اوبو کی وروغورځاوه طاهر تر لږ ځنډه ساه نیولی وه او د اوبو څپو ورسره یوړ بالاخره یی د اوبو سرته د راپورته کیدو هڅه وکړه، ډبره یی پر ملا پخوا هم مظبوطه ټړلی وه چی د لمدیدو سره درسی غوټی نوری هم کلکی شوی، بیا هم هغه احساس کړه چی دی د ډبری وزن ورسره اخستی او لامبو وهلی شی ترڅو کښتی ښه لری نه وه تللی تر هغو یی یوازی د ساه ایستلو لپاره سر له اوبو راوایست، هغه څو ځلی د ملا د بار نه د ځان خلاصولو هڅه وکړه خو د بری پرځای یی څو غوټې وخوړې، له جامو سره یوځای په اوبو کی لامبو ورته ګرانه وه او دایی احساس کړه چی له دی سره تر څنډې په لامبو ځان رسول آسانه نه دی، د ده مخه د سیند بله غاړه وه خو د اوبو د توندی له امله به چی یو ګز څنډی ته نژدی کیده نو څو ګزه به ښکته اوبو ورسره یووړ، ساه یی سوځیده، او غړی یی ورو ورو شلیدل، خو د تقدیر پر مرسته د ده نه لږزیدونکی باور د ده حوصلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتولو ته نه پریښوده.

*****

(۲)

د شپی مهال له ویده کیدونه دمخه سکینه لږ څنډ له صفیی سره کښیناسته له یوی او بلی خوا یی خبری کولی، صفیی به په بی پروایی کله کله ځواب ورکړ او بیا به چوپه شوه.

صفیی سکینی ته وویل : ولاړه شه او بیا پر بستره وغځیده.

سکینه جگه شوه او ورو ورو بلی کوټی ته روانه شوه، پر ده یی جگه کړه او بیا یی څه فکر وکړ او صفیی ته یی راوکتل ویی ویل :

صفیی ! زه غواړم څه شی دروښیم.

: څه شی؟

: اوس یی راوړم.

سکینی له خپلی کوټی نه د نقری یو وړوکی ډبلی راوړ او چوکی یی راکش کړه د صفیی د بستری ترڅنگ کښیناسته.

سکینی په معصومیت وویل : په دی کی څه شی دی؟

: ماته څه معلوم دی!

: ته خو یی یو ځل وگوره! سکینی ډبلی خلاص کړ او صفیی ته یی ور وراندی کړ.

صفیی په بې پروایی سر راپورته کړ یو نظر یی پری واچاوه او بیرته یی سر پر بالښت کښیښود.

سکینی له ډبلی نه ځلیدونکی امیل راویوست هغی ته یی وروښود او ویی ویل : واخله! دا می نن درته راغوښتی دی، غوښتل می د واده په ورځ یی په تحفه کی درکړم خو زه تر هغی انتظار نه شم کولی، ته یی له ځانه سره وساته، زرگر ویل چی تر دی لوی غمی په ټول بغداد کی نشته، ما له هغه نه د یوه غمی گوته هم غوښتی ده هغه ویل چی په بغداد کی به داسی غمی له چا سره نه وی واخله صفیی دا امیل راته واغونده او ویی گوره!

صفیی بی حسه او چوپه خوله امیل ته کتل سکینی هغه تر مټ ونیوله او راپورته یی کړه او د هغی د تینگار سره سره یی امیل په غاړه کی ور واچاوه.

صفیی د امیل د لری کولو هڅه کوله، او سکینی هغه منعه کوله.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی کشمکش کی پرهار د دواړو لاسونه کلك شول،
سکینی وویل : د خدای «ج» لپاره دا امیل مه لری کوه دا بد شگون دی.
: نه زما ستا له امیل او ستا له غمیو نه کرکه ده، زما له دی مانی نه کرکه ده، زما له خپل ژوند نه کرکه ده، سکینې، سکینې! ما مه خُوروه!
په دی جنجال کی امیل وشلیده، غمی څه پر بستره او څه پر غولی تیت شول، د سکینی په سترگو کې اوښکې ډنډ شوې ویی ویل :
ته ډیره ظالمه یی!
صفیه لږ نرمه شوه ویی ویل : سکینې ما وبخښه، زه به سهار دغه غمی پخپله وپیم او په غاړه کې به یی واچوم، خو یوازی ستا لپاره د بل چا لپاره نه.
مگر تا له قاسم سره د واده وعده نه ده کړی؟ تا د دودی خوړلو په وخت کی مورجانی ته خپله رضا څرگنده نه کړه؟ زه پوهیږم ته یوازی ما ژړوی.
:سکینی زما مطلب دا ؤ چی که ژوندی پاتی شوم له قاسم سره به واده کوم.
: لیونی، خلك په مرگ کله واده کوی.
: خو سکینې که دواده نه وړاندې زه مړه شوم نو؟
: جوته خبری مه کوه ته به تر اتیا کلنی ژوندی وی.
سکینی غمی راتول کړل په ډبلی کی یی واچول ویی ویل : زه به یی سهار پخپله وپیم او بیا به یی ستا په غاړه کی واچوم، د قاسم، پلار او مورجانی په مخکی نه بلکی د ټولو سهیلیو په مخکی!
سکینه خپلی کوټی ته ولاړه او ویده شوه، صفیه تر څه خُنډه پرته وه چت ته یی کتل، بیا یی کتاب راواخست او د لوستلو هڅه یی وکړه خو د څو پانو له اړولو وروسته یی کتاب بیرته کیښود، شمعه یی مړه کړه او د ویده کیدو هڅه یی وکړه، خو خوب ورنه غی، څو ځلی په یوه او بل لټ له اوښتو وروسته جگه شوه او په کوټه کی یی قدم واهه، په قدم وهلو کی بیا پر کرسی کیناسته او بیا یی دروازه خلاصه کړه او ورو ورو بهر ته ولاړه، د برنډو نه تیره شوه او د مانی بلې خُنډې د سیند غاړی ته ورسیده، په لاره یی پام شو چی پښی لوڅی ده خو بیا یی پروا ونه کړه.
لږ خُنډ د کونج د کوټی په مخه کی په جگه چوتره ودریده او د سپوږمی په رڼا کی یی د سیند نندارې وکړه، بیا یی ورو ورو پر زینو پښی کیښودی لاندی ښکته شوه او په وروستی پایه چی د اوبو له مخ نه یو بالښت لوړه وه کښیناسته.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاسم نن دا زیری پری کړی ژ چی طاهر به نن شپه خلاص شی، او سبا به د خلاصیدو سره له بغدا نه ووزی، هغه چی څومره د ډه په خلاصیدو خوښه وه، همدومره پر دی خبره خفه وه چی نور ژوند به ټول دې ته بغداد یو ویده ښار ښکاری، د دی د ژوند موسکا گانۍ به د تل لپاره تری واخستل شی کاشکی هغه له خلاصیدو وروسته همدلته اوسیدلای شوای کاشکی... دا له هغه سره تلای شوای، څو گامه وړاندی یوه کب توپ وواهه او بیرته په اوبو کی ورک شو، صفیی په زړه کی وویل : زما او د دی ماهی هیڅ توپیر نشته، هغه آسمان یو سمندر گنی او په یوه توپ ځان ور رسول غواړی، خپل وړوکی وړوکی پرونه چی گوری دا یی په خیال کی ور تیریږی چی ښایی زه الوتلی هم شم، خو دی د اوبو له مخی نه لږ جگ سم لیدای هم نشی.

هغه ته دا معلومه نه ده چی د ده پرونه یوازی د لامبو لپاره دی د الوتلو لپاره نه دی، دی په اوبو کی غوته وهلی شی او تر لاندی ختو پوری تلای شی، خو په شنه آسمان کی الوتلی نشی.

صفیی دا مانی ستا لپاره یو زندان دی، تا ددی په دریدلیو او بوینو اوبو باندی د لامبو په وخت کی په آسمان کی یو آزاد مرغه په الوتلو ولید، تاله اوبو نه توپ واهه او د هغه ملگری دی زړه غوښته خو د الوتلو لپاره دی وزرونه نه وو، ستا ملگری له آسمان سره راز او نیاز کوونکی شاهینان نه بلکی، په دی بدبویه اوبو کی پالل شوی کیشپان دی، تا په دی ډنډ کی د پیدا کیدو سره سره ښایی له هغه شاهین سره ملگری کړی وای، خو ښکاریانو هغه راونیو او په کپس کی یی بندی کړ، او یو کشپ راغی تاته یی وویل چی که ته په دی بدبویه ډنډ کی له ماسره اوسیږی نو دغه شاهین به له کپس نه خوشی کړم، تا د شاهین د خلاصولو لپاره دا وعده وکړه، تا ډیر ښه وکړل، خو ایا ته به په دی ختو کی له دی کرکجن کشپ سره ژوند وکړای شی؟ تا یوازی مرگ له دی کشمکش نه ژغورلی شی، ځان وژنه، نه نه، دا ډیره بې غیرتی ده، دا د خدای «ج» له رحمت نه انکار دی، دا د انسانیت سپکاوی دی، د هغی په سترگو کی اوښکی ډنډ شوی اسمان ته یی وکتل او لاس یی پورته کړل ویی ویل :

زما پالونکیه ! همت راکړه، ماته صبر راکړه، یوه بی وسه ښځه چی په دنیا یې هیڅوک هم نشته نن ستا د رحمت تکیه غواړی.

* * * * *

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

دی د جگیدو اراده وکړه چی په اوبو کی یی ځان ته نژدی څه شور واورید، تکان یی وخوړ یوی او بلی خواته یی وکتل، زینو ته څوگامه نژدی چا په اوبو کی ورو ورو لاس او پښی وهل له ویری یی زړه په درزا شو، ځو زینی پورته وختله او ودریده، یو سړی یی ولید چی په اوبو کی یی غوتې خوړلې او هغه د راوتلو هڅه کوله صفیی احساس کړه چی د هغه ځواك ختم شویدی ځو گزه لاندی وروستی پایی ته ورسید هغه دواړه متی وغځولی او سر یی پر پایه کیښود خو د هغه نور بدن په اوبو کی وُ، یو ځل صفیی د تیښتی خیال وکړ خو بیا یی خواخوږی پر ویری غلبه وکړه په ویره ویره لاندی ورغله په ویریدلی غږ یی پوښتنه وکړه : ته څوك یی؟

هغه هیڅ ونه خوځید، ساه یی تونده چلیده، صفیی نور جرئت وکړ ور وړاندی شوه او له هغه نه دوی پایی پاس ودریده او ویی ویل : زه له تا پوښتم څوك یی او اوس دلته د څه لپاره راغلی یی؟

هغه د یوی شیبی لپاره سر راپورته کړ یو ځل یی صفیی ته وکتل او بیرته یی سر ښکته واچاوه.

د یوی شیبی لپاره صفیه ځای پر ځای هکه پکه ودریده په خپ غږ یی وویل : طاهر... طاهره !! ته ...! په دی حالت!!

هغه بیا سر راپورته کړ ویی ویل : څوك یی صفیه...!؟ صفیه ور وړاندی شوه هغه یی تر متو ونیو او پورته یی کش کړ، طاهر پر زینو ورپورته شو او بیا پریوت، صفیی چی د هغه پر ملا تړلی ډبره ولیده ویی ویل : ظالمه، دوکه بازه، مکاره!

: څوك ؟ زه؟ طاهر لږ سر راپورته کړ ویی ویل.

: نه نه، زه د قاسم په باب وایم، هغه له بنده ستا د ژغورنی وعده کړی وه.

طاهر جگ شو سر یی په خپلو لاسونو کلك ونیو ویی ویل :-دا ستا مانې ده؟

: هوکی!

زه ډیر لری راغلی یم، دی ډبری زه بلی دنیا ته ورتیل وهلم، زما نه غلطی وشوه باید له هغو دوو کسانو سره می په کښتی کی حساب خلاص کړی وای.

صفیی وویل : دلته خطر دی راځه له ماسره!

طاهر زنگیدلی له صفیی سره روان شو، دواړه د جُنډی نه څو گامه لری د یوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

گنې ونې لاندې ودریدل.

صفیې پوښتنه وکړه : ته خو به تپی نه یې؟

: نه خو له ستومانی نه بی سیکه یمه ما له زندان سره نژدی له هغی ډبری سره لامبو پیل کړه، تا دلته څه کول؟

هیڅ نه، راوړه زه دا ډبره خلاصه کړم، له ژوندیو خلکو سره ډبری ترڅ او سیند ته یی غورځول له قاسم پرته څوك کولی شی؟

: ما قاسم نه دی لیدلی او په سیند کی د غورځوونکو دا گومان ژ چی زه مړ یم.

: هغه څه وړ؟

: زه اوس درته وایم خو یوازی دومره راته ووایه چی د دی نوی زندان نه د وتلو لاره شته؟

: هلته وگوره کښتی ولاړی دی، ته کښتی چلولی شی که نه، که نه وی نو زه د مانی یو نوکر درسره استولی شم.

: نه زه کښتی چلولی شم، هغه ورځ خو به زما په څیر ستا هغه نوکر نیول شوی نه وی.

: نه هغه ما وتښتاوه، ستا د نورو دوستانو نه هم څوك ونه نیول شول، زما ویره وه چی ته به پر ما بدگومانه شوی وی، قاسم ستا د ځورولو لپاره ماته هغه خبری کولی، اصلاً خبره داسی وه چی قاسم هغه لیك له خدمتگاری نه اخستی او لوستی ژ.

طاهر وویل : ستا د ځان سپینولو ضرورت نشته، زه قاسم ډیر ښه پیژنم، او ستا د ډاډ لپاره وایم چی زه تا د بغداد د تولو ښځو نه زیاته د درناوی او عزت وړ گنم.

ته زموږ له دی ملاقات نه چاته څه مه وایه، دښمن له نن نه وروسته داسی گنلی چی زه مړ شوی یم.

امکان لری چی زه بیا بغداد ته راشم، ماته په بندی خانه کی هغوی زهر راکړل او زما د وژلو هڅه یی وکړه، خو زما پر ځای هغه ډوډی بل چا وخوړه، هغه زما د کوټې ترڅنگ په بله کوټه کې بندی ژ، موږ د یوه تنگ سوری له لاری یو د بل کوټی ته تلای شوو، د شپی مهال هغه زما کوټی ته راغی، زما ډوډی ایښی وه هغی په زهرو ککړ پنیر وخوړ او مړ شو، ما هغه همغه سوری ته ور تیل واهه او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپاسه می پری تختی کیښودی، بیا می ځان مړ وغورځاوه هغوی زه مړ وبللم او په سیند کی یی وغورځولم، ماته د زهرو راکولو په فریب کی د ښار ناظم، د زندان څارونکی او مهلب بن داود شریك وو، د قاسم په باب زه خبر نه یم.

: داسی ناولی دسیسه د قاسم نه پرته امکان نه لری، له مانبام نه لږ وروسته هغه راته وویل چی مهلب او د ښار ناظم له ده سره ستا د خوشی کیدو وعده کړی ده، هغه ښایی تر اوسه بیرته نه وی راغلی.

طاهر وویل : زه په دی دسیسه کی د قاسم شریکیدل له اتکل نه لری نه بولم، اوس ستا په ذمه یو کار دی هغه دا چی ته له دی کیسو نه خپل کاکا خبر کړه.

: ستا مطلب دا دی چی زه هغه ته ستا په باب هم ووایم؟

: نه زما په اړه څه مه ورته وایه، هغه ته دومره ووایه چی د مهلب د زهرو په اثر پخوانی د بهرنیو چارو وزیر وحید الدین وژل شویدی او هغه چیرته غلی شوی نه ؤ پخپله مهلب بن داود بندی کړی ؤ.

چنګیز خان ته پیغام مهلب استولی ؤ، او د همدی خیانت د رسوا کیدو له ویری یی دوه بی ګناه نور ووژل، د دی ثبوت دا دی چی د وحید الدین مړی په هغه سوری کی پروت دی خپل کاکا مجبور کړه چی سهار پخپله زندان ته ورشی او هغه کوتی وګوری، که نه نو سبا شپی ته به هغه هم زما په څیر په سیند کی وغورځوی. ستا کاکا به ستا پر دی خبرو له باور نه د مخه دا پوښتنه درنه کوی چی ته د دی پیښو نه څه وړ خبره شوی؟

ته د هغه په ځواب کی ویلی شی یوه سپاهی دغه پیښی زما یو دوست ته ویلی او هغه ستا نوکر سعید نیمه شپه تاته را استولی ؤ، زما باور دی چی هغه به بیا د دی پیښو د پلټنی پرځای نیغه د زندان لاره ونیسی.

صفیی وویل : زه به د دی بندوبست وکړم، زه به سهار وختی پر اس سپره شم او میدان ته به ووزم له هغه ځایه به زر بیرته راستنه شم او کاکا ته به دا ټول حال ووایم چی ماته همدا اوس یوه ناپیژندوی دا حال ووایه او له ما نه یی وغوښتل چی زه زر تر زره تا خبر کړم.

: له دی وروسته زما باور دی چی د خلیفې د ملاتړ سره سره به مهلب ته په بغداد کی اوسیدل ناممکن شی، ته دی کاکا ته مشوره ورکړه چی د ښار ناظم او د زندان څارونکی ته اخطار ورکړی هغوی به سمدستی د اصلی مجرم پرښودلو مجبور شی، خو له هر څه وړاندی دی د وحید الدین مړی خامخا راوباسی، زه اوس

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

څم، ښایی سبا شپی ته ترکستان ته روان شم، تا د هغو ځایونو په باب څه خبر اوریدلی دی؟

: هو ډیر بد خبرونه، مغلو د بخارا او سمرقند نه پرته د شمال ډیر نور ښارونه نیولی دی، اوس یی پوځونه د جنوب او ختیځ په لوری پرمختګ کوی.

: د بلخ په اړه دی څه اوریدلی؟

: پر بلخ حمله کیدونکی ده.

: ډیر ښه زه څم.

: صفیی د هغی لاړه ونیوه ویی ویل : ما یو ځل رد کړی غوښتنه بیا تکرارول، نه غوښتل خو د ژوندی انسان لاس د امید له لمنی نه نه جدا کیږی، زه دلته پاتی کیدل نه غواړم ، ما له دی ځایه درسره بوزه، که می له ځانه سره نه بیا یی مدینی ته می درسره بوزه، هلته به ستا انتظار کوم.

: نه نه، دا خبره مه راپلټه!

: مګر ولی؟ ته ما دومره د کرکی وړ ولی بولی؟

: زه تا د کرکی وړ نه ګنم خو ویریږم چی په خپل نظر کی ځان د کرکې وړ نه کړم.

صفیی څه ویل غوښتل خو دوه پهره داران په خبرو کې له برنډې راووتل او په چوتره ودریدل.

یوه یی ویل : قاسم د شپی په کښتی کې بلې غاړې ته تللی تر اوسه بیرته نه دی راستون شوی.

دوهم وویل : وروره د واده تیاری نیسی د کوم زرګر دوکان ته به تللی وی.

: د چا واده؟

د قاسم!

: له چا سره؟

: پر دی خو زمونږ د طبیلی پاکوونکی هم پوهیږی، له صفیی سره!

: دروغ! پر صفیه خو د دی کور شاپرك «خفاشان» هم خبر دی چی د هغی د زیږیدو له ورځی له قاسم نه کرکه کیږی.

: راځه شرط ترو!

: تا مخکی هم له ماسره څو شرطونه بایللی دی، لومړی د تیر شرط څلور دیناره راکړه، بیا نوی شرط ترو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: هغه به سهار درکړم، خو مزه به هغه وخت وی چی ته له ماسره په شل دیناره شرط وترې.

: بس سهی ده!

: مګر داسی نه، راځه د صادق په مخکی دواړه سوګند کوو.

: راځه!

سپاهیان ولاړل او طاهر ورو وویل : ایا دا ریښتیا ده؟

: هوکی ! قاسم د دی شرط په بدل کی ستا د خوشی کولو ذمه واری اخستی وه چی زه ورسره د واده وعده وکړم او ما ستا لپاره دا وعده وکړه. اوس د دی راز له افشا کیدو نه وروسته د دی وعدی پر پابندی مجبوره نه یم، خو پر دی سربیره که ته زما په سبب ځان ته په خپل نظر کم راځی نو ماته امر وکړه، په دی دنیا کی د ذلت هیڅ داسی کنده نه شته چی زه ستا په امر په پتهو سترګو ځان ور ونه غورځولی شم، په دی مانی کی د اوسیدو لپاره زما په مخکی دوی لاری دی، له قاسم سره واده او بل په دی سیند کی ډوبیدل، که زما دا قربانی د اسلامی نړۍ بې کسه خویندو ته څه ګټه رسولی شي نو زه ورته تیاره یم، خو خدای «ج» زما ګواه دی زه یوازی تا غواړم او تر څو چی ژوندی یم ستا سره به می مینه وی، که دا ګناه وی نو زه ګنهګاره یم، که د دی ګناه سزا مرګ وی نو د خدای «ج» په خاطر پخپلو لاسو می مری خپه کړه، ما له دی ډبرې سره وترې او سیند ته می وغورځوه، زه تا د ځان قاضی کوم، ستا نه د ځان په هکله فتوی غواړم، که ما په دی ختو او چتلی کی د پالل شویو چینجیو پرځای د خپلی د مینی لپاره د یو انسان موندلو ګناه کړی وی نو ووایه زما سزا څه ده؟

تا ویل چی د ترکستان میدان ډیر خطرناک دی، خو کاشکی دا درته معلومه وای. چی کومه ښځه چی له چا سره یی زړه غواړی د غشو په باران کی هم ورسره خوښه وی، خو له هغه پرته به د سرو زرو محل هم ورته زندان ښکاری.

هغی ژړل،طاهر دا احساس کړه چی د نړۍ د تسخیر ټول عناصر د دی نجلۍ په بدن کی راغونډ شویدی، هغه د لومړی ځل لپاره دی ښکلی مخ ته وکتل چی په زرګونو ډیوی پکی بلی وی، طاهر ځان راتینګ نکړای شو:

صفیی ! صفیی ! کاشکی ما ته مخکی معلومه وای، مجرمه ته نه زه یم. قراقرم ته له تلو نه مخکی ماته معلومه نه وه چی ته ما دومره د پاملرنی حقدار ګنی، خو په دی سفر کی... طاهر دومره وویل او چوپ شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفیی لکه چی په ژورو اوبو کی ساه اخسته چی کله یی د طاهر له خولی خپل نوم واورید د امید خوشی کړی لمن یی بیرته راونیوله: ووایه په دی سفر کی څه وشول، ووایه؟

: ما له یوی نجلی سره د واده وعده کړی ده.

د طاهر دا گومان ؤ چی د دی خبری په اوریدو به هغه ده ته یو ځل په حقارت وگوری او په منده به ولاړه شی، خو هغه ځای پر ځای ولاړه وه، د کرکی او نفرت پر ځای یی پر شونډو زړه ورونکی موسکا وه، د ترخې خبرې پر ځای یې په نرمه او خوږه لهجه وویل : نو تا له مانه کرکه نه کوله؟

: زه څه وړ له تا کرکه کولی شم؟

: هغه ښکلی ده؟

: هوکی!

: خامخا به تر ما ډیره زیاته ښایسته وی؟ .

: نه ماته معلومه نه ده.

که تا له هغی سره د واده وعده نه وای کړی هم زما زاری به دی نه وی منلی او له ځانه سره به د زما له بیولو نه انکار کاوه؟

: هوکی ! په اوسنیو حالاتو کی به خپلو ذمه واریو زه انکار ته مجبورولم، زه په ډگر ستا د ساتنی پرځای د دی ښار او هیواد پر بریدونو پهره آسانه بولم.

: د هغی نوم څه دی؟

:ثریا.

: چیرته ده ؟

: په بلخ کی .

: که هغی ته څرگنده شی چی د دی په څیر په بغداد کی هم داسی یو څوک شته چی له تا سره مینه لری نو ایا دا به یی د ځان پر حق تیری وبولی؟

: نه هغه له حسد نه ډیره اوچته ده.

: یوه ښځه د بلی مجبوری ښی پیژنی، ته ورسره واده وکړه، زه به په دی ټه ژوندی وم چی یوه ورځ به له دی نه د مینی سوال وکړم او تاته به ځان ورسوم، موږ به دواړه د ځان لپاره ستالمن پراخه وویتو، زه به د دی په نوکری کی هم خوښه یم. ما یوازی دا معلومول چی ته خو به له مانه کرکه نه کوی، دا زما لپاره ډیر ستر انعام دی، یوه لویه تکیه ده، پر دی لویه تیږه چی ودریږم زه له تولی نړی سره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقابله کولی شم، زه به اوس کاکا، کاکاناوی او قاسم ته خُواب ورکولی شم زما له هیڅا نه ویره نشته.

طاهر وویل : صفیی زه وعده کوم چی له ترکستان نه وزګار شم دلته به راځم، تر هغه وخته ښایی ستا د کاکا نظر هم زما په اړه اوښتی وی او زه به د یوه لوی انعام لپاره خپله لمن وغوړوم، زه ډاډ درکوم چی زما د مینی پر اسمان به تل دوه سنوری ځلیږی او زما په نظر کی به ستا او ثریا درجه یو شان وی.

: زه به ستا د لمنی ګرد واوسم او له تا سره به واوسم، په بلخ کی اوسیدونکی زما خور ته زما سلام وایه او هغی ته زما یوه نښه ور وړه.

صفیی له ګوتی نه یوه ګوته راوویسته د طاهر په لاس کی یی ور کیښوده ویی ویل : زه به ستا سو دواړو انتظار کوم، که تاسو ځُنډ وکړ نو ښایی تقدیر ما درولی، په نړۍ کی هیڅ داسی خلیج نشته چی د مینی په کښتۍ کې دې څوک تری پوری نشی وتلای.

په اوبو کی دوی د کښتی د پارو ګانو غږ واورید دواړو سیند ته وکتل صفیی ویل : لکه چی قاسم راغی؟

دواړه دونی ډډته ودریدل، کښتۍ ځُنډې ته ورسیده قاسم او دوه تنه نور تری کوز شول او مانی ته دننه ولاړل.

صفیی وویل : هغه ښایی ماته ستا د خلاصیدو خبر راوړی وی، اوس ورځه زه به تر هغی دلته ولاړه یم چی تر څو دا کښتی ښکاری، خو لږ ودریږه پهره دار راغی.

پهره داران راغلل او تر لږ ځُنډه یی په چوترۀ خبری کولی او بیرته ولاړل، د دوی د خبرو موضوع تر اوسه پوری د قاسم اوصفیی د واده په اړه وه.

: آخر په قاسم کی څه کمزوری ده چی صفیه له هغه سره واده نه کوی؟ هغه ږوند دی، کوڼ دی، ګو ډ دی او یا ستا په څیر بی عقل دی؟

: بس هر څه چی دی زما باور دی چی صفیه له هغه سره واده نشی کولی، د پاچاهی کوم ولی عهد او شهزاده د هغی سره جوړیږی.

صفیی وویل : اوس ولاړ شه!

طاهر تیټ شو د یوی وړوکی کښتی پړی یی پرانست او پکی کیناست پاروګان یی ونیول او ویی ویل : صفیی خدای پامان! صفیی کښتی اوبو ته ورټیل وهله ویی ویل : خدای پامان!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر هغو چی کښتی یی له نظره پناه کیدله دی له ځانه سره ویل خدای دی مل شه، خدای دی مل شه!

*****

(٤)

سهار وختی صدر اعظم د صفیی د تولو خبرو له اوریدو وروسته وویل : که دا خبره رښتیا شوه نو د یوی خبری ډاډ درکوم او هغه دا چی زما د وریری واده زما د ناوړه زوی سره نشی کیدای، زه پوهیدم چی طاهر یو مخلص ځوان دی، زه د ده د نیولو مخالف وم، ځکه می ده او د ده ملګرو ته د تیښتی موقع ورکول غوښتل، ماته د ده ملګرو چی پیغام راکړ دا یی بل د اخلاص ثبوت دی که نه نو د وحید الدین نه وروسته ښایی په بی خبری کی زما وار وای هغه بد معاش نن ماته وویل چی د خلیفه په امر زه نن طاهر ته د تیښتی موقع برابروم اوس ورځم!!

صفیه خپلې کوټې ته ولاړه هلته قاسم له سکینی سره خبری کولی، هغه چی صفیه ولیده ویی ویل : صفیی ما یو لوی خبر راوړی دی، مهلب همدا اوس ماته خبر راکړ چی طاهر له بندیخانی نه تښتیدلی دی، ما له هغه نه تول تفصیل نه دی پوښتیدلی، ما تا ته خبر راوړ او دلته راغلم زه اوس هغه ته ورځم هغه د سیند سره په برنده کی ناست دی چی بیرته راستون شوم تول احوال به درته ووایم.

سکینی وویل : له شاهی زندان نه د طاهر د تښتیدو داستان به ډیر په زړه پوری وی، راځه صفیی موږ به د کوټی د پردی ترشا کښینو او وابه یی وروو، ځنګه قاسمه! موږ ته اجازه ده چی ستاسو خبری واورو؟

: مګر په دی شرط چی تاسو څه واوری چاته به نه وایی، خبره داسې ده چی د هغه د تښتیدو په پیښه کی زما د څو ملګرو لاس دی.

: واه واه موږ څه ساده ګانی یو!

قاسم له کوټې نه ووت.

سکینې صفیې ته وویل : راځه صفیې! زما د هغه د تیښتې د کیسې له اوریدو سره مینه ده.

صفیی چی په څه پوهیدل غوښتل پری پوهیدلی وه، خو بیا یی څه چرت وواهه او له سکینی سره تلو ته تیاره شوه، د سیند پر غاړه کوټی ته ورسیدی د دروازی د پردی ترشا ودریدی مهلب ویل:

اوس زه ویریږم چی که هغه چاته څه وویل زموږ خیر نشته.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاسم وویل : نه، هغه ستا په خیر نیکی کوونکی ته دوکه نشی ورکولی.
مهلب وویل : د هغه نیکی کوونکی خوته یی، ما دا ټول ستا لپاره وکړل، او ما هغه ته وویل هم چی تاته مو د قاسم په سپارښتنه د تیښتی موقع درکړه.
: مګر هغه څه ډول وتښتید؟
: ایا هغه پنځه سوه دیناره چی تا ماته راکړی وو د بندیخانی د پنځو تنو پهره دارانو لپاره بس نه وو؟
قاسم وویل : تا هغه چیرته ورساوه؟
مهلب ځواب ورکړ : د بندیخانی نه بهر مو پریښود هغه به خامخا خپلو دوستانو ته ورغلی وی، زما امید دی چی زر تر زره به له بغداده ووزی، هغه له ماسره وعده کړی چی له یو دوو تنو ملګرو پرته به له چا سره نه ګوری او د شپی به له بغداده ووزی.
نو د ذی مطلب دا دی چی موږ به نور د هغه په اړه څه نه اورو!
: زه افسوس کوم چی د حکومت ځینی امیران پری بدګومانه وو که نه هغه یو د کار زلمی دی په هر صورت هغه ستا په باب له بد نظر سره نه دی تللی.
د صفیی د زغم او صبر دیوالونه ونړیدل، پر مخ یی پرده راوغوړوله او د دروازی پرده یی پورته کړه برنډی ته ورغله ویی ویل : تاسو دواړه څوک غواړی تیر باسی، دا خبره اوس په نیمایی شپار کی مشهوره شوی ده چی کب نیوونکو له نیمی شپی نه وروسته له سیند نه یو مړی را ایستلی دی او هغه د طاهر مړی دی.
د قاسم او مهلب رنګونه تك سپین وتښتیدل، او په ړدو ړدو سترګو یی صفیی ته کتل. صفیی وویل : او کاکا جان د شپی په وروستی برخه کی پخپله د پلټنی لپاره زندان ته ورغلی هلته یو بل مړی هم ؤ چی په خوله کی یی په زهرو ککړ پنیر ؤ، هغه د پخوانی وزیر خارجه وحید الدین مړی ؤ.
او پر دی پوهیږی چی کاکا ته د زندان څارونکی څه ویلی دی؟ د شپی د بغداد د یوه لوی غدار په حکم دوو تنو ته زهر ورکړل شول، یو هغه ؤ چی اوس تاسو د هغه په اړه خبری کولی چی مړی یی اوس هم د بغداد په کوم څلور لاری کی د بدل فریادونه کوی، دوهم هغه چی د بندی توب نه یی یوازی ستا دوست او د هغه له څو تنو ملګرو پرته نور څوك خبر نه وو.
مهلب پاڅیدلو او ودریده، صفیی چیغی کړی:
څمکه به تا غوندی بد چاری انسان ته ځای ورنکړی، په شپار کی ستا لټون

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان دی.

د دی مانۍ پر هری دروازی پهره داران دریدلی دی، د بغدا د هر بچی ستا د بوټیو شکولوته تیار دی.

قاسم صفیه تر مټ ونیوله او ټکان یی ورکړ ویی ویل : صفیی ! دا ته څه وایی په هوش کی خبری کوه.

: ما پریږده! زما له تانه کرکه ده، ته بی غیرته او مکار یی.

قاسم په مخ پرځپړ ووهله او په کشولو یی دننه بوتله، هغی چیغی کړی: بی غیرته سړی د ښځو له وهلو پرته نور څه کولی شی؟

سکینه ور وړاندی شوه ویی ویل : صفیی پر تا څه وشول؟ قاسمه پریږده نن یی دماغ سم نه دی.

صفیه سره اوسپینه شوه ویی ویل : آخر د ده خور وختی!

ته هم مایوه څپړ ووهه!

سکینی وویل : صفیی د خدای «ج» لپاره لږ چوپه شه.

هغه عزتمن سړی به څه فکر کوی!

صفیی وویل : غل، ډاکو، قاتل! د خدای «ج» لپاره سپاهیان راوغواړی. کاکا جان په هغه پسی گرځی، چی ونه تښتی!

قاسم هغه له کوټی نه وایستله او په کشولو یی د مانۍ بل کونج ته بوتله. صفیی چی خواجه سرا، نوکران او مینځی ولیدل چوپه شوه، او بیا یی په نرمی وویل :

ما پریږده خپلی کوټې ته ځم، ما تاته د خپلو دروغو سزا درکوله خو د کاکا تر راتګه دی ملګری ایسار کړه.

قاسم د اندیښنی او پریشانی په حالت کی د بخښنی او عذر مناسب الفاظ او ټکی لټول او د برنډی په لور ور روان ؤ خو هلته مهلب نه ؤ، یوه کښتۍ د سیند د بلې غاړې په لوری ګرځندی روانه وه او هغه پکی سپور ؤ.

ماسپښین مهال په ښار کی دا اعلان کیده چی هر چا د مهلب ځای معلوم کړ پنځه زره اشرفی به انعام ورکړل شی، مازدیګر چی قاسم له خپل پلار سره له اوړده مجلس وروسته راووت نو څیره یی تروشه او خوږینه وه، اوسکینی صفیی ته ویل : تا واوریدل پلار جان قاسم ته وویل چی تر څو زه د بغداد صدر اعظم یم ته باید دلته ونه اوسی هغه سبا ته مصر ته روانیږی، پلار جان د مصر پاچا ته لیکلی دی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی هغه ته په پوځ کی کوم معمولی منصب ورکړی، خو چی کله یی غوسه سره شوه راوبه یی غواړی.

سبا ته په بنار کی دا خبره مشهوره وه چی د شپی مهال زر تنه سپاره د مغلو پرخلاف په جګړه کی د خوارزم شاه د ملاتړ لپاره له بغداده ولاړل.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوارزم زمری

جلال الدین د افغانستان له شمالی سرحد نه د مروی والی ته پیغام واستاوه چی لږ تر لږه څلور اونی له مروی نه دفاع وکړی، په دی موده کی به دی له بلخ، هرات او نوروښارونو څخه نوی پوځ راټول کړی او مرستی ته به یی ور ورسیږی.

د مروی روزل شوی منظم پوځ لږ ډ خو د پناه اخستونکو په لکونو توری موجودی وی، هغوی ټولو تصمیم نیولی ډ چی دلته به د بخارا، سمرقند او نورو ښارونو اشتباهات نه تکراروی، ښځو د غشیو ویشتلو تمرین کاوه، هلکانو د کورونو پر بامونو ډبری غونډولی، تر دی چی د مروی هر کور یو مورچل ډ او د اولس دا باور و چی نه یوازی دا چی له ښار څخه به ساتنه کوی بلکی له مغلو نه به د تیرو ټولو ظلمونو بدل هم اخلی.

په جوماتونو کی د هر لمانځه نه وروسته خلکو ویناوی اوریدلی، او د مروی د ساتنی لپاره یی د وینو د وروستی څاڅکی تویولو پریکړی کولی.

یو سهار چی د ښار موذن خلك د لمانځه لپاره راښلل د مغلو بی شمیره لښکر د ښار د برجونو مخی ته راڅرګند شو، د سترګو په رپ کی غشیې ویشتونکی د ښار د ډیوالونو تر شا اوږه په اوږه ودریدل او هلته د پښی ایښودلو ځای نه موندل کیده د مغلو د لښکر قوماندہ د چنګیز خان د کشر زوی تولای په غاړه وه، چنګیز خان ته تولای په زړورتیا او تر زړورتیا هم په چل او دوکه زیات ګران ډ، د مروی د دیوالونو تر شا د خلکو بی دریغه راټولیدل د ده د پریشانی او اندیښنی لپاره بس وو.

تولای زړه نا زړه ولاړ ډ د ښار څو تنه غدارانو چې د دوی د راتلو د خبر له اوریدو سره ورسره یوځای شوی وو دا خبر ورکړ چی د دیوالونو تر شا په مورچلو کی تر نارینه ډ ښځی زیاتی دی، تولای چی دا واوریدل د یوی توپانی حملی امر یی وکړ خو د ښار د دیوالونو له شانه د غشو او ډبرو باران د مغلو غاښونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبربښول، د دیوال په بیخ کی په زرګونو تنه تاتاریان انبار شول، تولای چی دا حالت ولید پوځ ته یی د شاته کیدو حکم ورکړ او د ښار نه په یوه واټن کی یی واړول، تر پنځو ورځو پوری تولای ته د ښار د نیولو هیڅ تدبیر اغیزمن نه شو، د زور له استعمال نه چی مأیوس شو له معمول سره سم یی د چالاکی او فریب څخه کار واخست، او د ښار یو غدار یی والی ته ورواستاوه له هغه سره یی دلیدو هیله وکړه، او په پیغام کی یی دا هم ورته وویل چی موږ د والی نه د ځینو وعدو له اخستلو نه وروسته بیرته ستنیږو، خو باتدبیره خلك تولای ته د والی له ورتګ سره مخالف وو، خو والی هغوی وپوهول چی زه د هغه د مکر او فریب تر دام لاندی نه راځم، دوی به چی دیر څه وکړی نو ما به ووژنی، خو زما په نه راتګ به هغه خلك هم ډاډه شي چی له مغلو سره د مقابلی پرځای د سولی هیله من دی، زه به دا هڅه وکړم چی تر څو د جلال الدین پوځ راځی له مغلو سره به د سولی خبرو اترو ته دوام ورکړو.

تولای د والی ډیر تود هرکلی وکړ او هغه یی له ځان سره کښیناوه ویی ویل : زما په زړه کی د میړنیو لپاره عزت دی، سهار چی خبری اتری پیل شوی نو تولای وویل:

موږ یوازی دا وعده غواړو چی ستاسو پوځ به په موږپسی له شا څخه نه راځی، موږ بیرته شاتګ ته چمتو یو پردی سربیره دی وعدی ته هم چمتو یو چی که له جلال الدین سره زموږ اړیکی هر ډول وی موږ به پر «مرو» بیا یرغل نه کوو. د دی په بدل کی تاسو ته یو معمولی تاوان ادا کول په کار دی، والی په هره بیه د مهلت ترلاسه کول غوښتل هغه لږ سوچ وکړ او بیا یی وویل:

زموږ خزانه که څه هم تشه ده، بیا به هم د ښار له خلکو نه تاسو ته پوره مبلغ راټول کړم او دربه یی کړم.

: ستا دا پریکړه به د ښار ټولو خلکو ته د منلو وړ وی؟

: زه د ښار والی یم.

: دا سهی ده مګر ته تاوان یوازی پر خپله ذمه ولی اخلی ایا دا به غوره نه وی چی ته د ښار مخور او مشران دلته راوغواړی، که د هغوی په موجودیت کی ټرون وشی د هغوی اعتراض به بیا نه وی، تاسو د هغوی په نامه یو مکتوب واستوی.

زما په ګومان به موږ ډیر زر یوی پریکړی ته ورسیږو.

والی د ښار د لسو تنو سپین روښو په نامه لیك ولیکه او ویی لیږه، د والی د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیك په لوستلو هغوی د ډیرو خلکو د مشوری پر خلاف هلته ورغلل، تولای له هغوی سره هم په وړین تندی وکتل خو د تاوان د پیسو په اړه یی وویل چی موږ د ښار له اوسیدونکو سره د مشوری پرته کومه پریکړه نه شو کولی.

تولای وویل : ماته معلومه ده چی د ښار خزانه تشه ده، ماته ستاسو مجبوری معلومه ده، تاسو ولاړ شی سبا ته به بیا سره گورو، غوره دا ده چی تاسو سبا ته د ښار د هری ډلی یو استازی درسره راولی.

تاتاریانو والی او د هغه ملگری په درناوی د ښار تر دیوالونو پوری ورسول، د شپی مهال په ښار کی پردی خبره جشن جوړ ؤ چی سبا ته به سوله وشی او مغل به ولاړ شی. خو هغو پناه اخستونکو چی د مغلو له تولو چلونو او مکرونو نه خبر وو د ښار خلکو ته د هوښیاری تلقین کاوه، د ښار د مشرانو سره هم د مغلو په اړه څه غلط فهمی نه وه، خو والی پردی ټینگار کاوه چی موږ باید د سولی خبری اتری جاری وساتو او څه مهلت ترلاسه کړو سبا ته نژدی څلویښت کسان تولای ته ورغلل.

ماسپښین مهال له هر یوه مشر نه په زور اوجبر د ښار د نورو مشرانو په نامه لیکونه واخستل شول چی غدارانو هغوی ته ورسول او مازدیگر مهال او یا تنه نور مشران هم د تولای قرارگاه ته ورورسیدل.

ماښام مهال مغلو له والی، د لښکرو مشر او د هغوی دری تنه نورو ملگرو پرته ټول ووژل، د شپی یو سل اولس تنه تاتاریانو د والی د وژل شویو ملگرو جامی واغوستی او والی او ملگرو ته یی خنجرونه وروښودل او په مخکی یی د ښار په لور روان کړل، وړاندی وړاندی څو تنه د ښار غداران هم وو چی له والی سره یی په عربی او فارسی ژبه په زوره زوره خبری کولی، د دروازی مخی ته چی ورسیدل هغوی په برجونو کی ناستو پهره دارانو ته د سولی مبارکی ورکړه او د دروازی خلاصولو امر یی ورته وکړ، د دروازی یوه پهره دار له کړکی نه سر راویوست او چی دوی یی ولیدل نو دروازه یی خلاصه کړه، دننه زیات خلك راټول وو، د دروازی د خلاصیدو سره یو سړی بهر ووت او پوښتنه یی وکړه : تاسو ډیر ناوخته شوی، څه خبر مو راړوی والی څه شو؟ او بیا ور وړاندی شو په تیاره کی یی سترگی خلاصی کړی او د دوی د لیدو هڅه یی کوله تکرار یی کړه : تاسو څوك یاست، والی چیرته دی؟

د غدرانو نه یوه شاته اشاره وکړه ویی ویل : هغوی را روان دی، په دی کی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه شپږ تنه نور هم بهر ته راووتل:

والی منده واخستله او وړاندی ولاړ او چیغی یی کړی: دروازی وتړی مغل راغلل! زرکوی!

یو تاتاری هغه په توره وواهه او پر ځمکه یی وغورځاوه، دری ځلور نور غړونه هم اوچت شول: دروازی بندی کړی تاتاریان حمله کوی! خو هغوی هم نورو کسانو ووژل، د یوی شیبی لپاره پهره داران حیران ودریدل، او کله چی د دوی دروازی ته پام شو د مسلمانانو په جامه کی مغل دروازی ته ورنژدی شوی ووه پهره دارانو داسی ګومان کاوه چی مغل له شانه پر دوی غشی اوروی دروازه یی ورته خلاصه کړه او دننه یی ننوتلو ته پریښودل، چی کله یی د مشالونو په رڼا کی نا آشنا ځیری ولیدلی چیغی یی کړی خو د سترګو په رپ کی تاتاریانو پنځوس شپیته تنه ووژل، څو تنه مغلان چی دننه په ننوتلو بریالی نه شول د ډبرو او غشو په باران کی بهر ووژل شول، خو نورو یی د هره شیبه زیاتیدونکو پهره دارانو سره مقابله پیل کړه، ناڅاپه بهر د زیاتو اسونو د پښو ترپهار واوریدل شو، پهره دارانو دننه ورننوتلی مغلی سرتیری تول ووژل خو څو یی دروازه ترله د سترګو په رپ کی د سپرو یوه ډله تر دروازی ورننوتل.

لږ ځنډ وروسته د ښار اوسیدونکو په بازارونو کی د ډبرو او غشو د باران سره د دښمن یوه ډله سپاره لیدل چی ګزمی یی کولی.

تر نیمی شپی پوری په ښار کی غوغا ګډه وه، د شپی تر درېمی برخی پوری مغلو د ښار په څو نورو دروازو هم قبضه وکړه، او ډیرو کورونو ته یی اور واچاوه، تر سهاره دغه اور ډیری پراخی ساحی ته خپور شوی ؤ، هغه خلك چی له اوره د ژغورنی په خاطر بهر ته راوتل د مغلو ذ تورو سره مخ شول تر پنځو ورځو پوری په ښار کی قیامت جوړ ؤ.

شپږمه ورځ تاتاریانو د مروی په دروازه کی د خپلی فتحی یادګارونه «د کوپرپو څلی» جوړول، دغه څلی تر نورو پخوا نیو تولو دنګ وو، خو د مغلو د مړیو له شمیرلو نه وروسته تولای وویل : موږ په کومه لویه جګړه کی هم دومره تاوان نه ؤ ګاللی، او بیا یی د دی تاوان او زیان جبران داسی وکړ چی په «مرو» کی یی یو لوی اورتون تیار کړ بیا به یی دوه دوه تنه بندیان په پرېو کلك ترلی راوستل او پر اوچت تخت به یی یو د بل په مخ کی د هغوی لاسونه او پښی په نوبت تری غوڅ کړل، بندیانو به تر پکی وهلی او ساه به یی ورکړه او مغلو به له

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښیو نه چیغی وهلی، اتڼ به یی کاوه، او اورته به یی هغوی وروغورځول.

د کوپړیو د شمیر د زیاتولو لپاره به یی حامله ښځی راوستلی، او ګیده به یی په برچه څیری کړه، یوه حامله ښځه په لوړ تخت وغورځیده او بچی یی وزیږاوه، تولای وویل : وګوری د دښمن ښځی زموږ پرخلاف نوی پوځ تیاروی!

یو تاتاری ور وړاندی شو او غوښتل یی ماشوم تر پښو لاندی غوبل کړی خو د مور مینه د مرګ په مخکی هم صبر نه شوه ښځی زوی راواخست او په سینه پوری یی کلك کړ، مغلو مور او زوی دواړه اورته وروغورځول، هغی تر وروستی سلګی د لمبو په منځ کی د زوی د ژغورلو هڅه کوله خو دواړه پکی سکاره شول.

یو دوولس، دیارلس کلن هلك تر سترګو لاندی د خپلی خور بی عزتی ونه زغملای شوه پر دوو مغلی افسرانو یی حمله وکړه او یو یی تری ووژه، وژل شوی د تولای د کاڼ سړی ؤ، کشری هلك یی د تولای په مخکی حاضر کړ، د چنګیز خان په څیر تولای هم د دښمن د کمزوریو او ښو صفتونو د پیژندلو عادت درلود، هغه هلك ور وغوښت او تری ویی وپوښتل : ته پوهیږی چی د یوه تاتاری منصبدار د وژلو سزا څه ده؟

هلك ځواب ورکړ : زه پوهیږم ستاسو په محکمه کی ګناهکار او بی ګناه دواړه تر یوه میچن لاندی دل کیږی.

: که موږ تا له ځانه سره بوزو چی لوی شی سپاهی کیدو ته چمتو یی؟

: ته ذلیل یی زه پردی ځای مرګ قبلوم.

: مرګ یو دردناك شی دی.

: مګر مظلوم ته نه ظالم ته!

تولای خان وویل : دی زما په مخکی غرغره کړی، ته پوهیږی چی غرغره څومره دردناکه وی؟

زړور هلك ځواب ورکړ : ته ما غرغره کولی شی زما اولس نشی غرغره کولی، ستاسو نیزی به ماتی شی، ستاسو توری به پڅی شی، متی به مو شلی شی، خو زما د اولس په رګونو کی به د شهادت وینه چلیږی.

د تولای په اشاره یی هلك ته ډیری بدی شکنجی ورکړی او حلال یی کړ، په دی ماښام تولای خپلو څو مشاورینو ته ویل : موږ له یوه خطرناك دښمن سره لاس او ګریوان یو، د کوم اولس میندی چی ددغی هلك په څیر زامن زیږولی شی هغوی تر ډیره د چا غلام نشی پاتی کیدای.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه داسی هلکان تر جلال الدین لږ خطرناك نه ښولم، د مروی د هر کور تلاشی پیل شوه، د کورونو د ځمکی د تل له خونو نه غلی شوی خلك راوایستل شول او ټول ووژل شول، تولای ته د ښار غدارانو د شتمنو خلکو لست ورکړ، هغوی چی له ژوند نه نا امیده شول خپلی ټولی پټی خزانی یی تاتاریانو ته وروښودلی، خو د هغوی تسلی به ونه شوه او د زیاتو مالونو د راپیدا کولو په هڅو کی یی هغوی ته ډول ډول شکنجی او عذابونه ورکړل او بیا یی ووژل، بیا یی د هغوی کورونه له بیخه ونړول او ویی لټول.

جوماتونو، مدرسو او کتابټونونو ته یی اور واچاوه یوازی ځلور سوه تنه هغه خلك مغلو له ځانه سره ژوندی بوتلل چی په معماری او وسله جوړولو کی یی کمال درلود، د کوچ نه لږ دمخه چا تولای ته وویل چی په ښار کی په ځینو ځایونو کی تر اوسه هم په پټو خونو کی ښځی او نارینه غلی دی، تولای دوه زره تنه پوځ په مرو کی پریښود او امر یی وکړ چی ښار ښه وپلټی، د هغو سپاهیانو افسرانو ته یی وویل : ما لوی خان ته پیغام استولی چی له دی څو کسانو پرته چی ماته د کار خلك ښکاری او ژوندی می راوستلی نور په مرو کی د دښمن یو تن هم ژوندی نه دی تښتیدلی، زه نه غواړم چی زما خبری دروغ شی، ځکه خو تر څو ستاسو ښه تسلی نه وی شوی لټون ته دوام ورکړی.

دغو سپاهیانو د یوه جومات موذن له کوم ځایه را پیدا کړ او ویی نیو، هغه ته یی عذابونه ورکړل او په دی یی مجبور کړ چی په جومات کی آذان وکړی.

د آذان په اوریدو جومات ته نژدی په یوه پټه خونه کی غلیو شویو خلکو ګومان وکړ چی مغلی پوځونه تللی دی راووتل او مغلو ټول ووژل.

په دی ډول هغه په هره محله کی آذان کاوه او بهر ته راوتلی خلك به ټول تر تیغ تیر شول، تر دی چی نور په ښار کی د شړیدلیو او خوسا شویو مړیو له لاسه داسی یدبویی خپره شوه چی تاتاریان پردی داډه شول چی اوس دلته د چا د ژوندی پاتی کیدو امکان نشته او تری ولاړل.

*****

(۲)

له بغداد نه چی طاهر او د هغه ملګری وتښتیدل مروی ته یی مخه کړه، په لاره کی د ایران د ښارونو اوسیدونکو چی له یوی مودی پر خپلو ماتو اعتراف کړی ؤ د دوی د اروا پالو ویناو نه بی اغیزی پاتی نه شول، په هر نوی پراو د رضاکارو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

غازیانو یوه ډله ورسره یوځای کیدله، تر دی چی د دوی شمیر دری زرو تنو ته ورسید، له مروی نه سل میله لری طاهر د دی ښار د تباهی خبر واورید او د جلال الدین په اړه یی د معلوماتو ترلاسه کولو نه وروسته د جنوب ختیځ لاره ونیوه.

یو ماسپښین د رضا کارانو دغه پوځ د ختیځ په تونډو غرنیو لارو تیریده د مخی ډلگی مشر عبدالعزیز ژ، د هغه د لارښوونی لپاره یو ایرانی زلمی گومارل شوی ژ، له یوه تنگ پیچومی نه چی تیر شول ایرانی ځوان په لاس د دریدو اشاره وکړه او بیا یی لاندی تنگی ته اشاره وکړه.

عبدالعزیز چی لاندی وکتل چیغه یی وکړه : بیدار اوسی! افسرانو د سترگو په رپ کی دغه پیغام تر وروستی سپاهی پوری ورساوه، طاهر او عبدالعزیز د لښکر له زړه نه راووتل او د پیچومی پر سر ودریدل لاندی یی تنگی دری ته وکتل، په یوه نژدی یو میل سوروره او دری میله اوږده دره کی سخته جگړه روانه وه، یوه ترکی په ځیر ځیر د هغوی له لیدو وروسته وویل :

مغلو مسلمانان له څلورو خواو را ایسار کړی دی، د شاله غونډیو نه د مغلو نور پوځونو هم دری ته ورښکته کیږی، د مسلمانانو شمیر تر پنځو شپږو زرو زیات نه دی، خو مغلوتر دوی دری چنده زیات دی، د شاله غونډیو نه نور هم ورکوزیږی، زما په گومان دا د مغلو د لوی پوځ دمخی ډلگی ده، او په دغه لږ پوځ دومره په میرانه جنگیدونکی له جلال الدین پرته بل څوك نه دی!

طاهر وویل : د مغلو د کلابندی کړی پر دوی راتنگیږی که تر لږ څنډه نور پوځ ور ورسیږی بیا به یی ژوندی پاتی کیدل نا ممکن شی.

ترکی وویل : جلال الدین ته کومه خبره له امکان نه وتلی نه ده، خو دا ځل دیر بد راگیر شویدی.

د طاهر ملگری د ده په هدایت په وړوکو وړوکو ډلو وویشل شول او د مختلفو لارو نه لاندی دری ته ورښکته شول، د دری په مخه کی د یوی وړوکی غونډی تر شا راتول شول، په میدان کی ځینو مغلی سر تیرو دوی ولیدل هم، خو له لری یی داسی گومان وکړ چی دا د دوی د مرستندویو توپانی ډلگیو څخه دی.

په همغه مهال چی مغلو ډیره تونده حمله کړی وه د دوی یوء سالار نویو تولگیو ته د لارښوونی په خاطر له میدان نه راووت او اس یې د هماغه غونډې په لوری وزغلاوه، خو چی کله نژدی ورغی د خپل غږ په ځواب کی یی الله اکبر ناری واوریدلی، له دی سره سم یی پر سینه یو غشی ښخ شو، راغلی پوځ په دوو برخو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وریشل شو او د غوندی له دواړو خواوو نه پر دره وربښکته شو، مغل تر څو پوهیدل د دری زره تنو سپرو نیزی یی تترونو ته رسیدلی وی، د هغوی پښی یو څل بیا وښویدی او بیا راتینگی نه شوی، تردی دمخه جلال الدین پخپل لاس څلویښت تنه د مرگ په خوب ویده کړی وو، د هغه متی شلی شوی وی، کله یی چی پر خپل بری باور شو له میدان نه روت له اس نه پلی شو په یوه وروکی کمره وخوت او د ډبری سیوری ته کښیناست، ساه یی لنده لنده کیده خول یی له سره راکوز کړ او یو طرف ته یی ترڅنگ کیښود. د مخ خولی یی پاکی کړی لینده یی راواخسته او بیا یی پر مغلو د غشو باران پیل کړ، هغه حیران ژ چی دا نوی مرستندوی یی څوك دی!

مغلو لس زره مړی په میدان پریښودل او وتښتیدل، سرتیری د شهیدانو په بنخولو او د ټپیانو په پتی ترلو مشغول شول، طاهر له اس نه پلی شو، خول یی له سره لری کړ او له یوه ترکی نه یی وپوښتل : سلطان چیرته دی؟

د ده په ځواب کی یو سپور له اس نه راکوز شو او ورترغاړی ووت:

طاهره ! آخر راغلی، زه حیران وم چی نن خدای «ج» زموږ لپاره مرستندوی له کوم لوری را واستول. زما له تانه همدغه تمه وه.

: تیمور ملك ! طاهر د خول د چاکونو نه د هغه سترگو ته کتل او ویی ویل.

هغه خول له سره لری کړ او یوه سر تیری ته یی ورکړ ویی ویل : هوکی زه یم.

د تیمور ملك د نامه په اوریدو د طاهر ملگری پری ورټول شول، طاهر عبدالعزیز، عبدالملك، مبارك او د خپل پوځ نور افسران معرفی کړل.

تیمور ملك له هغوی سره تاوده سترې مشی وکړل ویی ویل :

زه ستا ملگرو ته بنه راغلاست وایم.

عبدالعزیز پوښتنه وکړه : پاچا چیرته دی؟

تیمور ملك خپلو ملگرو ته مخ واړاوه او پوښتنه یی تکرار کړه: پاچا چیرته دی؟

هغوی په حیرانی له یو بل نه پوښتل : پاچا چیرته دی؟

یوه افسر د هغه کمره په لوری اشاره وکړه ویی ویل: هغه پاس پر کمره د یوی ډبری سیوری ته ناست دی.

: راځی زه مو وروړلم.

د طاهر څو ملگری او د سلطان د پوځ څو تنه افسران پر کمره ورختل. پاچا په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ډبره سر لګولی ؤ او په درانه خوب ویده ؤ.

تیمور ملك هغه تر مټ ونیو او غوښتل یی راویښ یی کړی خو طاهر په بیړه ور وړاندی شو د هغه لاس یی ونیو:

نه ! د داسی سپاهی خوب ډیر ګران وی. خدای خبر دی چی له څو ورځو ووسته ویده شوی دی.

تیمور ملك وویل : د تولای خان لښکر له دی ځایه یوازی څلور پراوه لری دی مورچه باید زر تر زره وخوځیږو.

تیمور ملك بیا د هغه مټ ونیو ورو ورو یی وخوځاوه او ویی ویل : اعلیحضرته! جګ شه!

جلال الدین ستړګی وغړولی، او کښېیناست او ویی ویل : تیموره! ته خو می کله لږ خوب ته پریښوده.

: اعلیحضرته ! د تولای خان لښکر له مورچه نه ډیر لری نه دی،

ستا په ګومان زما دی خبری ته پام نه ؤ، ماته له څو ورځو وروسته یو مهال د خوب فرصت په لاس راغی هغه هم تا رانه واخست.

ماته اوبه راکړی!

یوه افسر خپل پټك ور وړاندی کړ، جلال الدین د څو غوړپه اوبو له څښلو وروسته ودرید، طاهر او د هغه ملګرو تر اوسه د ده نه زیات د رعب او دبدبې خاوند سړی نه ؤ لیدلی، هغه ریښتیا هم یو کمر غوندی و.

پوښتنه یی وکړه : دا پوځ له کوم لوری راغلی؟

تیمور ملك ځواب ورکړ : له بغداده.

: له بغداده ! نو خدای «ج» زما دعا واوریده.

اوس مورچه د نړۍ د هر ځواك مقابله کولی شو، که د بغداد خلك راویښ شوی وی نو زما باور دی چی د تولی اسلامی نړۍ خلك به راپورته شی، او مورچه به د دنیا تر وروستۍ څنډې د دې وحشی کام مقابله وکولی شو.

سلطان اسمان ته کتل او په سترګو کی یی د شکرانی اوښکی وی.

: ددی پوځ مشر څوك دی!

: تیمور ملك طاهر ته اشاره وکړه ویی ویل : دی دی نوم یی طاهر بن یوسف دی، دا همغه څوك دی چی د قوقنډ نه د تیښتی په وخت کی یی زما ژوند وژغوره، ما تا ته ویلی وو چی په بغداد کی یو ځوان زمورچه لپاره ډیر کار کوی، دا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغه څوان دی!

جلال الدین طاهر ته ډیر تاوده لاس ورکړل او ویی ویل : د عقابانو په نړۍ کی آرامی ځالی نه وی، زما سره چی اوسیږی نو په داسی ډبرو به په خوب عادت کیږی، زه په دی کمره کیناستم او ستاسو د جګړی کمالونه می لیدل، ستاسو د څینو سرتیرو د روزلو اړتیا ده، څو تنه هسی د بی ځایه احساساتو په وجه ووژل شول، له یوه زلمی نه زه ډیر اغیزمن شوم هغه بلکل د یوه عرب په څیر جنګیده، د هغه اس نیم تور او نیمایی سپین ژ، په مخکینی پښه یی د غشی لګیدو په وجه لړلړنګو ښیده هم زه هغه ته شاباشی ورکوم.

تیمور ملك وویل : هغه همدی دی مایی اس لیدلی دی.

جلال الدین وویل : زه تاته مبارکی درکوم. او له خپلو دریو غوره اسونو څخه یو نن تاته درکوم.

تیمور ملك وویل : طاهره! ته څومره نیکمرغه یی، سلطان صلاح الدین ایوبی «رح» ستا پلار ته خپله توره ورکړی وه او د خوارزم لوی مجاهد تاته خپل اس درکړ.

جلال الدین وویل : د سلطان صلاح الدین ایوبی «رح» توره!

: هوکی ! د ده پلار ته ایوبی د زړورتیا په انعام کی خپله توره ورکړی وه، څنګه طاهره! هغه دی درسره راوړی که دی دا ځل هم په بغداد کی پریښی ده؟

: هغه توره اوس له ما سره ده او ما د لومړی ځل لپاره نن وچلوله.

جلال الدین وویل : زه یی لیدای شم؟

طاهر توره وکښله او ورورانده یی کړه، سلطان یی پر موتی د صلاح الدین نوم ولید توره یی بښکل کړه ویی ویل:

نیکمرغه دی هغه زوی چی پلار یی دومره لوی انعام حاصل کړی دی، کاشکی زما پلار هم د خوارزم د پاچا پرځای د هغه ستر مجاهد د پوځ یو سپاهی وای او ما هم ستا په څیر فخر وربانده کولی شوای.

طاهر وویل : که یی تاسو ومنی زه دا سوغات تاسو ته ورانده کوم.

: مننه! زه یی حقدار نه یم او نن ته ما ولیدی چی د حق په ادا کولو یی ډیر ښه پوهیږی.

پاچا دا وویل او توره یی بیرته طاهر ته ورکړه.

* * * * *

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

چی پوځ د کوچ ټپاره تیار شو سلطان وویل : طاهره ته به بغداد ته زمونږ لارښوونه وکړی؟

: طاهر په حیرانی وپوښتل : بغداد ته ؟

: هوکی بغداد ته ! د خلیفه په چلن کی د دغه بدلون نه وروسته اوس زما ذمه واری ده چی پخپله یی په خدمت کی حاضر شم او د هغه بدگومانی لری کړم.

زما امید دی چی مونږ هلته څو ورځی پاتی شو د مصر، شام او عربی هیوادونو په مرسته به یو لوی پوځ تیار شی زما باور دی چی ستاسو له را استولو نه وروسته به هغه د تاتاریانو پرخلاف د جهاد اعلان کړی وی.

طاهر په غمجنه لهجه ځواب ورکړ : تا غلط گومان وکړ، له بغداده زما سره راغلی پوځیان حکومت باغیان بللی دی، زه پخپله له زندان نه راتښتیدلی یم، له بغداده یوازی زر تنه له ما سره ملگری شوی دی، دا نور رضا کاران په لاره کی له مونږ سره ملگری شوی دی.

د سلطان پر شوندو غمجنه موسکا راغله ویی ویل : نو د دی مطلب دا دی چی زما دعا تر اوسه پوری نه ده قبوله شوی خو زه مایوس نه یم، ستا سو راتگ د دی خبری ثبوت دی چی بهر مسلمانان زمونږ له مصیبتونو نه نا خبره نه دی، هغه مهال به راشی چی د دی ستری فتنی په مقابل کی به توله اسلامی نړی راپاڅی او زه به تر همغه وخته خپلی ذمه واری ترسره کوم.

تر څو چی کیدای شی زه به د اسلامی نړی د ساتنی ذمه واری پر اوږه اخلم، تر څو د مغلو اسونه زما پر مری تیر نه شی زه به په هر گام مقابله ورسره کوم، زه به نړی ته دا ثابته کړم چی کوم اولس پخپله د ورکیدو پریکړه ونه کړی د دنیا هیڅ څواك یی نشی ورکولای، زه به د اسلامی هیوادونو د هر واکمن دروازه وروټکوم، زه به د اسلامی نړی په لری پرتو هیوادونو کی ویده کیدونکی سپاهیان راپاڅوم او زما باور دی چی زما غږ به د بیابان کریغه نه وی، تیمورہ!

لښکر ته د روانیدو حکم وکړه زمونږ منزل افغانستان دی.

طاهر د تیمور له خولی د هرات او بلخ د عبرتناکی تباهی داستان اوریدلی ؤ، تیمور ملك د هغه د اندیښنی د سبب پوښتلونه وروسته دا تسلی هم ورکړه چی د بهار دیر اوسیدونکی له حملی نه دمخه وتلی وو.

په پوځ کی د بلخ څو تنه وو، د طاهر د پوښتنی په ځواب کی هغوی تولو وویل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی شیخ عبدالرحمن له خپلی شتمنی او مال سره پر بلخ له یرغل نه څو اونی دمخه په کومه خوا ولاړ.

بیا هم په هر پراو طاهر تیمور ملك ته ویل چی زه باید بلخ ته ولاړ شم، تیمور ملك هر ځل دا ځواب ورکاوه چی هلته به له سوځیدلیو کورونو او خوسا شویو مړیو پرته هیڅ هم ونه ویني، د ښار له زغم نه وتلی بدبویی به تاله دوه میلی نه بیرته راستون کړی.

چی جلال الدین ته د طاهر د اندیښنی معلومات وشو نو هغه د بلخ ټول سرتیری راوغوښتل او د بلخ په باب یی تری پوښتنه وکړه، په دوی کی ناڅاپی یو سړی داسی پیدا شو چی ورور یی له شیخ عبدالرحمن سره مزدور ژ، هغه وویل چی شیخ عبدالرحمن له جګړی نه څلور هفتی دمخه له خپلی ټولی کورنی سره ووت او ورور می راته وویل چی سمدستی د هغه مخه غزنی ته وه، ښایی له هغه وروسته بیا بل لوری ته مخه وکړی.

سلطان طاهر ته تسلی ورکړه ویی ویل : د تقدیر لاری ناڅاپه یو له بل سره ټرل کیږی، مړو د مروی په لوری روان وو خو اوس ښایی ستا لپاره غزنی ته ولاړ شو.

په لاره کی ځای ځای د سلطان په لټه پسی وتلی د تاتاریانو وړوکی ګروپونه په مخه ورټلل خو سلطان به هغوی تر تیغ تیر کړل او غزنی ته ورسیدل.

په غزنی کی امین الملك له پنځوس زره عسکرو سره د ده هرکلی وکړ، په څو ورځو کی شمس الدین اغراق هم له څلویښت زره تنو سره ورسره یوځای شو چی بیا د افغانستان له هر ګوټ نه د ملکانو او سردارانو خپله خپله ډله غزنی ته ور ورسیدله.

*****

(٤)

غزنی ته چی ورسیدل طاهر ته معلومه شوه چی شیخ عبدالرحمن له دوو هفتو تم کیدو وروسته هندوستان ته مخه کړی ده، دایی هم واوریدل چی شیخ په اوسنیو حالاتو کی یوازی مدینه خوندی بلله او دایی ویلی وو چی ډیر ژر به خپله کورنی مدینی ته واستوی.

طاهر ته همدومره داډ بس ؤ چی هغوی له خطر نه ډیر لری دی، اوس د هغه ټول پام جګړی ته واوښت، د غزنی په جومات کی له څو ځله ویناؤ سره ده د خلکو احساسات راپاروو او یوه نوی ساه یی پکی پوه کړه، د افغانستان علماؤ پخوا د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهاد فتوی ورکړی وه، اوس یی د طاهر په غوښتنه دلری لری سیمو دوره وکړه او خلك یی د جهاد لپاره راټولول په یوه جمعه له طاهر نه وروسته عبدالملك هم خبری وکړی، د هغه خبرې چی څومره لنډی وی هومره اغیزمنی وی، سبا ته سلطان د غزنی د جیدو علماؤ دوی ډلی جوړی کړی او طاهر او عبدالملك یی ورسره واستول چی په شاو خوا سیمو کی د جهاد تبلیغ وکړی.

غیرتی افغانانو د جهاد بلنی ته لبیك ووایه او ډله ډله د سلطان په پوځ کی شاملیدل، په دی دوره کی طاهر له عبدالملك نه زیات بریالی ؤ، د دی سبب یو د ده ښه وینا وه، بل دا چی له هغه سره د یوه داسی غازی توره وه چی د میرانې کیسې یې د خلکو په زړه کی وی، افغانان د اسلامی نړۍ هر باتور سپاهی خپل دوست او عزیز ګڼی.

سلطان جلال الدین د خپل ځواك د شمیر له معلومولو وروسته چنګیز خان ته چی په هغو ورځو کی په تالقانو کی ؤ د څو تاتاری بندیانو په لاس دا پیغام واستاوه:

تا د بی خبری په حالت کی پر موږ یرغل راوړ، تا تر زور زیات په مکر او فریب زموږ ښارونه ونیول، ستا سپاهیان له یوی مودی راهیسی زما په لټه کی سرګردانه دی، زه اوس په افغانستان کی یم او تاته د مقابلی چلنج درکوم او ډاډ درکوم چی دا ځل به ستاسو تورو ته د بی کسه تور سریو د ورمیږونو پرځای توری وی، که همت لری نو د مقابلی لپاره راځه!

چنګیز خان د «شیګی توتو» په مشری یو لوی پوځ د جلال الدین د مقابلی لپاره واستاوه، سلطان له غزنی نه څو میله وړاندی د هغوی مقابله وکړه، تر دری ورځو پوری سخته جګړه روانه وه، ترکان او افغانان یو تر بل پر میرانه او زړوتیا کی مخکی کیدل، په ځلورمه ورځ د تاتاریانو پښی ولړزیدی، سلطان تر څو میله دوی تعقیب کړل او بیا یی را ایسار کړل او داسی یوه تنګی ته یی برابر کړل چی سلطان هلته خپل غوره غشی ویشتونکی کښینولی وو.

«شیګی توتو» له دیر لږ پوځ سره په تیښته بریالی شو خو سلطان یی تعقیب جاری وساته او د کابل تر سیند پوری یی وزغلول، شیګی توتو په سیند کی ځان وغورځاوه او ځان یی وژغوره او چی د غشو په باران کی یی بلی څنډی ته ځان ورساوه نو یوازی اته کسه پاتی وو.

په افغانستان کی د جلال الدین د بری خبر د بریښنا په څیر خپور شو، چنګیز-

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان له دی خبر سره سم دا هم واوریدل چی د هندوکش له غرونو نه د مرغاب تر غارو پوری تول قبایل راپورته شوی دی او په لارو کی یی د مغلو تول پهره داران وژلی دی.

چنگیز خان د لومړی حُل لپاره په یوه محاذ د خپل تول حُواك راتولولو ضرورت احساس کړ.

د بلخ او هرات ترمنځ د پراخی سیمی د بربادولو نه وروسته د مرغاب د سیند پر غاړه واړول، او د فرغانی نه تر آذربایجان پوری د تیت پرك پوځ د راغونډیدو انتظار یی وکړ، خو دا لومړی حُل ؤ چی چنگیز خان پر خپل بری باوری نه و او دا اندیښنه ورسره وه چی که ماته وخوری نو د تولو فتحه شویو سیمو خلك چی تر اوسه پوری د مغلو د ظلمونو له ویری غلی دی ښایی د دوی پر خلاف راپورته شی او جلال الدین به یی د حُمکی تر وروستی گوټ پوری وزغلوی.

*****

(۵)

لکه چی تقدیر د جلال الدین د عزم او ارادی یو بل ازمویښت هم اخست، د راتلونکی پر افق د رڼا د لیدو نه وروسته یی یو حُل بیا تیاری ولیدی، یوی غمورنکی پیښی د خوارزم شاندار بری په ماته بدل کړ، د «شیگی توتو» له ماتی وروسته چی کوم مال د غنیمت په توگه د سلطان لاس ته ورغی په هغو کی یو ښکلی اس هم ؤ، ددی اس پر سر د امین الدین الملك او سیف الدین اغراق ترمنځ خبره سره واوښته، د سیف الدین له خولی کومه ترخه خبره ووتله او امین الدین په غوسه شو هغه یی په څپړ وواهه، د سیف الدین ورور سمدستی توره وکښله او پر امین الملك یی حمله وکړه، خو د امین د پوځ یوه تن له شانه په توره سرتری قلم کړ.

د پوځ د دوو میرنیو سردارانو ترمنځ جگړه حتمی شوه، د سیف الدین اغراق څلویښت زره او د امین الدین پنځوس زره تنه پوځ یو د بل په مخکی صفونه وترل.

سلطان په خپله خیمه کی دا خبر واورید په منډه ورغی او د دوی ترمنځ شو او د دواړو د پوهولو هڅه یی وکړه، د افغانستان عالمان او ملکان هم د دغو دوو پوځونو ترمنځ شول او کتار ودریدل، د سلطان په امر امین الدین ملك د بخښنی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتلو ته چمتو شو خو سیف الدین ته د خپل ورور وژل کیدل هسې عادي خبره نه وه، د هغه لومړنی او وروستی غوښتنه دا وه چې امین الدین دې ده ته وسپارل شي.

سلطان پر دوو کې حیران ؤ له یوې خوا پوهیده چې که په امین الدین ملك زور راوړي د هغه پنځوس زره پوځ به یې ملګري پریږدي او تري ولاړ به شي، بل لوري ته د سیف الدین د خفه کیدو په صورت کې د هغه د ځلویښت زره ترکانو د بدورګي کیدو او تلو خطر ؤ.

د سولې تولې هڅې ناکامې شوې، د سیف الدین پردي د سلطان پر نیت شك ؤ چې امین الدین لور ورکړي وه، په دې نازك مهال نه د علماو زاریو څه ځای ونیو او نه د طاهر او عبدالملك ویناګانو څه اغیزه وکړه.

سیف الدین په صفا الفاظو وویل چې موږ د مغلو د مقابلې لپاره د سلطان مرستې ته راغلی یو د سلطان د خسر له لاسه خپلې بې عزتۍ ته تیار نه یو. ځکه خو هغه د شپې له خپلو ځلویښت زرو تنو سره کرمان ته کوچ وکړ او په دې توګه د سلطان یو مضبوط مټ مات شو.

چنګیز خان چې د جلال الدین په لښکر کې د درز لویدو نه خبر شو د باد او باران په څیر د غزنۍ په لور راوالوت سلطان له غزنۍ نه څو پړاوه مخې ته ور ووت او د چنګیز خان د لارې په هره غونډۍ، ګړنګ دره او د هر خوږ او ویالې په پله یې پهرې ودرولې.

له چنګیز خان سره یو بې ساري ځواك ؤ، هغه د لارې په هرو ستونزو بړې موند، د مقاومت هر کمر یې راغورځاوه او ګام په ګام یې د خپلو پوځونو مړې پریښودل او پرمخ روان ؤ.

د جلال الدین چریکي ډلګي به ناڅاپه له یوې غونډۍ راښکاره شوې او د هغه د پوځ په یوه برخه به یې حمله وکړه غشي او ډبرې به یې پرې واوړول او بیرته به ورك شول.

جلال الدین په کوم یوه ډګر د پریکنده جګړې پریکړه ونه کړه، د چنګیز خان د منظمو پوځونو د ده د معمولي پوځ سره هیڅ مناسبت نه درلود، د ځلویښت زره ترکي پوځ پر تلو یې د پوځ مورال نور هم راپریوت، یوازې د پنځلس، شل زره تنو په اړه د ده باور ؤ چې له ده سره تر وروستۍ سلګۍ جګړې ته تیار او د ماتې او بړې نه بې پروا دي، د نور پوځ په باب د ده دا ګومان ؤ چې په یو ځل ماته به ېیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر شا راونه گوری او په خپله مخه به ځی.

ده د پوځ زیاته برخه امین الملك او تیمور ملك ته وسپارله او پخپله د خپلو سرښندویانو د توپانی ډلګیو سره پرمخ ولاړ او د چنګیز خان د پوځ د مخی پر ډلګیو یی حمله وکړه هغوی ته یی ماته ورکړه او پنځه زره تنه یی تر تیغ تیر کړل.

کله چی چنګیز خان د مخی ډلګیو د سردارانو په ملامتولو او رټلو بوخت ؤ خبر ورغی چی د جلال الدین توپانی ډلګی د غرونو تر شا یوه اوږده لاره ووهله او د لښکر په وروستیو ډلګیو یی حمله کړی ده او د اکمالاتو زیات سامان یی نیولی دی.

له وروکی ډلګی سره د جلال الدین دغو بریالیتوبونو یو ځل بیا د ده په پوځ کی نوی روح پوه کړه، خو چی کله جلال الدین د مغلو د ځواك سهی اندازه ولګوله پریکړه یی وکړه چی د سند تر دریا به باید په شا ولاړ شی، او په دی موده کی به له یوی خوا هغه ته د زیاتی تیاری زمینه برابره شی او له بله پلوه به له شانه د چریکی ګروپونو حملی او د مغلو پوځ ته زیات تاوان هغوی دی ته اړ باسی چی د غرونو په دی نه ختمیدونکی لړی کی د نور وړاندی تلو پرځای بیرته شاته ستون شی او په نتیجه کی به د چنګیز خان د پوځ برخلیك د شیګی توتو په ځیر شی.

خو د ګویی د بیابان تجربه کار لیوه په دی خطرونو پوهیده هغه ته معلومه وه چی د خوارزم زمری دی خپل خطرناك ښکار ځای ته وربولی، خو هغه د وړاندی تلو پر ځای شاته تلل ډیر خطرناك ګنړل او ګام پر ګام یی د سختو تاوانونو پروا ونه کړه او پرمختګ یی ګړندی کړ.

جلال الدین امین الدین ملك او تیمور ملك ته امر وکړ چی سمدستی خپل ځای پریږدی او پوځ ختیځ لوری ته بوزی او پخپله یی له اتو زرو سرښندویانو سره د مغلو د لښکر درفتار کرارولو فکر کاوه.

یو سهار چی کله تاتاریان راختونکی لمر ته په سجده پراته وو جلال الدین د یوه غره له شانه راښکاره شو او د دوی د لښکر پر کینه خوایی حمله وکړه، او تر څو نور پوځ د کین لوری د یرغل د ځواب لپاره هلته ورسیدل جلال الدین دری زره تنه مغل له تیغه تیر کړی وو او په غرونو کی چنګیز خان په جلال الدین پسی د پوځونو استولو پرځای د حملی ډلی ته د تیمور ملك او امین الملك په مشری شاته تلونکی پوځ د تعقیب او ځارنی حکم وکړ او د نور پوځ رفتار یی هم چټك کړ،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلال الدین ته یوه بله موقع هم په لاس ورغله او هغه ماسپښین مهال رانښکاره شو د اکمالاتو په کاروان یی برید وکړ د شاتنی برخی پوځونه ودریدل او د حملی پرځای یی دفاعی جګړی ته دوام ورکړ او خپل مزله ته یی دوام ورکړ.

جلال الدین د اکمالاتو د کاروان کچری تیت پرك کړی او تر لری لری ځایونو یی مغل وزغلول غشی یی پری واوروړل بالاخره د شپی په درېمه برخه کی هغه پوځ ته ددریدو امر وکړ او یوه افسر ته یی وویل:

خدای «ج» دی خیر کوی، ماته داسی ښکاری چی امین الملك کوم حماقت کړی دی.

هغه چی د تاتاریانو د حملی ګروپونه لیدلی دی زما د امر پرخلاف یی جګړه ورسره پیل کړی، که داسی نه وی نو له شانه د حملی سره سره د مغلو دنه دریدو سبب څه دی؟

ترکی افسر ځواب ورکړ : امین الملك دومره ناپوه نه دی او که وی هم تیمور ملك غوندې تجربه کار او جهان دیده سپاهی ورسره دی.

سلطان وویل : مغلو ته یو کچر مال تر سلو سپاهیانو زیات ارځښت لری خو نن هغوی ترشا هم ونه کتل، له دی نه دوی خبری په ډاګه کیږی، یا امین الملك جګړه ورسره پیل کړی او یا هغه د دوی تر کلابندی لاندی راغلی دی. موږ یی باید سمدستی مرستی ته ور ورسیږو.

*****

(٦)

د جلال الدین اندیښنی سهی ثابتی شوی، د جنګیز خان د حملی ګروپونو له شل میله مزله وروسته امین الملك را لاندی کړ امین الملك ګومان وکړ چی د دوی شمیر لږ دی او له شانه به د جلال الدین دیر غلونو په سبب د چنګیز خان نور لښکر دیر کرار پر مخ را روان وی. هغه خپل پوځ ته د دریدو امر وکړ او د حملی تصمیم یی ونیو خو تیمور ملك د دی ارادی مخالفت وکړ او هغه یی وپوهاوه چی د حمله کوونکی ډلی د دومره ګړندی لیږلونه د چنګیز خان هدف له دی پرته بل څه نه شی کیدای چی له موږ سره جنګ پیل کړی او د پاتی پوځونو تر راتګه مو مشغول وساتی، غوره دا ده چی زه د دوی د مخی نیولو لپاره له ډوه زره تنو سره پاتی شم او ته شاتګ ته دوام ورکړی.

خو امین الملك دا مشوره ونه منله شاته ور وګرځید او په تاتاریانو یی حمله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه، مغل د لږ تینګار نه وروسته په شا وتښتیدل، امین الملك لښکر ته دوهم ځلی د روانیدو امر وکړ تیمور ملك ته یی وویل : ودی لیدل! زما باور ؤ چی دا د چنګیز خان د لښکر د حملی ګروپونه نه دی بلکې له کوم بل لوری دې خواته راسیدلی وو، که د چنګیز لښکر هر څومره ګرندی راشی هم نو له موږ نه به لس میله لری وی.

تیمور ملك ځواب ورکړ : کیدای شی ستا ګومان سهی وی خو موږ باید ببیره وکړو.

امین الملك لښکر ته د کوچ امر وکړ خو ناڅاپه یی د دری زرو تنو په شاوخوا کې تاتاری لښکر ولید چی له یوی غونډۍ نه راښکته کیدل، دا ځل تیمور ملك ډیر په کلکه د هغه د ایسارولو هڅه وکړه، خو څومره چی د تیمور ملك شکونه زیات شوی وو هومره د امین الملك یقین ډډ چی دغه لږ پوځ له کوم بل لوری نه راغلی دی او د چنګیز خان د منظم پوځ برخه نه ده چی د ده په ګومان تر اوسه په میلونو له دې ځایه لری ؤ، امین الملك د تیمور ملك د اندیښنی پرواونه کړه او پر تاتاریانو یی یرغل وکړ او په څو شیبو کی یی هغوی تر پښو لاندی کړل، خو د هغوی شمیر د کمیدو پرځای ډیریده، له غرونو نه د هغوی نوری ډلی یو پر بلی پسی دری ته راکوزی شوی. له یوه ځاښت جګړی وروسته امین الملك ولیدل چی د دښمن په لیکو کی لس دوولس زره تنه پوځیان راټول شویدی، هغه په اندیښنه له تیمور ملك نه وپوښتل: اوس موږ باید څه وکړو؟

تیمور ملك په غوسه خپله شونډه وژوولە وی ویل : موږ اوس څه کولی شو؟

د چنګیز خان د پوځ د مخکینی ډلی ټول لښکر د دری په شاوخوا کی راټول شویدی، د شاوخوا غرونو او غونډیو نه د دوی د شړلو نه پرته موږ نور پرمخ نشو تلای. کاشکی تا زما مشوره منلی وای، مګر اوس پر اشتباهاتو د خفګان وخت نه دی د جبرانولو وخت دی.

: نو ته مو لارښوونه کوه ما یو سپاهی وبولە.

تیمور ملك امین الملك ته دیرش زره تنه پوځیان ورکړل او ورته وی ویل چی د شاوخوا غرونو او غونډیو سرونه ونیسی پخپله یی د پاتی لښکر سره دری ته دور کوز شوی لښکر سره مقابله پیل کړه، مازدیګر ته نژدی شاوخوا غرونه او غونډی د مغلو د لښکر نه تشیدلی خو په دی مهال د چنګیز خان منظم پوځ ور ورسید، امین الملك له خپل دیرش زره لښکر سره له غونډیو نه راښکته شو او په یوه ځله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دره کی یی د چنګیز خان د لښکر په ښی اړخ حمله وکړه، د هغه دغه حمله د بری له هیلی نه زیاته د خپلې غلطۍ د جبران لپاره وه.

په بله دره کی چی تیمور ملك جنګیده چنګیز خان له خپل پوځ «مقدمة الجیش» سره ورورسید، تیمور ملك په میړانه مقابله کوله خو په دی ځند کی د چنګیز خان د کین اړخ لښکری هم دری ته ورننوتلی، تیمور ملك د ماښام له تیارونه د ګټی پورته کولو په ټمه جګړه کوله.

په بله دره کی د امین الملك پښتی ښوییدلی وی خو د جلال الدین د ناڅاپی ور رسیدو سره پاتی پوځیانو د تیښتی اراده پریښوده، او په سرښندویانه حملو یی لاس پوری کړ، جلال الدین په څو حملو کی میدان صفا کړ امین الملك ته ور نژدی شو تری ویی پوښتل : ماته ستا د حماقت سزا راکول کیږی که تقدیر زما د بدمرغیو د زیاتولو لپاره د تیمور ملك غوندی تجربه کار زمری په دماغ کی هم د جنون اغیزی پیدا کړی؟

امین الملك په پښیمانی سر ښکته واچاوه ځواب یی ورکړ:

دا زما غلطی ده تیمور ملك زه ایسار کړم ما د هغه خبره ونه منله، زما باور ؤ چی مغل به ډیر لری وی.

: خدای «ج» دی هر انسان ستا غوندی ساده لوستی نه وژغوری. اوس زه یو کار درسپارم ته زر تر زره غزنی ته روان شه، او زما د ښځی او ماشومانو سره کوم خوندی ځای ته ولاړ شه، د ښار خلکو ته هم دا مشوره ورکړه چی د هندوستان د سرحد په لوری ځانونه وباسی.

جلال الدین په دی دره کی پاتی پوځ منظم کړ او د څو غوندیو نه له تیریدو وروسته یی له تیمور ملك سره پر جګړه مشغول پوځ حمله وکړه، د تیمور ملك پر شاوخوا راټول پوځیان یی کلك وځپل او له هغه سره یوځای شو.

کله چی د ماښام په تیارو کی د دوست او دښمن پیژندل ګران شول جلال الدین په یوه لوری زور وره حمله وکړه او له اته زره تنه پوځیانو سره له دری نه ووت، خو د چنګیز خان په امر د هغه پوځونه پسی ورغلل، د شپی د ده ډیر پوځیان د زخمی اسونو په وجه تری پاتی شول او ډیر یی په یوه او بله سرګردانه ووتل ځینو له ډیری مایوسی نه د هغه ملګری پریښوده، تر سهاره له ده سره یوازی شپږ زره تنه پاتی وو.

د طاهر له ملګرو نه هم زیات شمیر شهیدان شوی وو، عبدالعزیز او موسی خو ده پخپله ولیدل چی په میدان کی ولویدل، تر څو ورځو پوری مغل د سیوری په څیر په جلال الدین پسی وو تر دی چی دی په جګړه جګړه کی د سند دریاب څنډې ته ورسید.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردی وطن

یوه ورځ جلال الدین ل. لږ شمیر پوځ سره په یوه داسی کمره دریدلی ؤ چی له دری لوریو نه د مغلو تر کلابندی لاندی ؤ او څلورم لوری ته نژدی لس گزه لاندی د سند دریاب غړمبیده او څپاند ؤ.

چنگیز خان امر کړی ؤ چی جلال الدین په هر صورت ژوندی ونیسی د کمره په شاوخوا د جلال الدین سرښندونکی یاران د مقابلی لپاره ولاړ وو، د مغلو کلابندی ورو ورو کلکیده، د هغوی له پوځ نه یو سپور چی له څیری او جامو څخه مسلمان عالم ښکاریدو له سپین بیرغ سره راووت او وړاندی راغی چی کمره ته نژدی شو په لوړ غږ یی وویل : لوی سلطانه! که تاسو وسلی وغورځولی نو لوی خان ستاسو د ژوند د بخښنی وعده کوی.

سلطان ځواب ورکړ : که دی په لاس کی سپین بیرغ نه وای نو د دی خبری ځواب به می په غشی درکړی ؤ، ورشه دی ډاکو ته ووایه چی زه ذلت له ژوند نه د عزت مرگ غوره گنم.

طاهر د چنگیز خان استازی په یوه نظر وپیژاند هغه مهلب بن داؤد ؤ.

چنگیز خان څو ډلگیو ته امر وکړ، د جلال الدین د سپاهیانو د غشو او ډبرو په باران کی د کمره نه لاندی د مغلو لاشونه انبار شول. چنگیز خان چی دا ولیدل نور پوځیان یی ورواستول، د جلال الدین سرتیری هم یو یو وژل کیده او ورو ورو په شا تلل تر دی چی د کمره وروستی څنډی ته ورسیدل. سلطان تیمور ملك ته وویل : تیموره! تقدیر موږ په اور او اوبو کی د یوه په غوره کولو مجبور کړی یو. ستا رایه څه ده؟

تیمور ملك ځواب ورکړ : زما باور دی چی د اوبو څپی به د اور د لمبو په څیر ظالمی نه وی.

: دیر ښه زه درته لارښوونه کوم ته سپاهیانو ته د تیاري امر وکړه، سلطان درنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زغره وایستله او وینی غورځوله اس یی مخکی کړ یو ځل یی ویروونکو څپو ته وکتل او بیا یی اس ته پونده ورکړه، تیمور ملك له څو تنو پرته نورو ته په دریاب کی د ورکوزیدو امر وکړ او کله چی د ده وار راغی نو سترگی یی پر طاهر ولگیدی هغه څوگامه لری سر د اس پرورمیږ ور ایښی ؤ، په زغره کی یی څو غشی نښتی وو او د هغه وفادار نوکر زید په نیزه له دوو تاتاریانو سره مقابله کوله.

تیمور ملك اُس ور وړاندی کړ او د مغلو نه یی د یوه سر والوزاوه بل یی زید راغورځولی ؤ، په دی کی څو تنه نور هم ورورسیدل تیمور ملك طاهر راکش کړ په خپل اس یی ورسره سپور کړ زید او نورو پوځیانو ته یی امر وکړ چی په اوبو کی اُسونه ور وغورځوی، پخپله یی هم اس پر دریاب ور پونده کړ، عبدالملك د سیند په غاړه مذبذب ولاړ ؤ، خو چی طاهر یی د تیمور سره ولید هغه هم په اوبو کی ځان وروغوځاوه چنگیز خان د جلال الدین د ژوندی نیولو په تمه خپلو لږو سپاهیانو ته پر کمره دورختلو امر کړی ؤ، کله چی تاتاری سربازان د کمره پر سر ودریدل او د سیند په لوړ یی اشاری کولی او چیغی یی وهلی نو دی په منډه ورغی په کمره وخوت.

د جلال الدین زیات ملگری د تاتاریانو د غشو او د سیند د څپو خوراك شول، خو جلال الدین د غشو له دم نه لری شوی ؤ، هغه بلی غاړی ته ورسید په یوه لوړه ټیله ور وخوت او ډاډه کښیناست.

چنگیز خان خپلو زامنو او سردارانو ته په خطاب کی وویل:

هغه پلار ډیر بختور دی چی جلال الدین غوندی زوی لری، او مبارکې دی هغه میندی چی داسی زامنو ته شیدی ورکوی.

د چنگیز خان ځینو سرتیرو غوښتل د جلال الدین د تعقیب لپاره په دریاب کی ځانونه وروغورځوی خو ده ورته وویل:

دا دریاب د ترکستان د وړوکو وړوکو سیندونو نه ډیر توپیر لری او د دښمن کځوړی له غشو نه تشی نه دی.

تیمور ملك طاهر د دریاب په څنډه څملاوه زغره یی تری وایستله په زخمونو یی پټی وروترلی او ویی ویل : طاهره اوس څنگه یی؟ هغه جگ شو کښیناست ویی ویل : زه بلکل روغ یم له سهاره می اوبه نه وی څښلی د تندی او لوړی په وجه بی سیکه وم، په سیند کی می یخی او خوږی اوبه ښی ډیری وڅښلی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوه سوه تنو سپاهیانو په شاوخوا کی کسان له سیند نه پوری وتل او له جلال الدین سره یوځای شول، سلطان په شاوخوا کلیو قبضه وکړه خوراکی مواد او څو اسونه یی پیدا کړل او د «نمك غر» په شاوخوا کی یی په یوه وړوکی سیمه تسلط ټینګ کړ، په څو ورځو کی د ده د پوځ تیت او پرك نور سرتیری هم ورسره یوځای شول.

چنګیز خان څو میله ښکته ولاړ او څو کښتی یی ومونډی، له یوه تجربه کار جنرال سره یی د پوځ غوره سپاره له سیند نه پوری غاړی ته واستول، جلال الدین د مایوسی په حالت کی د ډیلی په لور مخه کړه، تاتاریانو د هند په زغم نه وتلی ګرمی کی هغوی تر ډیره تعقیب نه کړای شول په ملتان، لاهور او شاه پور سیمو کی له لوټمار وروسته بیرته راستانه شول.

په راستنیدو کی چنګیز خان د پیښور له ویجاړولو وروسته بیرته د سمرقند په لور مخه کړه، د تباه شوی افغانستان له سیمو نه چی بیرته تلل د دوی له لومړی تاراك نه پاتی ټول انسانان یی ووژل او زیاتې ښځی یی ورسره بوتلی.

د سند له دریابه د خزر تر بحیری پوری پر ټوله اسلامی نړۍ د تاتاریانو واکمنی شوه، د افغانستان نه د کسات اخستلو نه وروسته چنګیز خان ډاډه شو چی نور په اسلامی نړۍ کی د سر راپورته کولو څوك نشته، یوازی جلا الدین یو داسی غلیم ؤ چی ده له ټولی نړۍ نه خطرناك ګانه خو هغه ته نه هیواد ورپاته شوی ؤ او نه پوځ، د اسلامی نړی د دفاع وروستی برج رالویدلی ؤ، پیښور ته نژدی د هغه میرمن او اولادونه هم چی امین الملك ورسره وو ووژل شول، د تکشی کورنی هغه وروستی د سترګو تور چی د پاچاهی حدود یی څوکاله وراندی د البرز له غرونو نه د سند تر غاړو پوری رسیدل د یوه بی کوره مسافر او یوه نابلل شوی میلمه په څیر د ډیلی د واکمن سلطان شمس الدین التمش په هیواد کی پناه غوښته خو د هرکلی امید یی نه ؤ.

جلال الدین د ډیلی نه څو پراوه لری وارول او د یوه تجربه کار مشاور عین الملك او طاهر بن یوسف په لارښونه یی سلطان التمش ته یو هیأت واستاوه.

*****

(۲)

عین الملك او د هغه ملګری یی په شاهی میلمستون کی ځای پر ځای کړل، سلطان التمش له دری ځلی ملاقاتونو وروسته دوی ته په څو ورځو کی د ځواب

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکولو وعده ورکړه.

له خپلو تولو پوځی افسرانو او مشاورینو سره له مشوری وروسته یوه ورځ هغه طاهر بن یوسف ته د ځانګړی ملاقات بلنه ورکړه او له اوږده ملاقات وروسته یی وویل : موږ د جلال الدین له مرستی نه انکار نه شو کولی خو زمونږ مجبوریتونه له تاسونه پټ نه دی. موږ ته دچنګیز خان پیغام را رسیدلی دی، هغه لیکلی چی که تاسو سلطان جلال الدین ته پناه ورکړه او یا مو له هغه سره د مغلو پرخلاف څه ترون وکړ نو موږ به پر هندوستان یرغل وکړو، موږ د داسی ګواښونو پروا نه لرو. خو بیا هم سلطان جلال الدین باید دا خبره درک کړی چی په دی هیواد کی د مسلمانانو شمیر په اوړو کی د مالګی هومره دی، که مغل دلته راشی نو نور قومونه ښایی له موږ سره د ملاتړ پرځای له هغه سره یوځای شی، موږ ته څو هندی راجه ګانو دا وعده راکړی ده چی د مغلو د یرغل په صورت کی به د کور د دفاع په وخت هغوی زمونږ ملاتړ وکړی، خو که چنګیز خان هغوی ته دا پیغام واستوی چی د هغه مقصد یوازی د جلال الدین نیول دی نو دوی به خامخا له موږ نه دا غوښتنه کوی چی موږ باید دی میلمه ته په پناه ورکولوسره د هندوستان د تباهی سبب نه شو.

که زمونږ سره زیات پوځونه وای نو موږ به له نیمایی لښکر سره د جلا الدین تر بیرغ لاندی له هندوستان نه بهر د تاتاریانو مقابله کوله. او نیمایی نور لښکر به مو د هندوستان د دفاع لپاره پریښود، خو اوس معامله سرچپه ده، څو ورځی وړاندی د تاتاریانو څو ډلګي تر لاهور او ملتان پوری راغلی له لوټمار او بربادی وروسته بیرته ستنی شوی، موږ د هغوی د پرمختګ د مخنیوی پرځای په دی ویره کی وو چی زمونږ نامسلمان رعیت باغی او ورسره یوځای نه شی، عین الملك موږ ته پیغور راکوی چی له مغلو نه ویرېږو، موږ د هغه ځواب د نورو په وړاندی نشو ورکولی خو تاته وایو چی زمونږ د ویری سبب دا نه دی چی بی زړه یو سبب یی دا دی چی پر خپل رعیت داده نه یو.

طاهر وپوښتل : نو زه سلطان جلال الدین ته دا ځواب ور وړم چی دوی په هندوستان کی ستا پاتی کیدل نه غواړی؟

: نه! تاسو زمونږ په باب غلط فکر وکړ، که زمونږ لخوا د سلطان جلال الدین د لیك کوم ځواب وی نو یوازی دا دی چی موږ د خپل دغه مصیبت ځپلی وروړ لپاره د وینو د وروستی څاڅکی تر تویولو پوری چمتو یو، خو په دی وخت کی له

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده سره د مرستی همدا یوه لاره ده چی مورِ د دی پاچاهی نه لاس پر سر شو او خپل پوځ سلطان ته وسپارو، له تاتاریانو سره د هندوستان پرځای په یوه بل داسی هیواد کی پریکنده جګړه وکړو چی اولس یی زمورِ ملګری وی، اوله شانه به زمورِ اندیښنه نه وی چی څوک به مو په خنجر ووهی، په داسي صورت کی که د جګړی نتیجه زمورِ په ګټه وه نو هندوستان به بیرته هم ترلاسه کړای شو او که مورِ ماته وخوړه نو د نورو هیوادونو په څیر به هندوستان هم وبایلو.

طاهر وویل : مورِ د هندوستان په ساره او اوږدو کی ستاسو د پوځی څواک ـ اندازه لګولی وه، د سلطان جګړه د ځان لپاره نه ده د تولی اسلامی نړی لپاره ده. هغه به هیڅکله هم دا خوښ نه کړی چی دغه هیواد چی د لکونو ایرانی، ترکستانی او افغانی کډوالو د پناه ځای دی د مسلمانانو له لاسه ووزی.

د سند درياب پرغاړه له مغلو سره د ده جګړه د دی لپاره وه چی تاتاریان د هند په دروازه کی ایسار کړی. په خراسان او ایران کی د هغه جګړی د مصر،شام او عراق د دفاع لپاره وی، زمورِ هدف یو دی او هغه د لاسه وتلیو اسلامی هیوادونو بیرته نیول او د پاتی هیوادونو د مغلو له قبضی نه ژغورل دی.

د دی هدف د ترلاسه کولو لاره هم یوه ده، او هغه دا چی مورِ د جمنا د سیند له څنډو نه تر جبل الطارق پوری په یوه کتار کی ودریږو، زمورِ هر هیواد په دی تولنیزو هڅو کی خپله ونده واخلی، د سلطان جلال الدین دا نظر ؤ چی هغه به هندوستان د خپلو فعالیتونو مرکز کړی او یو ځل بیا به تولو اسلامی هیوادونو ته د شریك اقدام بلنه ورکوی، که اسلامی نړی د ده بلنی ته لبیك ووایه نو په لږه موده کی به دلته زیات پوځ راټول شی.

سلطان التمش وویل : مورِ دلته هر سپاهی ته په راتلو هرکلی وایو، خو ایا دا به غوره نه وی چی سلطان پخپله دلته د تم کیدو پرځای په تولی اسلامی نړی راوګرځی، او چی د هغه بلنی ته څوك لبیك وایی، د هغوی د راټولیدو ځای هندوستان وی.

څومره سپاهیان چی هغه راټول کړی او دلته یی راواستوی مورِ به د هغو تولو د اړتیاو پوره کولو ذمه واری اخلو، د دی غوره اغیزه به دا وی چی هند به د تاتاریانو له پامه وتلی وی، او مورِ به د تیاری فرصت ترلاسه کړو.

د دی پرخلاف که سلطان پخپله په هند کی پاتی شی نو تاتاریان به هره شیبه له دی ځایه خبر اخلی، زمورِ له خوا به د خطر احساس کوی او پر هندوستان به هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یرغل وکړی. تاسو زما پر ټولو خبرو په سره سینه چورت ووهی، او سلطان هم وپوهوی، که بیا هم پر دی ټولو خبرو برسیره ،سلطان دلته د اوسیدو پریکړه وکړی نو زه ډاډ درکوم چی زما د محل یوه برخه به د ده لپاره تشه وی، که هغه دلته د یوه میلمه په حیث اوسیدل نه خوښوی نو موږ اجازه ورکوو چی ددی هیواد د هغو برخو نه چی تر اوسه زمونږ په ولکه کی نه دی هره برخه یی چی زړه غواړی فتحه کړی، موږ به یی په پته ملاتړ هم کوو، او د مغلو د لری ساتلو په خاطر به داسی وایو چی سلطان زمونږ له خوښی پرته زمونږ هیواد ته راننوتلی دی.

طاهر وویل : زه نن سلطان ته ورځم او تر څو ورځو پوری به یی ځواب درته راوړم.

شمس الدین التمش وویل : غوره به دا وی چی ته دا ټولی خبری په لیک کی سلطان ته ولیکه او له خپلو ملګرو نه کوم یو ور واستوه عین الملك سر له اوسه زمونږ له امیرانو سره سازشونه پیل کړی دی، ته سلطان ته دا هم ولیکه چی د عین الملك موجودیت به دلته د دواړو په زیان تمام شی، غوره دا ده چی هغه ور وغواړی او پرځای یی تیمور ملك راواستوی.

هغه نیك نیتی هم دی او په معامله هم پوهیږی، زما باور دی چی ډیر زر به کومې پریکړی ته ورسیږو، سلطان ته چی ته د خپلو ملګرو له ډلی نه هر څوك استوی هغه ته به د اسونو بندوبست موږ وکړو او هغه به تر دری ورځو پوری د سلطان له ځواب سره بیرته راستون شی.

له دی ملاقات نه وروسته د طاهر په زړه کی چی د سلطان التمش په اړه څومره بدګومانی وی هغه ټولی لری شوی، هغه چی میلمستون ته بیرته راغی ټولې خبرې یی عین الملك ته وکړی او سلطان جلال الدین ته د لیك لیکلو لپاره کیناست.

* * * * *

(۳)

سبا ته طاهر د ښار په یوه جومات کی د سهار لمونځ ادا کړ او بهر ته راووت چی په زینو کی چا له شانه د هغه لمن ونیوله.

طاهر شاته وکتل، پوښتنه یی وکړه : څوك یی؟

یو کم عمره هلك په موسکا په مخکی ورته ودرید او ویی ویل : مانه پیژنی!؟

: اسماعیله ته! طاهر ورتیټ شو په غیږ کی یی ونیو او د احساساتو په توپان کی یی پوښتنی ورته کتار کړی:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته دلته څه وخت راغلی، بابا دی چیرته دی؟ انا دی څنګه ده او ثریا خور دی چیری ده؟

: راځه هغوی ټول په کور کی دی.

: چیرته؟

: په همدی ښار کی ډیر نژدی.

د طاهر زړه په درزا شو ویی ویل : زمادلته یوه هفته کیږی کاشکی راته معلومه وای چی تاسو دلته یاست، زه چی بلخ ته نژدی شوم، راته معلومه شوه چی تاسو غزنی ته تللی یی.

اسماعیل وویل : پرون شپه ماته په همدی جومات کی ولیدلی خو زه ډیر لری وم ښه می ونه پیژندی او چی درپسی شوم ته د خلکو په ګډه ګونه کی راووتلی، ما چی خور ته وویل هغی راته وویل چی سر له نن سهاره پرجومات پهره وکړم. راځه! طاهر له اسماعیل سره روان شو، د مینی د منزل په لور یی کله پل ګرندی او کله کرار پورته کیده.

هغه له اسماعیل سره یوه ښکلی محل ته ننوت.

ثریا د کور په انګړ کی د ام د ونو لاندی ولاړه وه طاهر چی هغه ولیدله ودریده بیا زړه نا زړه وړاندی ورغی او څوګامه لری ودریده، د دوارو سترګی له یوی شیبی سرګردانی وروسته یو پر بل میخ شوی، دواړه چوپ وو او د الفاظو ضرورت هم نه ؤ، د دوارو زړونه او ذهن سترګو ته راغلی وو، دوارو یو د بل د ځیری رنګونه لیدل چی بدلیدل، تر یوی شیبی پوری یی له ځانونو پرته پر نړۍ د نور چا د موجودیت احساس نه کاوه، د دوی د زړونو له درزا پرته د ګاینناتو د ژوند ټولې هنګامې ویدې شوې وې.

اسماعیل وویل : خوری ودی نه پیژاند، دا طاهر ورور دی!

ثریا وموسکل او له یوی شیبی وروسته ور وړاندی شوه اسماعیل یی په غیږ کی ونیو ویی ویل : زما په ګومان تا هغه نه دی پیژندلی دا به بل څوک وی.

اسماعیل اندیښمن شو طاهر ته یی وکتل او ویی ویل : په خدای (ج) سوګند دا هماغه دی!

ثریا وخندل او طاهر ته یی وکتل په سترګو کی یی د خوښی اوښکی راتم کړی او د کور په لور یی منډه واخیسته، چی د برنډی زینو ته ورسیده نو نوره هم ګرندی شوه هغه بیا د یوی دروازی ترشا ودریده ویی ویل : انا! هغه راغی! بهر

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسماعیل حیران حیران طاهر ته کتل.

: ته لږ ډنگر شوی یی نور په څیره کی بلکل هماغه یی، عجیبه دا ده چی خور جانی می ونه پیژندی، ته راځه دننه راسره ولاړ شه انا به دی خامخا وپیژنی اسماعیل دا وویل او بیا یی طاهر تر لاس ونیو کور ته یی کش کړ.

طاهر په خندا وویل : که هغی هم ونه پیژندلم نو بیا؟

اسماعیل یو ځل بیا په ځیر ځیر ده ته وکتل ویی ویل : زه ریښتیا وایم ستا په څیره کی هیڅ بدلون نه دی راغلی، په تندی دی یوه د تپ نخښه ده، خو پر دی څه فرق نه دی راغلی انا به دی خامخا وپیژنی.

په دی څنډ کی شیخ عبدالرحمن بهر ته راووت، څو تنه نوکران هم ورسره وو او هغه په لوړ آواز ویل : تاسو ډیر ناپوه یی میلمه بهر ولاړ دی او ماته خبر هم نه راکوی. او هغه اسماعیل ناپوه ته وګوره معلومه نه ده چی له کوم وخته هلته ولاړ دی.

طاهر ور وړاندی شو عبدالرحمن ته یی لاس ورکړ شیخ داسی سیلیده لکه یو میل منډه یی چی وهلی وی.

هغه وویل : راځه دننه دلته بهر ولی ولاړ یی؟

اسماعیل وویل : بابا جانه تا وپیژاند چی دا څوک دی؟

: چوپ شه ساده!

شیخ طاهر تر مټ ونیو او د کور په لور روان شول، د برندې په مخ کی د مرمر ډبرو په زینه کی د هغه پښه وښویېده خو طاهر زر راونیو، اسماعیل په خندا ولاړ د یوی ستنی تر شا پټ شو.

شیخ چی ځان را تینګ کړ ویې ویل : دا د مرمروزینی ډیری خطرناکی دی، دا څلورم ځل دی چی زه پکی ښویېږم. اسماعیل چیرته ولاړ، هغه ناپوه به خامخا چیرته غلی شوی وی او راپورې خاندی به، ای صابره! شوکته! نن معماران راوغواړی ورته ووایی چی همدا نن دغه مرمر لری کړی نوری زیږی ډبری دی ولګوی، خو ودریږی! نن نه بیا به بله ورځ ګورو!

* * * * *

(٤)

شیخ، طاهر په یوه ښکلی کوټه کی کښیناوه او ویی ویل : زه ستا په باب مایوسه شوی وم. زه ډیری پوښتنی درنه کوم، هوا لومړی دا ووایه چی ته ډیلی ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وړ راغلی؟ وعده دی کړی وه چی زر بلخ ته راستون شی بیا دومره ولی وځنډیدی؟

طاهر د دی پوښتنو په ځواب کی خپله ټوله کیسه لنډه لنډه واوروله، شیخ وویل : اوس خو به بیرته د تیښتی اراده نه لری؟

: زه د جلال الدین ملګرتیا نشم پریښودلای، که هغه له دی ځایه وخوځیږی نو زه به هم ورسره ملګری کیږم.

خو اوس لږ تر لږه تر یوې هفتی پوری زه همدلته یم.

: ما په نژدی وخت کی د ډیلی د پریښودو اراده کړی وه.

: چیرته به ځی؟

: مدینی، بغداد او یا دمشق ته ، ثریا ټینګار کوی چی مدینی ته ولاړ شو خو ماتر اوسه پریکړه نه ده کړی ستا په ګومان کوم ښار ډیر خوندی دی؟

: مدینه په هر دلیل ښه ده.

: ستا کور هم هلته دی که نه؟

: هوکی! مدینی ته ډیر نژدی، که ته زموږ په کور کی اوسیدل ومنی نو زه د خپل نوکر استولو ته درسره تیار یم.

: شکریه ! خو دوه کاله پخوا ما په مدینه کی یو کور او یو بن پیرلی دی، دوه تنه نوکران می بغداد او دمشق ته هم استولی دی هغوی به هم هلته کورونه راته اخستی وی، اوس د یوی خبری پریکړه پاتی ده. هغه دا چی ته دی خپله میرمن له ځانه سره بیایی که یی سمدستی له موږ سره استوی.

طاهر په اندیښنه وویل : زما میرمن!

: هوکی ستا میرمن! زما مطلب دا دی چی له واده وروسته!

شیخ خپله خبره پوره نکړای شوه د شاته کوټی دروازه خلاصه شوه او د شیخ بودی میرمن دننه ورغله، طاهر جګ شو سلام یی وکړ، هغی په مینه او شفقت ورته وویل : کښینه بچیه!

شیخ وویل : هو ما ویل چی!

حنیفی په غوسه ورته وکتل او ویی ویل : ښایی تا دا ویل چی نور باید بیله ځنډه د طاهر او ثریا واده وشی.

: نه! ما دا ویل چی دی غواړی ثریا له موږ سره واوسی که یی له ځان سره بیایی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: نو دا هم څه د پوښتنې خبره ده، تر څو دی له جګړې نه بیغمه شوی نه وی ثریا به له مورِ پرته چیرته اوسیدای شی؟

: زه همدغه وایم. زما مطلب دا ؤ چی د واده نه وروسته یی که د ثریا له ځانه سره بیولو اراده وی چی زه یی پری بدله کړم.

: مګر تا خو تر دی وخته دا پریکړه نه ده کړی چی واده باید څه وخت وی؟

: ما پریکړه کړی ده.

حنیفه پریشانه شوه ویی ویل : څه وخت؟

: د شپې چی کله اسماعیل وویل چی هغه په جومات کی طاهر لیدلی دی، ما په خپل زړه کی دا پریکړه کړی وه بلکی قسم می خوړلی چی که دی پیدا کړم نو ژر تر ژره به یی واده کوم، اوس که د ده څه اعتراض نه وی نو نن به قاضی راوغواړم.

طاهر له حیانه سترګی ښکته واچولی ځواب یی ورکړ: زما به په دی څه اعتراض وی.

حنیفی وویل : خو په تیاری او په میلمستیا لږ تر لږه دوی ورځی لګیږی.

شیخ وویل : دوی ورځی؟ ته له همغی ورځی په تیاری بوخته یی په کومه ورځ چی طاهر له بلخه روان شو، د میلمستیا لپاره ته راته ووایه د مابنام نه دمخه به ټول ښار دلته درته راولم.

: مګر لږ تر لږه دوی ورځی دمخه باید خلك خبر شی، د ښار د امیرانو ډیری نجونی د ثریا ملګری «سهیلیانی» شوی دی.

هغوی هم لږ تر لږه یوه ورځ باید وړاندی راوغوښتل شی.

شیخ له یوه اوږده بحث وروسته ماته ومنله ویی ویل : ډیر ښه سبا نه بله ورځ سهی ده، بله ورځ سهار به نکاح ترلګیږی.

* * * * *

(۵)

د ډوډی د خوراك نه وروسته شیخ تهینګار کاوه چی طاهر ورکره پاتی شی خو هغه وویل : اوس ماته اجازه راکړه، په شاهی میلمستون کی به زما ملګری زما په انتظار وی. مابنام به بیا راشم.

د شیخ له اجازی وروسته طاهر چی له کوټی راووت په برنډه کی اسماعیل ورته په انتظار کی و هغه وویل : ته څنګه!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

که لږ نور دی ځنډ کړی وای زه به هم درسره تللی وای، استاذ راته ویلی چی د سبق له ویلو نه وړاندی به رخصت نه درکوم.

شیخ چی د اسماعیل غږ واورید بهر ته راووت او ویی ویل : ورځه بچیه! خپل سبق دی ووایه دی مانښام بیرته راځی.

اسماعیل وویل : دی ښایی په لاره بلد نه وی.

شیخ وویل : ودی لیدل، دی هر څوك تر ځان کم عقله گنی.

طاهر په موسکا وویل : اسماعیله! ته ولاړ شه سبق دی ووایه، زه چی مانښام راغلم بیا به دواړه چکر ته ولاړ شو.

اسماعیل په نه زړه خپلی کوتی ته ولاړ، او طاهر له کوره راووت او لاندی باغ ته ووت، پر اسمان وریځی را خپری شوی، په لاره کی یوی خواته د ام ونی ولاړی وی او په دی گنهو ونو کی دننه په یوه وروکی حوض کی فواره وه، د بتو یوی جوړی په اوبو کی لامبو وهله او ثریا د مرمر په ډبرو ناسته وه.

طاهر چی د هغی له څنگه تیریده ودریده، او هغی چی دی ولید جگه شوه.

: ته ځی! ثریا په شرمناکه لهجه وپوښتل، هغی اوس طاهر ته د تیغ کتلو پرځای ستړگی ښکته اچولی وی، طاهر خپله لاره پریښوده دی ته نژدی ورغی ویی ویل:

زه په شاهی میلمستون کی خپلو ملگرو ته ورځم. ترمانښام پوری به بیرته راشم.

: اسماعیل درسره واستوم!

: نه هغه سبق وایی، ماتاته یوه ضروری خبره کوله.

: ووایه!

: خبره داسی ده چی ... طاهر په فکرونو کی ډوب شو

: ثریا تکان وخوړ هغه ته یی وکتل او ویی ویل :

ووایه ولی چوپ شوی؟

: زه پر دی فکر کوم چی دغه خبره څه ډول پیل کړم؟

ایا دا غوره نه ده چی ته نن مانښام یا سبا سهار څه وخت راکړی، دی خبری ته د فرصت او یوازی توب ضرورت دی.

: که خبره دومره مهمه وی نو بیا خو یی زه همدا اوس اوریدو ته تیاره یم، تر مانښامه ښایی زما څو سهیلیانی راشی او بیا به ماته د یوازی کیدو فرصت نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی.

: لومړی ماته دا وعده راکړه چې ته به له خفه کیدو نه دمخه په سړه سینه زما پر خبرو غور کوی.

: که څه داسی خبره وی، چې په هغې ته له مانه د خفه کیدو اندیښنه احساسوی نو بیله څه تذبذبه راته ووایه زه وعده کوم چې خفه به نشم.

طاهر وویل : خبره دا ده چې له بلخ نه بغداد ته تر رسیدو وروسته څینې داسی پیښې رامخې ته شوې چې له تا سره دواده نه دمخه پرې خبرې خپل اخلاقی فرض بولم.

ثریا حیرانه شوه طاهر ته یې وکتل او ویې ویل :

ووایه له بلخه چې بغداد ته ولاړې څه درپیښ شول؟

: ماته معلومه وه چې...!

: ته مه ویریږه، زه وپوهیدم، زه ستا له خوښۍ پرته تا په تیرو پریکړو پابندی ته نه مجبوروم.

: وګوره ته سر له اوسه بدګومانه شوی، ما یوازی د دی لپاره تاته څه ویل غوښتل چې سبا ته بیا دا شکایت ونه کړی چې په بې خبرۍ کې دی پر غلطه پریکړه مجبوره کړم.

ثریا وویل : په نړۍ کې یوازی ته یې چې زه تړی هیڅ شکایت نه لرم، خو ستا له دی حالت نه زه ناکراره ضرور یم.

زما له دی سره هیڅ کار نشته چې بغدا ته ورسیدی له څه ور پیښو سره مخ شوی، زما دا تسلی ده چې له هر څه سره مخ شوی یې ښه شوی، که ته ماته دا هم ووایی چې زه هلته له بل چا سره په واده مجبور شوم نو خدای (ج) ګواه دی چې زه به له تانه څه ګیله ونه کړم، زه یوازی دومره پوهیږم چې ته به زما وی.

که هغه داسی څوک وی چې ستا په مینه کې د بل چا ور شریکیدل یې خوښ نه وی نو زه تا په واده نه مجبوروم، که ته د دی لپاره په خبرو کې دوه زړی یې ګډه په خپله مینه کې د بل چا را شریکیدل خوښ نه کړم نو بیا خو پردی خبره افسوس کوم، ځکه چې دا به په ما ستا بدګومانی وی.

: مګر تا ولې دا فکر وکړ چې ما واده کړی دی؟

: د تاسو پرځای چې ثریا تا واوریدل له خوښۍ یې ځیره وغوږیده ویې ویل : نو له دی پرته تا بل څه ویل؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: ښه فرض کړه چې ما همداسې ویل غوښتل نو؟
: نو څه؟
: نو تا به څه ځواب راکاوه؟
: ما به له ځوابه وړاندې څو پوښتنې درځخه کولې؟
: څه دول پوښتنې؟
: ما پوښتل چې هغه څوك ده، څه ور ده؟ له تا سره یې کله ولیدل،څه ډول یې درسره ولیدل، هغې څه درته وویل ، تا څه ځواب ورکړ، تا چې زما یادونه وکړه نو هغې څه وویل هغه زړه سوانده ده که جګړه ماره او ثریا وخندل.
: ثریا واوره! طاهر جدی شو هغه چوپه د حوض په غاړه کیناسته په غاښونو کې یې ګوتې وهلې په سترګو کې یې یوه شوخه موسکا وه.
طاهر له هغه سره د صفیې د لومړنې پاملرنې نه نیولې تر وروستې لیدو کتو پورې تولې پیښې ورته بیان کړې، په پای کې د ثریا په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې ویې ویل : راوړه هغه ګوته چیرته ده؟
طاهر له جیبه ګوته راوویستله ثریا ته یې په لاس کې ورکړه، ثریا له خپلې ګوتې ګوته را ځایستله او د صفیې یې په ګوته کړه ویې ویل:
ما ویخښنه، ته می پریشانه کړې، واخله دا زما ګوته له ځان سره وساته او کله چې له هغې سره ګورې نو زما له خوا یې ورکړه، زما له طرفه دا هم ورته ووایه چې زه به د هغې د نوکرې په حیث ژوند هم د ځان ویاړ وبولم.

* * * * *

(٦)

د طاهر د واده نه وروسته سبا ته تیمور ملك ډیلی ته ور ورسید خلکو د هغه د سرښندنې داستانونه اوریدلی وو، او چې کله د ښار دروازې ته ورغې نو د ښار د امیرانو نه پرته ډیر خلك د ده هر کلي ته درېدلی وو، کله چې هغه د شاهي میلمستون په لوري روان شو د خلکو یوه لویه ډله د هغه تر شا روانه و.
طاهر له سلطان التمش سره د خپلو تیرو لیدو کتو بشپړه کیسه ورته وکړه او ویې ویل: زه افسوس کوم چې ته یوه ورځ وروسته راورسیدې، که نه نو دواده په میلمستیا کې به شریك شوی وای.
: د چا دواده په میلمستیا کې؟
: زما، زما واده وشو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: چیرته، څه وړ واده وشو؟

: پرون، ستا به په یاد وی چی د بلخ په لاره می درسره ملاقات وشو، یوه نجلی زما سره ملګری وه، او تا چی د هغی خبری واوریدلی ماته دی یو نصحیت وکړ ما ستا په نصیحت عمل وکړ.

: نو هغه له بلخه دلته را رسیدلی؟ ته ډیر نیکمرغه یی.

: زما ګومان ؤ چی له تا سره به عبدالملك هم راشی او دواړه به زما په واده کی ګډون وکړی.

: عبدالملك بغداد ته روان شوی دی.

: څه وخت؟

: ستا د لیك له رارسیدو وروسته سلطان شوری راوغوښتله او زمونږ د ټولو پریکړه دا شوه چی ټولو اسلامی هیوادونو ته استازی واستوو او ټول د تاتاریانو «مغلو» پرخلاف یوه واحد سنګر ته راوبولو، د سلطان رایه دا وه چی بغداد ته تا واستوی خو ما دا رایه ورکړه چی ده ته په ډیلی کی هم اړتیا ده.

طاهر وویل : خو زما په څیر د عبدالملك په باب هم د خلیفه نظر ښه نه دی، زه ویریږم چی هغه هلته بندی نه کړی.

تیمور ملك ځواب ورکړ: نه هغه د سلطان د استازی په حیث هلته تللی دی. خلیفه به دومره رذالت نه کوی، سلطان جلال الدین نورو اسلامی هیوادونو ته هم استازی واستول.

یو افسر دننه ورغی خبر یی ورکړ : سلطان تاسو د ملاقات لپاره وربللی یاست.

تیمور ملك جګ شو ویی ویل : انشا الله چی زه بیرته راغلم تا ته به دواده په خاطر یو سوغات درکړم.

ماسپښین تیمور ملك د سلطان له لیدو وروسته بیرته راستون شو نو طاهر یې خپلی کوټی ته ور وغوښت او ویی ویل : ما تاته د یوه سوغات درکولو وعده کړی وه زه خپله وعده ترسره کوم، هغه سوغات دا دی چی ته به تر بل امر پورې په ډیلی کی وی، او تر هغو سلطان جلال الدین په هندوستان کی وی تاته به دوهم امر نه کیږی، زه سبا ته روانیږم، ته به په ډیلی کی د سلطان د سفیر په حیث اوسیږی.

ددی ویره ده چی څینی ترکی سرداران به سلطان التمش زمونږ د پاچا پرخلاف

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوپاروی، خو تا چی په څو ملاقاتونو کی پر سلطان څومره اغیزه کړی ده د هغی په پام کی نیولو سره زما باور دی چی ستا په موجودیت کی به څوك د هغه اراده وانه ړولای شی، ته خپل کار ته دوام ورکړه او د مغلو پر خلاف د پاچا، امیرانو او اولس د یوه واحد سنګر ته تیارولو لپاره خپلی هڅی کوه، سلطان التمش پری خوښ شو چی دایی واوریدل چی ته به د ده په دربار کی د سلطان جلال الدین سفیر یی، هغه ستا د خلوص او نیك نیتی نه ډیر اغیزمن دی.

ماښام مهال شیخ عبدالرحمن د تیمور ملك په ویاړ دښار عزتمن رامیلمانه کړل، د ډوډی له خوړلو وروسته تیمور ملك وویل : طاهره! ما ستا د میرمنی لپاره هم یوه ډالی راوړی.

حاضرینو په پوره پاملرنه تیمور ملك ته کتل، تیمور ملك له خپلی غاړی نه حمایل راویوست طاهر ته یی ور وراندی کړ ویی ویل : زه ستا میرمنی ته تر دی غوره ډالی نشم وراندی کولی، دا قرآن کریم زما د پلار په ګوتو لیکل شوی دی.

په ډیلی کی د څو نورو ورځو تیرولو نه وروسته طاهر ته د سلطان التمش د اندیښنو سببونه معلوم شول، التمش د ډیلی تخت د خپل بادار قطب الدین ایبك د مرګ نه وروسته د هغه له ناپوه زوی نه په زور ونیوه، ترکی سرداران په خاص ډول ایبك پردی خوښ نه وو، هر یوه داسی ګڼله چی د ډیلی پر تخت تر التمش د دوی زیات حق دی، سرکش امیران د التمش پولادی پنجو ایل کړی وو، خو د شمال لویدیځ له لوری هغه ته له مغلو نه خطر ؤ او په جنوب کی راجپوت تنظیم کیدل، په داسی حالاتو کی د التمش دا اندیښنه بی ځایه نه وه چی که د تاتاریانو او یا راجپوتانو سره د جګړی وخت راشی نو د ده د پوځ ځینی ترکی سرداران چی تر اوسه ډاډه نه دی ښایی له غلیم سره یوځای شی.

کله چی عین الملك ډیلی ته ورسید او د سلطان له باغی سرادارانو سره یی جوړ جاړی پیل کړل، نو سلطان یو نوی خطر احساس کړ، تیمور ملك له سلطان سره تر لیدو وروسته له عین الملك سره سخت چلند وکړ، له رخصتی نه وراندی هغه د څو وتلیو سردارانو سره ولیدل، هغوی یی د راتلونکی خطر نه وویرول او دوی ته یی د اتحاد او یووالی لارښوونه وکړه.

د تیمور ملك له تلو وروسته طاهر د امیرانو د یو والی او متحد کولو هڅو ته دوام ورکړ، په څو ورځو کی د سلطان د مخالفو امیرانو له ډلی نه څو تنو چی د طاهر ویناوی واوریدی دا لوړه یی وکړه چی د خطری په مهال به د سلطان سره بی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفایی نه کوی، له هغه وروسته طاهر اولس ته پام واړاوه، د ډیلی په جوماتونو کی د هغه د څو ویناګانو نه وروسته څو امیرانو هم دا احساس کړه چی که موږ ځانګړی او یوازی پاتی شوو نو د اولس ذهنیت به یی پرخلاف شی او سلطان به یی په آسانی وځپی، ځکه خو هغوی هم له سلطان سره د وفاداری اعلان ته مجبور شول، د طاهر د دی بریالیتوبونو یو ستر سبب د ثریا هڅی وی، له طاهر سره دواده نه دمخه د ډیلی د امیرانو میرمنو او لونو هغه یوازی د یوه شتمن سوداګر ښکلی لور بلله خو د دی په واده کی د پاچا او ملکی ګډون دا د ټولو لویو کورنیو د پام وړ وګرځوله، اوس دوی ته د ثریا د ژوند ډیر نور روښانه اړخونه معلوم شول، ددی په باب به په هر مجلس کی خبری کیدلی او چی چیرته به ځلور ښځی راټولی شوی د دی په باب به یی څه ویل.

یوی به ویل : ما اوریدلی دی چی ددی بابا یوازی یو ساده سوداګر دی چی د روپیو ګټل یی زده دی.

بلی به ویل : مګر د هغه انا ډیره هوښیاره ده، د ډیرو امیرانو ښځی آن د صدر اعظم ښځه یی مشره مور بولی، څوك چی د هغی په خبرو تر تأثیر لاندی رانشی هغه ته ګران بیه سوغاتونه ورکوی او تابع کوی یی.

ما اوریدلی دی چی ملکی ته هم هغی یو هار ورکړی دی ځکه خو ملکی هم د ثریا په واده کی د زیوراتو یوه ډکه صندوقچه هغی ته ورکړه.

: ما اوریدلی دی چی د ثریا پلار د کوم ښار حاکم ؤ، چی له مغلو سره په جګړه کی شهید شو.

: هغه ډیره نیکمرغه ده له بابا سره یی ډیره زیاته شتمنی او دولت دی.

پلار یی یو زړور او سرښندوی سرتیری ؤ . او خاوند یی د سلطان جلال الدین سفیر او زموږ د پاچا ډیر نژدی دوست دی. وایی چی له څیری نه بلکل پرښته ښکاری او په غږ کی یی جادو دی.

د ډیلی د بانفوذه امیرانو په سره یو کولو کی چی ثریا د طاهر سره مرسته وکړه او کوم بریالیتوبونه یی وګټل د هغی په سبب هغه د طاهر د میرمنی او د شیخ عبدالرحمن د لمسی پرځای د قوم د یوی درنی لور په حیث وپیژندل شوه.

هغی یوه ورځ د ښار د عزتمندو کورونیو ښځو ته میلمستیا وکړه هغوی ته یی د مغلو د ظلمونو له بیانولو وروسته وویل چی خپل میړونه او ورونه د غفلت له خوبه راپاڅوی که نه نو د وحشت او بربریت دغه توپان د ګاونډیو هیوادونو د تباه کولو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وروسته اوس د هندوستان دروازی تکوی، د تولنیز خطر د دفاع لپاره تولنیز جهاد ته ارتیا ده.

ثریا هغوی وپوهولی چی که د قوم لونی خپله ذمه واری وپیژنی نو په نارینه ژ کی یو هم د خیانت او غداری جرئت نشی کولی.

ښځی خپلې میرونه، خویندی خپل ورونه او میندی خپل زامن د اولس په ملاتړ مجبورولی شی، یوازی د نارینه ژ اتحاد او یو والی کولی شی د اولس د لونړو او میندو ساتنه تضمین کړی.

ثریا د هندوستان پر حالت د تبصری په ترڅ کی دوی ته وویل که د پاچا او امیرانو اختلافونه لری نه شول، نو د مغلو په اشاره به د دی هیواد په لکونو نا مسلمان خلك زموږ پرخلاف راپورته شی.

د ثریا خبری دومره اغیزمنی وی چی تولو ښځو د خپلو خپلو نارینه ژ د پوهولو ژمنی وکړی، دا پیل دیر امید وارکونکی ژ، له دی وروسته د هری محلی ښځو ثریا ته د تبلیغ بلنه ورکوله، نژدی هر مابنام به په کوم کور کی د ښځو غونډه وه او ثریا به هغوی ته وینا کوله.

شیخ عبدالرحمن د طاهر په موجودیت کې د دیلي پریښودلو اراده وځندوله. سلطان جلال الدین خوارزم شاه د سند په ساګر سیمه کی واړول او د بهرنیو پیغامونو د ځواب په انتظار شو.

طاهر او ثریا په څو اونیو کی د دیلی په مسلمانانو کی نوې ساه پوه کړه، له هغه وروسته دوی د سلطان التمش په غوښتنه نورو ښارونو ته مخه کړه، په هر ښار کی د دوی دیر تود هرکلی وشو. ثریا به ښځو ته تبلیغ کاوه او طاهر به په نارینه ژ کی د ایمان جذبه راژوندی کوله.

هغه به په جوماتونو کی وینا کوله، د پوځیانو چونیو ته به تلو او د سرتیرو مشقونه به یی لیدل، له هغوی سره به یی د توری وهلو، نیزه بازی او غشی ویشتلو په تمرین کی ګډون کاوه.

د خبرو او عمل دغه غازی څو میاشتی وروسته بیرته دیلی ته راورسید، سلطان التمش یی مننه وکړه ورته ویی ویل :

اوس زما باور دی چی د سند له دریابه تر بندیاچل پوری تول بغاوتونه چوپولی شم، اوس که مغلو هند ته د راتلو جرئت وکړ نو انشاء الله له هغوی نه به یو هم ژوندی ولاړ نه شی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ورځې وروسته د سلطان جلال الدین استازي دېلی ته ورسید دا خبر یې راوړ چې د خلیفه له لوری د خپلې غوښتنې په ځواب کې د حوصله ناک ځواب له اوریدو وروسته سلطان د هندوستان پرځای بغداد د خپلو فعالیتونو مرکز ګرځوی.

د دې خبر نه وروسته طاهر ته استازی د تیمور ملك لیك وسپاره چې داسې ؤ:

د خلیفه له خوا د امید وارووونکې ځواب له راتلو وروسته سلطان بغداد ته د تلو پریکړه کړې ده، موږ به په څو ورځو کې ملتان تهٔ ورسیږو، د سلطان امر دی چې ته هم هلته راشه، سلطان د سند او مکران له لارې بغداد ته درومی، سلطان التمش ته دا پیغام ورسوه چې کله بغداد ته ورسیږو موږ به د مصر، شام او عربی هیوادونو د ملاتړ ترلاسه کولو نه وروسته تاسو له خپلو ارادو او راتلونکې عزم نه خبروو، تر هغه وخته مو لیندې جوړې او توری تیرې کړې.

طاهر د تیمور ملك له لیك سره د ثریا کوټې ته ورننوت، ثریا چې ولید پوښتنه یې وکړه: استازی پیغام راوړی؟

طاهر لیك د هغې په لاس کې ورکړښود ویې ویل : واخله پخپله یې ولوله.

ثریا د لیك له لوستلو وروسته هغه ته وکتل او تري ویې پوښتل :

تا څه وخت د تلو پریکړه کړې ده؟

: سبا یا بله ورځ.

: مګر ته لږ اندیښمن یې، زما په باب چورت مه وهه.

: ثریا! په دې کې شك نشته چې له تانه بیلتون ماته اسانه نه دی، خو اوس زما د اندیښنې سبب بل څه دی.

: خبره داسې ده چې زه له خلیفه نه ډاډه نه یم، زه ویریږم چې بغداد ته د سلطان تګ د ده د زحمت سبب نه شي.

کیدای شي چې د خلیفه په باب زما رایه غلطه وي. خو د نورو امیرانو په منځ کې ځینې داسې دي چې په هر وخت کې خلیفه په غلطه لاره بیولی شي، زما دا اټکل دی چې تر اوسه به مغلو د بغداد زیاتره وتلی امیران پیرلی وي.

ثریا وویل : مګر د عبدالملك په باب خو ستا رایه دا وه چې هغه ډیر هوښیار سړی دی. که څه د خطر خبره وای نو خامخا به یې سلطان ته د بغداد د تلو مشوره نه ورکوله.

طاهر وویل : خدای دی وکړی چې د هغه د نیك نیتی په باب د طاهر خبره دروغ شي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مابنام چی کله شیخ ته د طاهر تیاری معلومه شوه نو هغه وویل زه یوازی ستا په خاطر په دیلی کی پاتی وم، اوس زه مدینی ته روانیږم، هلته به د حج نه وروسته دمشق او یا کوم بل لوری ته د تگ پریکړه وکړم.

حنیفی طاهر ته تسلی ورکړه وی ویل : زویه! ترڅو ته بیرته نه یی راغلی مونږ به په مدینه کی اوسیږو، مونږ به ستا کور هم وویني.

طاهر وویل : زه زیدلے له تاسو سره پریږدم چی ولاړ شی، هغه به تاسو زمونږ کور ته بوځی. او زما باور دی چې تاسو به لږ تر لږه، یوه موده د ده میلمستیاومنی.

حنیفی وویل : که د ثریا خوښه وه مونږ به یی هملته پریږدو.

شیخ وویل : ثریا ماته ویلی چی سلطان جلال الدین د پوځ لپاره پیسو ته اړتیا لری، په بلخ، بخارا او سمرقند کی زما زیات تاوان وشو، بیا هم زه یو لك دیناره ورکوم، ته دا سلطان ته ور وړه.

سلطان التمش هم ماته د هغه د مرستی وویل.

د رخصتی په ورځ سلطان التمش د جلال الدین د مرستی لپاره د اشرفیو صندوق ورکړ او تر ملتان پوری یی د طاهر د رسولو او د اشرفیو د صندوق د ساتنی لپاره یوه دلگی سرتیری ورسره واستول.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیانت

په لاره کې د کرمان، اصفهان او نورو ځایونو امیرانو د مغلو په لمسون د خپلواکۍ اعلان کړی ؤ، سلطان جلال الدین په راتلونکی کې له دوی نه د وفاداری ژمنې واخستلې او تیر اشتباهات یې ور وبخښل او جګړې ته یې د تیاریدو امر ورته وکړ پخپله بغداد ته روان شو.

عبدالملک چې له بغداده بیرته راستون شو سلطان ته یې داډ ورکړ چې سلطان د مغلو خطر نژدې احساس کړی خپله رایه یې بدله کړی ده، او هغه د خوارزم شاه د مرستې لپاره لښکر تیاروی، د خلیفه لیک هم دیر امیدواروونکی ؤ، خو طاهر، تیمور ملک او د سلطان څو نور ملګری پوره داډه نه وو.

تیمور ملک پاچا ته مشوره ورکړه چې دی دی له بغداده بهر څو ورځې پاتې شی څو تنه به بغداد ته واستوو نوی وضعه به معلومه کړو امکان لری چې خلیفه ستا د لری اوسیدو په صورت کې مرستې ته چمتو وی خو بغداد ته ورتګ دی خوښ نه کړی.

ددی تولو اعتراضونو په ځواب کې پاچا وویل:

خلیفه د دښمن پرخلاف د یو کیدو بلنې ته لبیک ویلی دی، هغه زموږ د لیک په ځواب کې ویلی دی چې هغه له موږ سره نور پاچاهان مرستندوی ولیدل نو خپل لښکر به زموږ مرستې ته راواستوی او نورو پاچاهانو موږ ته دا شرط ښودلی دی چې هغو ته د خلیفه د مرستې داډ ورکړی. په دی وضعیت کې موږ همدا یوه لار لرو چې بغداد ته ولاړ شو. او د خلیفه له لوری د شام، مصر او مراکش، پاچاهانو ته دا پیغام واستوو چې په جهاد کې زموږ ملاتړ وکړی.

که د خلیفه نیت پاک نه وی هم زموږ باور دی چې هغه به په بغداد کې پر موږ لاس نه پورته کوی، که د عام ذهنیت له ویری هغه د طاهر او د هغوی د ملګرو له کړو وړو نه په سترګې پټولو مجبور شوی ؤ نو زموږ پرخلاف به هم یوازی دومره فکر وکړای شی چې موږ هلته تنګ کړی تر څو د بغداد پریښودو ته مجبور شو،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ سره د دی پروا نشته.

خو زموږ باور دی چی له خلیفه سره په لومړی کتنه کی به د هغه ټولی اندیښنی لری کړو، موږ به هغه ته ووایو چی که تاسو زما د پلار اشتباه نه شی بخښلی نو ماته یی سزا راکړی مگر مسلمانان د مغلو له غلامۍ نه وژغورئ، موږ د خوارزم د پاچا پرځای داسی څوک ویولی چی د اسلام د ناموس د ساتنی لپاره ستا تر جنډې لاندی د یوه سپاهی په حیث جنګیدل ځان ته ویاړ بولی.

طاهر وویل : له دی ټولو خبرو سره که بده نه منې نو زما رایه دا ده چې تاسو ما او عبدالملك بغداد ته واستوی، موږ به په څو ورځو کې د وضعی له سهی حالت نه ځانونه خبر کړو او ستاسو په خدمت کی به حاضر شوه خلیفه او د هغه نور حکام چی له موږ سره کوم سلوك وکړی له هغه نه به د دوی نیت څرګند شی، که موږ بیرته راستانه نه شوو نو معنی به یی دا وی چی موږ یی ستا د پلوی په ګناه نیولی یو، او ستا سو په اړه هم ذ دوی ارادی سهی نه دی. او که موږ بیرته راغلو نو تاته به د بغدا د ټول حالات ووایو.

سلطان جلال الدین له دی رایی سره اتفاق وښود او طاهر، عبدالملك او مبارك ته یی بغداد ته د تلو اجازه ورکړه، له طاهر سره راغلیو دیرش تنو ځوانانو ته هم د څو ورځو لپاره بغداد ته د تلو اجازه ورکړای شوه.

* * * * *

(۲)

ماښام مهال د بغداد صدر اعظم صفیه خپلی کوټی ته ور وغوښته او د هغی په لاس کی یی یو لیك ورکړ ویی ویل:

لوری! پوره لس کاله ما د خلیفه په خدمت کی تیر کړل خو پر چا می اعتماد ونکړای شو. او نه زما دا تمه ده چی څوك دی پر ما اعتماد وکړی، زما تر ټولو لویه ګناه ښایی دا وه چی په ځینو معاملو کی د خدای «ج» د رضا پرخلاف د خلیفه د خوښی تابع وم. او د هغه په اشارو می کار کاوه، خو پر اسلامی نړۍ د هیبتناکی تباهی په راوستلو کی د خلیفه ملاتړ نشم کولی.

واوره لوري! جلال الدین خوارزم شاه له خلیفه نه د مرستی په تمه بغداد ته را روان دی، زما په ټینګار هغه سلطان ته یو امیدوارووونکی لیك استولی دی. او زما دا تسلی وه چی دغه کار به می د تیرو ټولو غلطیو کفاره شی، خو داسی ښکاری چی تقدیر ته زما ښیګنه منظوره نه ده، نن هغه لوی منافق او غدار مهلب

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بن داؤد د مغلو د ځانګړی استازی په حیث بغداد ته راغلی، له هغه سره څو تنه مغل سرداران هم دی، خلیفه پخوا هم د مغلو تر رعب او هیبت لاندی ؤ، مهلب د هغه پاتی حوصله او غیرت هم تری واخست، هغه خلیفه پوهولی دی چی که ته جلال الدین ونیسی او مغلو ته یی وسپاری نو بغداد به د تباهی له اوره وژغورل شی او د چنګیز خان پرځای ناست کسان به تاته تل په عزت او احترام ګوری.د خلیفه د داډ لپاره د مغلو د انعام په تمه څو مفتیانو دا فتوی ورکړی ده چی مغلو ته خدای «ج» د ځمکی په پراخه ساحه حکومت وربخښلی دی، له دوی سره مخالفت د خدای «ج» له رضا نه د بغاوت په معنی دی او د جلال الدین مذهبی عقیده سهی نه ده، ځکه خو د بغداد پر خلکو د هغه اطاعت فرض نه دی، داسی ښکاری چې مهلب له څو ورځو را په دیخوا دلته مصروف ؤ خو زه یی له راتلو نه هغه مهال خبر شوم چی دی له څو مغلی سردرانو سره د خلیفه پر دسترخوان ناست ؤ.

ما د خلیفه د پوهولو هڅه کړی ده، خو هغه د مهلب د خبرو تر اغیزی لاندی دی او له مغلو نه تر خدای «ج» زیات ویرې نن شپه بیا خلیفه ما او د پوځ څو تنو سردارانو ته د خبرو اترو وخت او بلنه راکړی ده، او زما امید دی چی نن به د خلیفه په محل کی د مسلمانانو د برخلیك پریکړه وشی، د خلافت له لویو سردارانو څخه یو هم په دی نظر نه دی چی د خوارزم شاه په ملاتړ د مغلو د دښمنی خطر قبول کړی، خو زه به خپل وروستی فرض ترسره کړم. نن د قاسم ارتیا احساسوم، خو هغه ډیر لری دی زه تاته یو ډیر لوی مسؤولیت سپارم، تاته معلومه ده چی د خلیفه په خفه کولو سره ډیر لږ خلك د هغه له مانې نه ژوندی راوتلی شی، ښایی زما پای هم همدغسی وی، که زه تر نیمی شپی پوری کورته را ستون نه شوم نو ته سعید راوغواړه دا لیك وروسپاره او دا لارښوونه ورته وکړه چی هر څومره ژر کیدای شی جلال الدین ته یی دی ور وړی. ځکه چی که خلیفه د جلال-الدین د نیولو پریکړه وکړی نو زما باور دی چی نن شپه به لښکر ورپسی واستوی، او دی به دراز دنه افشا کیدو په سبب کورته راپری نږدی، ما سعید پوهولی دی، هغه به د طاهر د پخوانیو ملګرو نه څو ځوانان را ټول کړی او طبیلی ته نږدی به زما د حکم انتظار کوی، تر اوسه ما هغه ته نه دی ویلی چی په کوم کار پسی به یی استوم، او له ضرورت نه پرته داسی مهم لیك هم هغه ته ورسپارل لازم نه بولم، امکان لري خلیفه زما خبره ومنی او جلال الدین ته ددی لیك د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استولو اړتیا نه شی، په هر صورت که زه تر نیمی شپی پوری رانه غلم نر د بغداد د صدر اعظم وروستی فرض به د هغه وریره پوره کوی، سعید او د طاهر نور ملګری تر ما پر تا زیات اعتماد کوی.

صفیی وویل : ته ډاډه اوسه زما لخوا به لتمی ونه شی، صدر اعظم وموسکل وبی ویل : زما پر تا اعتماد دی،که قاسم هم دلته وای ښایی د دی کار لپاره زما نظر پر تا وای.

صدر اعظم شاهی مانی ته راستون شو.

*****

(۳)

د ماسختن لمانځه نه لږ وروسته د صدر اعظم په مانی کی فریادونه اوچت وو، د مانی ټول نوکران پر هغه راغونډ شوی وو، د هغه د تېښتیو له تپونو نه وینی روانی وی، صدر اعظم سترګی وغړولی او په هوښ راغی، په تیت غږ یی پوښتنه وکړه : زه دلته څنګه راغلم؟

یوه نوکر وویل : ته چی دروازی ته راورسیدلی وغورځیدلی، موږ راواخستی او دلته مو راوړی.

: او هغه نوکران چی له ما سره ؤ څه شول؟

یو نوکر ور وړاندی شو وبی ویل : زه معمولی تپی یم!

حامد ووژل شو.

: تا هغوی وپیژندل؟

: هو! ما مهلب وپیژاند، کله چی ته د خلیفه له درباره راووتی هغه له تا سره یوځای ؤ، موږ دواړو له زینی نه څو ګامه لری ستا د راتګ انتظار کاوه، کله چی ته لاندی راکوزیدی نو څلور تنو چی نقابونه یی پرمخ راکش کړی وو د ونو له سیورو نه راووتل پر تایی حمله وکړه.

تا مخ واړاوه او د دروازی په لوری دی منډه واخستله خو مهلب دی لاره ونیوه او په خنجریی دوه دری واره درباندی وکړل او د مرستی لپاره یی چیغی کړی. حامد زمانه وړاندی ؤ هغه پر مهلب حمله وکړه خو هغه ځان یوی خواته کړ او بچ شو او حامد د یوه مول وهلی د توری په ګوزار تپی شو او وغورځید زه ور وړاندی شوم یو مول وهلی می وواژه، نورو دریو حمله رباندی وکړه، ما یو بل هم وغورځاوه، په دی ځنډ کی د خلیفه د مانی نه نور سرتیری راووتل، مهلب ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library

زاغی او ویی ویل سپاهیان راغلل راځی او بیا هغوی وتښتیدل زما تا ته پام شو، ته له هغه ځایه مانی ته تللې زه په منډه درغلم او څوګامه درسره ولاړم او بیا په دی ګومان ودریدم چی هغوی به په تا پسی راشی کله چی پوه شوم چی ته مانی ته نژدی شوی زه هم راغلم.

صدر اعظم وویل : سعید چیرته دی؟

سعید نوکران په یوه او بله خوا لری کړل او د هغه د بستری ترڅنګ ودریدل، صدر اعظم د خپلی میرمن، لور، صفیی او سعید نه پرته نور نوکران له کوټی و ایستل.

کله چی کوټه تشه شوه سعید ته یی وویل : ستا په ذمه چی کوم کار دی صفیه به یی درته ووایی ملګری دی تیار دی؟

: هو صیب!

صدر اعظم خپلی میرمنی ته وکتل: زمانه وروسته به ستا لپاره دا غوره وی چی مصر ته ولاړه شی، زه د لږ ځنډ میلمه یم.

صفیی وویل : کاکا! ما تر اوسه تاته یوه خبره نه ده کړی طاهر ژوندی دی، او ګه ستا بدل بل چا وانه خست نو هغه به یی خامخا اخلی.

: لوری رښتیا ووایه! زما په زړه یو دروند بار ؤ.

: هو دا رښتیا ده پر هغه یی د مړه ګومان کړی ؤ او سیند ته یی غورځولی ؤ، دا سعید ته هم معلومه ده.

صدر اعظم په سوالیه نظر سعید ته وکتل هغه وویل : هو صیب هغه ژوندی دی.

صدر اعظم صفیی ته وکتل ویی ویل : صفیی لوری! زما د ورتګ نه وړاندی خلیفه د سلطان جلال الدین د نیولو لپاره دیرش زره تنه سرتیری استولی وو، اوس دی ته خپل فرض پوره کړه.

نن شپه به هغوی ډیر زیات مزل کړی وی...

سکینی ما له تا سره د خبرو فرصت ونه موند... نن له ما سره کښینه.

د سکینی اوښکی بهیدلی او د هغه ترڅنګ کښیناسته، صدر اعظم څو شیبی دی ته وکتل او بیا یی سترګی پټی کړی له درده یی زګیروی وکړ، لږ ځنډ وروسته یی سترګی خلاصی کړی او په اشاره یی اوبه وغوښتی، سعید هغه ته تکیه شو او راپورته یی کړ، صفیی یی د اوبو پیاله پرشونډو ورکیښوده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو غورپ اوبو نه وروسته یی بیا سترگی پتی کړی او څملاست، سکینی وویل : بیهوښه شو.

سعید زر د هغه خوله وازه کړه صفیی ته یی وویل چی اوبه وروځښی.

صفیی یی په خوله کی اوبه وارچولی، خو د هغه له ستونی د تیریدو پرځای تر دوارو وابنکو بیرته تویی شوی، صدر اعظم سترگی وغړولی او څو ځلی د بندی بندی ساه کښلو وروسته په ابدی خوب ویده شو.

صفیی، سکینه او کاکا ناوی په ژړا پریښودی اوښکی یی تویولی او بهر راووتله، سعید ورپسی ؤ.

: زه ستا د امر انتظار کوم، هغه وویل.

صفیی ځواب ورکړ : ودریږه! زه اوس راځم، لږ ځنډ وروسته صفیه له خپلی کوتی راووتله، هغی د سپارلی جامی اغوستی وی او په ملا یی توره څوړنده وه.

هغی د یوی خدمتدګاری په لاس کی یوه پاڼه ورکړه ویی ویل : سبا ته دا رقعه سکینی ته ورکړه.

سعید په حیرانی هغی ته کتل. دی ورته وویل : سعیده راځه.

: مګر ته له موږ سره ځی؟

: هو! زه به له تاسو سره ځم کاکا راته ویلی وو چی دا د ده د ژوند وروستی او ډیره مهمه ذمه واری ده. او زه یی پوره کول غواړم.

: مګر ته باید پر ما اعتماد وکړی.

: زما پر تا اعتماد دی، خو زه ویریږم چی هغه به ستا له لاسه کوم پیغام ته ارځښت ورنکړی، له د ینه پرته مهلب ما ډیره ښه پیژنی، زه دلته په پاتی کیدو ددی کور بدمرغی نوره زیاتول نه غواړم.

*****

(٤)

د لمر له راختلو نه لږ وروسته طاهر او د هغه ملګری د یوی غرنی سیمی نه تیریدل، په یوه پراخه سیمه کی ورننوتل چی مخامخ یی په غونډیو کی اته، لس تنه سپاره ولیدل چی اسونه یی چارګام زغلوی. په هغوی پسی د پنځوسو تنو سپرو په شاو خوا کی بله ډله وه، طاهر په ځیر د لیدونه وروسته عبدالملك ته وویل:

داسی ښکاری چی هغه وروستنی په مخکنیو پسی راغلی دی. او موږ یی باید

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرستی ته ورورسیږو.

عبدالملك وویل : هغوی له شانه غشی ورپسی را اوروی، وګوره یو تن یی زخمی شو لویږی، تعقیبونکی په دوو ډلووویشل شول او هغوی غواړی را ایسار کړی او تښتیدونکی یوازی ځانونه ژغوری، جګړه کول نه غواړی، موږ باید د هغوی مرسته وکړو.

طاهر خپلو ملګرو ته مخ واړاوه او په لوړ غږ یی وویل : ژر کوی چی هغوی یی په منګولو کی را ایساریدونکی دی.

د سترګو په رپ کی د طاهر ملګری له غونډیو نه دری ته ورکوز شول، طاهر په لوړ اواز وویل : وګوره د ټولو دمخه لکه چی یوه بنځه ده، ته د کین لوری سپاهیانو مخه ونیسه، زه بنی خواته ورځم، هغوی له دواړو خواونه د غشو تر دم لاندی راغلی دی، هغوی ته خوږ آزاد پریږده که هغوی په موږ هم د غلیم د ملګریو ګومان وکړ او په یوه او بله خوا د مخ اړولو هڅه یی وکړه نو وبه وژل شی.

د طاهر ملګری په دوو برخو وویشل شول او د شاډلی مخه یی ونیوه، تښتیدونکو دوی خپل مرستندویان وګڼل تر لږ وړاندی تیریدو وروسته ودریدل.

طاهر وړاندی ورغی په لوړ غږ یی وپوښتل : تاسو په هغوی پسی ولی راغلی یاست؟

د ده په ځواب کی یو تن چی خول یی پر سر ږ او د ډلی مشر معلومیدو را وړاندی شو ویی ویل : دا د خوارزم شاه جاسوسان دی، تاسو زموږ لاره مه نیسی.

: تاسو د خلیفه سپاهیان معلومیږی، ښایی تاسو ته معلومه نه وی چی د خلیفه او خوارزم شاه ترمنځ د دوستی ټرون شوی دی.

: پردی خبرو موږ ډیر سنه پوهیږو. ته زموږ له مخی لری شه، که نه نو په لری کیدو به دی مجبور کړو.

: نه تر څو موږ ته دا معلومه نه شی چی هغوی څه ګناه کړی موږ به یی ساتنه کوو.

: موږ شکمن یو چی دوی خوارزم شاه ته ورځی.

: تاسو یوازی په شك د خلکو د وژلو اجازه نه لری. او بیا خوارزم شاه ته ورتلل خو ګناه نه ده.

: نو د مقابلی لپاره چمتو شه!

طاهر ځواب ورکړ : د مسلمان وینه ډیر ارځښت لری، غوره دا ده چی بیرته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستانه شی، تاسو تر پنځلس شلو تنو زیات یاست، خو زما سره داسی سرتیری دی چی په ډیرو ډګرونو کی یی د خپلو متو زور ازمویلی دی.

موږ تاته ډاډ درکوو چی د خلیفه دښمنان نه یو، تاسو دلته ودریږی، زه یو سړی هغه ته وراستوم که هغه موږ ته ډاډ رانکړای شو نو پخپله به یی ونیسو او بغداد ته به یی بوځو.

طاهر عبدالملك په اشاره نژدی وروغوښت او ورته ویی ویل: ته ورشه وګوره څوك دی؟

پوځی افسر وویل ته څوك یی؟

طاهر ځواب ورکړ : ویږیږی مه موږ مغل نه یو مسلمانان یو.

: که تاسو مغل وای نو زموږ لاره به مو نه وه نیولی.

: د ویری او که د دوستی په سبب؟

افسر لږ له دوه زړی وروسته د خبرو موضوع بدله کړه ویی ویل : ستا لهجه او غږ داسی سړی ته ورته دی چی ما پیژاند، هغه هم ستا په څیر په هر کار کی پښه کلکه ایښودله.

ښایی زما څیره هم هغه ته ورته وی، او ښایی چی زه هماغه سړی وم.

: هغه مړ شوی دی!

: کله کله مړی هم ژوندی کیږی.

: ته کټ مټ د طاهر بن یوسف په څیر غږیږی.

: طاهر بن یوسف مړ شوی دی، او نن د هغه یو دوست د هغه په تعقیب د مرګ په درشل پښه ایښی ده، ستا غږ او لهجه یوه داسی چاته ورته ده چی د منصب په تمه یی د خپلو دوستانو د نیولو وعده کړی وه.

: ته څوك یی؟

: که ته د دوستانو په هیرولو عادت نه وی نو ښایی ومی پیژنی! طاهر دا وویل او خول یی له سره لری کړ.

: طاهره... ته !!

: هو! افضله! ایا ته خپله څیره نه راښکاروی؟

: که تر اوسه شکمن یی لږ وړاندی راشه.

: مګر ته خویی ...!

: هو ماته یی زهر راکړل، خو هر زهر وژونکی نه وی!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: طاهره! خدای «ج» شاهد دی چی زه په هغه سازش کی شریك نه وم او ستا د نیولو لپاره می څه دسیسه نه وه جوړه کړی.

طاهر خول پرسر کیښود ویی ویل :زه افسوس کوم چی تاته د دي موقع په لاس درنه غله چی ما ونیسی، اوس پوښتنه کولی شم چی په کوم نیت دلته راغلی یی؟ او دا خلك څوك دی چی ورپسی راغلی؟

: زه تاته څه نشم ویلی، یوازی دومره ویلی شم چی تا زما لاره ونیوله د لښکرو د مشر د امر مخالفت دی وکړ.

: د لښکرو مشرا هغه چیرته دی؟

: زه دا نشم ویلی.

: نو ستا خیر په دی کی دی چی بیرته وګرځه!

: ته پوهیږی چی زه بی زړه نه یم.

: ترڅو ته غدار نه وی زما همدا رایه وه، خو غداری او زړورتوب په یوه وجود کی نه راټولیږی.

: ماته یوازی د هغو خلکو د تعقیبولو امر شوی، که د لاری په نورو خلکو د توری اوچتولو حکم وای نو ماته به دی د بی غیرتی پیغور نه ډ راکړی.

: کله چی ته پوهیږی چی زمونږ له مړیونه تر تیریدو دمخه په هغوی پسې نشی ورټلای، نو بیرته ولی نه ستنیږی؟

افسر څه ځواب ورنکړ او په زړه نا زړه حالت کی یی خپلو ملګرو ته وکتل، په دی ځنډ کی عبدالملك اس وزغلاوه او طاهر ته نژدی ورغی او د افضل پر خلاف یی نیزه برابره کړه.

طاهر وویل : عبدالملکه! د جګړی ارتیا نشته، دا زمونږ دوست افضل دی او په غالب ګومان یی د بیرته ستنیدو پریکړه کړی ده.

عبدالملك وویل : دی اوس د ځان په باب هیڅ پریکړه نشی کولی، افضله تیار شه!

طاهر چیغی کړی : نه، نه عبدالملکه ودیږه! خو عبدالملك ده ته د پام کولو نه پرته اس پونده کړ او پر افضل یی حمله وکړه، افضل د ځان ژغورلو هڅه وکړه خو د عبدالملك نیزه د هغه تر تټر بوټه وختله.

دواړه لوری د یوی شیبی لپاره چوپ شول، عبدالملك اس راوګرځاوه او د دوی په منځ کی ودریده د افضل ملګري یی مخاطب کړل په لوړ آواز یی وویل:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاسو کی نور څوك شته چی د خلیفه نمك حلالوی؟

دغه وچه ځمکه د منافقینو، غدارانو او خاینانو وینی ته تږی ده،.ماته وګوری زه عبدالملك یم، ښایی په تاسو کی دیر ما وپیژنی، عبدالملك یوه شیبه خول له سره لری کړ او بیا یی بیرته پر سر کیښود ویی ویل : کاشکی تاسو ژوند او مرګ پیژندلی، تاسو د کمزوری په مخ کی زمریان او د زورور په وړاندی ګیدړان شی.

تاسو په ښځو غشی اوروی، خو چی میړونه ووینی لړزه درباندی راشی ولاړ شی خپل سالار ته ووایی چی کوم ځنګل ته د ښکار لپاره راغلی هلته سوی نشته، پرانګان پکی اوسیږی. له خوارزم شاه سره لږ خلك دی خو د دوی هریو له زرګونو سره په جګړه پوهیږی، ورشی!

که زما سره دا احساس نه وای چی زمونږ توری به ستاسو له وینو نه شرمیږی نو ښایی ما د تیښتی فرصت نه وای درکړی.

د افضل ملګری یو پر بل پسی وتښتیدل او په لږه شیبه کی ډګر تش شو.

عبدالملك طاهر ته نژدی راغی د هغه له ځیری نه وحشت خوتیده ویی ویل : زر راځه صفیه دی انتظار کوی.

: صفیه!

: راځه هغه تپی ده!

: طاهر ډبلی پوښتنی پرته اس پونده کړ.

کله چی د غونډی سرته اس خوت رفتار یی کرار شو نو هغه له عبدالملك نه پوښتنه وکړه : هغه چیرته ده؟

: ما هغوی د دی غونډی شاته د خور په غاړه پریښودل.

: تپ خویی خطرناك نه دی؟

: پر هغی دوه غشی لګیدلی دی، د یوه تپ معمولی دی خو دوهم یی ډیر بد په پښتیو پوری نښتی ؤ، غشی می ایستلی دی خو...!

: خو څه؟

: خدای «ج» دی خیر کوی.

*****

(٥)

صفیی یوی ډبری ته تکیه کړی وه او ناسته وه، سعید اوبه ورځښلی، طاهر یی چی ولید جګه شوه ودریده، هغه له اس نه پلی شو صفیه څوګامه ور وړاندی شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ببایی سترگی توری شوی، هغی تیندکونه وخوړل او نژدی وه چی وغورځیږی چی طاهر ورمنډه کړه هغه یی په خپلو متو کی تکیه کړه او ورو یی په ځمکه ځملوله.

صفیی ! ته دلته ولی راغلی؟ طاهر په دردناکه لهجه وپوښتل.

د صفیی پر شونډو غمجنه موسکا وغوړیده ویی ویل : اوس د دی خبرو وخت نشته، وګوره دغه خوږ ځومره وروکی دی خو اوبه یی ځومره رنی دی، د دجلی سیند ډیر لوی دی خو د هغه له خړوپړو اوبونه ډیره ستومانه شوی وم، ستا د کلی د خرما په باغونو کی کټ مټ دغسی اوبه بهیږی.

د یخو، خوږواو رنړو اوبو خوږونه اوچینی! زه د هغوی په لټه کی دلته راغلم، د طاهر ځو ملګری نژدی ورغلل خو عبدالملك هغوی یوه لوری ته ورسره بوتلل.

صفیی وویل : ته ولی خفه یی، ماته وګوره، زه خوښه یم، هوا ما ددی خوږ په باب درته خبره کوله، که زه مړه شوم ددی خوږ پر غاړه می پریږده.

:نه، نه، صفیی ته به روغه شی، ستا زخم معمولی دی، زه به تا هغو د خرما باغونو ته راسره بوزم چی د یخو، خوږو او رنړو اوبو ویالی پکی بهیږی، اوس به د پیښو د توپان هیڅ څپه هم موږ یو له بله بیل نکړای شی.

صفیی وویل : او موږ به هر سهار پر اسونو سپریږو د صحرا سیل ته به ځو.

: هوکی صفیی زه وعده کوم.

: او زه به له تاسره د نیزه بازی لوبه کوم، او بیا به د خرما په باغونو کی ګلونه لټوو، او کله چی ته د جګړی لپاره روانیږی نو زه به د ریګونو پر غونډیو خیژم او ستا لاره به څاړم.

: هوکی صفیی!

د صفیی ترسترګو اوښکی روانی شوی سلګی یی وکړی ویی ویل :

نور زما سره د مرګ غم نشته، ته زمایی، زمایی!!

او بیا یی سترګی پټی کړی.

د طاهر سترګې راډکې شوې چیغې یې کړې صفیې، صفیې!

صفیې سترګې وغړولې خو څه یې ونه ویل طاهر عبدالملك ته غږ وکړ هغه په منډه راغی طاهر ورته وویل : دی ضعف کړی دی اوبه راوړه د اوبو له ځو غوړیږه وروسته د صفیی څیره لږ راتازه شوه په کمزوری غږ یی وویل : لکه چی ویده شوی وم، د خرما په هغه بن کی، د رنړو اوبو چینه بهیده... زه هلته ولاړه وم... ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اس سپور وی چیرته تلی... چیرته ... دیر... لری. هغی بیا سترگی پتی کړی.

په مخ یی نیلی رنگ زور واخست ورو ورو یی ویل :

تاسو څنډ مه کوی پوځ له دی ځایه... یو پراو لری... عبدالملك یی پر لاس لاس ورکیښود بیایی طاهر ته وکتل او انا لله و انا الیه راجعون. یی وویل سر یی ځوړند شو، طاهر له دنیا او مافیها نه ناخبره د وفا او مینی دغی مجسمی ته کتل، عبدالملك د هغی پر مخ خپل دسمال وغوړاوه، او طاهر یی ترمټ ونیو ویی ویل : جگ شه! د همت نه کار واخله.

طاهر جگ شو ودریدل، عبدالملك ته یی کتل د هغه له سترگو وحشت وریده، د عبدالملك په سترگو کی اوښکی ډنډ شوی او لاسونه یی وغوړول او، طاهر بی اختیاره په غیږ کی ځان ور وغورځاوه او په سلگو شو.

عبدالملك وویل : طاهره! ښایی په دنیا کی داسی انسان نه ؤ چی دا باید ورته ژوندی وای.

لږ څنډ وروسته د همغه خوږ په غاړه د طاهر ملگرو صفیه په خاورو کی ښخه کړه، طاهر د څنگلی گلانو څو گیډی راټول کړل او د هغی په قبر یی وشیندل.

عبدالملك وویل : راځه طاهره چی ناوخته کیږی.

طاهر په اس سپور شو له سعید نه یی وپوښتل د لښکرو سالار له څومره پوځ سره را روان دی؟

: له شل زره لښکر سره.

طاهر عبدالملك ته وویل : د صدر اعظم لیك ماته راکړه!

بیا یی پر لیك سرسری نظر تیر کړ او ویی پوښتل: نو مهلب هلته رسیدلی دی نور نو دی بغداد خدای ساتی.

عبدالملك وویل : زه ویریږم چی سلطان زموږ له مشوری پرته بغداد ته مخه نه کړی، موږ باید زر تر زره ځانونه ور ورسوو.

طاهر اس ته پونده ورکړه ویی ویل : راځه.

په لاره کی طاهر له سعید نه پوښتنی کولی او دا ورته معلومه شوه چی دوی د سر لښکر له پوځ نه لاره کړه کړی وه خو په نیمه لاره کی د پوځ د مخی ډلگیو لیدلی وو او پر دوی پسی راغلی وو.

*****

(٦)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلطان جلال الدین خوارزم شاه سره دوه نیم زره تنه سربښندویان وو، له بغداده د قشمور تر مشری لاندی د شل زره سرتیرو د راتګ خبر یی چی واورید دوه زره تنه یی په مورچلو کی ځای پر ځای کړل او پخپله له پنځه سوه تنو سره وراندی ولاړ، د یوی غونډی پر سر د خلیفه د لښکر د راتګ په انتظار شو، په همدی وخت کی یی خبر ترلاسه کړ چی د خلیفه نور لس زره تنه لښکر د یوه بل سالار مظفر الدین په مشری د شمال ختیځ له لاری را روان دی او غواړی سلطان کلابند کړی.

د صدر اعظم د لیک له لوستلو او د عبدالملک، طاهر او سعید نه د څو پوښتنو نه وروسته سلطان ته معلومه شوه چی د خلیفه پوځیان به خامخا د ده د نیولو هڅه کوی، او که دی دلته خوندی پاتی شو هم د دوی پوځ به یی تعقیبوی، او تر هغو به یی پری نږدی تر څو یی د مغلو په لاس ورنکړی.

کله چی د قشمور پوځ راښکاره شو نو سلطان طاهر ته د سولی بیرغ ورکړ او د سولی لپاره یی خبرو اترو ته واستاوه.

طاهر قشمور ته دا پیغام ورساوه چی یا خو بغداد ته زموږ لاره مه ترې، سلطان پر دی باوری دی چی کله د خلیفه په حضور کی ودریږی د هغه بدګومانی به لری کړی، که نه وی نو موږ ته ددی موقع راکړی چی له دی ځایه خلیفه ته پیغامونه واستوو، که دا دواړه وراندیزونه ستاسو لپاره منظور نه وی نو سلطان د بیرته ستنیدو لپاره چمتو دی خو پر دی شرط چی تاسو به یی له شا نه نه راځی.

قشمور چی له جلال الدین سره یوازی پنځه سوه تنه ولیدل د خپل ځواک د ازموینی شوق پری غالب شو په بی پروایی یی ځواب ورکړ : زموږ رومبی او وروستی پریکړه دا ده چی سلطان موږ ته وسپاری که نه نو مقابلی ته تیار شی.

طاهر هڅه وکړه چی قشمور قانع کړی خو هغه هیڅ وانه وریدل، هغه نورو جنرالانو ته هم وویل خو په یوه یی اغیزه ونه کړه.

طاهر مایوس شو ویی ویل : تاسو ته د دوستی او مینی له ګلانو سره راغلی وم، خو تاسو د دښمنی د ازغیو لپاره لمن غوړولی، زه د سولی استازی راغلی وم خو تاسو جګړی غواړی، زه وعده کوم چی ستاسو هیله به ترسره شی. ډیر د خفګان ځای دی چی مسلمان د هر څه په له لاسه ورکولو برسیره پردی ویاړ کاوه چی د دوی په ځیر میلمه پال بل ځوک نه وو خو نن دغه نیکمرغی هم د بغداد له اولس څخه واخستل شوه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلال الدین له جګړې څخه نه ویریږي خو نن هغه توره چې په وار وار د مغلو په وینو کې ډوبه او رنګ شوه د مسلمانانو له تورو سره په تهکر کیدو ښایي وشرمیږي، خدای «ج» پوهیږي چې ددې جګړې نتیجه به څه وي خو تاسو ګواه یاست چې موږ ورته تیار نه وو او راباندې وتپل شوه.

قشمور وویل : ورځه موږ ته ددې جګړې نتیجه معلومه ده او د یوه ساعت دننه به تاسو ته هم معلومه شي.

طاهر د اس جلب کلك کړ ویې ویل : ماته یوازې یوه خبره معلومه ده او هغه دا چې د خوارزم په څیر د بغداد د عظمت ورځ هم ګرځیدلې ده او په موږ کې د هر یوه بړی د دوارو ماته ده.

طاهر اس ته پوندې ورکړه او د سترګو په رپ کې سلطان ته ورغې.

د قشمور د پوځ عربي سرښندویو ته د طاهر د میلمه پالنې پیغور له زغم نه وتلی ؤ، په هغوی کې زیاترو پریکړه وکړه چې په جګړه کې به برخه نه اخلي، په ایرانې او ترکي سرادرانو کې هم ځینې زړه نا زړه وو، ځکه خو قشمور چې د وخت نزاکت احساس کړ سمدستي یې د حملې امر وکړ.

جلال الدین شاته خپل په مورچلو کې پوځ ته هدایات واستول او د قشمور مقابله یې وکړه، د بغداد پر پوځ له څو حملو وروسته یې شاته تګ پیل کړ. قشمور دا ګڼله چې سلطان ماته وخوړه او میدان پریږدي په هغه پسې ورغې، سلطان به لږ مخامخ جګړه کوله او بیا به په شا تلل او د قشمور پوځ یې د هغو توندو غونډیو منځ ته ورساوه چې تر شا یې د ده غشي ویشتونکي غلي وو، قشمور چې ناڅاپه له څلور واړو لوریو د ډبرو او غشو باران ولید دا یې احساس کړه چې د سلطان د پوځ په شمیر کې یې غلطي کړې ده، په تنګو درو کې یې د خپل لښکر نیمایي کسان مړه او ټپیان پریښودل او په شاتګ یې پیل کړ، په بیرته ستنیدو کې یې تر دري میلو پورې له هرې ډبرې او کونج نه د غشو او ډبرو استقبال کاوه او بیا چې له میدان نه وتښتیدل شاته یې د بیا راکتلو جرئت ونه کړ.

سلطان تر څو میله په هغوی پسې ورغې او بیا بیرته راوګرځید، په لاره کې د مظفر الدین له لس زره تنو سره هغوی مخ شول، د مظفر الدین پوځ د قشمور د پوځ په ماته بې زړه شوی ؤ له لږ مقابلې وروسته یې وسلې وغورځولې.

د دې بریالیتوبونو نه وروسته رضا کاران ډلې ډلې د سلطان په پوځ کې شامل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول، په څو میاشتو کی د هغه د پوځ شمیر شل زره تنو ته ورسید. د تبریز والی د مغلو حلیف ؤ، سلطان هغه ته د غداری د سزا ورکولو لپاره تبریز ته مخه کړه. والی د مغلو د مرستی له انتظار پرته وتښتید او سلطان دغه ښار ونیو، د تبریز له نیولو وروسته جلال الدین شاوخوا څو نورې سیمې هم ونیولې، په دی وخت کی یی د بغداد د خلیفه ناصر الدین ... د وفات او د هغه د زوی ظاهر د خلیفه کیدو خبر واورید.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله هڅه

د ناصر له وفات نه چی خبر شو سلطان طاهر او عبدالملك ور وغوښتل د نوی خلیفه ظاهر د اخلاقو او عادتونو په اړه یی تری پوښتنی وکړی، طاهر د سلطان د پوښتنی په ځواب کی وویل:

ما له ظاهر سره یوازی یو ځل لیدلی دی، زما په ګومان هغه یو کمزوری سړی دی خو بد ذاته نه دی، هغه د پلار په څیر مغل خپل دوستان نه بولی.

عبدالملك وویل : زه هغه له ډیری مودی راهیسی پیژنم، زما باور دی چی هغه د پلار پر ضد دی، خو د هغو کسانو له ډلی څخه نه دی چی خپلو ارادو ته عملی جامه وړواغوندی، بیا هم که په بغداد کی یو سهی لارښوونکی وی نو له هغه نه ژیات کار اخستل کیدای شی.

سلطان وویل : زما په ګومان تاسو دواړه هغه ته ښه مشاورین کیدای شی، که زه تاسو د خپلو استازو په نامه هلته واستوم خامخا به مو خبروته پاملرنه وکړی. په بغداد کی د بی طرفی په حالت کی د مصر او شام اولسونه له موږ سره ملاتړ ته نه چمتو کیږی، تاسو بغداد ته ولاړ شی، خلیفه ظاهر د ټولی اسلامی نړی لارښوونی ته چمتو کړی او ده ته دا یقین ورکړی چی تر څو زه ژوندی یم د مغلو ټول پام به خپل لوری ته راواړوم، که دی وغواړی د ټولی اسلامی نړۍ پوځونه په بغداد کی راټولولی شی، هغه ته دا هم ووایی چی په کومه ورځ موږ د بغداد، مصر او شام د پوځونو سره پر مغلو حمله وکړو په همغه ورځ به په هند کی سلطان التمش چی زموږ پلوی دی د مغلو پرخلاف د جګړی اعلان کوی. او د ایران ترکستان او خراسان اولسونه به چی تر اوسه پوری چوپ او غلی دی ناڅاپه راپورته شی.

ما دا اوس احساس کړی ده چی چاته د مرستی لپاره تر ورتګ راته دا غوره ده چی هغدلته خپل مسؤولیت ادا کړم، که زه په دی ګډوډی او پردیسی کی څوکاله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مغلو سره وجنګیدلی شم نو باور می دی چی مسلمانان به می مرستی ته را ورسیږی، په څو ورځو کی به له آذربایجان نه لس پنځلس زره تنه نور راسره ملګری شی او زه به په دی هغوی تر دوو کالو پوری نور هم پریشانه کړم، په دی موده کی تاسو توله اسلامی نړۍ راویښولی شی.

طاهر او عبدالملك په یوه غږ وویل : موږ تیار یو.

سلطان وویل : مبارك له ما سره پریږدی، هغه یو ښه سرتیری دی او زما ورته ضرورت دی.

څو ورځی وروسته طاهر او عبدالملك بغداد ته رسیدلی وو خلیفه ظاهر چی د دوی په ورتګ خبر شو لیدو ته یی وروغوښتل، د لومړی لیدو نه وروسته طاهر چی د جلال الدین په نامه لیك واستاوه مضمون یی داسی ؤ:

د خدای «ج» شکر دی چی موږ تر خپلی هیلی او اتکل هم زیات بریالی شوو.

مهلب چی د صدارت عظمی امیدوار ؤ له خلیفه سره زموږ د ملاقات نه وروسته چیرته غلی شوی دی، خلیفه د پوځ د سنبالولو چاری عبدالملك ته وسپارلی او زما په اړه یی دا پریکړه کړی چی زه د ده د استازی په حیث شام، مصر، عربو، مراکش او اندلس ته ولاړ شم، او زه به سبا ته روانیږم.

څرنګه چی د حج وخت نژدی ؤ، ځکه عبدالملك طاهر ته مشوره ورکړه چی ته تر تولو دمخه مکی ته ولاړ شه، هلته به د هر هیواد مسلمانان راغونډ وی او ستا له پاره به د جهاد د تبلیغ تر تولو غوره موقع وی، پر دی سربیره به په لاره کی خپل کورته هم ورشی.

*****

(۲)

یوه ورځ ماښام ته نژدی مهال زید یو ښکلی ماشوم په غیږ کی د خرما په باغونو کی چکر واهه چی ناڅاپه یی یو سپور ولید چی اس ګړندی زغلوی، زید څو ګامه ورغی او د سپاره د لاری پر سر ودریده، سپور چی ورنژدی شو اس یی ودراوه او له سره یی اوسپنیز خول لری کړ زید چیغه کړه:

طاهره! طاهره!! بیا یی ورمنده کړه د اس جلب یی ونیو، ماشوم ددی شور ماشور او غیر عادی حالت څخه وویریده شونډی یی بوځی بوځی کړی او بیا پرینګ په ژړا شو.

زید زر بیرته د اس جلب خوشی کړ ماشوم یی وتپاوه او ویی ویل : واه واه! چی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل پلار دی ولید زما په شکایت دی خوله پرانستله، بیا یی طاهر ته وکتل ویی ویل : ته څه ته ګوری ولی له اسه نه پلی کیږی او ماشوم نه کراروی!

طاهر له اس نه پلی شو ماشوم یی واخست هغه ناڅاپه غلی شو او په ځیر ځیر یی طاهر ته کتل بیا یی د هغه په ځلیدونکی زغره لاسونه وهل.

: زه کور خبروم، زید دا وویل او اس یی تر جلب ونیو د خرما په بن کی یوه لوری ته چتك روان شوه طاهر ورو ورو څوګامه د خرما په بن کی واخستل او بیا ودریده ماشوم ته یی وکتل، ماشوم اوس زغره پریښوده او دواړه لاسونه یی خول ته وروغځول.

طاهر سر تیټ کړ د ماشوم وړوکی پستی خپړی دده په مخ ولګیدی. دده په زړه کی نرم او لطیف تکانونه اوچت شول، هغه بیا د ماشوم دواړه لاسونه بنکل کړل او بیا یی د لږ ځنډ لپاره تول پام او مینه د ماشوم بنکلی څیری ته ور واوښته او بی اختیاره یی د هغه باړخوګان، شونډی، سترګی اوتندی بنکل کړل. زما بچیه! زما ژوندۍ! زما روحه، او طاهر ورو ورو ګامونه اخستل او د کور دروازی ته ورنژدی شو.

که دی څو ورځی دومره مینه ورسره وکړه نو دا به بدورګه کړی! طاهر تکان وخوړ مخامخ یی وکتل ثریا څوګامه لری د دروازی نه بهر ولاړه وه او موسکل یی.

: ثریا زما...؟

ثریا زر لاس پر شونډو کیښود او دروازی ته یی اشاره وکړه طاهر اندیښمن دروازی ته وکتل څو ګامه لری احمد بن حسن، شیخ عبدالرحمن، سعیده، او حنیفه په انګړ کی د دروازی په لوری را روان وو، طاهر په بیړه را وړاندی شو او ماشوم یی ثریا ته ورکړ او د کور انګړ ته ورننوت، د کور د خلکو او طاهر ترمنځ لا اته، لس ګزه فاصله وه چی اسماعیل او امین د خرما له بن نه راووتل او له طاهر سره غاړه غړی شول.

اسماعیل ساه نیولی وویل : مور غشی ویشتل زده کول چی زید ستا د زاتلو خبر را وړ.

کله چی د کور تول غړی پر طاهر راټول شول د اسماعیل پر شونډو شوخه موسکا وغوړیده شیخ عبدالرحمن ته یی وکتل ویی ویل : بابا تا لکه چی ونه پیژاندا دا طاهر ورور دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ په غوسه شو امسا یی اوچته کړه ویی ویل : ودریږه! ساده! اسماعیل وتښتید لری ولاړ او له خندا نه لټ په لټ اوښت، حنیفه هم تر شونډو لاندی موسکی شوه خو حنیفه او سعیده نه د شیخ د غوسی په سبب پوهیدل او نه د اسماعیل د کړسندی خندا په راز.

*****

(۳)

د ماسختن له لمانځه نه وروسته چې ثریا د طاهر له ارادی نه خبره شوه د حج او له هغه وروسته په اسلامی هیوادونو کی د جهاد د تبلیغ لپاره یی له طاهر سره د ملګری هیله څرګنده کړه.

سعیدی د هغی خبری ورسره تائید کړی ویی ویل : ما چی د ثریا په اړه څه اوریدلی دی نو زما ګومان دی چی دا به ستا ډیره مرسته وکړی.

شیخ وویل : زما پر دی څه اعتراض نشته مګر ماشوم؟

سعیدی وویل : ماشوم به له ماسره وی، اوس هم هغه له ما نه پرته بل چاته نه ورځی.

د سعیدی پر تینګار له هغی سره حنیفه د خپل لمسی په پریښودو راضی شوه.

اسماعیل چی په یوه کونج کی ولاړ ژ وویل : زه له حج نه وروسته له دوی سره ځم.

شیخ وویل : چوپ شه دا ستا د زده کړی وخت دی.

احمد بن حسن وویل : ته ډیر مصروف سړی یی، غوره به دا وی چی د اسماعیل شوونه او روزنه ماته وسپاری، له امینی سره به یی سات تیروی.

شیخ وویل : ما له څو ورځو راسی دا فکر کاوه خو زه حیران یم چی د دی ناپوه نه پرته به زما ګوزاره څه ور وی؟ زه اوس د ده له شوخی او شیطانت سره روږدی شوی یم.

زه چی څومره د ده د کړس کړس خندا څخه په غوسه کیږم همدومره ورته ناکراره هم وم، دا زما د بوډاتوب د ژوند یو ضرورت شوی دی.

په ورکتوب کی به یی زما پایزار غلی کړ، اوس بیا د کجورو بندونه پکی اچوی، زه پری په غوسه شم او بیا فکر کوم چی که ده داسی شوخی نه کولی زما ژوند به څومره بی مزی ؤ، خو د تعلیم لپاره باید زه دی له تاسره پریږدم، اسماعیله دلته راشه!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسماعیل پښیمانه او سرځورند وراندی ورغی شیخ په مینه تر خپل څنګ کښیناوه ورته ویی ویل : بچوا زه به له حج وروسته تا همدلته پریږدم، خو په دی شرط چی په هفته کی به دوه ځله ماته ښارته خامخا راځی.

: ته اونیا ولی همدلته نه پاتی کیږی؟

: بچیه ! زما کار او بار دیر پراخ دی چی راتولول یی دیر وخت غواړی.

: نو زه به هره ورځ تاته درځم، ماښام به زه او امین د ښارا پرځای پر اسونو سپریږو او هلته به درځو.

: دیر ښه زه به هره ورځ ستا لخوا د یوی نوی شوخی انتظار کوم.

: بابا جانه! د اسماعیل سترګی ډنډ شوی ویی ویل :

ما وبخښه ! زه به بیا هیڅ شوخی نه کوم.

د شپی مهال شیخ عبدالرحمن چی خوږوړی غوندی په خپله بستره غځیدلی ؤ په کوته کی د چا د پښو غږ واورید ویی ویل: څوك یی؟

اسماعیل په ویریدلی لهجه ورته وویل : بابا جانه زه یم.

: په دی ناوخته دلته څه کوی؟

: باباجانه ... زه!

: هو ووایه!

: بابا جانه! وبخښه ستا سره د شوخی نه کولو له وعدی نه مخکی ما یوه شوخی بله هم کړی وه.

: زما په بوټونو کی به دی بیا د خرما زړی غورځولی وی!

ښه ورځه زه به یی سهار تری لری کرم.

: نه بابا جانه زه یی پخپله تری لری کوم.

د شیخ تر چپرکټ لاندی د لږ لاس تپولونه وروسته اسماعیل وویل : بابا جانه که اجازه وی شمه راوړم، ما ټول بوټونه ونه موندل.

شیخ وویل : داسی ښکاری چی ته خپل اطاعت ثابتوی، ورشه ډیوه راوړه!

اسماعیل بلی کوتی ته ولاړ او چی لږ ځنډ وروسته بیرته هلته ورغی امین هم ورسره ؤ، اسماعیل شمه امین ته ورکړه او ده ټول بوټونه راغونډ کړل او له ځانه سره یی واخستل. شیخ په اندیښنه تری وپوښتل : اوس دا ټول پایزار بهر ته د څه لپاره وړی؟

اسماعیل په اندیښنه ځواب ورکړ : بابا جانه د مینځلو لپاره!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: د مینځلو لپاره!؟

: هوکی بابا جانه خبره داسی ده چی نن ما د زړو پرځای لمدی خرماوی پکی اچولی وی.

: ودریږه ناپوهه او شیخ پر خپل ځای کیناست.

اسماعیل او امین په بیړه له کوټی ووتل.

* * * * *

(٤)

له ویده کیدو نه وړاندی ثریا طاهر ته وویل :

تر اوسه دی د زوی د نوم پوښتنه نه ده کړی؟

طاهر ځواب ورکړ : ما له ډیلی نه د رخصتیدو په وخت کی یو نوم درته یاد کړی ؤ، تا خو به د عبدالعزیز نه پرته بل نوم نه وی وړاندی ایښی؟

: نه ما همدغه نوم پری ایښی.

طاهر سور اسویلی وکیښی ویی ویل : هغه زما ډیر ښه دوست ؤ.

: تا یوه وعده پوره نه کړه.

طاهر وپوښتل : کومه؟

ثریا د خپل لاس ګوته وروښودله ویی ویل :

تا وعده کړی وه چی که بغداد ته ولاړی ... نو؟

: ثریا ! دا کیسه مه راسپړه.

: زه له ماښام راسی تا ډیر پریشانه ګورم ، ستا په ځیره کی هغه پخوانی تازګی نشته، ووایه څه شوی دی؟

: ثریا دا به غوره وه چی نن دی دا کیسه نه وای سپړلی.

: ما وښښه، که هغه زما په سبب ستا نه خفه شوی وی، نو زه به پخپله بغداد ته ورشم او پخلا به یی کړم.

طاهر په دردناکه لهجه وویل : د هغی پخلا کول اوس د چا په وس کی نه دی، هغه له مانه ډیره لری تللی.

: څه، د هغی له بل چا سره واده...!

: نه، نه ثریا، هغه په دی دنیا کی نشته.

: اف، ومی بخښه!

طاهر جګ شو ویی ویل : زه لږ بهر چکر وهم، او بیا بهر ته ووت د سپوږمی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنا د کجورو د ونو له پانونه تیریدله او ځمکی ته رسیدله طاهر د یوی نسکوری ونی په تنه کښیناست، د سپوږمۍ په رنا او د ستوریو په سیوری کی د صفیی سره د تیرو لیدو کتو په چورتونو کی ډوب شو. د سپوږمۍ د موسکا او د ستوریو د ستر ګګونو او خنداګانو سره سره چاپیریال ورته غمجن ښکاریده. هغه تر ډیره وخته ناست ؤ تر دی چی د چا د پښو غږ یی واورید شاته یی وکتل او له ځایه جګ شو ویی ویل : ثریا!

ثریا په شرمناکه لهجه وویل : زه افسوس کوم چی ته می خفه کړی، ثریا ور وړاندی شوه، بی اختیاره یی لاس وغزول او هغه په غیږ کی ځان وروغورځاوه او په سلګیو شو.

: ماته ووایه په هغی څه وشول؟ کاشکی ما د خپل ژوند په بیه هغه بیرته راوستلای شوای. زه هر څه زغملی شم خو ستا په څیره یوه ذره د خفګان اغیزه نشم زغملی، طاهر د ثریا سره بیرته د همغی خرما پر تنه کښیناست او ویی ویل:

په تا کی هغه تولی ښیګنی شته چی یو انسان یی هیله کولی شی، داسی ونه ګنی چی د ژوند کومی پیښی به زه له تانه بی پروا کړی یم، خو د صفیی مرګ داسی پیښه نه ده چی زه یی زر هیره کړای شم، زما باور دی چی ستا موسکا زما د هر تپ د تکور لپاره د ملهم کار ورکوی، خو د صفیی له مرګه وروسته زیاتره زماپه زړه کی دا راګرځی چی ښایی زماپه دی دنیا په خوشحالی کی هیڅ حق نشته د یوی داسی موسکا یاد ونه به چی د اوښکو او آهونو په زرګونو توپانونه پکی غلی وو ما د تل لپاره ناکراره کړی.

ثریا وویل : زه د هغی د کیسی اوریدو هیله لرم.

ښایی ستا د زړه بوج پری سپك شی، زه د خوښی په موسکاګانو کی نه دغم په اوښکو کی درسره شریکه یم.

نو واوره!

طاهر د صفیی د ژوند د کیسی وروستی پانی اړولی او د ثریا له سترګو اوښکی روانی وی.

کله چی طاهر کیسه پای ته رسوله ثریا وویل: کله چی ته له دی دندی نه راستون شوی او بغداد ته تللی زه هم درسره ځم، د هغی نیمګړی پاتی کار به زه سرته رسوم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

*****

(۵)

له بغداد او نورو اسلامی هیوادونو څخه د امیدواری پیغامونو په سلطان جلال الدین او د هغه په سپاهیانو کی نوی روح پیدا کړه، سلطان پر آذربایجان حمله وکړه او زیاتی سیمی یی له هغو سردارانو نه ونیولی چی د سلطان سره د غداری په انعام کی مغلو ورکړی وی، بیا یی گرجستان او تفلیس ته مخه کړه، په تفلیس کی یی فتحی ډیری حیرانوونکی وی خو ناڅاپه یی په کرمان کی د براق حاجب د بغاوت خبر واورید، سلطان له ځان سره دری زره تنه لښکر ملگری کړ او په ۱۷ ورځو کی له تفلیس نه کرمان ته ورسید، براق حاجب بخښنه وغوښته او پخپلو وعدو یی د وفا ژمنه وکړه. سلطان په بیرته راستنیدو کی څو ورځی په اصفهان کی پاتی شو، دلته یی د خلیفه ظاهر د وفات او د خلیفه مستنصر د خلافت خبر واورید، او له دی سره جوخت یی دا واوریدل چی په تفلیس کی پر مغلو ځان پلورو سردارانو بغاوت کړی دی، او د عیسویانو په مرسته پر آذربایجان حمله کول غواړی سلطان چی دا واوریدل په بیړه یی ځان آذربایجان ته ورساوه، او په څو اونیو کی د باغیانو له ځپلو وروسته بیرته تبریز ته راستون شو..

تبریز ته چی راورسید وایی وریدل چی د مغلو یو لوی لښکر ډوری په لور پرمخ راروان دی. له سلطان سره لښکر زیات نه ؤ خو هره ورځ یی دا اوریدل چی د طاهر د هځو په نتیجه کی د رضا کارانو نوی ډلی بغداد ته راځی او هلته راټولیږی. ځینی رضا کاران نیغ تبریز ته راتلل.

ری ته د مغلو له رارسیدلو وروسته سلطان ته جاسوسانو دا خبر راوړ چی هغوی د موصل په لوری پرمختگ کول غواړی، او د بغداد او نورو اسلامی هیوادونو سره د ده د لاری غوځولو هڅه کوی. سلطان دا خطر هم احساس کړ چی که مغل همدان ته ورسیږی نو دا امکان هم شته چی هغوی د کردستان او موصل ترمنځ د اوږدی دفاعی لیکی جوړولو پرځای نیغ پر بغداد حمله وکړی او د اسلامی نړی دغه وروستی مورچل هم ویجاړ شی.

ځکه خو سلطان د مغلو ټول پام ځانته دور اړولو لپاره اصفهان ته مخه کړه، او د څو ورځو تیاری نه وروسته یی د ری په لوری کوچ وکړ.

له ری سره نژدی یی له مغلو سره تکړ راغی، او د سرښندونکو یرغلونو په نتیجه کی یی مغل شاتگ ته مجبور کړل، خو د سلطان ورور غیاث الدین چی د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځ د کین لوری د دستی قوماندان ؤ د ډیری بدی غداری په نتیجه کی له میدان نه وتښتید، مغلو چی د جلال الدین یو اړخ تش ولید د لښکر په زړه یی یرغل وکړ او د هغه د پوځ پښی یی وریږدولی، سلطان شاته ولاړ او بیا یی د لښکر د تنظیم نه وروسته حمله وکړه، خو د مغلو د لښکر د شمیر زیاتوالی او د غیاث الدین د خیانت په وجه د سلطان لښکر مورال بایلود، هغوی د بری نه مایوس شول یوازی د پاچا د امر د عملی کولو په خاطر جنګیدل، د مغلو یو لښکر له شانه راوګرځید او غوښتل یی چی دوی کلابند کړی، سلطان چی له څلورو خواونه مایوس شو پوځ ته یی د شاته تګ امر وکړ او په یوه خوایی حمله وکړه او له میدان نه ووت.

تاتاریان تر اصفهان پوری په سلطان پسی ورغلل خو د ګوبی په دښته کی د چنګیز خان مرګ ټول شهزادګان او سرداران په بیرته راستنیدو مجبور کړل.

سلطان چی تبریز ته راستون شو د عبدالملك په منځګړیتوب یی خلیفه مستنصر ته لیك ولیکه چی اوس د پریکنده جګړی وخت رارسیدلی دی. تاسو تیار شی د البرز له غرونو تر ارمنیا پوری د تاتاریانو تر بیرته راتلو پوری د دوی د عیسوی حلیفانو د غوږ تاوولو لپاره زما د ګوتو په شمیر لښکر بس دی، له دی عملیاتو وروسته که ماته بغداد ته د راتلو اجازه راکړی نو زه به تر آمو د مغلو د بیا راپوری وتلو تر وخته یو مزبوت او روزل شوی پوځ جلا کړم، او موږ به له مغلو سره یو پریکنده جنګ کوو، که د مسلمانانو خلیفه ته په څه سبب زما تګ بغداد ته منظور نه وی نو زه به د بغداد له حدودو نه بهر په کوم ښار کی هستوګنه غوره کړم او د بغداد د پوځ د راتلو انتظار به کوم.

د طاهر بن یوسف له لوری سلطان ته دا احوال ورغلی ؤ چی هغه د مصر او مراکش له پاچاهانو نه د مرستی وعدی اخستی او بیرته حلب ته راستون شوی دی، د شام له اولس او امیرانو څخه هم د مرستی هیله لری.

سلطان هغه ته دا پیغام واستاوه چی ته له شام نه سمدستی هندوستان ته روان شه، سلطان التمش ته یی وعدی ور په یاد کړه.

کوم وخت چی موږ له سنبالیدو وروسته له مغلو سره د پریکنده جګړی پریکړه وکړو سلطان ته به احوال ورکړو. په دی حال کی که سلطان التمش د افغانستان له لاری پر مغلو برید وکړی نو د هغوی پام به د دوو محاذونو ته واوړی او دا به زموږ لپاره ستر ملاتړ وی. غوره به دا وی چی تر څو داسی وخت نه وی را رسیدلی ته په هندوستان کی پاتی شه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څو جګړو نه وروسته سلطان جلال الدین د آذربایجان په شمال او لویدیځ کی پراخی سیمی ونیولی، د هغه سپاهیان د دغه نه شلیدونکو جګړو نه ستومانه شول، خو سلطان به په وار وار د مصر، شام، عربو، او هندوستان د پوځونو د رارسیدلو او د مغلو پرخلاف د پریکنده جګړی وعدی تکرارولی او د دوی حوصلی یی اوچتولی پر دی سربیره له ځینو ځایونو د رضا کارانو ډلګی هم ور رسیدلی.

د بغداد په اړه د عبدالملك خبرونه ډیر امیدوارووونکی وو خو له اندیښنو خالی هم نه وو، خلیفه مستنصر د پوځ د سنبالولو او تنظیم په باره کی د طاهر لارښوونی عملی کولې د ترکی رضاکارانو نه پرته هغه بغداد ته د راتلونکو رضاکارو لپاره هم خپلی دروازی پرانستی وی، د دجلی د سیند پر غاړه یی یو ډیر لوی د پوځی زده کړی مرکز جوړ کړی ؤ چی عبدالملك یی د دی مرکز ناظم تاکلی ؤ، دا ټولی خبری امیدوارووونکی وی. خو عبدالملك د سلطان په نامه په ځینو لیکونو کی څه اندیښنی هم ښکاره کړی وی، د هغه تر ټولو ستر شکایت دا ؤ چی خلیفه په پرده کی ټولو ته ډاډ ورکوی خو د بغداد د اولس په مخ کی د سلطان له ملاتړ نه ویریږی، د مغلو سفیر چی د ده د پلار د واکمنی په وخت کی له بغداد نه شړل شوی ؤ اوس بیرته راغلی دی او له خلیفه سره یی اوږده اوږده ملاقاتونه کیږی. خو بیا هم چی خلیفه ته د هغه په باب شکایت وشی نو هغه ځواب ورکوی چی موږ د تیاری لپاره فرصت ته ضرورت لرو او د دی هدف لپاره مغل باید په بدګومانی کی پاتی شی.

عبدالملك سلطان جلال الدین ته دا هم ولیکل چی د مغلو سفیر د لوټ شوی مال یوه زیاته برخه بغداد ته راوړی ده او په هغی د پاچاهی د لویو امیرانو علماو او د رایی د خاوندانو د ضمیرونو اخستلو هڅی کوی. ځینی خلك برالا د مغلو پرخلاف د جهاد د اعلان مخالفت کوی.

خو بیا هم جلال الدین د هغو کسانو له جملی څخه نه ؤ چی مایوس شی، هغه چی د شمال لویدیځ له عملیاتو وزګار شو تبریز ته ورسید، په تبریز کی له څو شپو پاتی کیدو وروسته خبر ورغی چی د چنګیز د زوی تولای خان په مشری د مغلو پوځ له آمو راواوښت او د اسلامی نړی د غوره شویو غدارانو هیأت یی د بغداد خلیفه ته ور استولی دی.

سلطان د عبدالملك په نامه یو اوږد لیك واستاوه او پخپله د همدان په لور وخوځید.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستی ماته

عبدالملك له خلیفه نه د ملاقات غوښتنه وکړه چی هغه وروغوښت، خلیفه د عبدالملك د غوښتنی سره سم له هغه سره دوه په دوه یوازی کیناست.

خلیفه مستنصر چی د جلال الدین لیك ولوست له لږ فکر کولو وروسته یی وویل:

تولای خان له پنځه لکه تنه لښکر سره له سیحون دریابه پوری وتلی دی، که ارتیا ولری نو پنځه لکه تنه نور هم ور بللی شی ستا په گومان به اوس له جلال الدین سره څومره سرتیری وی؟

عبدالملك ځواب ورکړ : دا سهی ده چی له سلطان جلال الدین سره اوس ډیر لږ پوځ دی. خو ته پوهیږی چی هغه په افغانستان کی له شپیته زره پوځ سره د «شیگی توتو» دوه لکه تنه پوځ ته یوه عبرتناکه ماته ورکړه، او همدا اوس یی له ډیر لږ پوځ سره د کرمان، اذربائیجان، قبچاق، تفلیس او آرمنیا پراخه سیمی نیولی دی.

خلیفه وویل : اوس زمونږ تول پوځ دری لکه تنه دی، فرض کړه که دا د بغداد نه بهر چیرته ماته وخوری نو د بغداد برخلیك به څه وږ وی؟

عبدالملك وویل : که تاسو نن د جهاد اعلان وکړی، نو زه پوره داډ درکوم چی له همدغه ښار نه دری لکه تنه رضا کار سرتیری په یوه اونی کی درته تیاروم. او تاسو به بیا وگوری چی له مراکش نه نیولی تر عراقه به ډیر زیات شمیر رضا کاران ستاسو تر بیرغ لاندی راتول شی. هغوی ستا له لوری د جهاد د اعلان انتظار کوی، مغلو تر اوسه پوری پر مونږ بری نه دی موندلی بلکې زمونږ له گډودی نه یی گټه پورته کړی، زما باور دی په کومه ورځ چی د بغداد پوځونه همدان ته ورسیږی، په همغه ورځ به د هندوستان نه د سلطان التمش لښکر تر بلخه پوری رسیدلی وی. او د ترکستان، خراسان او ایران په مړو ایرو کی به د کسات سکروتی راوځلیږی، او زما پردی هم باور دی چی مغل دغه حالت وویني

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د آمو له دریا به د راپوری وتلو جرئت به ونه کړی.

خلیفه وویل : عبدالملکه ! زه ویریږم که ماته وخورو د بغداد انجام به څه وی؟

: ماته او بری د خدای «ج» په لاس دی، خو تاریخ گواه دی چی له ویری تر اوسه پوری چا گټه نه ده اخیستی، تاسو فکر وکړی چی جلال الدین اوس د اسلام د دفاع وروستی مورچل راتینګ کړی دی، که دغه مورچل مات شو نو د بغداد په لور به د مغلو د سیلاب مخه څوك ونه نیولی شی، زه تاته د دی پوښتنې لپاره راغلی یم چی له بغداده به زمونږ پوځونه څه وخت روانیږی؟

وخت ډیر تنګ دی او دا ضروری ده چی له جګړې نه دمخه زمونږ پوځونه سلطان ته ور ورسیږی چې هغه یی وروزلای شی.

: مګر مونږ په دی هم ویریږو چی که نورو اسلامی هیوادونو زمونږ مرسته ونه کړه نو مغل به پر مونږ یرغل راوړی.

: تاسو خپله ذمه واری پوره کړی او باور وکړی چی نورو ته به د وروسته پاتی کیدو فرصت نه وی.

: تا ته معلومه ده چی د بغداد زیاتره علماء د مغلو پرخلاف د جهاد له اعلان سره مخالف دی؟

: زیاتره نه یوازی څو تنه او زه هغوی علما نه ګڼم، هغوی د اولس غداران دی، چی د خپل ضمیر قیمت یی د مغلو له سفارت نه ترلاسه کړی دی.

: مګر د خلکو یوه لویه ډله د دوی تر اغیزې لاندی ده.

: ستا د جهاد د اعلان نه وروسته به د هغوی اغیزه لری شی.

: تاته معلومه ده چی له ترکستان نه هم د څو علماؤ او سردارانو پلاوی ماته راغلی دی؟

: ماته معلومه ده چی دا یوازی هغه خلك دی چی د قوم د ځوانانو د وینو او د لونو د آبرو قیمت یی ترلاسه کړی، هغه اولس چی د چا په توری نه تسلیمیدلو، هغه دې غدارانو مات کړی.

مګر امیر المؤمنینه! دا د بحث وخت نه دی، ایا مونږ ددې لپاره دایمی ذلت ومنو چی څو تنه غداران مو په منځ کی پیدا شوی دی؟

او ستا څه ګومان دی چی کومو خلکو له سلطان جلال الدین سره غداری کړی ده هغه به د وخت په راتلو ستاسی سره داسی ونه کړی؟ هغو خلکو تاته د مغلو د دوستی پیغام راوړی دی، که تاسو داسې ګومان کوی چی مغل د مسلمانانو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوستان دی نو دوی هم د ځان خواخوږی وګنې او که تاسو داسی ګنې چی اوس تر مغلو زمونږ بل ستر غلیم نشته نو بیا خو دا هم باید ومنی چی دوی زمونږ بدترین خاینان دی.

: عبدالملکه ! ته تل مونږ له ځانه سره په همنظره کولو مجبوروی، خو دا مسئله ډیره نازکه ده، له مغلو سره د جګړی د ذمه واری له اخستلو نه وړاندی باید مونږ ډیر فکر وکړو.

عبدالملك وارخطا شو خلیفه ته یی وکتل ویی ویل:

: نو ایا ستا اراده بدله شوی ده؟ زمونږ دغه تیاری هسی د تظاهر لپاره ؤ؟

تاته معلومه ده چی سلطان د بغداد په تمه هندوستان پریښود، ستا د محترم پلار د امیدوارووڼکو پیغامونو په سبب هغه دمایوسیو په تیارو کی د امید ډیوی بلی کړی، او له هغه وروسته یی تر ننه یوازی په همدی امید همت ونه غورځاوه چی د مغلو سره په جګړه کی به تاسو دی یو وفادار سرتیری ګنې او مرسته به یی کوی. اوس هغه همدان ته نژدی اړولی او د بغداد د پوځ په انتظار دی تر اوسه پوری لږ شمیر پوځ په دی تمه ملاتړ ورسره کوی چی ستا په مرسته به دوی له مغلو نه کسات واخستلای شی، په یاد ولره چی که له بغداد نه مرسته ور ونه رسیږی هم هغوی به خپل مسئولیت سرته رسوی او له تانه د مایوسیدو نه وروسته هم د دی امکان شته چی د هغه ځینی ملګری تری ولاړ شی، خو د مغلو د بری نه وروسته به یو دیانتدار مؤرخ هم ددی لیکلو جرئت ونه کړی چی سلطان جلال الدین خوارزم شاه ته مغلو ماته ورکړه، بلکی دوی به دا لیکی چی کله هغه د وروستی ځل لپاره له مغلو سره جنګیده نو د هغه ورور توره تری اخستی وه، اوس ته پخپله پام وکړه چی د نړیوالو به ستا په باب نظر او رایه څه ور وی؟

خلیفه وویل : ستا مطلب دا دی چی نړیه‌به مونږ د اسلام دښمنان ګنې؟

: نه، نه زما باور نه راځی چی تا به د بی طرفه پاتی کیدو پریکړه کړی وی، د خدای «ج» په خاطر ووایه چی زه ستا په باب د بدګومانیِ مجرم یم، ماته سزا راکړی!

خلیفه جګ شو ویی ویل راځه!

: چیرته د پوځ قرارګاه ته!

: نه بلی کوتی ته، هلته ډیر خلك راټول دی، ښایی هغوی تاته زمونږ دً مجبوری سبب دروښیی، خلیفه دا وویل او لاسونه یی وپرقول، یو غلام کوتیِ ته ورننوت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلیفه ورته وویل :
عبدالملك زموږ دربار ته ورسوی.

*****

(۲)

عبدالملك دربار ته ننوت، هلته د خلافت وتلی مشران او سرداران راټول وو پر هغوی سربیره د بنار هغه علماء هم وو چې د خوارزم شاه پرخلاف د مغلو په ملاتړ یې فتوی ورکړې وه او د زیات شهرت خاوندان شوی وو.

د خلیفه د تخت نه لاندی شهزاده معتصم ناست ؤ، او له هغه سره د سردارانو او علماؤ هغه ډله ناسته وه چې له ترکستان نه یې د مغلو د دوستی پیغام خلیفه ته راوړی ؤ، او د دوی په منځ کې چې عبدالملك یوه اشنا څیره ولیده وینی یې په رګونو کې وچې شوی دا مهلب بن داود ؤ.

عبدالملك تردی وړاندی بغداد ته د هغه په راتګ خبر نه ؤ هغه په یوه تشه کرسۍ کښینیناست.

نقیب د تخت له شانه د خلیفه د راتګ اعلان وکړ او ناست کسان ټول پاڅیدل.

خلیفه چې پر تخت کښینیناست عبدالملك ته یې وکتل او ویې فرمایل :

عبدالملکه موږ ستا خبری اوریدلی، ته دا وایی چې د مغلو پرخلاف د جهاد اعلان زموږ فریضه ده، خو دا عزتمندان چې د ترکستان د علماوو پلاوی هم پکی ناست دی، ستا ددی رایی مخالف دی، زه د دی ټولو د وړاندی تاته د خپلی رایی د بنکارولو اجازه درکوم، که تا دوی ته قناعت ورکړای شو زه سبا ته پوځ ته د روانیدو امر ورکوم که نه نو زما هیله ده چې ته د دوی دلایل په سړه سینه واوری.

عبدالملك پردی باوری شوی ؤ چې دا هر څه د ده د خولی بندولو لپاره کیږی. خو بیا هم دی اوچت شو او یوه اوږده او له جوشه ډکه وینا یې وکړه او کښینیناست.

د بغداد علماؤ ته معلومه وه چې عبدالملك او د هغه ملګری د عوامو په پارولو پوهیږی، ځکه له دوی نه یوه هم د دی جرئت ونه کړ چې جګ شی او ځواب یې ووایی، خلیفه د هیأت غړو ته وکتل خو هغوی هم د عبدالملك د خبرونه وروسته پریشانه بنکاریدل.

مهلب له خلیفه نه اجازه وغوښته او جګ شو، هغه له مچ نه د کوچ جوړولو په چل پوهیده، د ماته خوړلی ذهنیت درلودونکو خلکو د مایوسی تر وروستی بریده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library.

رسولو کار ورته آسانه ژ، ځکه خو هغه مغل په سلګونو میله لری نه بلکی د بغداد په کوڅو او بازارونو کی لیدل، د مهلب له خبرو وروسته د ترکستان او بغداد څو تنو ملایانو خبری وکړی او د هغه خبری یی تائید کړی. په پای کی د خلافت امیرانو او سردارانو خپله خپله رایه وړاندی کړه، لږ او ډیر د ټولو نظر دا و چی د تاتاریانو پرخلاف جګړه ځان وژنه ده.

د ویناګانو بل پراو د جلال الدین پر شخصیت او د هغه د عقایدو پر اعتراضاتو پیل شو، په پای کی خلیفه له عبدالملك نه وپوښتل : څنګه عبدالملکه ستا تسلی وشوه که نه؟ چی د قام د مشرانو دا رایه ده نو موږ د هغه مخالفت کله کولی شو؟

عبدالملك ودریده، له غوسی نه ریږدیده، د هغه د خبرو هر لفظ د اوریدونکو پر زړونو نښتر ژ، هغه ته دا هم معلومه وه چی چیرته ولاړ دی، خلیفه حیران ژ چی ما ده ته د خبرو اجازه ولی ورکړه، عبدالملك وویل :

زما ډاډ حاصل شوی دی، ماته هغه کمرونه بنکاری چی د اولس بیړی به ورسره تکر او ټوټه ټوټه شی. خو تاسو یا په بدګومانی کی لویدلی یاست او یا ځان ته په دروغو تسلی ورکوی، دا خلك د اولس مشران او لارښوونکی نه دی، او د مغلو په ملاتړ چی دوی نن دلته غږونه اوچت کړل دا د دوی د زړونو څخه نه د خیټونه را اوچت غږونه دی.

د ترکستان دغه اته، لس تنه غداران د قام عالمان او سرداران بلل د هغو زرګونو علماو او امیرانو سپکاوی دی چی د مغلو پر غلامۍ یی شهادت غوره وبالله، او زموږ د ښار دغه مشران چی نن یی لویی لویی ګرانبیه چپنی اغوستی دی او دلته راغلی دی هغه کسان دی چی اولس ته له شرمه خپل مخ نشی ورښکارولی، له دوی نه وپوښتی ایا په دوی کی له کوم یوه سره دا جرئت شته چی د بغداد د کوم جومات په منبر اوچت شی؟ ماته اجازه راکړی چی په یوه ورځ د بغداد په زرګونو علماء دلته راټول کړم چی هر یو به یی د مغلو پرخلاف د جهاد ملاتړ وکړی، د کام لارښوونکی دوی نه هغوی دی، چی د اولس لپاره د ژوند او مرګ لاره پیژنی.

د مسلمانانو خلیفه!

زه پوهیږم چی خبری می بی ګټی دی، ماته معلومه ده چی دی سوداګرو مسلمانان په مغلو پلورلی دی، دغه خلك چی نن تاته دا ډاډ درکوی چی مغل به د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغداد له خلکو سره خپل ترون نه ماتوی، زه دوی ته دا داد ورکوم چی کله د مغلو توری له تیکو راووزی نو هغوی به بیا د سره او سپین د وینی توپیر ته ونه گوری. دوی په دی دفاعی جگړه کی له موږ سره ملاتړ ته چمتو نه دی خو په بربادي کی به دوی له موږ سره خامخا د وندی خاوندان وی.

زه ښایی بغداد پریږدم، خو چی ترڅو دلته یم دغه تش په نامه علماو ته اخطار ورکوم چی زما پرخلاف فتوی ورنکړی او د خلافت د دی منصبدارانو نه هم غواړم چی زما لاری ته ازغی مه راشیندی، زه یی تر پښو لاندی کولای شم، په بغداد کی د دی مشرانو پر هڅو برسیره تر اوسه داسی ځوانان شته چی په کوتك او لاتی یی ویرول ممکن نه دی، زه نه غواړم چی په بغداد کی داسی حالات رامخی ته شی چی مغل سلطان جلال الدین پریږدی او دلته راتلل لومړی ضروری وبولی. زه به د سرکاری پوځونو د راسره بیولو هڅه نه کوم، خو هغه رضا کاران چی له نورو ښارونو نه د سلطان د ملاتړ په نامه-راغلی د هغوی په بیولو کی حق په جانب یم. امکان لری چی هغوی د بغداد د خلافت او مغلو ترمنځ د سولی د خبر په اوریدو مایوس شی او خپلو کورونو ته ستانه شی، په هر حال زه به هڅه وکړم چی هغوی د کوم هدف لپاره راغلی هغه پوره کړی.

زه نور درنه ځم، خو له تلو وړاندی یوی خبری ته د مسلمانانو د خلیفه پام را اړول غواړم. هغه دا چی مهلب بن داود د وحید الدین او پخوانی صدر اعظم قاتل دی، زما دا ویل بی ګټی دی چی دی ونیسی، خو د خلیفه له محل نه چی ځوك ووزی پر هغه د شانه پر خنجر برید یو بی شرمانه عمل دی که د خلیفه په اجازه وی او که نه، او زه تاسو ته داد درکوم چی زه تر څه حده له پاملرنی سره عادت یم، له محل نه بهر اوس لږ تر لږه لس زره تنه خلك دی چی تر ما ښامه زما د نه ورتګ په صورت کی به دوی په مانۍ کی زما د لتولو هڅه کوی... زه نور ځم.

چی عبدالملك له مانۍ راووت له سترګو یی اوښکی بهیدلی، هغه ویل : په دی دبرو کی ژوند راپیدا کول زما د وس نه پورته ده، بربادی د بغداد برخه ده.

له دروازی نه بهر د خلکو ګنه ګونه وه، هغوی د ده نه د یوه فهم اعلان اوریدو ته ناکرار وو، هغوی چی دی ولید د کرار ورتګ پرځای ور وزغلیدل او چی د ده په سترګو کی یی اوښکی ولیدی چایی په لاره کی د دریدو جرئت ونه کړ، تر ماښامه دا خبره په ښار کی مشهوره شوی وه چی د خلیفه او مغلو ترمنځ د دوستی ترون شوی دی، د رضاکارانو ډلګیو خپلو خپلو کورونوته د تلو لاری چاری

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنجولی.

د شپی مهال عبدالملك د سلطان جلال الدین او طاهر بن یوسف په نوم اوږد لیك ولیکه او د کورنه بهر د بغداد ډیرو ځلمیانو او د پوځی ښوونځی زده کوونکو پهره کوله.

*****

(۳)

سلطان جلال الدین په یوه دره کی اړولی وو او د بغداد د پوځونو د راتلو انتظار یی کاوه، څومره چی د مغلو لښکر ورنژدی کیده هومره د سلطان ناکراری زیاتیدله، یوه ورځ د لمر راختو نه لږ وروسته د پخوا په شان سلطان په یوه غونډی وخوت او د بغداد لوری ته یی هغی لاری ته کتل چی په خور کی تیره شوی وه، له ده سره څو تنه نور افسران هم ناست وو، هغه لری د یوه لوړ غره په لمن کی پنځلس، شل تنه سپاره ولیدل، له لږ غور نه وروسته سلطان له خوښیو نه جګ شو او په زوره یی وویل : هغوی راغلل، هغوی راغلل، هغه دی هغوی له بغداده د دری لکه تنه پوځ د راتلو خبر راوړی، وګوره تا ویل چی د عبدالملك د څواب تر راتلو پوری څو نوری ورځی هم لګیږی، خو ما درته ویل چی که په نیمه شپه کی زما استازی بغداد ته ورسیږی نو عبدالملك به همغه مهال خلیفه له خوبه ویښوی او زما د لیك څواب به تری اخلی، ته پر خلیفه بدګمانه وی، خو ما درته ویل چی د هغه په چوپتیا کی ډیر مصلحتونه دی، اوس به موږ تولای خان ته هغه درس ورکوو چی په افغانستان کی مو «شیګی توتو» ته ورکړی ؤ، د خلیفه استازی راغی، د لښکر تولو سپاهیانو ته حکم وکړی چی له خیمو راووزی او هر کلی یی وکړی.

لږ ځنډ وروسته د سلطان د پوځ لږ شمیر کتار لاس په نامه ودریدل، سپاره چی نژدی ورغلل له اسونو پلی شول، سلطان له خپلو څو سردارانو سره ور وړاندی شو ښه راغلاست یی ورته وویل او ویی ویل : تاسو ډیر ژر راورسیدی تول زما له طرفه د انعام حقدار یاست.

یو تن را وړاندی شو د عبدالملك لیك یی سلطان ته وړاندی کړ، سلطان وویل د دی لیك له لوستلو وړاندی غواړم وپوښتم چی د بغداد پوځونه به څه وخت له هغه ځایه را خوځیږی؟

هغوی پریشانه یو بل ته وکتل. سلطان لیك پرانست ویی ویل : ښایی تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردی خبر نه یاست، عبدالملك ډیر احتیاط کار سړی دی.

د لیك د لوستلو په وخت کی د سلطان رنگ تك زیړ شو، د هغه حالت داسی چاته ورته ؤ چی ناڅاپه یی بریښنا ونیسیء هغه خپلو ملګرو ته وکتل او لیك یی له ریږدیدونکو لاسونو ولوید.

ویی موسکل خو دغه موسکا یی تر اوښکو زیاته دردناکه وه.

په ژړه غونی غږ یی وویل:

ماته معلومه وه، خو زیاته مأیوسی انسان په ځان تیر ایستلو عادت کوی، ما له ریګونو مانیء جوړولی.

مبارکه! د عبدالملك لیك په لوړ غږ ټولو ته واوروه، او تر هغه وروسته چی څوك ځی زما له لوری ورته اجازه ده، زه د ځواك پرخلاف جنګیدلی شم، له تقدیر نه می ګیله نشته، پر موږ د پروردګار دا معمولی احسان نه ؤ، چی لږ شمیر انسانانو ته یی کلونه کلونه د مغلو د سیلاب د درولو او تم کولو همت راکړ، خو چی مسلمانان راویښ نه شول او تر ټولنیز ژوند یی ځانګړی او انفرادی مرګ غوره وباله، نو له تقدیر نه څه ګیله؟ تقدیر د چا لپاره خپل قانون نه بدلوی.

سلطان استازو ته په خطاب کی وویل : تاسو ورځی!

عبدالملك ماته لیکلی دی چی ترڅو ورځو پوری به له لږ شمیر سرتیرو سره موږ ته ځان راورسوی، هغه ته ووایی چی نور یی ماته راتګ ښی ګټی دی.

سلطان خپلی خیمی ته ننوت، تر ماښامه د هغه څو سرښندویو ورسره د لیدو هڅه وکړه خو د خیمی په مخه کی ولاړ پهره دار به ځواب ورکړ چی هغه ویده دی. او امر یی کړی چی زه څوك راونه غواړم څوك راته رانشی.

څو ورځی وروسته سلطان اذربایجان ته مخه کړه.

*****

(٤)

سلطان جلال الدین خوارزم شاه د تبریز په شمال لویدیز کی په یوه غرنی کلا کی اوسیده، د مغلو لښکر دده په تعقیب تر تهران پوری رسیدلی ؤ، خو له ختیځ او جنوب لوری د زیاتو واورو اوریدو په سبب د مغلو د سملستی پرمختګ خطر نه ؤ، د سلطان ملګرو یوه یوه د هغه ملګری پریښوده او اوس نژدی یو نیم سل تنه هغه کسان ورسره پاتی وو چی په دنیا کی یی د هستوګنی ځای نه درلود او له ده سره یی په ژوند او مرګ د ملاتړ پریکړه کړی وه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان به زیاتره وخت یوازی تیراوه، د دنیا سره یی مینه او دلچسپی ختمه شوی وه، د تیمور ملك او نورو سربښندویانو د شهادت نه وروسته هغه ته د تسلی او حوصلی ورکولو هم څوك نه وو، هغه یوازی د ساه کاړلو لپاره ژوندی ؤ، له بغداد نه د مایوسوونکی خبر د اوریدو نه وروسته هغه د ژوند د حقایقو نه د ځان لری ساتلو په خاطر شراب څښل پیل کړی وو، د هوش هره شیبه ورته له زغم نه وتلې وه ځکه یی هڅه کوله چی بی هوښه او نشه وی. او چی کله به د خومار په حالت کی هم د تورو د شرنګار تصور هغه ناکراره کړ نو د نڅا او سرود د مجلس تودولو امر به یی وکړ.

خو هغه به سکون او قرار نه درلود او ملګرو ته به یی ویل چی «شراب او رباب د بغداد امیران د ژوند له ترخو حقیقتونو بیګانه کوی خو ماته هیڅ آرام نه شی راکولی»

کله کله به هغه خپلو ملګرو ته ویل : زه ډیر لوړ څلې یم، چی تاداوونه یی ښوریدلی دی، تاسو له دی ځایه ولاړشی، زه ویریږم چی که راغورځیدم تاسو به لاندی شی، کله به هغه د کلا دروازه خلاصه کړه او بهر ته به ووت او په راوروکی به تر ډیره پوری بهر ګرځیده.

کله کله به یی شراب چی شوندو ته نژدی کړل بیرته به یی جام لری وغورځاوه صراحی به یی ماته کړه، کله به یی توره وکښله، کوم ملګری به یی راوغوښت او ورته وبه یی ویل : وګوره دا زما خوله څیر وی، نه، ښایی دغه بی روحه او سپنه هم زما په څیر خفه وی، ښایی دی ته هم زما په څیر دا ارتیا وی چی ځان هیر کړی، ورشه دا د شرابو په مټ کی ډوبه کړه!

یوه ورځ واوره اوریده، د کلا دننه د سلطان په مخکی د رقص او سرود محفل تود ؤ.

ساقی د شرابو پیالی ګرځولی، چی ددروازی پهره دار راغی ورته ویی ویل : عبدالملك له بغداده ستا د لیدو لپاره راغلی او ستاسو په خدمت کی د حاضریدو اجازه غواړی.

سلطان په ترخه لهجه وویل : عبدالملك ! هغه دلته څه وړ راورسید؟ د هغه اوس له ما سره څه دی! نور څوك ورسره دی؟

: پنځه تنه نور ورسره دی!

: تا ولی ورته وویل چی موږ دلته یو؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: ماورته وویل چی هغه دلته نشته، خو هغه له هغه وړاندی کلی نه یو لارښود ورسره راوستی دی، هغه هم وایی چی په آذربایجان کی له زیاتی سرګردانی وروسته موږ ستاسو پته موندلی ده.

یوه سړی وویل : معظم پاچا! امکان لری هغه له بغداد نه کوم بنه خبر راوړی وی.

سلطان په چیغو وویل : زما د وړاندی د بغداد نوم مه اخلی.

را وبی غواړه هغه!

عبدالملك چی کوټی ته ورننوت او د محفل وضعه یی ولیده هك پك شو.

سلطان د شرابو پیاله اوچته کړه او ویی ویل :

راځه عبدالملکه ! ولی دی پښه ونیوه، راځه زما ترڅنګ کښینه! او بیا یی پر پیاله شوندی کیښودلی.

عبدالملك وړاندی ورغی د سلطان ترڅنګ کښیناست راګ له سره پیل شو، سلطان له صراحی نه بیا جام ډك کړ، او د خو غوړیه څښلو نه وروسته یی په مخ کی کیښود ویی ویل : عبدالملکه!زما ګومان ځپی دغه ځای د ژوند د هنګامو نه ډیر لری دی، زما دا تمه وه چی تر دی ځایه به می هیڅوك هم پل راوانخلی، خو اوس باید دا ځای هم پریږدم، تا د بغداد پوځونه چیرته پریښودل؟

ته چی دلته راغلی هغه خبری دی بیا رایادی کړی چی ما یی د هیرولو هڅه کوله.

سلطان بیا جام پورته کړ خو عبدالملك یی له لاسه واخست لری یی وغورځاوه خپل خنجر یی راویوست سلطان ته یی ونیو ویی ویل :

معظم تولواکه ! لکه چی ګستاخی می وکړه، واخله ما پخپل لاس ووژنه، زه دا نتداری نشم لیدای، زما سترګی وباسه.

راګ بند شوی ؤ او په محفل چوپتیا خوره وه، سلطان په غیر معمولی ډاډ عبدالملك ته وکتل صراحی یی پورته کړه هغه ته یی ور وړاندی کړه ویی ویل :

واخله دا هم ماته کړه، ما پخپله دا خو ځلی مات کړی دی، دا شیان په ماتولو نه خلاصیږی، دا د خاوری ګوَدی دی چی په یو ځل ماتیدو بیرته پتری کیدای هم شی، که پتری نه شول نوی هم جوړیدای شی، دا د انسان زړه نه دی چی یو ځل مات شو نو بیا د تل لپاره له کاره لویږی.

عبدالملك پریشانه او اندیښمن شو، سلطان صراحی په دیوال وویشتله.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عبدالملك سترګې راډکې شوی ویی ویل :

معظم پاچا! ما په خپل ژوند کی یوازې یو سړی لیدلی ؤ چی مایوسی یی نه پیژندله خو نن...!

جلال الدین وویل : هغه انسان چی تا د جلال الدین په نامه پیژانده مړ شوی دی، اوس ته د هغه له مړی سره خبری کوی، هو ته دا ووایه چی دلته څه ډول راورسیدلی؟

: ما له بغداده د رضاکارانو یوه ډله راسره راوستی وه، او ...!

سلطان یی خبره ورغوځه کړه ویی ویل : څومره رضا کاران!

: له ما سره پنځه زره کسان را روان شول.

: تا غلطی کړی ما احوال درکړی ؤ چی دا کار مه کوه.

: ستا پیغام داسی مهال راورسید چی موږ له بغداده یو منزل وړاندی راغلی وو، ستا حکم یی چی واورید دری زره تنه بیرته وګرځیدل او...!

سلطان یی بیا خبره ورغوځه کړه ویی ویل : او پاتی دوه زره تنه به خامخا چیرته د مغلو په منګلولو کی راګیر شوی وی؟

عبدالملك په غمجنه لهجه ځواب ورکړ : هوکی د تبریز او همدان ترمنځ موږ د هغوی د څو ډلو له خوا راګیر شوو.

: څومره سرتیری ژوندی پاتی شول؟

د دوو سو تنو په شاوخوا کی، چی تبریز ته راورسیدو ستا درك مو ونه موند، ځکه خو له دی پنځو تنو پرته نور مایوس بیرته ستانه شول، او له هغو پنځو تنو سره زه له دوو میاشتو راسی ستا په لټون پسی په دی شاوخوا غرونو کی سرګردان وم او دا دی دلته راورسیدو.

جلال الدین وویل : تا دومره خلك بی ځایه ضایع کړل.

: زه خپله غلطی منم، زه باید په کردستان راتاو شوی وای، خو ایا ته دا نه منی چی پر ما ته ستا اعتراف به د هغو لکونو انسانانو وینی خوشی ولاړی شی چی د وروستی بری په امید یی ستا ملاتړ کاوه؟

سلطان ځواب ورکړ : نو ته دا غواړی چی زه تر څو ژوندی یم لږ لږ مسلمانان باید راټول کړم او د مرګ کومی ته یی ورټیل وهم! زه تر اوسه په دی امید جنګیدم چی اسلامی نړۍ به راویښه شی، ما هغوی ته د تیاری وخت ورکول غوښتل او ما خپل فرض پوره کړ، هغوی له مراکش نه تر هندوستان پوری ماته د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادینی پیغامونه را واستول خو نتیجه یی څه شوه؟

زه چی اوس بیا راپورته شم په کوم امید!؟

د چا په امید وجنگیږم! ته له دی قوم نه څه هیله لری چی امیران یی وطن پلوری دی؟! چی په علماؤ کی یی یوه داسی ډله پیدا شوی ده چی د منبر پر سر د مغلو د غلامی فتوی ورکوی، چی د سرتیرو د تورو او سپنه یی د دښمن د پیسو په حرارت ویلی شوی او چی خلیفه یی... ما د هغه یادول نه غوښتل.

: دا هر څه د خلیفه له لاسه وشول، خو د خلیفه د بی وفایی نه وروسته د خدای «ج» د رحمت دروازی ونه تړل شوی ته بیرته هندوستان ته ولاړ شه، که هندوستان نه وی د مصر او مراکش دروازی دی پرمخ خلاصی دی، مورږ به له مغلو نه د شمال د اورنیو غرونو بدل د افریقا په تودو دښتو کی واخلو، ښایی تر اوسه د خدای «ج» د رحمت د نازلیدو مهال نه وی راغلی خو مورږ به تر هغه وخته جنگیږو تر څو د خدای «ج» د رحمت سمندر په جوش رانه شی، فرض کړه چی له ترکستان نه د مغلو شړل ستا په برخه کی نشته، خو دا ستا په وس کی شته چی د سلطان او د لښکرو د مشر پر ځای د یوه سرتیری په حیث د یوه بل سلطان خدمت وکړی.

سلطان په ترخه لهجه وویل : ته ما ولی اندیښمن کوی؟ ما څو پاچاهانو ته پیغامونه استولی دی، د هغوی ځوابونه هم راغلی دی، هغوی حق په جانب دی. یوه ماته خوړلی پاچا ته پناه ورکول اسانه نه دی. او زما په لټه کی د مغلو پنځه لکه تنه شپه ورځ بوخت دی.

هغوی په خپل پوځ کی د یوه ماته خوړلی سرتیری په منلو سره پنځه لکه تنو مغلو ته ولی د یرغل بلنه ورکړی؟

زه یوازی یو سرتیری وم، او خپل فرض می ترسره کړی دی، زما سره توره وه او ترڅو چی تیره وه جنگیدلم، خو ته د یوه سرتیری سره سره عالم هم یی او ستا ذمه واری تر اوسه پوری نه ده پوره شوی، ته ورځه نور زما او ستا لاری بیلی دی.

عبدالملك وویل : مگر یوه لاره شته چی دواړو ته خلاصه ده.

: هغه کومه ده؟

: د عزت مرگ! مورږ له دی لاری نه هیڅوك هم نشی ایسارولای جلال الدین جگ شو ودرید، او بیله دی چی نور څه ووایی بلی کوتی ته ولاړ، او چی لږ ځنډ وروسته بیرته راووت د سپرلی جامی یی اغوستی وی، د مجلس خلك تول

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودریدل.

سلطان وویل : عبدالملکه! د عزت د مرګ لپاره ماته د ملګرو ضرورت نشته، ما غوښتل د دنیا تول غمونه په شرابو کی ډوب کړم. خو زه په کرار نه شوم، ما هڅه وکړه چی د نغمو په تال کی ویده شم، خو د تورو شرنګهار می په غوږونو کی کړنګیده، زه حکم او تاسو تولو ته امر کوم چی هیڅوک راپسی رانشی. زه د مسلمانانو د دفاع لپاره ستاسو تورو ته اړ وم، خو اوس د ځان په خاطر ستاسو ژوند په خطر کی غورځول نه خوښوم.

عبدالملکه! زما شراب خوړل به پر تا ښه نه وی لګیدلی، زما په زړه کی د تیمور ملك له وینو نه وروسته ستا د اوښکو زیات درناوی او قیمت دی، زه وعده کوم چی بیابهلاس ورنژدی نه کړم، ته بیرته ولاړ شه خپل کار ته دی دوام ورکړه. تاته به دا غوره وی چی هندوستان ته ولاړ شی، طاهر ښایی تر اوسه هلته وی، که دی ولید زما له لوری ورته ووایه چی د سلطان التمش سره پاتی شی، که یی نه منله ورته ووایه چی دا زما حکم دی. زما وروستی حکم!

سلطان یوه تن ته د اس د زین کولو امر وکړ، یوه سردار وپوښتل : مګر ته په دی اورښت کی چیرته ځی؟

سلطان ځواب ورکړ : ماتاته ددی پوښتنی کولو اجازه نه درکوله، که ته زما لپاره هڅه کولی شی نو دا دعا کوه چی خدای «ج» دی ما د عزت له مرګه نه محرومـوی، او ته زر تر زره له دی ځایه ولاړ شه. زه نه غواړم چی ستا په موجودیت د مغل وحشی لښکر دغه سیمه هم برباد کړی.

عبدالملکه ! په دی خلکو کی زیاتره داسی دی چی کور او کلی نه لری زه دوی تاته سپارم. ته د وی هندوستان ته بوزه، زما باور دی چی سلطان التمش به د دوی مرسته وکړی.

لږ ځنډ وروسته دغه خلك د کلا په دروازه کی ولاړ وو او له سلطان سره یی خدای «ج» پامانی کوله. په دوی کی یو هم داسی نه ؤ چی په سترګو کی یی اوښکی نه وی. سلطان اس پونده کړ یو تن ورمنډه کړه رکاب یی ونیو او په ژړا یی وویل:

زه له وروکتوبه له تاسره یوځای یم، د خدای «ج» په خاطر ماته اجازه راکړه چی درسره ولاړ شم.

: ډیر ښه، ته له ماسره تلای شی، خو که کوم بل چا له حکم نه سرغړونه وکړه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به ډیر خفه شم.

سلطان جلال الدین خوارزم شاه د واورو په توپان کی ورک شو .

تر دی وروسته بیا چاته دا معلومه نه شوه چی هغه څه شو او په څه حال دی.

تر ډیرو کلونو پوری د هغه په باب ډیر عجیب او حیرانوونکی داستانونه مشهور شول. کله به دا وا وریدل شوله چی هغه چا د یوه فقیر په جامه کی په فلانی کلی کی لیدلی، کله به دا خبره مشهوره شوه چی په کوم ځنګل کی یی د یوازی توب ژوند غوره کړی دی. او کله به دا خبر راغی چی هغه د خلکو له نظره غلی د مغلو سره د وروستی جګړی دپاره د سرتیرو یو ځواکمن لښکر راټولوی او ناڅاپه به یوه ورځ په فلانی ځای کی راښکاره شی.

مغلو پر هغه پسی ټول وطن لویشت په لویشت ولټاوه، په سلګونو تنه یی په دی ګومان چی جلال الدین دی ووژل او د ده د مونډلو لپاره یی لوی لوی بخششونه اعلان کړل، خو هیڅ درک یی معلوم نه کړای شو.

ځینو خلکو ویل چی نوموړی د یوه عادی سرتیری په جامه کی د مغلو پر یوه چونی حمله وکړه وجنګیده او بیا شهید شو. ځینو نوروخلکو بیا دا ګومان کاوه چی هغه د قوم کوم خاین یا د مغلو کوم جاسوس وژلی دی.

په هر صورت د وخت په تیریدو ورو ورو خلك پر دی باوری شول چی د خوارزم زمری ژوندی نه دی.

*****

(۵)

یو مانښام له بغداد نه څو پراوه لری عبدالملك او د هغه ملګری د یوه کلی سرای ته ور ورسیدل له اسونو پلی شول د شپی مهال چی د سرای ټولی کوټی ډکی وی نو د سرای مالك د عبدالملك کوټی ته ورغی ویی ویل :

یو بل عزټمن سړی راغلی دی، په نورو کوټو کی د پښی ایښودو ځای نشته، ته به د هغه دپاره زحمت باسی.

عبدالملك وویل : زه د هغه له لیدو پرته په کوټه کی هغه ته اجازه نشم ورکولی.

د سرای خاوند وویل : هغه ډیر ستومانه دی، د مغلو جاسوس نه ښکاری.

عبدالملك وویل : د مغلو نه، د خلیفه جاسوس به وی.

: زما باور دی چی هغه جاسوس نه دی، د سرای له خلکو سره جاسوس دومره په آمرانه لهجه نشی مخرکیدای زما پر دی انکار چې تش ځای نشته هغه د خپلی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیتی څیرولو ګوابښ کړی دی.

یو سړی کوتنی ته ورننوت او ویی ویل : له ده سره زه پریکړه کوم تاسو زر ډوډی راوړی!

عبدالملك منډه واخستله نوی راغلی سړی ته ورترغاړی وت چیغه یی کړه : طاهره! ته دلته څه ډول راورسیدلی؟!

: زه له بغداده راغلم او د سلطان په لټون پسی آذربائجان ته ځم.

عبدالملك وپوښتل : ته بغداد ته څه وخت راغلی؟

: څلور ورځی کیږی، نیمه شپه وه ورسیدم ستاسو کور ته ولاړم هلته می ټول احوال معلوم کړ او سهار وختی بیرته را روان شوم.

: نو تاته ټول حال معلوم شو؟

طاهر په مایوسی ځواب ورکړ : هوا

عبدالملك وویل : ته دلته ډیر ناوخته راغلی!

طاهر ځواب ورکړ : زه سلطان التمش بنګال ته د یوه مهم کار لپاره واستولم. ستا استازی هم ماته ناوخته راورسید.

: ستا میرمن چیرته ده؟

: هغه می په ډیلی کی پریښوده او زه دی لوری ته راغلم. دغه سفر ډیر ګران ؤ. په بغداد کی زه پردی هم خبر شوم چی مغلو پر تا حمله کړی ده ستا په باب زیات اندیښمن وم اوس چیرته روان یی؟

: زه د خپلو ماشومانو د راوستلو لپاره بغداد ته روان یم.

: وروسته بیا څه ارداه لری؟

: بیا هندوستان ته دتلو اراده لرم.

: سلطان جلال الدین د التمش په نامه کوم پیغام درکړی دی؟

: نه!

د طاهر د څو پوښتنو په ځواب کی عبدالملك خپله کیسه سر تر پایه ورته تیره کړه. طاهر تر ډیره چوپ ناست ؤ، د سرای مالك ډوډی راوړه د دوی په مخکی یی کیښوده خو د دوی اشتها سوځیدلی وه.

عبدالملك وویل : زه ددی خلکو بغداد ته بیول مناسب نه بولم دوی به همدلته پریږدم او ماشومان به پخپله راولم او بیا به هندوستان ته مخه کړو. اوس چی ته راغلی ماته غوره مشوره راکولی شی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهر وویل : که مونږ سلطان پیدا کړو او هندوستان ته یې بوزو زما په ګومان به التمش اوس د هغه په ورتګ څه اعتراض ونه لري، د جلال الدین د پیغام په وورسیدو هغه له مغلو سره د جهاد اعلان ته چمتو شوی ؤ.

: خو د خوارزم شاه پیدا کول اسانه نه دی، که یې بیا پیدا کړای شو هم هندوستان ته په تلو به راضی نه وی یو لویدلی دیوال بیرته دریدلی شی خو لویدلی غر بیرته نشی درېدای.

طاهر له لږ فکر وروسته وویل : دیر ښه ته دی ملګری دلته پریږده خو زه به درسره خامخا ځم.

: ستا خوښه خو هلته په مړو ایرو کی له پوکلو نه هیڅ نه ترلاسه کیږی. اوس خو هلته داسی علما هم پیدا شوی دی چی مغلو ته د خدای سیوری او اولی الامر وایی.

: زه هلته خپل وروستی فرض پوره کوم،

: هغه څه؟

: زه اولس ته دا ویل غواړم چی د بغداد تباهی را روانه ده، که دوی د راتلونکی توپان د مقابلی لپاره چمتو نه وو نوزه به ورته ووایم چی ځانونو ته کوم د پناه ځای وګوری.

زه خلیفه ته دا وایم چی لږ تر لږه باید د خپل کور د ساتنی غم وکړی.

: خو دا ټول بی ګټی دی او ښایی تاته دا هم معلومه شوی وی چی له مغلو سره د ترون نه وروسته مهلب صدر اعظم تاکل شویدی.

: زه د دی لپاره هم بغداد ته ځم، هو مبارک چیرته دی؟

: هغه په بغداد کی دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستی پیغام

په بغداد کی د مناظرونه شلیدونکی لړی بیا پیل شوی وی، د سیند په غاړه د شیعه او سنی علماؤ تر منځ یوه زوروره مقابله «مناظره» روانه وه، د دواړو ډلو لویو علماو پکی برخه درلوده، او خلکو داسی احساسوله چی له لاسه وتلی مشغولتیاوی او سرگرمی یی له سره پیل شوی دی.

په همدان کی د مغلو د یوه لوی لښکر راتولیدل د بغداد خلکو ته یو تریخ حقیقت ؤ، د خلیفه او تولای خان ترمنځ پر یو بل د برید نه کولو پر ترون برسیره څوك په دی نه تیروتل چی د مناسب فرصت په ترلاسه کولو به مغل پر بغداد حمله ونه کړی،خو د بغداد-د خلکو حالت هغه «شتر مرغ» ته ورته ؤ چی پر افق تالنده وینی او سر پر ریگونو کی ومنهی.

بحثونه او مناظری دوی ته د نشه راوړونکی دوا په څیر وی، د اسلام دښمنانو د ترکستان، خراسان او ایران په میدانونو پراوونه اچولی وو او پر اسلامی نړیوالی د وروستی گوزار لپاره خپلی توری او نیزی تیرولی او په بغداد کی د اسلام نوم اخستونکی د دی لپاره ناکراره و چی وپوهیږی د کومې فرقې د علماوو د ژبی تیغ نه نورو نه زیات تیره او زیات زهرجن دی؟

طاهر بن یوسف او د هغه ملگرو په دوی کی یو ځل د لږ وخت لپاره د ژوند ساه پو کړه، او د دوی په فعالیتونو د څه مودی لپاره د هغو علماو کار او بار د څه وخت لپاره سوړ شوی ؤ چی له تیرو څلورو پیړیو را په دیخوا یی د یو بل دروغجن او کافر ثابتول د دین تر ټولو ستر خدمت باله، د هغوی ځای د حق رښتینو علماؤ نیولی ؤ چی له تباهی او بربادی نه د خدای «ج» او رسول صلی الله علیه وسلم د هر نوم اخستونکی ژغورلو اخپله دینی فریضه او ذمه واری بلله، خو د حقپالو، دغه ډله هم هغو خلکو ته د توری د اهمیت په ورښودلو کی پاتی راغله چی له پیړیو پیړیو راسی د هر درد د علاج لپاره په کتابونو روږ دی شوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو.

هغوی د طاهر په بلنه میدان ته راغلل او د هغوی د هڅو په نتیجه کی د اولس په اذهانو کی یو ناڅاپی بدلون راغی هغوی د خبرو پرڅای د ژغورنی لاره په عمل کی ولیده هغوی خوارزم شاه وروستی حصار او مورچل وګانه او پری ورټول شول. خو د بدلو حالاتو په وړاندی د هغوی جوش او احساسات ساړه شول، له لری لری ځایونو راغلی رضاکاران بیرته مایوس ستانه شول.

خلیفه د دوی د ساتنی ضامن و او د خلیفه نوی وزیر په ډیری هوښیاری او تدبیر مغل د بغداد مدافعین او ساتونکی وبلل، د دوی په نظر پریووالی، تنظیم او جهاد د تښیګار کوونکو علماو اهمیت لږ شو او دوی یو ځل بیا خپلو هغو لارښوونکو ته پاملرنه وکړه چی د یوه ښه مناظره کوونکی او بحث کوونکی جوړیدل یی د دنیا او آخرت نیکمرغی بلله، د سنیانو او شیعه ګانو دغه مناظری په بغداد کی د علم او عرفان د باران د نزول د دوهم پړاو پیلامه وه.

*****

(۲)

د مناظری درېمه شپه وه، یو بل ته مخامخ پر دوو ستیژونو خیمی دریدلی وی، په مناظره کی برخه اخستونکی علما پر کرسیو ناست وو، د هغوی په مخ کی په میزونو لوی لوی کتابونه کتار وو، د روښنایی لپاره د دواړو ډلو رضا کارانو مشالونه اوچت نیولی او دریدلی وو، پردی سربیره ځای ځای فانوسونه راځړیدلی وو، په منځ کی د درېمګړی ستیج ډ او ځلورو خواوته د خلکو بی شانه ګنه ګونه وه.

په تیرو دوو ورځو کی د مناظری اصول او مقررات وټاکل شول، د دواړو لوریو علماو دا سوګند اوچت کړی ډ چی دوی به له پاروونکی کار څخه ډډه کوی د خلکو دا ګومان و چی د دوی دغه لوبه به لږ تر لږه تر شپږو میاشتو پوری دوام ولری. او له بزګرانو پرته زیاتره خلك د مناظری تر پایه د موسم د بدلیدو هیله من نه وو، دوی په وار وار دا ازمویلی وو چی که د تالندی یا باران په سبب په مناظره یوه یا دوی ورځی ځنډیدله نو مناظره کوونکی به تازه دمه شول او له سره به یی بحث پیل کړ، نن مانښام ته نژدی پر لویدیځ افق تیاری راخوری شوی خو د خلکو دا ګومان و چی تالنده نشی راتلای پردی سربیره د درېمګړی په غوښتنه د مناظری له پیل نه مخکی خلکو دا دعا کړی وه چی نن یی مجلس په خیر خیرت

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای ته ورسیږی.

صفونه ترل شوی وو، او د دین په مورچلو کی د علم توپونو د ګولیو او رول پیل کول چی د توپان یوه تونده څپه راغله، مشالونه مړه شول او د کیږدیو تنابونه وشلیدل، د خیمو په منځ کې راځړیدلیو فانوسونو په سبب په دواړو ستیجونو اوروته ولګیدل علما بهر ته راووتل خو په ګډوډی کی هغه زیات قیمتی کتابونه په اوړونو کی پاتی شول.

له څو زوروړو څپو وروسته شمال ودرید او آسمان شین شو، پر ستیږونو د لګیدلی اور لمبوله اسمان سره خبری کولی، دډیمګړی ستیج له اور نه خوندی و د هغه چتر هم روغ پاتی ؤ، ښی او کین لوری ته د اور د لمبو په زیاتیدونکی رنا کی خلکو ولیدل چی د دریمګړی سره نژدی یو سړی د سرتیرو په جامه کی ولاړ دی او په دواړو لاسونو خلك چوپتیا ته رابولی، څوك چی ورنژدی وو هغوی وپیژاند او په لږ شبیه کی د خلکو په منځ کی له یوه سره تر بله د طاهر بن یوسف، طاهر بن یوسف غږونه اوچت شول، خلك له ځلورو خواونه د دریمګړی د ستیج خواته ورتول شول، د اور د لمبو له لوړیدو سره د هغه چتری ته هم خطره شوه خو څو ځوانانو یی مراندی غوښی کړی او چتری یی لری یوی خواته وغورځوله.

د دریمګړی چی طاهر خبرو ته چمتو ولیدل ویی ویل : زه له خپل ستیج څخه چاته د خبرو کولو اجازه نشم ورکولی، خو عبدالملك زر ور وړاندی شو د هغه په غوږ کی یی وویل : ته چوپ اوسه دا درته غوره ده که نه زما خنجر ډیر تیره دی، دا غونډه به ستا په صدارت وی ته غلی چوپ کینه!

د مناظره کوونکو سترګی په سو ځیدونکو کتابونو نښتی وی، څکه هغوی له دی نه ناخبره وو چی د دریمګړی له ستیج سره نژدی څه پیښه ده، او کله چی دوی د طاهر بن یوسف نوم واوریدو تپکان یی وخوړ، هغه خبری پیل کړی وی، د هغه د خبرو دا څو جملی د خلکو د پام وړ اړولو لپاره بس وی:

«پر ژوند پوری ملندې وهونکو! دغه تالنده او توپان د خدای «ج» یو خبرداری وګنئ! تاسو به د بابل او نینوا د تباهی داستانونه اوریدلی وی، خو خدای «ج» دی هغه ورځ نه راولی چی په راتلونکی کی سیلانیان د دی ښار ماضی کنډوالی وګوری دا ووایی چی یو وخت دلته یو شاندار ښار آباد ؤ چی بغداد نومیده، شل لکه انسانان پکی اوسیدل، مانی یی د پنځو پیړیو د معماری نمونی او یادګارونه وو، خو د بابل او نینوا په څیر دوی هم د عبرتناکی بربادی سره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ شول.

او دوی ځکه له بربادی سره مخ شول چی دوی به د خپلو اشتباهاتو لپاره د خدای «ج» او رسول د احکامو تاویلونه کول، دوی د قرآن حکیم نه د ژوند درس زده کول پریښودل، قرآن دوی ته د یووالی او نظم حکم کاوه خو د دوی د ژوند لومړنی مقصد د مسلمانانو په منځ کی د نفاق او بدبختی پیدا کول وو.

خدای «ج» دوی ته له کفارو سره د جهاد حکم کاوه خو دوی کفار خپل ساتونکی او محافظین ګڼل او پخپلو کی سره لاس او ګریوان وو، د بربریت یو زورور توپان یی دروازی ورټکولی، خو دوی د راتلونکی بربادی نه سترګې پټې کړی وی او یو پر بل یی د الفاظو غشی اورول کافی بلل.

د بغداد خلکو!

د بغداد خلیفه او ستاسو امیرانو یوازی د څو کاله آرام او اسوده ژوند په خاطر ستاسو او ستاسو د راتلونکی نسل د خپلواکی او ناموس معامله له مغلو سره کړی ده، خو امیران چی دلته شته دی، په خلاصو غوږونو واوری چی د بغداد انجام به له خوارزم نه بیل نه وی، تاسو د اور لمبو ته بلنه ورکړه چی د بغداد درمندونه وسوځوی.

تاسو د اور لمبی خپلو کورونو ته وربللی دی چې یوازی په سوځولو پوهیږی، او په یاد ولرئ! کله چې هغه سوځول کوی نو د جونګړی او مانې تمیز او توپیر نه کوی.

مسلمانانو! ستاسو تاریخ ګواه دی چی تر اوسه پوری تاسو د چا توری مات کړی نه یاست، ستاسو توری د هر چا توری غوځې کړې دی، ستاسو د ګوتو په شمار پوځونو ډیرو لویو لښکرو ته ماتې ورکړی دی، ستاسو د کومی ناکامی او ماتی سبب ستاسو کمزوری نه دی، بلکی که تاسو کله ماته خوړلی هغه ستاسو د خپلمنځی اختلاف او ځانځانی نتیجه ده، تاسو که کله له تباهی سره مخ شوی یاست نو هلته ستاسو د خاینانو لاس دی».

یو تن په لور آواز وویل : ایا د جلال الدین په ماتو کی هم د کوم غدار او خاین لاس ؤ؟

طاهر ځواب ورکړ : څوك وایی چی جلال الدین ته مغلو ماته ورکړه؟ هغه د یوه کمره په څیرد مغلو د سیلاب د څپو مقابله کوله، لویو لویو توپانونو هغه ونه خوځولای شو، خو د دی کمره د ماتولو لپاره مغلو ته د اسلامی نړۍ معمارانو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلی تیشی ور وړاندی کړی، دجلال الدین په مایوسولو تاسو خپل یو مرستندوی له لاسه ورکړ، هغه د بغداد پر دروازو پهره کوله، خو پر هغه د شانه ګوزار وشو هغه څو کاله د مغلو پام ور ګرځولی ؤ چی تاسو د تیاری وخت ترلاسه کړی، د ترکستان، خراسان او ایران د ښارونو بربادی ستاسو د سترګو د غړیدو لپاره کافی وو، خو تاسو د تولنیز ژوند پرځای انفرادی مرګ غوره کړ، تاسو د هغه سړی پښی هم ووهلی چی ستاسو بار یی هم پخپلو اوږو اخستی ؤ.

د بغداد خلکو!

ستاسو په خوښه او یا ستاسو له خوښی پرته د بغداد خلیفه تاسو ته ازغی کرلی دی، تاسو له راتلونکی نه د ګلونو تمه مه کوی، ایا تاسو دا فکرنه کوی چی بغداد...»

طاهر خپله خبره نه وه بشپړه کړی چی د سیند د بری غاړی نه د غشو باران جوړ شو او په یوه وخت کی دری غشی د طاهر په زغره کی ونښتل، د ستیج شاوخوا څو تنه تپیان شول. اوځلورو خواوو ته ګډوډی پیل شوه، طاهر له خپله ځایه ونه خوځید او په لوړ آواز یی وویل:

د بغداد خلکو زما پیغام واوری بیا ولاړ شی!

عبدالملك په بیړه طاهر له ستیژ نه راښکته کړ، د غشو یو بل باران راغی او د ستیج په شاوخوا کی څو نور کسان هم تپیان شول، په دی ځنډ کی د طاهر څو سرښندوی مینه وال توری ایستلی د سیند د غاړی په لوری ولاړل او تش لاسی خلك هم په هغوی پسی ورغلل، خو د دوی د ور رسیدو نه دمخه غشی ویشتونکی په کومه خوا تللی وه، او د سیند څو کښتی بلې غاړې ته روانې وې، عبدالملك څو تنه رضاکاران د سیند پر غاړه په پهره ودرول او پخپله بیرته طاهر ته ورغی، وی ویل:

هغوی وتښتیدل، مګر ته تپی یی، راځه دلته پاتی کیدل خطرناك دی.

خو طاهر له خپلی زغرې نه دوه غشی کش کړل وې ایستل او وې ویل : دا زخمونه ډیر معمولی دی دا دریم غشی ته وباسه.

: مګر وینی!

: په څو ځاځکو څه لوی نقصان نه کیږی، زړ کوه زه یو څو خبری ضروری بولم.

عبدالملك غشنې و ایستلو او وی ویل : ستاخوښه خو دا هغه مړی نه دی چی د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسرافیل په شپیلۍ راپورته شی.

*****

(۳)

طاهر یو ځل بیا په ستیژ ودریدل، خلك چوپ شول هغه وویل:

د بغداد خلکو! ایا دا فکر نه کوی چی ستاسو د غدارانولە لاسه د خوارزم د لکونو شهیدانو وینی بی ځایه ولاړی شی؟ د یتیمانو آهونه او د کونډو اوښکی بی اغیزی شی؟

په یاد ولری! دبغدا د هغه خلك چی له خوارزمشاه سره یی غداری کړی ده د اولس هغه مجرمان دی چی خدای «ج» به یی هیڅکله هم ونه بخښی، د تقدیر پریکړی ثابتی او نه بدلیدونکی دی، ښایی زما دعاگانی هغه بدل نه کړی خو که تاسو یوازی ژوندی پاتی کیدل غواړی هم نو زه دا مشوره درکوم چی بغداد پریږدی او چیرته ولاړ شی، هغه ښار چی دومره غداران او بد ذاته خلك پکی وی د تقدیر له کسات نه نشی ژغورل کیدای.

زما مشوره ښایی هغو خلکو ته د منلو وړ نه وی چی له مغلو څخه یی د وطن پلورنی قیمت اخستی دی، خو اولس ته زه دا وایم چی دلته پاتی نه شی، ستاسو د علماو د فتنو پاللو، امیرانو د خیانت او د خلیفه د بی تدبیری له امله له بغداد څخه د څمکی د مخ یو ناسور جوړ شوی او تقدیر چی کله جراحی ته چمتو کیږی نو تیره او بی رحمه تیغ یی د چټلی وینی سره پاکه وینه هم بهوی.

دا مه ګڼی چی ستاسو د خلیفه روحانیت به ستاسو د ساتنی ضمانت وکړی او مغل چی د خدای «ج» او رسول ﷺ نه منکر دی ځکه خو په تاسو تش په نامه مسلمانانو هم نشی برلاسی کیدای.

د خدای جل جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم ملاتړ یوازی له هغه چا سره وی چی احکام یی منی.

مغل کافر دی خو هغوی د مسلمانی دعوه نه کوی، تاسو د مسلمانی دعوه کوی خو په عملی دول د خدای جل جلاله او رسول ﷺ له احکامو نه انکار کوی.

مغل د باطل نظام د برلاسی لپاره سرښندنه کوی اسلام تاسو جهاد ته وربولی، اسلام را ښیی چی تاسو د ټولی نړۍ څخه د فتنو د ورکولو لپاره پیدا شوی یاست، خو د خدای «ج» ددی ښکاره احکامو سره سره تاسو ځان نه خوځوی.

په یاد ولری! داسی بی همته او بی غیرته قوم د خدای «ج» د رحمت حقدار نه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شی کیدای، تاسو د خپلو پلرونو د امانت بار نشی اوچتولی، تاسو دا گومان مه کوی چی تاسو له منځه ولاړی نو اسلام به نابود شی، نه، خدای «ج» به د خپل دین د لوړولو لپاره بل اولس غوره کړی، د خدای «ج» دین تاسو ته اړ نه دی، تاسو ورته اړیاست.

تقدیر ته دا اسانه ده چی له تاسو نه وروسته له همدغو مغلو نه چی د اسلام ډیر بد غلیمان دی د دین د ساتنی او دفاع کار واخلی، اسلام داسی زړه ته ضرورت لری چی له خدایه پرته پکی د بل چا ویره نه وی، د داسی غاړی ضرورت دی چی له خدایه پرته بل چاته په تیتیدو روډی نه وی، د داسی توری ضرورت دی چی کړیدل یی نه وی زده، اسلام داسی سر تیری ته اړتیا لری چی د بری او ماتی نه بی پروا جنګیدلی شی، د اسلام نیک زړی، نیک خویه او نیک ذاته انسانانو ته ضرورت دی چی له خپلو سره غداری نه کوی، داسی علماؤ ته ضرورت نه لری چی د کافرو په ملاتړ فتوی ورکوی، د داسی علماؤ ضرورت دی چی د غشو په باران او د تورو په سیوری کی کلمه زمزمه کوی. د خدای «ج» دین د مرمر ډبرو په محلونو کی اوسیدونکو او د وریښمینو چپنو او جامو اغوستونکو امیرانو ته ضرورت نه لری، هغو صبرکوونکو او احسان منونکو سپاهیانو ته یی اړتیا ده چی په خیټو باندی ډبری تړی او جنګیدلی شی.

د بغداد خلکو! ستاسو لپاره دوی لاری دی، یوه دا چی په تیرو ګناهونو توبه وباسی او د راتلونکی لپاره فکر وکړی، د راتلونکی مصیبت د مقابلی لپاره سره یو شی، خو دا کار تر هغو پوری نشی کولی تر څو د بغداد کوڅی او واټونه د خاینانو او نفاق اچوونکو څخه صفا نه کړی، ستاسو لپاره دوهمه لاره دا ده چی دغه ښار پریږدی او چیرته لری ولاړ شی، پردی ښار د خدای «ج» قهر نازلیدونکی دی، زه وینم چی د دجلی د سیند اوبه ستاسو په وینو سری کیدونکی دی او مغل ستاسو له کوپړیو نه د فتحی د ځلیو جوړوونکی دی. دا ښار د وحشت او ستم د هغه دوران لیدونکی دی چی تر اوسه پوری چا نه دی لیدلی، ښایی د بغداد د ویرانی او تباهی په وراندی د بابل او نینوا د بربادی داستانونه هم پیکه شی.

ددی وینا له پای ته رسولو وروسته زه په بغداد کی خپل وروستی فرض هم ترسره کوم، له دی وروسته به تاسو ماونه وینی، او دا د دی لپاره نه چی زه له خطر نه تښتم، بلکی د دی په خاطر چی زه د ځان وژونکو له ملګری نه له هغه چا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره ملګری غوره ښولم چې ژوندی پاتې کیدل غواړی، زه ددی لپاره ځم چې تاسو می ضرورت احساس نه کړ، خو که ماته دا معلومه شوه چې له تاسو سره د ژوندی پاتې کیدو هیله راپیدا کیږی او تاسو بغداد له غدارانو نه پاکولو ته چمتو یاست او د مغلو په ملاتړ تر ژوند نه مرګ غوره ښولی نو د عزت په مرګ کی زه ستاسو ملاتړ کولی شم، د ذلت په ژوند کی ملګری کولو ته درسره تیار نه یم.

«د خدای «ج» پامان»

مناظره کوونکو دادمنه ساه واخسته او طاهر له ستیج نه راکوز شو له عبدالملك او نورو څو ځوانانو سره په تیارو کی ورك شو.

عبدالملك یوه ورځ د مخه خپل اولادونه له بغداد نه لیږلی وو، پنځلس ، شل تنه ځوانان له ښار نه بهر دوی ته انتظار وو، د غونډی له ځایه چې ووتل عبدالملك ووویل : که تاته د تپونو په سبب سفر ګران وی نو تر اوسه ځینی داسی دغلی کیدو ځایونه شته چې حکومتی سرتیرو ته نه دی معلوم.

طاهر ځواب ورکړ : نه ! په زغره دې غشو چندان اغیزه نه ده کړی، معمولی زخمونه دی، زه پری خبریږم هم نه، خو له تلو نه دمخه زه په بغداد کی یوه بله ذمه واری هم پوره کول غواړم، او ښایی د دی هدف لپاره زما د څو تنو ځوانانو ملاتړ ته ضرورت شی.

: د څه لپاره؟

: د مهلب بن داود سره څو خبری!

: مګر اوس د صدر اعظم مانی ته ننوتل آسان نه دی.

: ماته یوه آسانه لاره معلومه ده.

: د څو تنو ضرورت دی؟

: تر لس تنو پوری.

: نو راځه! مګر چیرته چې ته د لسو تنو ارتیا احساسوی زه هلته پنځلس تنه ضروری ښولم.

: دیر ښه پنځلس سهی دی، مګر په دی کار کی تر زیاتو خلکو زیات پام ته ضرورت دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای

صدر اعظم مهلب بن داود د خپلې مانۍ په یوه پراخه کوټه کې ناست ؤ چې د سیند د غاړې لوری ته وه، د ښار ناظم، د جیل څارن او د بغدا د د پوځونو سالار قشمور په مجلس کې ورسره شریك وو، د شرابو پیالی ګرځیدلی او د بغداد په تازه حالاتو تبصری کیدلی.

مهلب وویل : زما په ګومان خو هغه بیا وژغورل شو، په هغه ورځ چې هغه قوی زهرو هیڅ پری ونه کړل نو معمولی زخم به یی څه وکړی؟

د ښار ناظم ځواب ورکړ : نه ماته کوتوال په دی اړه تسلی راکړه او راغلی یم، په دومره فاصله کې لږ تر لږه څلور غشی چې لګیدلی وی نو ژوندی نشی پاتی کیدای او د هغې ورځې د زهرو په باب زما رایه دا ده چې له ده سره به د زهرو تریاق وو.

: مګر هغه ډیر باتد بیره دی، کیدای شی زغره یی اغوستی وی او راغلی وی. کوتوال هغه د لویدو په حال کې لیدلی او تری راغلی.

: زما هدایت دا ؤ چې زر تر زره په کښتیو کې بلې غاړې ته ځانونه ورسوی او د نتیجې انتظار مه کوی.

مهلب وویل : هغه بیا له امن نه په ډك ښار کې اور بل کړی دی، زه به یو ځل بیا مغلو ته ډاډ ورکوم او زما په ګومان به د دوی بیا غوښتنه دا وی چې څوك د دوی پر خلاف بلوا وی جوړوی دوی ته یی وسپاری.

د جیل څارن وویل : له دی پرته موږ ته بله لاره نشته، ظاهر که فرصت ترلاسه کړ نو موږ ته به ګوزار راکړی.

د ښار ناظم وویل : مګر زموږ لخوا د زرتر زره اقدام پرخلاف به اولس راوپاریږی. او د اولس جوش او احساسات چې وګوری نو خلیفه به هم د سمدستی اقدام کولو اجازه را نه کړی، نن په وینا کې ده اعلان وکړ چې له بغداده درومی،

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

که هغه رښتیا هم ولاړ نو خبره به پخپله سره شی. او که هغه دلته د پاتی کیدو هڅه وکړه نو د علماو یوه ډله موږ د هغه پرخلاف تیاره کړی ده چی د هغوی پیروان به دوی ته د فعالیت اجازه نه ورکوی.

نن د هغه خبری له اټکل نه لری وی، که نه موږ به په غونډه کی د ګډوډی جوړولو لپاره خلك ور استولی وو، د راتلونکی لپاره به زه دا بندوبست وکړم چی د هغه د رټلو لپاره په هره ځلور لاری او جومات کی علما موجود وی.

تر سبا پوری به لږ تر لږه د یو نیم سل علماؤ لخوا دا فتوی صادره شی چی هغه غواړی خلك بغاوت وکړی.

ناڅاپه طاهر ایستلی توره دننه ورننوت او ویی ویل : تاته به د غلطی فتوی د صادرولو اړتیا پاتی نشی، د مهلب له لاسه د شرابو جام ولویږد او ښکته پری راغله، قشمور زر راپورته شو د توری موتی ته یی لاس ور اوږد کړ خو طاهر د برښنا په ځیر د خپلی توری ځوکه د هغه په سینه ورکیښوده او ویی ویل : کښینه!

قشمور له غوسې نه شوندې وچیچلې او کښیناست.

مهلب راسنبال شو ویی ویل : ته دلته په څه نیت راغلی یی؟

طاهر ځواب ورکړ : ته له ډیری مودی په ما پسی سرګردانه وی، او ما له بغداده د ټلو نه مخکی له تا سره څو خبری غوښتی.

: مګر تاته معلومه نه ده چی زما د غږ په اوریدو به دلته پنځوس تنه پهره داران راټول شی.

طاهر په ډاډ ځواب ورکړ : پنځوس نه پنځه ځلویښت! پنځو تنو د سیند په غاړه ارګمی ایستل، هغوی زموږ په ولکه کی دی، که تا نورو ته غږ وکړ نو دا به ستا وروستی غږ وی.

له عبدالملك سره پنځه تنه نور ځوانان هم توره ایستلی کوټی ته ورننوتل.

طاهر وویل : دننه ډیرو خلکو ته ضرورت نشته، بهر ته پام کوی.

د عبدالملك په اشاره دوه تنه ځوانان بیرته بهر ته ووتل، او پاتی دری نور د ښار د ناظم، د جیل ځارن او قشمور په سر ودریدل.

طاهر وویل : جګ شی!

: مهلب چی له ویری لرزیده: ته څه غواړی؟

طاهر ځواب ورکړ : ما درته وویل چی څو خبری درسره لرم.

: ستا هری غوښتنی منلو ته چمتو یم، ووایه څه غواړی؟!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: یوازی دا چی ټول له موږ سره ولاړ شی.
: چیرته ؟
: چیرته مو چی بیایو.
: که له تلو انکار وکړو نو!
: بیا به له مجبوری نه له توری کار واخلم، ته یی په تیغ لاس ووهه!
طاهر دا وویل او د توری څوکه یی د هغه په سینه ورچوخ کړه.
: نه، نه د خدای «ج» په خاطر په ما رحم وکړه، زه وعده کوم چی بغداد به پریږدم او چیرته به ولاړ شم.
: زما ستا پر وعدو باور نشته، ځکه خو زه تا له ځانه سره بیایم.
: چیرته؟
: له بغداده لری داسی ځای ته چی ته بیا بیرته دلته تری رانشی.
: ته دا وعده وکړه چی ما به نه وژنی!
طاهر وویل : که زه وعده وکړم نو ستا به باور شی؟
: زه پوهیږم چی ته په دروغو وعده نشی کولی.
عبدالملك وویل : د بغداد د مناظرو په دیر اوږدو اوس په بحث روږدی شوی دی، زه د ده په چاره پوهیږم.
عبدالملك طاهر یوی خواته کړ، د مهلب په ورمیږ یی توره ورکیښوده او ویی ویل : جګیږی که...!
مهلب په بنده بنده لهجه وویل : د خدای «ج» په خاطر په ما رحم وکړه زه ځم.
: ورو غږیږه! عبدالملك پټکه پری وکړه.
قشمور بیا توری ته د لاس ور اوږدولو هڅه وکړه خو طاهر ګرځندی ور وړاندی شو د هغه په ګیډه یی توره کیښوده او ملګری یی له هغه نه توره واخسته.
قشمور وویل : توریالی داسی نه کوی چی یو څوك بی وسلی کړی او بیا پری حمله کوی.
طاهر وویل : ته ډاډه اوسه تاته به د توری چلولو د کمال ښودلو فرصت هم برابر شی.
: که ته دا وعده کوی نو زه چمتو یم چی درسره ولاړ شم.
: زه وعده کوم او زه دا ژمنه هم کوم چی ستا د توری په مقابله کی به زموږ له لوری یوازی یوه توره وی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قشمور وویل : درځی!

طاهر د ښار ناظم او د جیل ځارونکی ته وکتل ویی ویل: جګ شی تاسو ته هم ضرورت دی.

*****

(۲)

مهلب او د هغه ملګرو په خپلو پښتیو د تورو تیرۍ څوکی احساس کړی او له کوټی نه راووتل، د طاهر نورو اته، لسو تنو هغوی راګیر کړل، د سینډ پر غاړه دوی کښتی ولاړی وی، د طاهر ملګرو د مهلب د چکر د ټولو کښتیو پری شلولی او په سینډ کی یی لاهو کړی وی، هغه پنځه تنه پهره داران هم چی دوی په نیم خوبی حالت کی نیولی وو لاسونه او پښی یی په پریو تړلی پراته وو.

طاهر مهلب ته په کښتی کی د سپریدو اشاره وکړه، او هغه دده تر اشاره زیات د عبدالملك د توری په څوکه مجبور شو چی په کښتی کی سپور شی.

قشمور، د جیل ځارونکی او د ښار ناظم هم ورپسی په کښتی کی سپاره شول.

د طاهر اته تنه ملګری په یوه ځانګړی کښتی کی او نور اوه تنه په پریو تړل شویو کسانو سره یوځای په دوهمه کښتی کی سپاره شول.

لږ ځنډ وروسته کښتی د سینډ په منځ کی د څپو له بهیر سره وخوځیدی.

مهلب څو ځلی په ډیره عاجزی پوښتنه وکړه : تاسو موږ چیرته بیایی!

عبدالملك هر ځل دا ځواب ورکاوه : چورته مه وهه ستا منزل ډیر لنډ دی.

د آبادو غاړو نه نږدی اته میله لری طاهر په کښتی کی له پرتو ډبرونه یوه راپورته کړه مهلب او ملګرو ته یی وروښودله ویی ویل : تاسو پوهیږی چی دغه ډبری د څه لپاره په کاریږی؟

مهلب په ژړاشو ویی ویل : نه، نه دا ظلم دی د خدای «ج» په خاطر په ما ورحمیږی!

طاهر قشمور ته وکتل : څنګه جنابه ته ووایه! ایا دا پوښتنه ظلم دی چی د سینډ پر غاړه پرتی ډبری د څه لپاره په کاریږی؟

: زه په دی مطلب ونه پوهیدم.

عبدالملك ویل : دی ساده سړی دی، دغسی پوښتنی مه تری کوه.

قشمور له غوسی نه ولرزیده ویی ویل : تا له ما سره د توریالیو په څیر د مقابلی وعده کړی وه؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهر وویل : زما په زړه کی له غیرتیانو سره عزت شته زه خپل ملګری ته نصیحت کوم چی له تا سره ګستاخی نه کوی، همدغسی له تانه هیله لرم چې د بی غیرتو مرسته به نه کوی، زه له تانه څو پوښتنی کوم، نه بلکی تا قاضی کوم او خپله دعوه درته وراندی کوم.

قشمور وویل : مګر زه یوازی سرتیری یم.

: زما دعوه ډیره جنجالی نه ده، یو ځل یوه سړی زما پر ملا ډبره ټرلی وه او سینډ ته یی غورځولی وم، که هغه سړی په لاس راشی زه څه سزا ورکړم؟

قشمور : که دی وموند نو همدغسی سلوك ورسره کولی شی!

طاهر : زماله یوه زړور سرتیری نه د همدغه ځواب تمه وه، د جیل د څارن تر ملا ډبره وټړی!

دطاهر دری ملګرو هغه په زور پرمخی څملاوه، هغه چی د څه مزاحمت هڅه وکړه عبدالملك د توری څوکه پر ورمیږ ورکیښوده ویی ویل : خبردار! که لږ وخوځیدی حلالوم دی.

کله چی د هغه تر ملا ډبره ټرل کیدله نو مهلب جګ شو او په سینډ کی یی د توپ وهلو هڅه وکړه خو طاهر په کین لاس د هغه په بنی تندی د سوك وار وکړ او په کښتۍ کی یی راوغورځاوه، د بنار ناظم هم د جګیدو هڅه وکړه خو د طاهر یوه ملګری له شانه د هغه په غاړه کی پړی ورواچاوه او په کښتۍ کی یی راوغورځاوه.

لږ ځنډ وروسته د بنار د ناظم او مهلب پر ملا هم ډبری وټړل شوی.

مهلب د عبدالملك د ګواښونو پرواونه کړه، په چیغو یی وویل : زما ډبره له دوی دواړونه درنه ده، دوی له مانه ښه لامبوزن دی، د خدای «ج» په خاطر ما پریږدی. زه تاسو ته یو لك اشرفی درکولو ته چمتو یم.

طاهر وویل : نه، نه، نژدی د نیمی اسلامی نړی د تباهی لپاره دا بدله ډیره لږ ده.

: زه دوه لکه درکوم پری می ږدی.

طاهر : مګر پردی خو د خوارزم یو ویجاړ شوی بنار هم بیرته نشو آبادولی.

: زه پنځه لکه اشرفی درکوم، تر دی زیاتی له ماسره نشته.

: مګر ستا پلار ډیر غریب سړی و، تا دا دومره دولت له کومه کړ؟ زما په ګومان ته د ځان ژغورلو لپاره دروغ وایی!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

: نه په خدای «ج» سوګند دروغ نه وایم، زما سره پنځه لکه اشرفی او د همدومره بیی جواهرات هم دی، ما پریږدی زه د دی تولو ورکولو ته چمتو یم.

: د دی مطلب دا دی چی تا د بغداد له خلکو نه رشوت اخستی دی؟

: نه، په خدای «ج» سوګند ما رشوت نه دی اخستی.

: نو دا مال دی له کومه کړی؟

: ماله مغلو نه اخستی دی!

: تر کومه چی ماته معلومه ده مغلو یوازی یوه سړی ته زیات مال ورکړی ؤ، او هغه، هغه څوك ؤ چی چنګیز خان ته یی پر خوارزم د حملې په صورت کی د خلیفه د بی طرفی ضمانت ورکړی ؤه چی وحید الدین یی بندی او بیا یی په زهرو ووژه، چی صدر اعظم یی ووژه او خلیفه مستنصر ته د مغلو د دوستی له پیغام سره راغلې ؤ.

مهلب وویل : زه خپلې تولی غلطی منم او اعتراف پرې کوم خو د خدای «ج» په خاطر ما وبخښی زما په مرګ تاسو ته هیڅ ګټه نه رسیږی.

طاهر ځواب ورکړ : زه پوهیږم چی ستا پر مرګ سربیره چی پر بغداد کومه تباهی راتلونکی ده، هغه به راځی، په بغداد کی د منافقانو او خاینانو شمیر ستا د سر له ویښتو هم زیات دی، خو د بغداد د تباهی د سببونو له برابرولو وروسته به د مغلو نه د انعام اخستونکی ته نه بل څوك وی، تا مغلو ته د بغداد دروازی خلاصې کړی، خو د دوی د تورو په سیوری کی به پر مسلمانانو حکومت کوونکی غدار ستا له کورنی څخه نه له کومی بلی کورنی څخه وی.

د بنار ناظم وویل : تا ته د زهرو په درکولو او په سیند کی ډوبولو په دسیسه کی زما هیڅ لاس نشته.

طاهر وویل : نو تاته څنګه معلومه شوه چی له ماسره داسی پیښه شوی وه؟

: ماته د جیل څارن وویل!

د جیل څارن وویل : بی غیرته کیږه مه په دی دنیا به له ما پرته ستا زړه څه ور ولګیږی؟

طاهر وویل : اوس ته دا پریکړه وکړه چی پخپله به په سیند کی ځان ورغوړوی خوښوې یا موږ تاسو ترلاس او پښوونیسو او سیند ته مو وغورځوو؟

د جیل څارن وویل : که له موږ سره احسان کوی نو داسی به ښه وی چی موږ یو ځای سیند ته واچوی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهر وویل : ماته منظوره ده، زه په وروستیو شیبو کی له تاسو سره څه زیاتی کول نه غواړم، او دا دبری له هغو دبرو نه په وزن کی زیاتی نه دی چی ما یی بوج واخست او له سینده پوری وتم.

د ښار ناظم وویل : مگر زموږ لامبو نه ده زده.

: نو په دی صورت کی به موږ په زور تاسو سیند ته ور غورځوو! عبدالملکه لومړی د مهلب نوبت دی.

د جیل څارن خپلو ملگرو ته وویل : که یو یو په اوبو کی وروغورځول شوو نو ستاسو دوبیدل حتمی دی.

که یوځای ور پریوتو نو زه ستاسو سره د ملاتړ ژمنه کوم، دا دبره دیره معمولی ده، زه تر دی له دروند بوج سره له سینده پوری وتلی شم.

طاهر او د هغه ملگری د جیل د څارن پردی ایشار حیران شول، ځکه چی په بدنی لحاظ هغه له خپلو ملگرونه کمزوری او ډنگر ژ.

بیا هم هغوی ډاډه وو چی له دومره بوج سره هیڅوک هم څنډې ته نشوای رسیدلای.

د جیل څارن وویل : تاسو موږ ته د یو ځای کوزیدو اجازه راکوی؟

طاهر : زموږ پردی هیڅ غرض نشته.

د جیل څارن جگ شو د کښتی پر څنډه ودرید او ویی ویل : زه څم که ستاسو زما مرستی ته اړتیا وی راپسی راځئ که نه نو زه به په تاسو پسی شاته راونه گورم.

ناظم او مهلب هم چتك پورته شول د هغه ترڅنگ ودریدل د جیل څارن لاسونه وغځول ویی ویل : خپل ورمیږونه زما بغل ته راکړی زه به تاسو له گردابه راوباسم وروسته بیا ستاسو د خپل قسمت خبره ده.

دوبیدونکی د یوی خځلی تکیه هم غنیمت گنی مهلب او ناظم هم خپل تقدیر د جیل څارن ته وسپاره، عبدالملک د طاهر په غوږ کی وویل : د ده بلکل لامبو نه ده زده، زه دی له هغه وخته را په دی خوا پیژنم چی په پوځ کی ژ.

طاهر وویل : ماته معلومه ده، یو لامبوزن دومره احمق نشی کیدای.

دری واړه تر لږ څنډه د کښتی پر څنډه زړه نازړه ولاړ وو، بالاخره د طاهر ملگرو په تورو هغوی مجبور کړل چی په سیند کی ځانونه وروغورځوی.

: ناظم او مهلب دواړو په گډه چیغی کړی: موږ پریږده، غداره ستا لامبو نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده، موږ هم درسره دوښوی، خاینه، فریبکاره، دروغجنه، مکاره موږ خوشی کړه!
خو د چیل څارن هغوی کلك نیولی وو او ویل یی : موږ... په ژوند او مرګ... له یو بل سره... د ملګری... ژمنی کړی وی...
او بیا هغوی څو ځلی د دوښیدو او راښکاریدو نه وروسته په اوبو کی ورك شول.

په دی موده کی د قشمور پر سر دوه توره ایستلی څوانان ولاړ وو قشمور چی طاهر او عبدالملك ولیدل چی ده ته یی پام ور واوښت ویی ویل :
تاسو ماته د یوه سرتیری په مرګ د مړینی وعده راکړی وه، اوس مو اراده څه ده؟

طاهر ځواب ورکړ : موږ به ستا هیله پوره کړو.
تا دا وعده هم کړی وه چی زما مقابله به یوازی له یوه سړی سره وی.
: موږ پر خپله وعده ولاړ یو.

* * * * *

(۳)

د نیمی شپی سپوږمی راپورته شو، دواړه کښتی پر څنډو ولګیدی، طاهر خپلو دوو ملګرو ته په بله کښتی کی پر پنځو تنو اسیرانو د پهری لپاره امر وکړ او د ده نور ملګری د ده د لاړښونی سره سم له کښتی نه ښکته شول، د اوبو او څنډی ترمنځ په یوه ورځکی تاپو ودریدله ، تر دی وروسته قشمور عبدالملك او طاهر د تورو په سیوری کی د کښتی نه راښکته کړ او چی کله د دوی ملګری تر قشمور راچاپیر شول نو طاهر قشمور ته د توری ورکولو حکم وکړ.
عبدالملك د طاهر په غوږ کی وویل : پر غشیو د تپی کیدو نه وروسته ستا ډیره وینه وبهیده، ځکه خو دی مقابلی ته ماته اجازه راکړه.
طاهر ځواب ورکړ : د صفیی د شهادت نه وروسته ما یوه ژمنه کړی وه، زه هغه پوره کول غواړم، ته زما په باب چورت مه وهه زه بالکل روغ یم.
عبدالملك ډیر تینګار وکړ او چی کله د دوی بحث زور واخست او غږونه یی اوچت شول او په لوړ غږ یی د یو بل د قانع کولو هڅه کوله قشمور وویل:
زما د مقابلی لپاره باید داسې سړی مخی ته راغلی وای چی زما سیال وای، له بده بخته په تاسو کی یو هم زما سره په مرتبه کی برابر نه یاست، بیا هم زه طاهر غوره بولم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاهر عبدالملك یوی خواته ډیکه کړ توره یی له تیکی راوویستله او ویی ویل : تیاریږه!

قشمور توره وخوځوله او په داډ یی ځواب ورکړ:

زه تیار یم.

د شپی به تیاره کی د تورو شرنگهار پورته شو، له لږ ځند توندو حملو وروسته قشمور مات شو او شاته ولاړ.

طاهر وویل په اوبو کی د ورکوزیدو په اراده شاته د تلو هڅه مه کوه، ما تاته د توریالیو په ځیر د مقابلی وعده درکړی وه د تښتیدو د فرصت وعده می نه وه کړی.

قشمور ویل : نو ستا په خیال زما لپاره له مرګه پرته بله سزا نشته!

طاهر وویل : اوس دی پر خپل مرګ باور راغی؟

: هوکی زه داسی احساسوم چی ستا د تپونو په اړه زما اټکل غلط ؤ، ما اشتباه وکړه چی د عبدالملك پرځای می ته مقابلی ته غوره کړی.

ته د دی غلطی جبران کولی شی.

: څه ډول؟

: وسله وغورځوه.

هغه چی طاهر لږ بی پروا او غافل ولید ناڅاپه یی توپ کړ او پر طاهر یی پرلپسی گوزارونه وکړل، یو ځل خو یی توره په یوه شن د طاهر د ککری سره نژدی تیره شوه، طاهر تیت شو ځان یی وساته او بیا یی ناڅاپه پر هغه نیغ وار وکړ، قشمور تاو راتاو شو او په ځمکه راپریوت، توره د هغه تر خیټه بوټه ختلی وه.

طاهر ورتیت شو د هغه په لمن یی توره پاکه کړه عبدالملك ته یی وکتل او ویی ویل : که ده توبه کړی وای نو خامخا به می پریښی ؤ، خو ده غوښتل ما په خبرو راولی او فکر یی کاوه چی زه به بی پروا شوی یم.

عبدالملك وویل : راځه چی نوره ناوخته کیږی، زما په خیال خو دواړه کښتی باید سیند ته ورتیل وهو، بندیان به هم یکی پریږدو تر سهاره به دا کښتی ډیری لری تللی وی او تر څو څوك بندیان را وباسي او د دوی کیسه اوری موږ به ډیر لری تللی وو.

طاهر وپوښتل : زموږ آسونه له دی ځایه ځومره لری دی؟

عبدالملك ځواب ورکړ : نژدی نیم میل لری به وی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

*****

(٤)

د عبدالملك د هدایاتو سره سم له بغداده د هغه څو دوستان یوه‌ورځ وراندی دی سرای ته را رسیدلی وو چی ده پکی د خوارزم شاه یو نیم سل تنه سر تیری تم کړی وو، د عبدالملك میرمن او دوه بچیان چی یو اته کلن هلك او بله یی پنځه کلنه لور وه دی سرای ته را رسیدلی وو.

دریمه ورځ مانبام مهال عبدالملك او طاهر هم له شلو تنو سره ور ورسیدل او څلورمه ورځ سهار وختی قافله د هندوستان په لور وخوځیده.

څو ورځی وروسته چی کله دوی له وړوکو وړوکو غونډیو نه تیریدل طاهر په یوه لوړه غونډی ودرید او د شمال لوړو غرونو ته یی وکتل، هغه په تصور کی د یوه خوږ په غاړه د ډبرو هغه څلی لیده چی صفیه تری لاندی په ابدی خوب ویده وه، عبدالملك لږ حنډ اس ودراوه او د هغه انتظار یی کاوه او بالاخره یی ورته وویل:

طاهره په څه چورتونو کی ډوب یی؟!

طاهر تکان وخوړ هغه ته یی وکتل، په سترګو کی یی اوښکی ځلیدلی.

عبدالملك په غمجنه لهجه وویل : راځه قافله لری ولاړه.

طاهر اس ته پونده ورکړه ویی ویل : عبدالملکه! زه په دی فکرونو کی یم چی د بغداد په باب زموږ دومره مایوسی خو به اشتباه نه وی؟

عبدالملك ځواب ورکړ: نه! زما په ګومان موږ دا لویه غلطی وکړه چی د بغداد له خلکو نه مو لویه توقع درلوده.

: آیا دا امکان لری چی هغه ښار چی صفیه غوندی نجونی پکی زیږیدلی د تل لپاره ورك شی؟

: په کوم ښار کی چی د مهلب غوندی په زرګونو انسانان وی، هغه له تباهی نه هیڅوك نشی ساتلی، صفیی خو د داسی ښار په خاوره کی ښخیدل هم ونه منل چی د خدای «ج» قهر پری راتلونکی دی.

: عبدالملکه ! موږ خو به له خپل مسئولیت څخه تښتو نه؟

: نه، موږ هلته روان یو چی خپل فرض مو ورغواړی، زما باور دی چی په هندوستان کی پاتی شو موږ به د قوم سهی خدمت وکړای شو، سلطان التمش زموږ تورو ته اړتیا لری، په بغداد کی موږ خپل فرض پوره کړی دی، کومو خلکو چی د ځان وژنی اراده کړی وی هغه هیڅوك نشی ژغورلی، کله چی یو داسی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولس چې په توپان کې یې د دوبیدو اراده کړې وه د نوح علیه السلام غوندې د لوړ مقام خاوند پیغمبرونه ژغورلای شو نو موږ څوک یو؟

موږ د بغداد خلکو ته د دوی په لار کې خطرناکې کندې ور وښودلې، خو هغوی په پټو سترګو په تګ تینګار کوی نو په دې کې نور زموږ څه قصور دی؟

د خوارزم ښارونه د دوی تر سترګو لاندې یو یو تباه شو، خو د تقدیر له لورې په وار وار د دوی پر ګواښلو برسیره هغوی عبرت وا نه خست.

د بغداد خلك د ذلت هغه وروستی تل ته کوز شوی دی چې له هغه ځایه یې بیرته راپورته کول د کوم انسان د وس خبره نه ده، د کوم کلی چې په هرو پنځو تنو کې یو غدار وی هغه له تباهی نه څوك ژغورلی شی؟

د یوه اولس د تباهی لپاره د مهلب په څیر یو سړی بس دی، په بغداد کې خو په زرګونو مهلبان شته.

طاهر وویل : د بغداد د تباهی نخښې به د مستعصم پر تخت کیناستلو سره راښکاره شی، ما اوریدلی دی چې د هغه له شرابو او د ښځو له نڅا او سرود پرته هیڅ نور زړه نه غواړی، زما په نظر خو د بغداد د تباهی لپاره همدا کافی ده چې په داسی سړی د خلیفه نوم پورې شی.

هغه چې کوم څوك وزیر وتاکی خامخا به تر مهلب زیات چالاك وی.

*****

(٥)

طاهر او عبدالملك د التمش د پوځ غوره جنرالان بلل کیدل، د جلال الدین خوارزم شاه په اړه چاته معلومات نه وُ چې چیرته دی، مغلو په هغه پسې آذربایجان، ارمنیا، او قفقاز لویشت په لویشت ولټول هغوی څو ځلی د هغه د مرګ اعلان وکړ خو نړیوالو دا نه منله.

وخت تیریده، طاهر د عزت او شهرت وروستی پوړی ته رسیدلی وُ، په نړۍ کې هیڅ داسی نعمت نه وُ چې ده نه وُ ترلاسه کړی، د ثریا مینې د ده د کور د ماحول جنت نظیره کولو لپاره بس وُ.

په بودا توب کې د ده دری زامنو په توره چلولو کې نومونه ایستلی وو، د ثریا وروړ اسماعیل په سوداګرۍ کې نوم ګټلی وُ، د عبدالملك کور د طاهر د کور ترڅنګ وُ او د هغه بچیان هم په لوړو منصبونو تاکل شوی وو، مبارك او د طاهر نورو ملګرو هم ښه اسوده ژوند درلود.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډیلی کی په زرګونو افراد داسی وو چی د طاهر په ژوند یی رشك کاوه، خو طاهر تل یوی اندیښنی خوراوه، او هغه د بغداد یادؤ، د ماضی ګردونو د هغه له سترګو بغداد پټ نه کړای شو.

په ډیلی کی یی پنځلس کاله په پوځ او حکومت کی له تیرولو وروسته پاتی ژوند د اصلاح او تبلیغ لپاره وقف کړ او عبدالملك په هر ډګر له هغه سره د ملاتړ اراده کړی وه، د هندوستان نا مسلمانو خلکو ته د دین له تبلیغ وروسته به دوی یو ډول روحی آرامی احساسوله، خو چی کله به په کوم مجلس او یا غونډه کی د خبرو په وخت کی طاهر ته بغداد ورپاد شو نو ده به زر خبری پای ته ورسولی او یوی ګونبی ته به ځانګړی شو او په فکرونو کی به ډوب شو.

هغه به په وار وار په خپل زړه کی ویل : کاشکی ما دا ښار له تباهی نه ژغورلی شوای!

هغه به ځان ګوابنه، عبدالملك به راغی تسلی به یی ورکوله او ویل به یی : طاهره! ستا په سبب په هندوستان کی څو زره تنو کلمه ویلی ده او تر اوسه په ملیونونو انسانانو ته د خدای «ج» د پیغام رسولو اړتیا ده، اوس د بغداد په اړه فکر کول هیڅ ګټه نه لری، د بغداد ځمکه شاړه وه، ځکه خو هلته د نیکی تخم رازرغون نکړای شو.

د هندوستان ځمکه حاصل ورکوونکی ده، دلته موږ ته د خپل زحمت ثمر لاس ته راځی.

طاهر به وویل : ته سهی وایی او بیا به جګ شو او خپل کار ته به روان شو.

*****

(٦)

اته ویشت کاله تیر شول، په دی اته ویشتو کلونو کی زمانی ډیر اړخونه بدل کړل، په ایران کی د چنګیز خان لمسی هلاکو خان واکمن ؤ او په بغداد کی د مستعصم د خلافت دریم کال ؤ.

مغلو پر بغداد د حملو تیاری کاوه، د خلیفه وزیر ابن علقمی له مغلو سره جوړ جاړی کړی ؤ خلیفه ته یی مشوره ورکړه چی د علم او روحانیت په دی مرکز کی د دری لکه سرتیرو څه اړتیا ده، دا پر خزانه یو بی ضرورته بار دی، ځکه خو په بغداد کی له څو زره سرتیرو پرته نورو سرتیرو ته د تل لپاره رخصت ورکړای شو، ځ نوری ته د قوم لویانو او د دین د علماؤ دا حالت ؤ چی د هغوی مناظرو پای ؤ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د شیعه او سنی بحث نور د بشپړی خپلمنځی جګړی حالت غوره کړی و.

د ښار په امیرانو کی د حکومت د تنخواه خورو پرځای له مغلو سره د خپل ضمیر او د اولس د عزت د بیی ترلاسه کوونکو شمیر څو چنده زیات ؤ.

د خلیفه په لاس کی د شرابو جام ؤ او د هغه د تخت په مخکی ښځو نڅا کوله، چی یو قاصد راغی خبر یی راور چی هلاکو خان بغداد ته را نژدی شوی دی، د خلیفه له لاسه د شرابو پیاله ولویده او د هغه پر سپینه چپنه یی ځاځکی ولویدل، هلاکو خان د تالندی او بریښنا په څیر رانازل شو او بغداد هغه تباهی ولیدی چی د بابل او نینوا ورانی یی په مخکی هیڅ وی.

له شلو لکو انسانانو څخه یوازی څلور لکه تنه پدی وتوانیدل چی وتښتی، د دجلی اوبه د وینو له زوره سری شوی د کتابتونونو ، کورونواو مدرسو د اور لمبو له اسمان سره خبری کولی.

د ښار هغه تجربه کار مناظره کوونکی چی له کلونو یی یو پر بل د کفر فتواوی ورکولی، هغه امیران او علماء چی د کلونو کلونو خیانت انعام یی ترلاسه کول غوښتل او هغه خلیفه چی پر تخت کیناست او د خدای «ج» پر دین یی ملنډی وهلی، له لوبو لوبو او ګرانبیه سوغاتونو سره د هلاکو خان خدمت ته حاضر شول خو د یوه هم ژوندی پاتیدل نصیب نه شول.

د عباسی خلافت وروستی د سترګو تور یی د وژلو پرځای په لیمځی کی وپیچه او د فیل پښو ته یی وغورځاوه او چی کله هلاکو خان ته دا شك پیدا شو چی ځینی خلك د ده د توری له دم او د اور له لمبو نه غلی شوی دی او د کورونو په تل خونو کی پټ دی نو هغه د سیند بند ونړاوه چی د هلاکو خان له بیرته ستنیدو وروسته په بغداد کی له سپیو او کارغانو پرته نور څه ژوندی پاتی نه وو، بغداد د ماضی داستان شوی ؤ او د بغداد اولس خپل کرلی ریبل.

پای

د ۱۳۷۷ د وری (حمل) ۲۹مه

الفاروق بلدنګ د سهار ورځپانی دفتر

رحیم الله دد تراب ،،

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library